الورقات الذهبية

في معرفة طالبان الوطنية

د وطن پرسته طالبانو پیژندنې په اړه زرینې پاڼې

جمع و إعداد:

الشيخ أبي سعد محمد الخراساني حفظه الله



مؤسسة العزائم

الورقات الذهبية

في معرفة طالبان الوطنية

د وطن پرسته طالبانو پيژندنې په اړه زرينې پاڼې

جمع وترتيب :

الشيخ أبو سعد محمد الخراسانى حفظه الله



مؤسسة العزائم الإعلامية

بسم الله الرحمن الرحيم

الدولة الإسلامية
ولاية خراسان

الطبعة الأولى

مُحَرَّم ١٤٤٣

سریزه

الحمد لله رب العالمین وصلی الله وسلم وبارك علی عبده ورسوله نبینا محمد وعلی آله وأصحابه، أما بعد؛

د اسلام دښمنانو په هر عصر کې له مختلفو لارو تل دا هڅه کړې چې د حقیقي اسلام او مومنانو د نابودۍ لپاره او په درسته نړۍ د اسلامي نظام د حاکمیت په ځاې د اسلام په نوم د دیموکراسۍ د تحکیم او ترویج لپاره کار وکړي ، او خپلو دغه شومو اهدافو ته د رسیدو لپاره یې تل د اسلام په نامه او جامه پټ هغه شرمخان ګمارلي چې هغه ددغه اصلي کفارو او مستشرقینو څخه زیات د اسلام د سپیڅلي نظام د قیام په وړاندې ستر خنډونه ګرځیدلي او مسلمانان یې غولولي.

دغه غربي مستشرقینو تل هڅه کړې چې دغه راز خپلو لاس پوڅو اشخاصو او تنظمونو ته په ډېر هنر د هر اړخیز پرمختګ زمینه سازي وکړي، د میډیا، زر او زور له لارې یې خپلو ایجنټانو ته د مسلمانانو په منځ کې شخصیت جوړونه کړې او همدا راز یې ددوی د موخو ښکار تش په نامه تنظیمونو ته هم پراخه امکانات په واک کې ورکوي او مسلمانانو ته په سترګو کې د خاورو شیندلو په هدف په ډېر هنر داسې لوبې لوبوي چې له خلکو یو دوه خطا شي ، په خلکو حق او باطل ګډوډ شي او خلک

فکرمند شي چې اوس نو په دغه پرفتنه دور کې د حق لورې څنګه مالوم کړي او د باطل لاروي څنګه وپیژني؟

تر ډیره په منځنۍ اسیا کې د صلیبیانو دغه اهدافو ته د رسیدو د پروژو تطبیق د اي ایس اي استخباراتي شبکه کوي.

تاسې ددې شاهدان یاست چې اي ایس اي څنګه د خپلو تالي څټو جاسوسانو په مټ چې هغه وخت د مجاهدینو رهبران او د مقاومت قایدین یادیدل د روسانو د مقاومت پرمهال د افغان غیور اولس په وینو او اوښکو ګټلي انقلاب سوداګري وکړه ، دغسې اوس د امریکا په خلاف د افغان اولس په وینو او اوښکو یو ځل بیا اي ایس اي تجارت شروع کړې ، او غواړي چې د طالب مرتدینو په مټ امریکا سره په تفاهم د سولې په نامه د تسلیمۍ ددغه انډوخر په پایله کې په افغانستان کې د افغان مرتد حکومت سره په شریکه په افغانانو د اسلام په نامه داسې نظام حاکم کړي چې نوم به يي د اسلام وي خو دا به د دیموکراسۍ يوه بله نوې بڼه او ساختار وي.

که څه هم د طالب اصلي څیره خلکو پیژندلې، ددوۍ اهداف، عقاید، اخلاق ، سیاست او جنګ ټولو خلکو ته واضحه شوې خو بیا هم ډیر څه داسې دي چې هغه طالب د کفري میدیا په زور له خلکو پټ ساتلي او

لکه څنګه مو چې مخکې یادونه وکړه اوس نو امریکا لګیا ده او له مختلفو لارو هڅه کوي چې خپلې نوې ملیشې طالب مرتدین خلکو ته د سولې استازي د بشر د حقوقو مدافعین او جهان دیده سیاسیون ورمعرفي کړي. ستاسې په لاسونو کې دغه ګټه ور کتاب د کفارو د همدې توطیو او دسیسو د رابرسیده کیدو او حق ته د رسیدو یو روښانه مسیر دې.

نه یوازې دا چې په دې کتاب کې په ډیر خه انداز د طالب مرتدینو اسلام ماتونکي اعمال په مدلل او مفصل شکل بحث شوي او ددوی له تور مخ څخه سپینه پرده پورته شوې او ددوی اصلي څېره یې رانبکاره کړې بلکې د اسلامي دولت په تاریخ، عقیده او منهج د خلیفه د ټاکلو په شروطو او همدا راز په اسلامي خلافت د طالب مرتدینو په شمول د زیاتو ګمراهانو له لورې وارد شویو شبهاتو ته په قران او حدیث مزین قانع کونکي ځوابونه ویل شوي.

د اسلامي دولت له ټولو مناصرینو او مجاهدینو مې هیله ده چې د دښمن په توطیو د لا زیات پوهاوي او د خپل سپیڅلي مسیر د حقانیت د لا پیژندلو په پار دا کتاب دقیق مطالعه کړي او همدا راز له ټولو مې هیله ده چې دا کتاب له مختلفو لارو خه زیات خپور کړي عامو مسلمانانو ته هم او طالب ګمراهانو ته یې هم ورسوي.

قدرمنو مناصرينو ورونو ! په دغه کتاب کې به تاسې د طالب د هر خباثت او خيانت په اړه مستند دلايل ومومئ نو په ټولنيزه ميديا کې که څه هم له دې مخکې ستاسې د حق په وړاندې طالب تل بې ځوابه او مات و خو ددې کتاب په مطالعه به تاسې طالب او امثالهم سره يې د بحث لپاره په هره موضوع پراخه مالومات ترلاسه کړئ .

هيله مند يو چې کتاب نورو ژبو ته هم وژباړئ او له مختلفو لارو يې ددښمن ادرسونو ته ورسوئ ګوندې که په لوستو يې څوک الله د هدايت وړ وګرځوي.

په اخره کې د کتاب ليکوال شيخ صيب ابو سعد محمد خرساني ورور ته د اوږد عمر دعا کوم، الله عزوجل دې په خپل حفظ او امان کې وساتي او الله دې په علم کې خير او برکت لا زيات کړي چې تل يې په هر ډګر کې حق د خلکو د رسيدو لپاره بې سارې ستړيا ګاللې، لکه څنګه يې چې له دې کتابه وړاندې په مختلفو موضوعاتو د ګڼو رسالو ، مقالو او کتابونو ترڅنګ غړيز بيانات کړي په دې هيله چې په اينده کې به هم خپل دا زيار او کار همداسې جاري او ساري وساتي.

مقدمة

الحمد لله الكبير المتعال والصلاة والسلام على الضحوك القتال وعلى آله وصحبه ذوي النسك والنزال، أما بعد :

رب اشرح لي صدري. ويسر لي أمري. واحلل عقدة من لساني. يفقهو قولي. رب أعن وبك أستعين. اللهم لا سهل إلا ما جعلته سهلا وأنت تجعل الحزن إذا شئت سهلا. يا معلم إبراهيم علمني، يا مفهم سليمان فهمني. رب زدني علما. اللهم ألهمني رشدي.

انسان چې کله د احاديثو کتابونو کې کتاب الفتن يعني د فتنو بحث مطالعه کوي، نو دا ورته جوتيږي چې آخره زمانه کې به حقيقي اسلام باندې منګولې لګونکي خلک له ډيرو تکليفونو سره مخ وي، تر دې چې نبي عليه السلام فرمايلي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «بَدَأَ الْإِسْلَامُ غَرِيبًا، وَسَيَعُودُ كَمَا بَدَأَ غَرِيبًا، فَطُوبَى لِلْغُرَبَاءِ». رواه مسلم.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: اسلام په اول کې نآشنا و او دا به همدغه شان بيا نآشنا ګرځي، نو د غرباءو لپاره زيرى دى.

ددې حديث مصداق ته چې سوچ وکړو، چې نن سبا نړۍ ته څوک ډېر نآشنا ښکاري ؟ آيا تش په نوم اسلامي دولتونه ؟ آيا طالبان ؟ نه، دغه ټول نن د کفري نړۍ لپاره آشنا څيرې دي، ځکه دوی د کفارو قوانين منـي، له هغوی سره جوړېږي، نآشنا صرف د اسلامي خلافت شازلميان دي چې دوی يې د داعش په نوم پيژني او دا ورته يو بل مخلوق ښکاري.

لږ انسان سوچ وکړي چې د نبي عليه السلام حديث اوس په چا تطبيقيږي؟

دا واضحه ده چې د اسلامي خلافت په مجاهدينو سل په سله صادقيږي؛والحمد لله.

همدغه رنګه زمونږ او ستاسې خوږ نبي محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم په يو مبارک حديث کې فرمايي:

عَنْ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " يُوشِكُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمُ الْأُمَمُ مِنْ كُلِّ أُفُقٍ كَمَا تَدَاعَى الْأَكَلَةُ عَلَى قَصْعَتِهَا ". [رواه الإمام أحمد في مسنده وهو حديث حسن]

زر دی چې پر تاسې به ټول (کفري او باطل) امتونه له هر اړخه داسې راټول شي، لکه څنګه چې وږي خلک پر کاسه راټولیږي.

مسلمانانو وګورئ! نن سبا کفري ملتونه پر چا راټول دي، آیا تش په نامه هغه دولتونو باندې چې واګې یې د بین الملل په لاس کې وي، د سیکولر او غربي اسلام دعوه دار دي ؟

نه ورونو! د هغوی خو هر قسمه ملاتړ کوي، له بانک جهاني څخه هر یو ته خپل مقرر سهم ورکوي، مالي او نظامي کومکونه یې کوي، مختلف نوعه تړونونه له یو بل سره لري.

ښه،نو یو څوک به ووایي چې نړیوال او ډلې ټپلې به په نورو تنظیمونو راټول وي ؟

خو که مونږ او تاسې له انصاف څخه کار واخلو، دا حقیقت به راته څرګند شي چې نن سبا یوازې د اسلامي خلافت مجاهدینو پر خلاف د نړۍ ټول کفري ځواکونو او مرتدو لښکرو ائتلاف کړې دی. حسبنا الله ونعم الوکیل.

د نړۍ تر ټولو ستر بم يې په همدوی وغورځاوه، په ټوله نړۍ کې پرې اقتصادي، عسکري، امني او سیاسي هر نوعه بندیز دی، له هیڅ کافر او مرتد سره تړون نه لري.

جیلونه له دوی ډک دي، حتی هغه معصوم او ګلالي ماشومان هم د خپلو عفت مندو مېندو سره د زندان سختې شپې تیروي، په خلاف د تنظیمونو لکه طالبان وغیره چې د دوی ښځینه او ماشومان د حیات آباد، اسلام آباد او کوئټې په ماڼیو کې د نړۍ له ټولو پرمختللي وسایلو او اسبابو څخه خوندونه اخلي او نارینه بندیان یي امریکا سره د تسلیمۍ او ذلت څخه ډک تړون په لړ کې زیات اذاد شو او باقي لږ پاتې یي هم په زندانونو کې له هر ډول سهولتونو برخمن دي او د اسلامي خلافت د مجاهدینو او د طالب بندیانو ترمنځ توپیري چلند له هیچا پټ نه دی د اسلامي خلافت مجاهدین بندیان د خپلې سپیڅلې عقیدې په بنا په زندانونو کې هم له دغه مرتدینو د نفرت اظهار کوي ، دوی ته مرتدین وایي او هیڅ ډول سرټیټي ورته نه کوي خو برعکس بیا طالب بندیان په زندانونو کې عسکر او مسولین لکه څنګه یي چې بره ورونه ګڼي دغه راز یي په داخل د زندانونو کې هم ترمنځ برخورد د ورونو په څیر دې ، دوی ته هر ډول سهولتونه محیا دي خو د اسلامي دولت بندیان د سختو شکنجو ، زجر او ظلم لاندې دي.

د اسلامي خلافت ټول مشران او کشران د کفارو په تور لستې کې دي او د تش په نوم اسلامي دولتونو مشران خو د کفارو د تحالف غړي دي او د طالبانو نومونه هم ورځ تر بلې له دغه تورو لستونو څخه شنو لستونو ته منتقل کيږي.

دلته نور څه نه وايم خو دومره ويل غواړم چې نبي عليه السلام د حق ډلې نښه دا بيانه کړې، چې پر هغوی به باطلې ډلې راټوليږي.

مسلمانه، فکر وکړه! نن په چا راټول دي ؟؟؟

د حق پيژندلو نآشنا فارمول نبي عليه السلام ښودلی، لږ تدبر وکړه، حق به ومومې! ان شاء الله.

په يو بل حديث کې محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمْرِ ". [سنن الترمذي ومسند أحمد (حسن)]

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:خلکو باندې به داسې وخت راشي چې په دين کلک پاتې کيدونکي به د سکروټو نيونکي پشان وي.

دا د نبي عليه السلام ارشادات خو هسې تصورات ندي او نه هم کومه افسانه ده، بلکې دا حقیقتونه دي، دا واقعیتونه دي،په خارج کې مصداق او وجود لري، ځکه د حق پلټونکي لپاره د مشعل حیثیت لري، د الصادق المصدوق علیه السلام هره وینا راخله او پر دې زمانه یې تطبیقوه، ډیر زر به د حق خاوند وګرځې.

نو نن په سکروټو څوک سوځیږي ؟

د پنځوس شهیدانو اجر به چا ته په نصیب کیږي، آیا هغه خلکو ته چې د څو ټکو په بدل شپه او ورځ دیموکراسۍ لپاره ځانونه ستړي کوي او که هغه طالبانو ته چې له کفر مشرانو سره د کفر په میزونو ناست دي او د اسلام او مسلمانانو په خلاف دسیسې جوړوي، پلان ګزاري کوي، او د دې ملت شهیدانو وینو خرڅولو لپاره طرحې جوړوي ؟ نو هر عاقل به دا ځواب ووایي چې نه! دا فضائل د هغه فدایي ځوانانو لپاره دي چې پرون هم د دین د قیام لپاره په ډګر ولاړ و او نن یې هم دغه سنګر راټینګ کړی. ان شاء الله.

عجیبه نده ؟

د افغانستان، پاکستان، سعودي، ایران، مصر، یمن، جزائر او دا نور دولتونه هم د اسلام دعوه لري، طالبان هم دغه کلمه وايي او د خلافت مجاهدين هم دغه د توحيد خوږه کلمه وايي آخر د توپير علت څه دی ؟

چې دا دولتونه او طالبان په ټوله نړی کې آزاد دي، د حکومت حق لري، د نړۍ له هر کفر سره مخامخ په ميزونو ناست دي، ورځ تر بلې د تفاهم په نتيجه کې ورته د ولسواليو سپارل کيږي او د ولايتونو واک په لټه کې دي، او د خلافت مجاهدين په غرونو کې هم نه پريږدي ؟

اې مسلمانه ! اصلي او اساسي علت يې دا دی چې يو د شريعت د تقاضا مطابق، د نبوي تعليماتو په رڼا کې کلمه وايي او دې نورو صرف تش په نوم د کلمې تلفظ کړی.

نو تا ته به د حقې او باطلې ډلې صفات په ګوته شي.

تا ته وايم ای د اسلام دعوه لرونکيه !

نن د دغه دين په وجه څوک په سکروټو سوځي ؟

د نبي عليه السلام د منهج مطابق د خلافت اعلان چا کړی ؟

د وينځو او غلامانو نظام چا راژوندې کړ ؟

د غلا، زنا، لواطت، قطاع الطرق، قذف حدونه چا تطبيق کړي ؟

د جمهوريت جرړې چا وویستلې ؟

مسلمانان تر کوم بیرغ لاندې متحد شول ؟

نړیوال مرتدین د چا د لاسه ذلیله دي ؟

کفر ته عبرتناک گزارونه چا ورکړل ؟

د چا د نوم څخه د جهان فراعنه مرعوب دي ؟

نړیوال مهاجرینو ته چا ځاي ورکړ ؟

له رعیت سره د عدل مثالي نظام چا وړاندې کړ ؟

د کفر له بین المللي حدودو څخه چا انکار وکړ ؟

د سولې، امن او آزادۍ په نوم د کفر له غلامۍ او تسلیمۍ څخه چا انکار وکړ ؟

لنډه دا چې په پنځلسمه پیړۍ کې سل په سله د الله دین په ځمکه چا تطبیق کړ؟

بحمد الله، دا د اسلامي خلافت مجاهدین دي، ځکه خو امریکا پرې خپل هغه زور استعمال کړ چې پر ۱۹ کاله کې یې په طالب نه و استعمال کړی، د بمونو مور د آزمون لپاره ورته د اسلامي خلافت شاه

زلمو سيمې مناسب وكتلى شوى نو خپل د زړه براس او د دماغو قهر سړولو لپاره يې دغه ستر بم هم د امير المؤمنين ابو بكر بغدادي تقبله الله پدې لښكرو باندې ورگوزار كړو، او د خلافت د جنازې په تمه يې له بې پيلوټه او نورو الوتكو څخه عكاسي كوله، خو رب په خپل زور مات كړل؛ والحمد لله.

ورونو ! غرض زمونږ دا دى چې نن سبا ډيرو خلكو هسې د اسلام څادر په ځان راچولى خو كه دغه څادر ترې پورته كړئ نو دا به درته ښكاره شي چې لاندې د اسلام پرځاي يهوديت، نصرانيت او سيكولريزم پټ دى. له سياف او گلبدين راوروسته طالبان هم د بين الملل په شركي قوانينو راضي شول او د ډيموكراسى په سيالۍ كې د كابل اداري رقيبان وگرځيدل او د بريا لپاره هر يو خپل صليبي او علماني بادار (امريكا) ته ځان نزدې كوي، خو راته ښكاري پدې لوبه كې د (اى. ايس. اى) لوبغاړي بريمن شي، نو پدغه هدف مو دا مناسبه وگڼله چې د نړۍ مسلمانانو لپاره يوه ليكنه وكړو او په هغې كې د طالبانو حقيقي څيره راڅرگنده كړو، چې دا ملت بيا د اسلام په نوم څوك ونه غولوي، د اولس د وينو، قربانيو، آهونو، دردونو، كړاوونو، فريادونو، زخمونو، هيلو، آرزو گانو، جهادونو، هجرتونو او طاعتونو په سر بيا څوك تجارت ونه كړي. ځكه د اسلام په جامه كې زيات وچيچل شو، نور ملت ستړې دى كه دا

ځل هم په باطلو ډلو پسې روان شي نو مسير به يې بيا تورتم او نتيجه به يې ناکامي وي او په سپينه جامه کې د لستوڼي پټ مارانو طالبانو ارتداد او کفر چې چا وپيژندو نو بيا د دې تش په نوم اسلامي ملکونو لکه پاکستان، افغانستان، ايران، او نورو تنظيمونو په نواقضو باندې هم ښه پوهيږي؛ ان شاء الله.

نور مونږ حتی الوسع کوشش کړې چې حق بيان کړو، د چا په شان کې افراط او تفريط ونه کړو، مسلمانانو ته سمه لار په ګوته کړو، د خپل مسلمان ملت قربانۍ محفوظې کړو، د کافرو دسيسو او د هغوی شعوري او غير شعوري استازي او وکيلان راڅرګند کړو، که کوم ځای کې مو لهجه هم تونده شوي وي، دا به د زړه له درده وي، نور شخصا کوم مفاد يا تعصب پالنه به مو نه وي مراعت کړي، ان شاء الله او له دې سره سره کله کله به دا زمونږ شرعا د انتقام حق جوړيږي، لکه د مقابل لوري اخلاق وګورئ:



ان شاء الله داسې بې بنياده تورونه مونږ طالبانو پورې نه تړو، خو بيا هم که کومه حقه خبره وه، هغه به د الله او د رسول عليه الصلاة والسلام له خوا وي او که کومه خبره د کتاب او سنت خلاف وي، نو د هغه نسبت به کاتب ته کولی شي.

دا رساله ښه په دقت او انابت سره مطالعه کړئ، حق او باطل وپيژنئ او بيا يې مخکې هغه ناخبره ځوانانو ته هم ورسوئ چې نن هم د طالبانو

په تلبيس کې راګير دي، چې زمونږ او ستاسې لپاره د رب په دربار کې د خلاصون ذريعه وګرځي. الله رب العالمين دې زمونږ دا څو کرښې د نړۍ دمسلمانانو د هدايت ذريعه وګرځوي.

او د قيامت په ورځ دې زمونږ او ستاسې د نيکيو په تله کې واچوي. آمين.

اللهم أرنا الحق حقا وارزقنا اتباعه وأرنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابه. آمين.

" سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ ". رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً ۚ إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ. اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيلَ ، وَمِيكَائِيلَ ، وَإِسْرَافِيلَ ، فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ ، عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ، أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ، اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ ، إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ".

كتبه إيمانا واحتسابا

أبو سعد محمد الخراساني

يوم الخميس، ١٥ شوال ١٤٤٢ هـ ق بولاية خراسان

د ډلو بیان

نن سبا د شین آسمان تر چتر لاندې د اسلام په نوم هر خاص او عام دا چیغه وهي، دا غړ پورته کوي چې اختلاف مه کوئ، اتحاد او اتفاق ته ضرورت دی، نور له جنګ څخه لاس واخلئ!

دا هغه غږ دی چې تر سیوري لاندې یې ډیری باطل پرست دمه ځای مونده کوي، دا هغه شعار دی چې خلکو پرې د مسلمانانو عوام خپل تابع وګرځول او د دوی له ملاتړ څخه په استفادې یې ځانونه خپلو شومو موخو او ناوړه مفادو ته ورسول.

داسې نده چې هر د اتحاد، اتفاق او سولې بیرغ پسې به مسلمان منډې وهي،بلکې د محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم حال ته به وګورو، د قریشو کفار راځي، نبي علیه السلام ته د سولې، جوړ جاړي او اتفاق وړاندیز کوي، چې زمونږ نن سباني آلهه لکه بتان او د دوی عبادات (شرکیات) باندې رد مه کوه! مونږ ستا هره مطالبه منو. دا ولس به په امن شي، اختلافات به ختم شي، د اطمینان او امن فضاء به قائمه شي، لږ به د ژوند څخه خوند واخلو؛ لکه نن چې همدا مطالبه نړیوال کفار له مسلمانانو څخه کوي.

اوس نبي علیه السلام داسې نه کوي چې هو، والله اتحاد او سوله خو د هوسا ژوند بنیادي او اړین ضرورت دی، راځئ چې یو تړون لاسلیک کړو. نه، نبي علیه السلام پوهیږي چې قریش خو د سولې غوښتنه کوي، خو معامله د دین او د توحید په سر ده، لهذا رب العالمین داسې تریخ ځواب ورته ورکړ چې دغه کفار ذلیله او پخپل وړاندیز پښیمانه شول، الله عزوجل ورته وفرمایل :

قُلْ يَأَيّهَا الْكَافِرُونَ * لاَ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ * وَلاَ أَنتُمْ عَابِدُونَ مَآ أَعْبُدُ * وَلاَ أَنَآ عَابِدٌ مّا عَبَدتّمْ * وَلاَ أَنتُمْ عَابِدُونَ مَآ أَعْبُدُ * لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ. [سوره الكافرون]

ژباړه: ته ووایه ای کافرانو ! زه بندګي نه کوم د هغه څه چې تاسې یې بندګي کوئ او نه تاسې بندګي کونکي یاست د هغه څه چې زه یې بندګي کوم، او نه زه بندګي کونکې یم په هغه طریقه چې تاسې بندګي کوئ او نه تاسې بندګي کونکي یاست د هغه څه چې زه یې بندګي کوم، ستاسې لپاره ستاسې دین دی او زما لپاره زما دین دی.

حافظ ابن کثیر وایي: دا آیتونه هغه وخت رانازل شول چې کله کفارو نبي علیه السلام ته وړاندیز وکړ، چې یو کال به مونږ ستا د رب بندګي کوو او یو کال ته زمونږ د بتانو عبادت کوه.

او دا هغه سورت دی چې سورة البراءة او سورة الإخلاص باندې ونومول شو. د کفارو څخه د براءت امر ورته وشو.

خو متاسفانه نن بعضې خلکو د دغه وړاندېز تود هرکلې وکړو، د ايمان په بدل يې د افغانستان واک او چوکۍ غوره کړه.

په اسلام کې د اتحاد، اتفاق، سولې او جوړ جاړي لپاره د کتاب او سنت لار ښودل شوې ده. الله جل جلاله فرمايي:

فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا. [سورة النسآء:٥٩]

ژباړه: که چيرته تاسې په يوه خبره کې اختلاف وکړ نو الله او رسول ته يې وګرځوئ، که ايمان لرئ په الله او ورځ د آخرت باندې، دا غوره او د انجام په اعتبار سره ښايسته خبره ده.

نو نن هم ټولې هغه هڅې چې د کتاب او سنت پر ځای بل طرف ته خلک کش کوي، ناروا او حرامې دي.

او دا هم يو ښکاره حقيقت دی چې تر څو پورې، امت مسلمه په کتاب او سنت باندې منګولې لګولې وي،په مسلمانانو کې اتحاد، اتفاق، امن او سوله وه، د نړۍ واکمن وو، کافر ورته هر طرف سلامي کوله، خو کله

چې خلکو نورو فکرونو او عقیدو ته ځای ورکړ نو د افتراق، خپل منځي دښمنۍ او د ذلت ښکار شول.

یو وخت خبره تر دې ورسیده چې په بیت الله شریف کې په یو وخت به څلور د جمعې لمونځونه کیدل، عام مونځونو وختونو کې به یو څه فرق و، خو ماښام به څلور واړه جمعې په یو وخت ادا کېدې، یو طرف به د احنافو جماعت و، بل طرف دحنابله و جماعت، بل طرف به شوافع ولاړ و او په بل ځای کې به مالکیان په لمانځه ولاړ وو. هیڅ یو مقتدي به د خپل امام په تکبیراتو نه پوهیده، کله به د دوی امام ولاړ و، خو د بل امام الله اکبر سره به مقتدیان رکوع ته ښکته شوي ول، بیا به چې پوهه شول زمونږ امام ولاړ دی، بیرته به راوچت شول، د مونځ څخه هسې ټوکې جوړې وې؛ معاذ الله.

د خیر القرون څخه وروسته مختلفې ډلې پیدا شوې، چا په عقیده کې انحرافات پیدا کړل، چا له قرآن څخه انکار وکړ، چا له سنتو انکار وکړ، څوک د ختم نبوت څخه منکر شول، څوک روافض شول، چا د خوارجو لار ونیوله؛ نو په امت کې یې فساد، انتشار او اختلاف خپور کړ.

داسلام په تاریخ کې د تل لپاره مختلفې اسلامي ډلې پیدا شوي دي، په ابتداء کې هر یو خپل منشور غوره بللی، او څه نا څه قرباني یې هم

ورکړې ده، خو له عقيدې څخه د ناخبرۍ له امله، يا د مشرانو د انحراف له امله، بيا هغوی د باطل په لار روان شوي.

بيا په هر دور کې حق پرسته علماؤ د باطلو ډلو حقيقت څرګند کړی، نو ځکه يې نن مونږ او تاسې د ګمراهانو په نوم پيژنو او ځان ترې ساتو.

نن چې مونږ او تاسې په پنځلسمه پيړۍ کې واقع يو نو باطلې ډلې هم بې شمېره دي، خو لله الحمد د امت علماء کرامو په هر يو مفصل ردونه کړي او اکثره مسلمانان يې له حقيقت څخه خبر شوي، نو له دغه بې لارې ډلو څخه يوه ډله طالبان دي چې د مخکنيو او وروستنيو ګمراه ډلو له هرې ګمراهۍ څخه برخمنه ده، په اکثره عقائدو کې انحراف لري، اعمال يې ټول د اسلام سره په ټکر کې دي او اقوال يې هم غير اسلامي دي.

نو مونږ دا ليکنه په همدغه نيت باندې کړې چې مسلمانانو ته د طالبانو حقائق وړاندې کړو، مسلمانانو ته د اسلام اصلي څيره وښايو او د دايمي او حقيقي امن، سولې او کرارۍ په لار يې روان کړو. ان شاء الله.

إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ. [سورة هود:٨٨]

چې مونږ خپله غاړه په مسلمانانو باندې خلاصه کړو، سمه لاره ورته وښايو نور هدايت کول د الله عزوجل کار دی.

هدايت په دوه معنو باندې استعماليږي:

يو إِراءة الطريق: سمه لار ښودل، دا د داعي په وس کې وي، نبي عليه السلام ته دغه رنګه هادي وايي، او قرآن کې هم الله عزوجل فرمايي: وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ [سورة الرعد:٧] ژباړه: او هر قوم ته لار ښودونکی يې.

بل د هدايت معنا: إِيصال إِلى الْمَطْلوب.

د هدايت توفيق ورکول، او دا د الله عزوجل خاصه ده.

إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ [سورة القصص:٥٦]

ژباړه: يقينا ته هدايت نشی کولای هغه چا ته چې ستا خوښه وي، ليکن الله تعالی هدايت کوي هغه چا ته چې وغواړي، او هغه ښه پوهه دی په هدايت موندونکو باندې.

نبي عليه السلام د حق بيان هر چا ته کاوه، حتی ابو طالب ته يې هم کاوه خو د ايمان توفيق ورکول، د نبي عليه السلام په اختيار کې نه وو.

نو دا د داعي نقصان نه وي، بلكې جانب مقابل ته رب هدايت نه وي ليکلی.

نو هر انسان ته د خپل صف او ډلې تحقيق لازم دی، هسې نه چې دغه د اور والا په ډله کې چيرته ولاړ نه وي.

نبي عليه السلام ددغه ډلو په اړه مختلف ارشادات فرمايلي، له هغه جملې څخه بعضې دا دي:

اول حديث :

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِك، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "إِنَّ بَنِي إِسْرَائِيلَ افْتَرَقَتْ عَلَى إِحْدَى وَسَبْعِينَ فِرْقَةً، وَإِنَّ أُمَّتِي سَتَفْتَرِقُ عَلَى ثِنْتَيْنِ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً، كُلُّهَا فِي النَّارِ إِلَّا وَاحِدَةً، وَهِيَ الْجَمَاعَةُ". رواه ابن ماجة وهو حديث صحيح.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يقينا بني اسرايل په يو اويا ډلو ويشل شوي وو، او زر دی چې زما امت به هم په دوه اويا ډلو وويشل شي، له يوې ډلې پرته به دا ټول جهنم ته ځي، او دا به د مسلمانانو جماعت (خليفه ډله) وي.

ډېر د وېرې حديث دى، يو اويا ډلې به جهنم ته ځي، نعوذ بالله، فقط يوه ډله به جنت ته ځي. آيا اوس هم په ړندو سترگو د باطلو تنظيمونو په سيوري کې پاتې کېدل روا دي ؟

بيا علماء ليکي چې دا ټول به کافر نه وي، پدې ډلو کې به مبتدع او گناهگار مسلمانان هم اور ته ځي، او د گناه په اندازه پاتې کېدو څخه وروسته به بېرته راوځي، لهذا دې وجې نه هر کس دې خپلې ډلې ته پاملرنه وکړي، چې زه په کومه ډله کې واقع يم.

دويم حديث :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "سَيَأْتِي عَلَى النَّاسِ سَنَوَاتٌ خَدَّاعَاتُ، يُصَدَّقُ فِيهَا الْكَاذِبُ، وَيُكَذَّبُ فِيهَا الصَّادِقُ، وَيُؤْتَمَنُ فِيهَا الْخَائِنُ، وَيُخَوَّنُ فِيهَا الْأَمِينُ، وَيَنْطِقُ فِيهَا الرُّوَيْبِضَةُ" قِيلَ: وَمَا الرُّوَيْبِضَةُ؟ قَالَ: "الرَّجُلُ التَّافِهُ فِي أَمْرِ الْعَامَّةِ". ابن ماجة وسنده حسن.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زر دى چې په خلکو به دوکه ورکونکي کلونه راشي، دروغجن به پکې رېښتوني گڼل گيږي، او رېښتوني به پکې دروغجن گڼل کيږي، خائن ته به د امين په سترگه کتل کيږي او امين ته به د خائن په سترگه کتل کيږي او رويبضه به پکې

خبرې کوي. وويل شول: رويبضه څه ته وايي ؟ هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ناپوهه انسان به د عامه خلکو په کارونو کې غږيږي.

الله أكبر! نن همدا خبره ده، طالبان ځان اهل السنت والجماعت معرفي کوي او اولس ته خپله خير خواهي څرګندوي او په خلافت باندې تورونه پورې کوي. قربان شم د رسول الله عليه السلام په عزت باندې، څومره رښتيا خبره يې کړې ده.

دريم حديث :

أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَتَكُونُ فِتَنٌ الْقَاعِدُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْقَائِمِ، وَالْقَائِمُ فِيهَا خَيْرٌ مِنَ الْمَاشِي، وَالْمَاشِي فِيهَا خَيْرٌ مِنَ السَّاعِي، مَنْ تَشَرَّفَ لَهَا تَسْتَشْرِفْهُ، وَمَنْ وَجَدَ فِيهَا مَلْجَأً فَلْيَعُذْ بِهِ». [متفق عليه واللفظ للمسلم]

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:زر دی چې فتنې به راشي، پدې فتنو کې ناست سړی به د ولاړ څخه غوره وي، او په فتنو کې ولاړ سړی به له مزل کونکي څخه غوره وي، او مزل کونکی به له منډې وهونکي څخه غوره وي، څوک چې سر ورښکاره کړي نو فتنې به يې راګير کړي، او چا چې د بچ کيدو ځای وموندو نو دا دې په هغه سره پناه ونيسي.

عملا يې مونږ او تاسې ګورو چې نن سبا ځوک په فتنو کې يوه لوښت ورننوتلي، ځوک ګز او چا د طالبانو په څير د فتنو پنډونه په شا کړي وي. عافانا الله منها.

ځلورم حديث :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: وَمَنْ قَاتَلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ يَغْضَبُ لِعَصَبَةٍ، أَوْ يَدْعُو إِلَى عَصَبَةٍ، أَوْ يَنْصُرُ عَصَبَةً، فَقُتِلَ، فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ. صحيح مسلم

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چا چې د ړوند بيرغ د لاندې جګړه وکړه، چې د عصبيت لپاره غصه کيده، يا يې قوميت ته بلنه ورکوله، يا يې د قوميت ملاتړ کاوه او ووژل شو نو مرګ يې د جاهليت دی.

ښه مصداق يې طالبان دي.

پنځم حديث :

عن حذيفة بن اليمان : ... قُلْتُ: فَهَلْ بَعْدَ ذَلِكَ الخَيْرِ مِنْ شَرٍّ؟ قَالَ: «نَعَمْ،دُعَاةٌ إِلَى أَبْوَابِ جَهَنَّمَ، مَنْ أَجَابَهُمْ إِلَيْهَا قَذَفُوهُ فِيهَا» قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، صِفْهُمْ لَنَا؟ فَقَالَ: «هُمْ مِنْ جِلْدَتِنَا، وَيَتَكَلَّمُونَ بِأَلْسِنَتِنَا» قُلْتُ: فَمَا

تَأْمُرُنِي إِنْ أَدْرَكَنِي ذَلِكَ؟ قَالَ: تَلْزَمُ جَمَاعَةَ المُسْلِمِينَ وَإِمَامَهُمْ، قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ جَمَاعَةٌ وَلاَ إِمَامٌ؟ قَالَ «فَاعْتَزِلْ تِلْكَ الفِرَقَ كُلَّهَا، وَلَوْ أَنْ تَعَضَّ بِأَصْلِ شَجَرَةٍ، حَتَّى يُدْرِكَكَ المَوْتُ وَأَنْتَ عَلَى ذَلِكَ» أخرجه البخاري.

ژباړه: حذيفه رضي الله عنه وايي ما وويل: آيا له دې خير نه وروسته به شر وي ؟ هغه وفرمايل: هو، د جهنم دروازو ته به بلونکي وي، چا چې د هغوی خبره ومنله نو هغه به اور ته گوزار کړي، ما ورته وويل: ای د الله رسوله! صلى الله عليه وسلم مونږ ته يې صفات بيان کړه! هغه وفرمايل: دغه خلک زمونږ پشان جسمونه لري او زمونږ پشان په ژبو خبرې کوي. ما ورته وويل: که دغه زمانې زه رالاندې کړم نو ما ته څه امر کوې؟ (زه ورسره څنگه معامله وکړم) هغه وفرمايل: د مسلمانانو ډله او خليفه لازم ونيسه، ما ورته وويل: که چيرته د مسلمانانو ډله او خليفه نه وي، نو بيا ؟ هغه وفرمايل: دغه ټولو ډلو څخه په ډډه شه، اگر که ته د ونې په جرړې چک لگوې، تر دې چې تا ته پدې حال باندې مرگ راشي.

د دې حديث فقه دا ده چې الصادق المصدوق صلى الله عليه وسلم دا تعليم مونږ ته راکوي، چې کله خلکو د جهنم په لور دعوتونه کول، او دعوت قبلونکي يې جهنم ته غورځېدل نو بايد مسلمان د خليفة

المسلمين په ډله کې شي، نو نن سبا وگورئ، خليفه کوم طرف دی، هماغه طرف نجات دی او له دې پرته، که طالبان دي او که طالبانو په څېر نور تنظيمونه، دا د جهنم داعيان دي، او دا مونږ تاسې ته څرگنده شوه چې کومو تنظيمونو د خليفه بيعت څخه مخ واړوو، نو د نبوي وينا مطابق د اور والا اعمالو کې اخته شو. نعوذ بالله.

شپږم حديث :

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ العَاصِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ اللَّهَ لاَ يَقْبِضُ العِلْمَ انْتِزَاعًا يَنْتَزِعُهُ مِنَ العِبَادِ، وَلَكِنْ يَقْبِضُ العِلْمَ بِقَبْضِ العُلَمَاءِ، حَتَّى إِذَا لَمْ يُبْقِ عَالِمًا اتَّخَذَ النَّاسُ رُءُوسًا جُهَّالًا، فَسُئِلُوا فَأَفْتَوْا بِغَيْرِ عِلْمٍ، فَضَلُّوا وَأَضَلُّوا». رواه البخاري.

ژباړه: يقينا الله تعالى د بندگانو له سينو څخه علم نه پورته کوي، مگر د علماؤ په اخيستلو سره علم پورته کوي، تر دې چې يو عالم به هم پرې نږدي، خلک به جاهلان مشران وگرځوي، تپوسونه به ترې کولى شي، نو بغير د علم نه به فتوى ورکوي، خپله به هم بې لارې شي او نور خلک به هم بې لارې کړي.

نور گڼ شمير روايتونه دي چې د باطل صف لپاره به د بدن څخه خوله هم نه تويوي، پاتې لا وينه.

خو د دې تولو خبرو باوجود الله رب العالمین په هره زمانه کې د خپل دین د ساتلو لپاره څه خلک غوره کوي، چې هغوی په هره خبره کې قرآن او حدیث ته رجوع کوي. په حق به ولاړ وي، د هر باطل مخنیوی به کوي، لکه په حدیث کې راځي :

عَنْ مُعَاوِيَةَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «لاَ يَزَالُ مِنْ أُمَّتِي أُمَّةٌ قَائِمَةٌ بِأَمْرِ اللَّهِ، لاَ يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ، وَلاَ مَنْ خَالَفَهُمْ، حَتَّى يَأْتِيَهُمْ أَمْرُ اللَّهِ وَهُمْ عَلَى ذَلِكَ». أخرجه البخاري.

ژباړه: زما د امت څخه به همیشه یوه ډله د الله په حکم ولاړه وي، که څوک یې پریږدي نو دا ورته ضرر نه ورکوي، او نه هم هغه څوک چې خلاف یې کوي، تر دې چې د الله پریکړه راشي او هغوی به هم داسې (په امر کلک) وي.

په یو بل حدیث کې راځي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قال قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَحْمِلُ هَذَا الْعِلْمَ مِنْ كُلِّ خَلَفٍ عُدُولُهُ، يَنْفُونَ عَنْهُ تَحْرِيفَ الْغَالِينَ، وَانْتِحَالَ الْمُبْطِلِينَ، وَتَأْوِيلَ الْجَاهِلِينَ». مسند الشاميين للطبراني والبدع والنهي عنها لابن وضاح.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: دا علم به د ورستنيو خلکو څخه هر امانت او استقامت والا خلک حاصلوي، هغوی به د غلو کونکو خلکو تحريف (معنا بدلول) به لرې کوي، د باطل پرستو دروغ او د جاهلانو تأويل به لرې کوي.

دې حديث ته بعضې علماؤ حسن ويلی او که حسن نشي نو بيا هم د ډيرو امامانو اقوال په دې باب کې شته.

په بل حديث کې راځي :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا». سنن أبي داود وإسناده صحيح.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يقينا الله تعالى د دې امت لپاره هر سل کاله پس داسې څوک راليږي چې دا دين نوی (ژوندی) کوي.

نو اې مسلمانه! کله چې د توحيد آثار زاړه شوي وو، شرک په عروج باندې وو، پدغه وخت کې رب احسان وکړ او څه خلکو ته يې د خپل ځان قرباني کولو توفيق ورکړ، د وينو په بدل يې اسلامي خلافت قائم کړ، د

توحید د دیوالونو بنیادونه یې مضبوط کړل، د ټول دین تجدید یې وکړ، اسلامي محکمې یې قائمې کړې، قاضیان او مفتیان یې مقرر کړل، تر دې چې د عمري شرطونو موافق یې پر اهل کتابو جزیه هم لازمه کړه.

مسلمانه! د حق او باطل ترمنځ توپیر وکړه، چیرته د بې لارې خلکو ضرر درته ونه رسیږي، چیرته د هغوی کومک ونه کړې، چیرته د هغوی په صفونو کې شامل نشې.

همدا خیر خواهي مو غرض دی، که نه مونږ هیڅکله پدغه خبرو خپله اعمال نامه نه ډکوله او نه مو هم دا وخت پدې خبرو مصرف کاوه. ځکه مونږ دا یقین لرو چې سبا به د رب مخې ته ودریږو، نو هغه خبره نده مناسبه کومه چې له حق نه لرې وي.

او په نیکۍ امر کول، د گناه نه منع کول، دا د دې امت خاصه او وظیفه ده، دا الهي فرمان دی. د مؤمن صفت دا دی چې ځان لپاره څه خوښوي هغه به د بل لپاره هم خوښوي، زمونږ دځان لپاره جنت خوښ دی، توحید مو خوښ دی، سمه عقیده مو خوښه ده نو تاسو ته یې هم درسوو. او که دا دعوت مونږ او تاسې پریښود، نو زر دې چې د زمانې حالت به داسې شي لکه چې محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَدْرُسُ الْإِسْلَامُ كَمَا يَدْرُسُ وَشْيُ الثَّوْبِ، حَتَّى لَا يُدْرَى مَا صِيَامٌ وَلَا صَلَاةٌ وَلَا نُسُكٌ وَلَا صَدَقَةٌ. وَلَيُسْرَى عَلَى كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ فِي لَيْلَةٍ، فَلَا يبقَى فِي الْأَرْضِ مِنْهُ آيَةٌ، وَتَبْقَى طَوَائِفُ مِنْ النَّاسِ، الشَّيْخُ الْكَبِيرُ وَالْعَجُوزُ، يَقُولُونَ: أَدْرَكْنَا آبَاءَنَا عَلَى هَذِهِ الْكَلِمَةِ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، فَنَحْنُ نَقُولُهَا". رواه ابن ماجة وسنده صحيح.

اسلام به داسې زوړ شي لکه څنګه چې د جامې ګُل (نقش) زړېږي، تر دې چې روژه، مونځ، قرباني او صدقه به نشي پېژندلای، او په يوه شپه کې به الله تعالى قرآن کريم واخلي، په ځمکه کې به يو آيت هم نه وي پاتې او د خلکو څخه به زوړ سړی او بوډۍ زنانه پاتې وي، هغوې به وايي: مونږ خپل پلار نيکونه پدې کلمه لا إله إلا الله باندې موندلي و، نو مونږ هم دا کلمه وايو.

بايد مونږ دا د توحيد غږ هر کور، کلي، باندې او ښار پورې ورسوو، چې د الله په نزد مو غاړه خلاصه شي.

مقدمات هامة : يو څو مهمې مقدمې.

مسلمانانو ورونو! د طالبانو د اسلام له نواقضو څخه مخکې يو څو مقدمات پيژندل ضروري دي، چې راتلونکی بحث روښانه کوي.

المقدمة الأولى :

غاية خلق الناس هو التوحيد:

د انسان د پيدايښت مقصد توحيد دی، دا به مونځ الله لپاره کوي، صدقه، نذر، فرياد، کومک غوښتل، قرباني کول دا ټول به خالص د الله لپاره وي، نور څوک به پکې شريک نه وي، دغه رنګ نظام، قانون، پريکړه او دين به هم خالص د رب العالمين لپاره وي.

الله تعالى فرمايي:

۞ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ (56) مَا أُرِيدُ مِنْهُمْ مِنْ رِزْقٍ وَمَا أُرِيدُ أَنْ يُطْعِمُونِ. [سورة الذاريات:٥٧]

ما پيريان او انسانان ندي پيدا کړي مګر ددې لپاره چې زما عبادت وکړي، زه له هغوی څخه رزق نه غواړم او نه غواړم چې ما ته دې خوراک راکړي.

امام طبري فرمايي:

"وَأَوْلَى الْقَوْلَيْنِ فِي ذَلِكَ بِالصَّوَابِ الْقَوْلُ الَّذِي ذَكَرْنَا عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَهُوَ: مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِعِبَادَتِنَا، وَالتَّذَلُّلِ لِأَمْرِنَا.

(مَا أُرِيدُ مِنْهُمْ مِنْ رِزْقٍ) يقول تعالى ذكره: مَا أُرِيدُ مِمَّنْ خَلَقْتُ مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ مِنْ رِزْقٍ يَرْزُقُونَهُ خَلْقِي." [تفسير ابن جرير]

ژباړه: او له دواړو ويناو څخه سمه وينا هغه ده چې مونږ يې له ابن عباس رضي الله عنهما څخه ذکر کړه، هغه دا چې ما پيريان او انسان ندي پيدا کړي مگر د خپل عبادت او د خپل حکم منلو لپاره.

او الله تعالى فرمايي: هغه پيريان او انسانان چې ما پيدا کړيدي، زه له هغوی څخه رزق نه غواړم چې زما مخلوق ته رزق ورکړي.

حاصل د دې آيت کريمه دا شو چې مقصود او الغاية العظمى يعني لوي مقصد د انسانانو د پيدايښت څه دی ؟

عبادت او توحيد دی. دغه نور ماديات، رزق پيدا کول، کور جوړول وغيره دا مقصود ندي، بلکې دا وسيلې د ژوند دي نو دا به د وسيلې په حيث استعمالوو؛ مقصود به پرې نه خرابوو.

د همدې عبادت او له طاغوت څخه د براءت لپاره ټول انبياء کرام هم رالیږل شوي دي :

۞ وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ فَمِنْهُمْ مَنْ هَدَى اللَّهُ وَمِنْهُمْ مَنْ حَقَّتْ عَلَيْهِ الضَّلَالَةُ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانْظُرُوا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ. [سورةالنحل:36]

ژباړه: یقینا مونږ هر امت ته رسول لیږلی، پدې خبره چې تاسې خالص د الله عبادت وکړئ او د طاغوت (له بندگۍ) څخه ځان وژغورئ، نو بعضې په دوی کې هغه څوک دي چې الله ورته هدایت وکړ او بعضې هغه دي چې پخه شوې ده، په هغوی گمراهي، نو وگرځئ په ځمکه کې او وگورئ څنگه شو انجام د تکذیب کونکو.

۞ وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ. [سورة الأنبياء:25]

ژباړه: او مونږ ندی لیږلی مخکې له تا نه هیڅ رسول مگر دا وحې مو ورته کړې چې نشته لائق د عبادت سیوا له ما نه، نو خاص زما عبادت وکړئ.

همدا توحید د ځمکې او آسمانونو د وړیدو سبب دی. اوس دغه توحید او د دین اصل مونږ تاسې ته د الله عزوجل نبي، محمد رسول الله صلی

الله عليه وسلم رارسولی دی، نو له دې نه وروسته د توحید او د هغه ضد شرک په اړه د چا عذر څنګه پاتې شي چې زه نه وم خبر، زه جاهل وم، الله رب العالمين خبره ختمه کړې ده :

وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولاً. [سورة الْإِسْرَاء: 15]

ژباړه: او مونږ چا ته عذاب نه ورکوو تر دې چې رسول ولیږو.

چې رسول راولیږل شو، حجت او دلیل قائم شو.

رُسُلًا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ [سورةالنِّسَاءِ: 165]

ژباړه: (او لیږلي دي مونږ) رسولان، زیري ورکونکي او ویره ورکونکي، د دې لپاره چې رسولانو له لیږلو وروسته د الله تعالی په وړاندې د خلکو لپاره هیڅ بهانه نه وي.

اوس هم که څوک ځان ته جاهل وايي، دا نشي خلاصیدای، ځکه نبي علیه السلام فرمايي :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ يَهُودِيٌّ، وَلَا نَصْرَانِيٌّ، ثُمَّ يَمُوتُ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِالَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ، إِلَّا كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ». رواه مسلم

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قسم دې په هغه ذات چې د هغه په لاس کې زما روح ده، د دې امت هیڅ یو یهودي یا نصراني زما په اړه خبر نه اوري، او بیا مړ شي او په هغه شریعت ایمان رانه وړي چې زه پرې رالیږل شوی یم، مګر دا به له اور والاو څخه وي.

نو ګوره یوازې اوریدل یې ذکر کړي، همدا وجه وه چې د نبي علیه السلام په اړه کومو خلکو خبره اوریدلې وه خو په هغه باندې یې ایمان نه وو راوړې هغوی ټول مشرکان وبلل شول. دا د یهود او نصاراو حال دی، نو چې د اسلام دعوه کوي او له توحید څخه نه وي خبر، هغه به معذور وګرځي ؟؟

حافظ ابن القیم رحمه الله فرمایي :

"فَإِنَّ حُجَّةَ اللَّهِ قَامَتْ عَلَى الْعَبْدِ بِإِرْسَالِ الرَّسُولِ، وَإِنْزَالِ الْكِتَابِ، وَبُلُوغِ ذَلِكَ إِلَيْهِ، وَتمَكُّنِهِ مِنَ الْعِلْمِ بِهِ، سَوَاءً عَلِمَ أَمْ جَهِلَ، فَكُلُّ مَنْ تمَكَّنَ مِنْ مَعْرِفَةِ مَا أَمَرَ اللَّهُ بِهِ وَنَهَى عَنْهُ، فَقَصَّرَ عَنْهُ وَلَمْ يَعْرِفْهُ، فَقَدْ قَامَتْ عَلَيْهِ الْحُجَّةُ." [مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين]

ژباړه: یقینا د الله تعالی دلیل په بندګانو باندې د رسول په رالیږلو، د قرآن په نازلولو، او د دغه قرآن په رسېدلو او د دغه دلیل د پوهې زمینه سازۍ سره پوره شوی، برابره ده که پوهه شوي وي یا جاهله پاتې وي، نو

هر هغه څوک چې د الله تعالی حکم او منع شوي شیز په پیژندلو قادره شو، بیا یې کمې وکړواو ځان یې پرې پوهه نه کړ، نو یقینا په هغه باندې دلیل پوره شو.

دې وجې نه شیخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب رحمه الله هم وایي:

"فکل من بلغه القرآن ودعوة الرسول صلی الله علیه وسلم فقد قامت علیه الحجة قال الله تعالی: {وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ لِأُنْذِرَكُمْ بِهِ وَمَنْ بَلَغَ}. [سورة الأنعام آية: 19]." [الدرر السنية ج ١١ / ص ٧٢]

ژباړه: هر هغه څوک چې قرآن او د رسول صلی الله علیه وسلم دعوت ورته ورسیده نو په هغه باندې دلیل پوره شو، الله تعالی فرمایي:

او وحي شوې ده ما ته د دې قرآن کریم دې لپاره چې زه پدې سره ویره ورکړم تاسې ته او هغه چا ته چې دا ورته رسیږي.

نو خبره د نبي علیه السلام په بعثت او قرآن کریم په نزول سره ختمه شوې ده، دا هم څرګنده شوه چې مراد رسول دي، عام علماء ندي، نبي علیه السلام ځان یاد کړی، نور علماء تایید کونکي دي.

که نه نصاراو ته الله جل جلاله د ضالینو خطاب کوي، یعني هغه ګمراهان چې جاهله ګمراهان دي. هغه ټول په اتفاق د امت سره کفار

دي، چې کله هغوی معذوره ونه ګرځیدل نو نن سبا خو هیڅوک معذوره نه ګرځي. دا دومره اسباب د تحقیق موجود دي، علماء شته، د هر چا دعوه او دلیل موجود دی، باید مسلمان تحقیق وکړي، د حق پلټنه وکړي، دا دې نه وایي چې زه نه پوهیږم چې کومه ډله په حقه ده؟ طالبان هم قرآن او احادیثو نوم اخلي، او اسلامي خلافت هم د قرآن او احادیثو څخه دلائل وړاندې کوي نو مونږ عوام یو، مونږ نه پوهیږو ؟

دا عذر الله رب العالمین ختم کړې دی، ته تحقیق وکړه، وګوره څوک د کافرو سره موالات لري، د چا نه کافر راضي دي، د چا په خلاف نن نړیوال ائتلاف شوی دی، چا شریعت تطبیق کړی، او چا تعطیل کړی، څوک ډیموکراسي مني او څوک یې په خلاف مبارزه کوي؟ څوک بین المللي قوانین مني، د کفارو ویشل شوې پولې مني، د وینځو او غلامانو له نظام څخه انکار کوي، مرتدینو سره د مسلمانانو خلاف مرسته کوي؟ او څوک د کفارو کفري قوانین نه مني، د وینځو او غلامانو د نظام تجدید چا وکړ؟ او دغه رنګ نور هغه توپیرونه چې د اسلامي خلافت او طالبانو ترمنځ موجود دي؛ دې کې لږ سوچ وکړه! پخپله درته ټوله خبره روښانه کیږي. نو عذر د هیڅ چا نه پاتې کیږي.

بيا د حق له واضحه کیدو نه وروسته خلک اوس دوه قسمه دي، فَمِنْهُمْ مَنْ آمَنَ وَمِنْهُمْ مَنْ كَفَرَ، بعضې مسلمانان او بعضې کفار او مرتدین، نو رب امتحان کوي، د امتحان لپاره، کله مسلمانانو ته غلبه ورکوي او کله کافرو ته. ځکه دا د رب قانون دی:

۞ الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا. [الملك: 2].

الله هغه ذات دی چې مرگ او ژوند یې دې لپاره پیدا کړی، چې پر تاسې امتحان وکړي چې کوم یو په تاسې کې غوره عمل کونکی دی.

المقدمة الثانية :

زمونږ د زماني جاهلیت او د نبي علیه السلام له بعثت نه په مخکې جاهلیت کې یوازې دومره فرق دی چې معبودان مختلف دي، هغه وخت د بتانو عبادت کیده، نن سبا د قبرونو او وضعي قوانینو عبادت کیږي. نو اگر که شکلونه یې مختلف دي، نور حکم یې یو شان دی، چې هغه شرک دی؛ ځکه هر شی چې له رب سره شریک شي ، انسان مشرک گرځي. نو کوم وعیدات چې د هغه کفارو په اړه راغلي، هغه ننیو کفارو او مرتدینو ته هم متوجه دي. دا د علماؤ ترمنځ اتفاقي قاعده ده چې د کتاب او سنت نصوص عام دي، هرې زمانې او هر قوم ته شاملیږی، چې

علت موجود شي نو هماغه حکم به پرې کيږي، که نه نو د کافرو آيتونه د هغه وخت کافرو سره خاص شول، د مومنانو آيتونه صحابه و پورې شو، او د منافقانو احکام د هماغه زمانې منافقانو پورې ځانګړي شول، نو بيا خو زمونږ او ستاسې د زمانې لپاره هيڅ هم ندي پاتې، بيا څنګه قرآن عالمي کتاب دی، بيا څنګه تر قيامته ټول مسائل قرآن کې بيان شوي ؟

دې کې د علماء کرامو هيڅ اختلاف نشته، ځکه خو صحابه و لکه عمر فاروق، عثمان غني او نورو رضي الله عنهم به د يهودو آيتونه له ځان سره لږول او ژړاګانې به يې کولې، نو د علت موجوديدو پر مهال د شرک حکم کول، په هر وخت کې د خوارجو نښه نه وي.

عَنْ حُمْرَانَ، فَلَمَّا تَوَضَّأَ عُثْمَانُ قَالَ: أَلاَ أُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا لَوْلاَ آيَةٌ مَا حَدَّثْتُكُمُوهُ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لاَ يَتَوَضَّأُ رَجُلٌ يُحْسِنُ وُضُوءَهُ، وَيُصَلِّي الصَّلاَةَ، إِلَّا غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الصَّلاَةِ حَتَّى يُصَلِّيَهَا» قَالَ عُرْوَةُ: " الآيَةَ {إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ البَيِّنَاتِ} [البقرة: 159] " متفق عليه

حمران وايي: کله چې عثمان رضي الله عنه اودس وکړ، ويې فرمايل: آيا تاسې ته يو حديث بيان نه کړم! که چيرته د الله په کتاب کې يو آيت نه وی، نو ما به تاسې ته نه وی بيان کړی. ما له نبي عليه السلام څخه

اوریدلي، هغه فرمایل: اودس نه کوي یو سړی، چې ښایسته اودس وکړي، بیا مونځ وکړي، مګر د ده او د مونځ ترمنځ ګناهونه به ورته وبښل شي، تر دې چې مونځ وکړي، عروه وايي: هغه آیت دا دی:

یقینا هغه کسان چې پټوي هغه څه چې مونږ نازل کړي دي د ښکاره حکمونو نه.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " إِنَّ النَّاسَ يَقُولُونَ أَكْثَرَ أَبُو هُرَيْرَةَ، وَلَوْلاَ آيَتَانِ فِي كِتَابِ اللَّهِ مَا حَدَّثْتُ حَدِيثًا، ثُمَّ يَتْلُو {إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ البَيِّنَاتِ وَالهُدَى} [البقرة: 159] إِلَى قَوْلِهِ {الرَّحِيمُ} [البقرة: 160] متفق عليه.

ابو هریره رضي الله عنه وويل: خلک وايي چې ابو هریره زیات احادیث بیانوي، که چیرې دا دوه آیتونه د الله په کتاب کې نه وی نو ما به یو حدیث هم نه وی بیان کړی، بیا یې دا آیت ولوستو: یقینا هغه کسان چې پټوي هغه څه چې مونږ نازل کړي دي د ښکاره حکمونو او د هدایت نه، تر دویم آیت آخر پورې.

اوس وګورئ! خلیفه راشد عثمان او امیر المؤمنین في الحدیث، ابو هریرة رضي الله عنهما خپل ځان باندې د اهل کتابو یهودو آیتونه تطبیقوي، او ډاریږي، آیا دوی هم خوارج و ؟

نو خلاصه دا چې شرک يو حکم لري، که په هره زمانه کې وشي او که هر څوک يې وکړي.

المقدمة الثالثة :

دغه کفري نظامونه، قوانين او شرکيات ختمولو لپاره په مسلمانانو باندې د يو قريشي امير سره بيعت کول لازم دی.

عن عبد الله بن عمر قال سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: « وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً». صحيح مسلم

ژباړه: او څوک چې مړ شو او په غاړه يې د امام بيعت نه و، دا د جاهليت په مرګ باندې مړ شو.

المقدمة الرابعة :

الله عزوجل مونږ او تاسې ته دين کامل کړی، هيڅ شی يې ندی پريښې:

الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا. [سورةالمائدة: ٣]

ژباړه: نن ورځ ما تاسې لپاره ستاسې دين کامل کړ، او خپل نعمت مې په تاسې پوره کړ، او اسلام مې ستاسې لپاره دين غوره کړ.

وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ. [سورة الأنعام: 38].

ژباړه: نشته هيڅ زنده سر په ځمکه کې، او نه هم يو مارغه چې خپلو وزرو سره الوزي، مګر ډلې دي ستاسې پشان، کمی ندی کړی مونږ پدې کتاب کې د هيڅ شي، بيا به تاسې خپل رب ته راجمع کولی شئ.

نو هغه ذات چې مونږ ته يې د خوراک، څښاک او د قضاء حاجت مسائل بيان کړي دي، نو د نظام چلولو او د شرعي سياست مسائل يې خامخا راته بيان کړيدي.

لهذا دا خبره د هغه خلکو غلطه ده چې کتاب او سنت کې ټول مسائل د سياست او ژوند تيرولو ندي بيان شوي.

شيخ الاسلام په مجموع الفتاوى کې وايي:

وَأَنَّ الْكِتَابَ وَالسُّنَّةَ وَافِيَانِ بِجَمِيعِ أُمُورِ الدِّينِ. [مجموع الفتاوى ج ١٩/ ١٧٦]

ژباړه: او يقينا کتاب او سنت د دين د ټولو احکامو په اړه پوره دي.

بس کوم شی چې دین دی، هغه پوره دی، اوس چې څوک پکې زیادت کوي نو دا به مبتدع وي او له امام مالک رحمه الله څخه، امام ابن حزم رحمه الله پخپل سند سره نقل کړي:

قَالَ ابْنُ الْمَاجِشُونِ: سَمِعْتُ مالكاً يقول: "من ابتدع في الإسلام بدعة يراها حسنة، فقد زَعَمَ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَانَ الرِّسَالَةَ؛ لِأَنَّ اللَّهَ يَقُولُ: {الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ}، فَمَا لَمْ يَكُنْ يَوْمَئِذٍ دِينًا، فَلَا يَكُونُ الْيَوْمَ دِينًا". [الإحكام في أصول الأحكام (6/ 85)]

ژباړه: امام مالک ویل: چا چې په اسلام کې یو نوی کار جوړ کړ او دا یې ښه ګاڼه، یقینا هغه ګمان وکړ چې محمد صلی الله علیه وسلم په رسالت کې خیانت کړی، ځکه الله تعالی فرمایي: نن ورځ ما ستاسې لپاره ستاسې دین پوره کړ، نو کوم څیز چې پدغه ورځ دین نه و، هغه به نن هم دین نه وي.

نو نن چې څوک دا وایي په قرآن او سنت کې هر څه نشته او زمونږ په قانون کې زرګونو مادې دي، شقونه او سیکشنې (sections)دي، یا هم سیاست له غرب څخه اخلي، د بین الملل په قوانینو تګ کوي، نو دامام مالک د قول مطابق، د دې خلکو صفا خبره دا ده چې نعوذ بالله نبي علیه السلام خیانت کړی، نبوت یې په پوره توګه مونږ ته ندې رارسولی،

ځکه رب العالمين خو وايي چې ما پوره کړې نو بيا د دوی د وينا مطابق، نبي عليه السلام به څه حصه پټه کړي وي. معاذ الله

المقدمة الخامسة :

کله چې د يوې معاشرې نه سنت پورته شي نو پرځای يې بدعت راځي او چې توحيد پورته شي شرک يې ځای نيسي.

کله چې اعتصام بحبل الله، د الله په کتاب باندې منګولې لګولو امر پرځای نشي، قريشي خليفه سره بيعت ونشي نو بيا به ګمراه خلکو سره بيعت کيږي، امت کې به اختلاف راپورته کيږي او چا چې د بيعت څخه لاس واخيست، د اختلاف منشاء او سبب همدغه کس او همدغه جماعت دی.

لکه د علي رضي الله عنه د بيعت نه چې بعضې خلکو لاس واخيست او اختلاف رامنځ ته شو نو د هغه خلافت ته خو د اختلاف نسبت نه کيږي او نه هم د هغه خلافت ته پرې ضرر ورسيده. ځکه خليفه چې په کوم طرف کې وي، هغه جماعت وي، هغه سره حق وي، تر څو چې ترې کفر بواح نه وي ليدل شوې؛ تر هغه به يې اطاعت کيږي.

المقدمة السادسة :

حق پیژندلو لپاره د خلکو ډېر والی او کموالی ته به نشي کتل کیدای، معیار کثرت ندی. داسې نده چې د چا ډله لویه وي، هغه به په حقه وي. کله بنه لوی جماعت وي، خو هدف یې ډیموکراسي او صرف واک لاس ته راوړل وي، نو د دوی لحاظ به نه کیږي.

وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ [سورة الأنعام:116]

ژباړه: که چیرې ته په ځمکه کې د اکثرو خلکو تابعداري وکړې، د الله له لارې څخه به دې واړوي، هغوی تابعداري نه کوي مگر د گومان، او ندی هغوی مگر اټکل کونکي.

فضیل بن عیاض رحمه الله فرمایي:

" لا تستوحش طرق الهدى لقلة أهلها، ولا تغتر بكثرة السالكين الهالكين"

ژباړه: د حق په لاره کې د حق پرستو په کموالي مه وېرېږه، او د باطل په لار د هلاکیدونکو په ډیروالي مه تیروځه.

او إمام الأوزاعي رحمه الله إمام أهل الشام فرمايي: "عليك بآثار من سلف وإن رفضك الناس، وإياك وآراء الرجال وإن زخرفوه لك بالقول."

ژباړه: د سلفو آثار او روايتونه کلک ونيسه! اگر که خلک دې وغورځوي او د خلکو په فکرونو پسې مه ځه! اگر که تا ته باطله خبره ډېره ډولي انداز کې هم وړاندې کړي.

جهاد هر وخت فرض دی، اگر که هغه يو څو کسان ولی نه وي، خو چې اخلاص، صدق او اطاعت وي، رب خامخا مجاهدينو ته نصرت ورکوي.

زمونږ په شريعت کې خلک شميرل کيږي نه، بلکې تلل کيږي. ډير کرت به يو څيز ډير وي خو باطل به وي. لکه په نړۍ کې کفار ډير دي، مسلمانان لږ، که چيرته دننه د اسلام دعوه کونکو ته راشو، نو بريليان څومره ډير دي، په ۲۰۰۰ ميلادی کال کې يوه احصائيه شوې وه، د دوی تعداد ۲۰۰ مليونه و. په وروستنيو کلونو کې بيا بعضې احصائيو ۵۰۰ مليونه ليکلی، نو آيا اوس به هغوی ته اعتبار ورکوو ؟ هغوی خو مشرکان دي، قبرونو ته سجدې لگوي، پيرانو ته سجدې لگوي، نبي عليه السلام او خپلو پيرانو څخه امدادونه غواړي، خپلو مشرانو ته د الوهيت درجه ورکوي او نور گڼ شمير کفري عقائد لري. اوس په شريعت محمدي کې دغه ۵۰۰ مليونه د يو موحد سره ندي برابر، او که د اکثريت په قانون

ځوک عمل کوي، هغه به وايي چې يو طرف ته ۵۰۰ مليونه مسلمانان دي، ځکه تش د اسلام دعوه خو کوي، او بل طرف يو، يا لس موحدين دي، نو هغه خامخا د ۵۰۰ مليونه خلکو نظر ته ترجيح ورکوي، اګر که په نفس الأمر، حقيقت او شريعت کې داسې نده.

همدغه رنګه شيعه روافض دي، د ۲۰۱۴ ميلادي کال احصايې مطابق ۴۰۰ مليونه تعداد يې بعضې مراجعو ليکلی نو دغه غليظ کافر چې زمونږ او ستاسې د نبي دښمنان دي، د امهات المؤمنين دښمنان، د صحابه و دښمنان، د بتانو عبادت کونکي دي، آيا دوی په حقه دي ؟ ځکه شيعه ځان ته مسلمان وايي. نه! الله عزوجل فرمايي:

قُلْ لَا يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ [سورة الْمَائِدَةِ: 100]

ورته ووايه، حرام او حلال ندي برابر.

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمى وَالْبَصِيرُ [سورة الأنعام: 50]

ورته ووايه اې پيغمبره! آيا ړوند او بيناء برابر دي ؟

أَمْ هَلْ تَسْتَوِي الظُّلُماتُ وَالنُّورُ [سورة الرَّعْدِ: 16]

يا آيا تيارې او رڼا برابر دي ؟

لکه څرنګه چې حرام او حلال، ړوند او بيناء، رڼا او تياره ندي برابر همدغه رنګ موحد او غير موحد هيڅکله نشي برابريدی.

أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ (35) مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ. [سورة القلم:35-36]

ژباړه: آيا مونږ به مسلمانان د مجرمانو په څير وګرځوو، دا څه شوي په تاسې، څنګه فيصله کوئ ؟

همدغه رنګه الله عزوجل فرمايي :

[أَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا لَا يَسْتَوُونَ]

ژباړه: آيا هغه څوک چې مومن وي، دا د هغه چا پشان کيدای شي چې هغه فاسق وي، دا دواړه ندي برابر.

او نورو زياتو نصوصو کې دا خبره ذکر شوې چې معيار کثرت ندی، که باطل هر څومره ډير وي، خو له حق سره هيڅکله نشي برابريدای. نو د باطلو ډلو کثرت هغوی ته فائده نه ورکوي؛ لکه طالبان.

المقدمة السابعة :

د نصوصو مجموعه پدې دلالت کوي چې آخر وخت کې به مسلمانان د نړۍ واک تر لاسه کوي، له يهودو سره به جنگ کوي، د فارس په مجوسيانو باندې به غالبه کيږي. ځکه چې رب دا پريکړه کړې ده :

وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ. [سورة الروم:47]

ژباړه: او په مونږ باندې د مومنانو مرسته کول لازم ده.

مسلمانه! زما او ستا کومک الله عزوجل په ځان لازم کړی نو بيا ولې نااميدي او خفگان وکړو.

ثُمَّ نُنَجِّي رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُواْ كَذَلِكَ حَقّاً عَلَيْنَا نُنجِ الْمُؤْمِنِينَ. [سورة يونس]

ژباړه: بيا خلاص کړي دي مونږ خپل رسولان او مومنان همدغه شان په مونږ باندې د مومنانو خلاصول لازم دي.

كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ. [سورة المجادلة:21]

ژباړه: ليکلي دي الله تعالى (په تقدير کې) خامخا زه او زما رسولان به غالبه کيږي، يقينا الله تعالى قوي او زورور ذات دی.

هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ. [سورة الصف:9]

ژباړه: الله هغه ذات دی چې خپل رسول یې هدایت او حق دین سره رالیږلی، دې لپاره چې دا دین په ټولو باندې غالبه کړي، اګر که مشرکان یې بد ګڼي.

وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ * إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنصُورُونَ * وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ الْغَالِبُونَ. [سورة الصافات]

ژباړه: له خپلو لیږل شویو بندګانو سره موږ لا پخوا وعده کړې ده. چې په یقیني ډول به له هغو سره مرسته وشي. او همدا زموږ لښکر به برلاسی شي.

قَاتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ اللّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ. [سورة التوبة]

ژباړه: تاسې هغو سره وجنګیږئ، الله به ستاسې په لاسونو هغوی ته سزا ورکړي، او هغوی به ذلیله کړي، او د هغوی مقابله کې به تاسې سره کومک وکړي، او د مومنانو سینې به یخې کړي.

او په دې باب کې زيات احاديث راغلي، لکه:

عَنْ نَافِعِ بْنِ عُتْبَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَغْزُونَ جَزِيرَةَ الْعَرَبِ فَيَفْتَحُهَا اللهُ، ثُمَّ فَارِسَ فَيَفْتَحُهَا اللهُ، ثُمَّ تَغْزُونَ الرُّومَ فَيَفْتَحُهَا اللهُ، ثُمَّ تَغْزُونَ الدَّجَّالَ فَيَفْتَحُهُ اللهُ». أخرجه مسلم.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تاسې به په جزيرة العرب جګړه کوئ، الله به درته پرې فتح درکوي، بيا به د فارس غزا کوئ، الله به فتح درکوي، بيا به د روم غزا کوئ نو دا به الله فتحه کوي، بيا به دجال سره جګړه کوئ نو الله تعالى به په هغه باندې بريا درکوي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ الْيَهُودَ، فَيَقْتُلُهُمُ الْمُسْلِمُونَ حَتَّى يَخْتَبِئَ الْيَهُودِيُّ مِنْ وَرَاءِ الْحَجَرِ وَالشَّجَرِ، فَيَقُولُ الْحَجَرُ أَوِ الشَّجَرُ: يَا مُسْلِمُ يَا عَبْدَ اللهِ هَذَا يَهُودِيٌّ خَلْفِي، فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ، إِلَّا الْغَرْقَدَ، فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرِ الْيَهُودِ " صحيح مسلم.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: قيامت به تر هغې نه قائميږي چې مسلمانان له يهوديانو سره جګړه وکړي، نو مسلمانان به يهوديان ووژني، تر دې چې يهودي به د کاڼي او بوټي شاته پټ شي او

دغه کاڼې او بوټې به وايي: اې مسلمانه! اې د الله بنده! زما شاته يهودي دی، راشه دا ووژنه، سيوا د غرقد له ونې نه، ځکه دا د يهوديانو ونه ده.

عَنْ تَمِيمِ الدَّارِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَيَبْلُغَنَّ هَذَا الْأَمْرُ مَا بَلَغَ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ، وَلَا يَتْرُكُ اللهُ بَيْتَ مَدَرٍ وَلَا وَبَرٍ إِلَّا أَدْخَلَهُ اللهُ هَذَا الدِّينَ، بِعِزِّ عَزِيزٍ أَوْ بِذُلِّ ذَلِيلٍ ". مسند أحمد.

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: دا دين به خامخا تر هغه ځای پورې رسي، چې شپه او ورځ ورته رسيږي. الله رب العالمين به هيڅ يو پوخ يا خام کور پرې نږدي، مګر دا دين به ورته ورننباسي، د عزت مند په عزت سره او د ذليله انسان په ذلت سره.

او نور زيات نصوص دي، لهذا يو مسلمان به اوس وخت او حالاتو ته نه ګوري، چې اوس د فلانۍ ډلې د واک دوره ده، راشه ورته تسليم شه، ځکه د اسلام د نصرت نه نااميده وي نو جهاد پريږدي او د کفر ملاتړ وکړي، بيا چې کله اسلام د غلبې په وخت کې وو، ځان ته بيا تر ټولو ښه مسلمان وايي. نه! دا د منافق خوي دی؛ بلکې مسلمان به حق پيژني او بيا به يې کومک کوي او د نزدې بريا اميد به ساتي.

أَلاَ إِنَّ نَصْرَ اللهِ قَرِيبٌ. [البقرة: 214]

ژباړه: خبر شئ د الله کومک نزدې دی.

یو مجاهد او مسلمان چې د بریا په قوي عزم سره، د اسلام لپاره مبارزه کوي، نو قدمونه یې غښتلي او کارونه یې پیاوړي وي، نو نتیجه پرې ښه مرتب کیږي، د استقامت لوی سبب د الله تعالی لخوا د فتح ورکولو په نصوصو کلک ایمان دی.

المقدمة الثامنة :

د دین په اقامت کې د بنده کوښښ مقصود دی، په نتائجو مجاهد ندې مکلف. که چیرته نتیجه د تمکین او نصرت په شکل وه، نو دا د الله فضل دی او که نتیجه د شهادت په صورت وه نو دا هم الفوز العظیم (لویه کامیابي) ده.

د اصحاب أخدود قصه مشهوره ده، سورت بروج کې الله عزوجل د هغوی ذکر کړې دی. دغه ټول موحدین د اور د لمبو خوراک وگرځیدل، سره له دې چې حقیقي مومنان و :

وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلاَّ أَن يُؤْمِنُوا بِاللهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيد. [سورة البروج]

او دښمني نه کوله، هغوی له (أصحاب أخدود) سره مګر پدې خبره چې دوی ایمان راوړی وو په هغه الله باندې چې زورور،ستایلی شوی ذات دی.

زکریا او یحیی علیهما الصلاة والسلام اره کړی شول.

نو شکست، سقوط یا شهادتونه، د الله عزوجل لخوا ذلت ندی، کله چې منهج صحیح وي؛ بلکې شهادت ته خو رب العالمین غوره کار ویلي:

قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ. [التوبة: 52].

ژباړه: ورته ووایه، تاسې انتظار نه کوئ زمونږ په اړه مګر یو له دوو خوشحالیو نه.

د مجاهد ژوند هم بریا ده او له ایمان سره مرګ هم ستره او ابدي بریا ده.

خو د دې خبرې دا مطلب ندی چې مونږ به فتحه نه غواړو، یا مایوسي اختیار کړو. نه! د فتحې خو رب وعده کړې ده، لکه مخکې ذکر شو خو کله دامتحان لپاره الله عزوجل شهادتونه، اسارت او سقوط راولي نو دا د دې نښه نه وي چې دغه مومنان په حق ندي.

د ذلت خبره دا ده چې مسلمان جهاد پرېږدي، صحيح منهج پرېږدي، نعوذ بالله.

المقدمة التاسعة:

د قربانۍ معنا پېژندل پکار دي، چې د الله لپاره قرباني ورکول څه معنا لري؟

څکه دنيا کې ډېر خلک جنگ کوي، ډز کوي، خو دا ټول خو د الله لپاره قرباني نه ورکوي.

عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ الرَّجُلُ: يُقَاتِلُ حَمِيَّةً، وَيُقَاتِلُ شَجَاعَةً، وَيُقَاتِلُ رِيَاءً، فَأَيُّ ذَلِكَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ؟ قَالَ: «مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ العُلْيَا، فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ» صحيح البخاري ومسلم

ژباړه: ابو موسى رضي الله عنه وايي: نبي عليه السلام ته يو كس راغی، هغه وويل: يو كس د غيرت له امله جنگيږي، بل د شجاعت لپاره، بل د ځان ښودني لپاره جنگيږي، پدې کې کوم يو د الله لارې لپاره حسابيږي؟ نبي عليه السلام وفرمايل: چا چې ددې لپاره جنگ وكړ چې د الله دين پورته شي؛ دغه کس د الله په لار کې حسابيږي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایی: وَمَنْ قَاتَلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ يَغْضَبُ لِعَصَبَةٍ، أَوْ يَدْعُو إِلَى عَصَبَةٍ، أَوْ يَنْصُرُ عَصَبَةً، فَقُتِلَ، فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ. صحيح مسلم

ژباړه: چا چې د ړوند بيرغ لاندې جگړه وکړه، د عصبيت لپاره غصه کيده، يا يې عصبيت ته بلنه ورکوله يا يې د عصبيت ملاتړ کاوه، او پدې کې ووژل شو، نو مرگ يې د جاهليت دی.

په بل روايت کې دي:

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایی: وَمَنْ قُتِلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ، يَغْضَبُ لِلْعَصَبَةِ، وَيُقَاتِلُ لِلْعَصَبَةِ، فَلَيْسَ مِنْ أُمَّتِي، صحيح مسلم

ژباړه: چا چې د ړوند بيرغ لاندې جنگ کاوه، د عصبيت لپاره غصه کيده، او عصبيت لپاره جنگيده، دا زما د امت نه ندی.

له دې احاديثو نه دا خبره معلومه شوه چې يوازې اشغال پاي ته رسولو لپاره جنگ کولو ته جهاد نه وايي، چې ته زما په وطن ولې راغلی يې، دغه حميت او غيرت خو د مکې قريشو کې هم وو، د اسلام نه مخکې اوس او خزرج کې هم وو، آيا هغوی پدغه جگړو مسلمانان او مومنان وگرځيدل ؟؟

هغه جنګ، هغه ډز، هغه لیکنه، هغه بیان ،جهاد او قرباني حسابیږي چې د الله جل جلاله د دین د سر لوړی لپاره ترسره شي، نو دې لپاره ایماني او شرعي تربیت پکار دی.

نتیجه دا راووتله چې دا خبره،د هغه خلکو غلطه ده چې جاهلي غیرت باندې جنګیږي، عقیده نه پیژني او خپل جنګ ته شرعي حیثیت ورکوي او دا جهاد بولي؛ لکه طالبان.

جهاد دې ته ویل کیږي چې یو کس سالمه عقیده ولري، او د الله عزوجل په دین دومره پوهه وي چې د هغه اوامر پرځای او له منهیاتو څخه ځان وژغوري. له شبهاتو څخه لرې شي. د توحید لپاره به قرباني ورکوي، د شرک ختمولو لپاره به قرباني ورکوي، نه دا چې خپله په شرک کې اخته وي نو دا خو قرباني نه شوه، بلکې دا خو خپله فساد خپرول شو او دا خو په لوي لاس د کفارو اهداف عملي کول شو.

قرباني دې ته وایي چې ته جهاد کوې نو ایمان دی ورځ تر بلې قوي شي او کله چې ایمان کې قوت پیدا شي نو قاعده دا ده چې : د الله عزوجل نصرت او تمکین د مجاهدینو د ایمانونو په اندازه وي.

ځکه الله زمونږ ولي او ناصر دی :

ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَى لَهُمْ. [سورة محمد:11]

ژباړه: دا ځکه چې الله تعالی د مومنانو ملګری اود کافرانو، هیڅ ملګری نشته.

د دغه مولا اوامر به منو نو بیا به راسره مدد کوی. ان شاء الله:

إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوْا وَالَّذِينَ هُمْ مُحْسِنُونَ [النَّحْلِ: 128]

ژباړه: یقینا الله له متقیانو او نیک عملو سره دی.

چې د رب د اوامرو تعمیل وشي، بیا ملائکې، هواګانې او خپل نور مخلوقات هم د خپلو بندګانو په کومک کې استعمالوي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَاءَتْكُمْ جُنُودٌ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا وَجُنُودًا لَمْ تَرَوْهَا وَكَانَ اللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرًا. [سورت الأحزاب:9]

ژباړه: اې مومنانو! تاسې د الله نعمت پر ځان رایاد کړئ، کله چې تاسې ته لښکرې راغلې، نو مونږ په هغوی سیلۍ او هغه لښکرې راولیږلې چې تاسې ونه لیدې او الله ستاسې د عملونو لیدونکی دی .

او د باران راتلل وغیره، دا ټول الله عزوجل پخپل کتاب کې ذکر کړیدي.

نو مجاهد به ورځ تر بلې د الله په دين پوهيږي، علم او ايمان کې به يې مسلسل اضافه راځي. او د ده په فعاليتونو به توحيد نافذيږي، شرک به ختميږي، دغه مبارزې ته قرباني وايي، نه دا چې د طالبانو په څير خپله د شرکياتو داعيان وي، او بيا هم خپله مبارزه د الله په لار کې قرباني بولي!

المقدمة العاشرة:

د دين په کارونو کې ماضي باندې حکم نه کيږي او نه هم ماضي ته اعتبار وي.

چې پخوا مونږ داسې وو، پخوا زمونږ عقيده ښه وه، پخوا مونږ جهادونه کړي دي، بلکې شريعت کې به موجوده حالت ته په کتنې سره حکم کولی شي، لکه:

مانعينو د زکات هم دا خبره کولی شوه چې پخوا مونږ مسلمانان وو، د نبي عليه السلام صحابه شميرل کيدو، نن ولې تاسې له مونږ سره جنګ کوئ؟

آيا د هغوی په سابقه باندې پريکړه وشوه ؟

نه! هغوی پدغه وخت کې طائفه ممتنعه وګرځیدل، په اجماع د صحابه وو مرتد شول، نو پخواني کارونو ورته فائده ورنکړه.

نو نن دې هم دا څوک نه وايي چې مونږ پخوا دومره ،دومره قرباني ورکړي دي او مونږ داسې کړي دي، مونږ داسې کړيدي. نه! اعتبار ستاسو موجوده او ظاهري حالت ته دی.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ: قَالَ النَّبِيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَإِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالخَوَاتِيمِ». صحيح البخاري.

د اعمالو دارومدار په خاتمې باندې دی.

که نه د افغانستان او پاکستان په پارلمان کې ناست سابقه جنګيالي لکه سياف، ګلبدين او نور هم دا دعوه کوي چې مونږ جهاد کړی دی، وايي مونږ هغه وخت په سنګرونو کې و چې طالبانو به د مور په غيږو کې شيدې خوړلې، آيا د هغوی دغه خبرو ته څه اعتبار شته ؟؟

نه، هيڅکله هم نه.



نو دا خبره هم طالبانو ته فائده نه ورکوي چې مونږ شل کاله قرباني ورکړې ده. اول خو ته د قربانۍ معنا وپيژنه، چې قرباني څه ته وايي، بيا خپل جنګ دې پرې وتله چې آيا تا تش جنګ کړی او که نه د شريعت

د حدودو موافق دي قرباني ورکړې ده. دويمه دا ده که بالفرض تا مخکې قرباني ورکړې هم وي خو نن چې د ارتداد په صف کې واقع شوې نو پخواني اعمال خو دې ټول برباد شو. بلعام بن باعوره څومره ستر عالم و، سابقې ورته فائده ورکړه ؟ سابقه تاييد دې د هغه چا لپاره چې حال يې په ايمان پاتې وي.

المقدمة الحادي عشر :

عموما خلکو کې دا خبره مشهوره ده، چې چا صرف په خوله کلمه وويله، د هغه وينه حرامه شوه، اګر که هغه کې د اسلام نواقض هم راغلي وي، دا غلطه ده ځکه احاديثو کې قيد راغلی:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَيُقِيمُوا الصَّلاَةَ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ، فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الإِسْلاَمِ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ» متفق عليه.

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ما ته امر شوی چې خلکو سره تر هغې پورې وجنګيږم چې د لا اله الا الله او محمد رسول الله کلمې ګواهي ورکړي، مونځ قائم کړي، زکات ورکړي، کله چې هغوی دا

کار وکړ نو زما نه يې وينې او مالونه محفوظ کړل، مگر په حق د اسلام باندې او حساب يې له الله عزوجل سره دی.

اوس دا خلک نيم حديث ته گوري او دې خوا نيم ته نه گوري، چې دې حديث کې د (إِلَّا بِحَقِّ الإِسْلاَمِ) قيد دی، معنا دا چې د اسلام نقيض کوم کار وشي، نو بيا نبي عليه السلام دا وضاحت کړې دی چې وينه او مال يې په امن ندي.

نو دې حديث او نورو احاديثو کې کلمه مراد ده، د لوازمو، شرائطو او ارکانو سره مراد ده.

آيا داسې کيدايشي چې يو کس دې کلمه هم وايي او بت ته دې سجده هم وکړي، او بيا دې ځان ته ښه مسلمان هم وايي، يو کس دې کلمه هم وايي او الله او رسول پسې دې بد رد هم وايي، يو کس دې کلمه هم وايي او يهوديت، نصرانيت دې هم مني، يو کس دې کلمه هم وايي او ډيموکراسي دې هم مني، يو کس دې کلمه هم وايي او د کفارو غلامي دې هم کوي، يو کس دې کلمه هم وايي او د مسلمانانو خلاف دې له کفارو څخه کومک هم اخلي، دغه کلمه به ورته کومه گټه ورکړي ؟ آيا څوک به ورته مسلمان ووايي ؟

نه، دا کس مسلمان نه بلل کيږي.

خوارج کلمه وايي، جنګ ورسره کيږي. باغيان کلمه وايي، جنګ ورسره کيږي. طائفه ممتنعه چې مرتد دي، کلمه وايي، جنګ ورسره کيږي.

مانعينو د زکات مونځونه هم کول، روژې يې هم نيولې، ټول عبادات يې تر سره کول خو بيا هم صحابه وو په اجماع سره پرې د ارتداد حکم هم ولګاوه او جنګ يې هم ورسره وکړ. حتی تر دې چې يوې ډلې يې جهاد هم کاوه، په اول خطونو کې يې کورونه وو، کوفه کې وو، خو يو کس د مسيلمة الکذاب صفت وکړو، نور چپ شو، نو عبد الله بن مسعود ووژل. سنن أبي داود.

تاتاريانو کلمه ويله،بيا هم شيخ الاسلام پرې د ارتداد فتوی ورکړه او مسلمانانو ورسره کلک جنګ وکړ.

د نړۍ غليظه کافر ،شيعه ګان او نصيريان هم کلمه وايي.

د ختم النبوت څخه منکر قاديانيان هم کلمه وايي.

نور مثالونه يې زيات دي، نو د اسلام د ناقض په صورت کې د چا په کلمه ويلو سره، يا پټکې په سر کولو سره اسلام نه ثابتيږي، سره له دې چې بل خوا شپه او ورځ په نواقضو کې اخته وي؛ لکه طالبان.

الفصل الأول

التبيان في نواقض طالبان:

د تاريخ پاڼې چې واړوو نو دا به راته څرګنده شي چې د افغانستان په خاوره څلور لسيزې جنګ وشو. د شوريانو، خلقيانو او پرچميانو د دورو په پايله کې خلک در په در شول، کورونه يې ويجاړ شول، شتمنۍ يې له منځه لاړې، کور کلي پريښودو ته اړ شول، له چا څخه په غره کې کوچنې او معصوم بچي شهيد شو، له چا څخه په لار کې ځوی ورک شو، يونيم مليون شهيدان وشول.د تاريخ په پاڼو کې له درده ډک داستانونه ثبت شول، چې انسان يې له ويلو څخه عاجز دی.

يوه ورځ د فتحې لمر هم راوخوت، شورويان او د هغوی ګوډاګيان مات شول، د مجاهدينو دور راغی، خلک ورته خوشحاله ول، خو ورځ تر بلې دې خلکو هم په فسادونو لاس پورې کړ، او د ۷ تنظيمونو هغه سخته ورځ هم رب وليده چې د عزت، حياء او د مال په نوم کوم څيز خوندي نه و، د اسلامي نظام هيلې په سيند لاهو شوې او د مجاهدينو (!)واګې د (آي. ايس .آي) په لاس کې وې. پاکستانې اسلام يې نافذاوه، ټول پلان د (سي. آی. ای) او د (آي. ايس .آي) لخوا مطرح کيده.


حقاني
حميد كل
با سناتور چارلی ویلسن
با نوازشریف، صدراعظم پاکستان
کرنل امام، عبدالرب الرسول سیاف، حکمت یاراور اُستاد برہان الدین ربانی کے سا
کرنل امام

پدې وخت کې د خلکو د صبر جامونه هم نور ډک شوي وو، نور هر سړي د سر په بدل د دغه ظالمانه نظمونو څخه د خلاصون هوډ کړی وو، د تغيير رامنځ ته کيدو څرکونه ښکاره شول، پدې حساس وخت کې په مسلمانانو بې رحمه او د هغوی قاتله شبکه، د پاکستان استخبارات (آي. ايس .آي) پوهه شوه، چې زما پخواني روزل شوي عسکر نور د افغانستان د واک ساتلو توان نه لري، يا په بل تعبير داسې هم ويلای شو چې تير پلان تر دې ځاي پورې وو، چې افغانستان کې خپل منځي جنګ برقرار وي او د اسلامي نظام له قيام څخه خلک مشغوله وساتل شي، نور يوه جديده طرحه پکار وه، دې لپاره چې د افغانانو له احساساتو څخه بل ځوک استفاده ونه کړي او افغانستان چې تل (آي. ايس .آي) د دفاعي سنګر په حيث استعمال کړی، يوځل بيا دغه د اسلام ازلي دښمن، (آي. ايس .آي) ته طلايي چانس په لاس ورغی او د داسې ځواک جوړولو اراده يې وکړه چې د دوی اهداف په افغانستان کې پرمخ بوځي او افغانستان د پاکستان لپاره بيا دفاعي سنګر او ددوی د شومو موخو د ترسراوي يو دفتر وګرځي، نو دغه دجال صفته افسران چې يو وخت يې د شوروي پرخلاف د جګړې قومنده کوله،



د امریکا مرستې یې په مختلفو شکلونو په دین مېنو افغانانو مجاهدینو تقسیمولې او دغه ځوانانو د دښمن د توطئو نه بې خبره، د الله په لار کې جهادونه کول، نو (آی. ایس .آی) له خلکو سره معرفت درلود، د هر قومندان په خوي او عادت خبر ول، نو هغوی ته نوی ځواک جوړول څه گرانه خبره نه وه، خلک یې د تنظمونو په خلاف راوپارول او د طالبانو په نوم نوی تنظیم یې ترې جوړ کړ. په ۱۹۹۵ میلادي کال یې عملاً ظهور وکړ، هماغه وه چې له تنظیمونو څخه تنگو خلکو خپلې زړې ټوپکې او کمربندې بیا راوخستلې او د طالب ترڅنگ ودریدل او د یو کال په اوږدو کې یې ۹۵ سلنه ځمکه باندې واک تر لاسه کړ، تر دې چې یوه ورځ طالب د کابل واکمن شو، پنځه کاله دوره یې تیره کړه. که څه هم دا دوره په بعضې شرکیاتو او بدعاتو ککړه وه، خو بیا هم یو څه امن او بعضې اسلامي شعائر پکې موجود وو او د نړیوالو مهاجرینو پام دې سیمې ته راوگرځید، د شیخ اسامه په مشرۍ نړیوال جهاد زور واخیست، عرب او

نورو مهاجرو مجاهدينو افغانستان خپل تربیت گاه وگرځوله او د نړیوال خلافت په هیله یې خپلې لښکرې ورځ تر بلې پیاوړې کولې. د مهدي ددغه لښکر د سترو سالارانو له جملې څخه یو محبوب قائد، امیر الاستشهادیین (ابو مصعب الزرقاوي تقبله الله) هم و. د مهاجرینو دمنظم ځواک له قیام څخه وروسته د امریکا سپینې ماڼۍ مبارک عملیات وشول، امریکا د راروان سپیڅلي او مهاجر لښکر د مخې ډب کولو په پار په افغانستان باندې یرغل وکړ، چې د پاکستان مرتدو چارواکو په یوې اړیکې د امریکا مطالبې ومنلې او د پاکستان له طریقه امریکا افغانستان اشغال کړ.



خو بل طرف (آی. ایس .آی) د طالب مهم مشران له حملې څخه مخکې په مختلفو لارو پاکستان ته واړول او دلته یې کشران پاتې وو او هغه عرب مهاجرین چې خپل کورونه او له مزو څخه ډک ژوندونه یې پریښي وو او د شریعت په ارمان د طالبانو میلمانه ول، دا یې په میدان پریښودل.

د طالبانو د زعیم ملا محمد عمر هیڅ درک نه وو، خو نورو خائنانو پاکستان کې د هغه په نوم قومندانې شروع کړه. تر دې چې د عراق او شام مجاهدینو د الله په فضل خلافت قائم کړ نو هله د دغه خلکو له حقیقت څخه پرده پورته شوه، دوی د (آی. ایس .آی) په امر د خلافت په مجاهدینو جنګ شروع کړ، مجاهدینو خپله دفاع کوله تر دې چې الله جل جلاله مجاهدینو ته تمکین ورکړ او پنځه کاله یې د نازیان، اچین، ده بالا، سلیمانخیلو تنګي، توره بوړه، وزیرو تنګي، زاوه، مرکیخېل، وډي سار په شمول د کونړ او جوزجان وغیره سیمو، د الله شریعت په کامله توګه تطبیق کړ، طالبان چې کله د پاکستان، ایران، روس، چین او د افغان حکومت سره په ګډه حشرونو باوجود هم، د خلافت په خلاف کامیاب نه شول نو امریکا ته یې د سولې په مزخرفو نومونو د موالاتو وړاندیز وکړ. امریکا چې کله ولیدل چې طالب ورته له افغان حکومت څخه ډیر په ګټه تمامیږي نو دغه له طاغوتي او وطني تنظیم سره یې په بندو کوټو کې پټ مجلسونه ترسره کړل چې یوه ورځ به دغه رازونه هم د

دي كافرو لخوا نشر شي ان شاء الله. ځکه له امت سره چې چا خيانت کړی الله عزوجل شرمولي.

او د عام مسلمانانو غولولو په پار د سولې په نوم يوه ډرامه شروع شوه، چې هر سهار او ماښام په خبرونو کې يادېږي، د دې لپاره چې که څوک د جهاد اراده لري، هغه له خپل عزم څخه وګرځوي. که څوک پدغه سوله باندې شرعي نقد لري نو د دومره تبليغاتو په لړ کې د هغه صفا مغز ته زهرجن او باطل شبهات ورواچوي. کله چې جګړه ځپلي افغان اولس، دا خبره واوريده نو په بعضې ناپوهه خلکو دا خبره ډېره ښه ولګيده او د سولې چيغې يې شروع کړې، خو بابصيرته خراسانيانو دا د کفارو بل چال وباله.

الله رب العالمين د خپلو مخلوقاتو پيدايښت په نآشنا حکمتونو سره کړی. په هغه حکمتونو کې يې يو دا دی چې ښايسته صفات يې د انسانانو ترمنځ ويشلي، د هرې منطقې وګړي خپل خويونه او خصلتونه لري، نو دا يو څرګند حقيقت دی چې د خراسان اولس غيرتي او باشهامته اولس دی او بل يې له اسلام سره محبت په برخه شوی. دا دوه هغه ځانګړي صفات دي چې دا قوم يې له نورو ممتاز کړی. خو له دې نږدې ماضي راپدېخوا د جنګونو او غورځنګونو له امله له ديني پوهاوي

ځخه لرې پاتې شوی، نو په عام اولس د بدعاتو او ناپوهۍ خادر خپور دی. له دې سره سره د افغانستان خلک مخلص او ساده دي، همیش د خلکو په ظاهري او وختي خبرو تیروځي او مخکې وروسته پوره فکر نه کوي. همدا علتونه دي چې هر اسلامي خوځښت ته افغانستان کې سرپناه ملاویږي. د خپل اخلاص له امله تل ورسره د دین په جامه کې خلکو غدر کړی، ځکه نن دوی په اصلي اسلامي ځیرو هم ډیر شک کوي او د پخوانیو تجربو په رڼا کې ډاریږي او اکثر د نصرت لاس نه ورکوي. او په دوه قوتونو کې د دوی په ذهن کم ضرري قوت انتخابوي چې همدغه يې د ضعف نکته ده.

لکه د پاکستان استخباراتو تل په افغانستان کې لاس وهنه کړې ده، خصوصا د شورویانو دوره خو د پاکستان لپاره طلا وگرځیده. دا دې نن بیا پاکستان د طالبانو په نوم د افغانستان واگي په خپل لاس کې ویني او ډیری جاهلان له دې حقیقتونو ځخه بې خبره د سولې په کاذبو شعارونو غولیږي.

نو اې غیور مسلمان ملته !

اې د اسلام په دین مین ملته !

اې د بت شکن محمود غزنوي بچیانو !

اې د برتانوي انګريز ماتونکو غازيانو !

اې د شوروي، خلقي، پرچمي او کميونستي نظام ړنګونکو اتلانو !

اې د امريکا قاتلانو !

منم چې له جګړو څخه نور ستړي شوي ياست، منم چې د اسلام په نوم ډيرو خلکو غولولي ياست، خو دا نه منم چې نن دى دا غيرتي اولس د اسلام په سر سودا وکړي، د خپل ژوند د آرامۍ په خاطر دې د اسلام د دښمنانو پرخلاف مبارزه پريږدي او د چا په غوړو شعارونو، د هغوى اصلي څيره ونه پيژني.

نه! مونږ مو پيژنو، تاسې کې اوس هم هغه غيرتي ميندې شته چې د محمود غزنوي په شان بچيان روزي، پدې سيمه کې د مسلمانانو هغه ميندې ندي شنډې شوي چې بچو ته په زانګو کې نن هم د شهامت درسونه ورکوي، د غلامۍ او کفري اشغال په خلاف نن هم خپل زامن په غيرو کې تربيه ورکوي.

نو څنګه نن (آى. ايس .آى) نيغه نيغه کيږي او د افغانستان واک مستقيما لاس ته راوړلو لپاره بې حده خوشحالي ښکاره کوي. علت دا دى چې نن دا اولس د طالب په حقيقت ندى پوهه.

غوږ شئ!

نن تاسې ته د الله عزوجل له کتاب او د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم له سنتو څخه د طالبانو حقيقت څرګندوو ان شاءالله.

اې د افغانستان او پاکستان په سيمو کې اوسيدونکو مسلمانانو!

لږ له حقيقت څخه ځان خبر کړئ، لږ تحقيق وکړئ، دوست او دښمن وپيژنئ، تر څو به تاسې (آی. ايس .آی) د اسلام په نوم غولوي ؟

نو د طالبانو پيژندنې په لړ کې مونږ تاسې ته د دوی بعضې نواقض (د اسلام ماتونکي) ذکر کوو، چې حقيقت له هيڅ چا پټ پاتې نشي.

لِيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَن بَيِّنَةٍ وَيَحْيَى مَنْ حَيَّ عَن بَيِّنَةٍ. [سورة الأنفال: ۴۲]

ژباړه: دې لپاره چې مړ شي هغه څوک چې مړ کيږي پس د دليل نه او ژوندې شي هغه څوک چې ژوندې کيږي پس د دليل نه.

سره له دې چې دا کوم اول اقدام ندی، بلکې مخکې علماء کرامو او شيوخو دا موضوعات ښه مدلل او مفصل بيان کړي، والحمد لله.

راځو اصلي موضوع ته، د طالبانو په نواقضو به شروع وکړو:

لومړی مهمه ده چې د "نواقض" کلمې مختصر وضاحت وکړو؛ ځکه دا لفظ ډیر استعمالیږي، نو هغه ورونه چې دغه لفظ ورته نآشنا وي، هغوی هم ورسره آشنا شي.

تعريف النواقض :

نواقض د لغت په اعتبار سره د ناقض جمع ده، او له نقض نه اخستل شوی. نقض سپړلو ته وایي، لکه عربان وایي : نقض الشيئ، معنا يې دا ده : إذا حلّه بعد عقده. کله چې له تړلو نه وروسته یو شی وسپړل شي او خلاص شي.

اصطلاح : مفسدات الإسلام التي متى طرأت عليه أفسدته، وأحبطت عمل صاحبه وصار من الخالدين في النار.

هغه شیان چې کله په اسلام باندې واچول شي، نو اسلام فاسدوي او د مسلمان عمل خرابوي او همیشه د جهنم مستحق ګرځي.

لنډ دا چې اسلام ماتونکي شیانو ته نواقض ویل کیږي.

بیا ناقض په دوه قسمه وي:

حسي: هغه ناقض، چې په حواس خمسه(پينځه حسونو) سره حس کيږي، لکه د پړي خلاصېدل، دا په لاس او سترګو سره حس کېږي.

معنوي : هغه ناقض چې د انسان په حواسو سره نه معلوميږي لکه د لوظ ماتيدل. نو د دې ناقض مطلب دا دی چې کله شريعت کې يو کار په انسان لازم شي، دا داسې شو لکه ظاهره کې چې يو پړي ته ګنډه ورکړل شي، او کله چې يې مخالفت وشي نو داسې مثال لري لکه دغه ګنډه خلاصه شي، معقول په منزله د محسوس کې وګرځي.

نو همدغه رنګه اسلام هم دی، دا يو عقد دی، د دې شرائط او لوازم د يوې ګنډې او د غوټې مثال لري، چې کله د دې ماتونکي شيان اختيار شي نو داسې ده لکه انسان دغه د اسلام ګنډه خلاصه کړه او اسلام نه وواته او مرتد شو.

اوس به راشو د طالبانو نواقضو ته يعني هغه شيان چې د طالبانو اسلام ورسره مات شوی او دوی پرې مرتد ګرځېدلي.

د طالبانو اول ناقض: الشرك:

لمړی: شرکي عقائد

طالبان شرکي عقائد لري، هغه داسې چې دوی د وحدت الوجود، وحدت الشهود او حلول عقیدې لري.

اول به د هر یو مختصر وضاحت وکړو، بیا به ان شاء الله د دوی له کتابونو څخه د دې خبرې ثبوت وړاندې کړو.

وحدت الوجود : د دې عقیدې مطلب دا دی چې زمونږ او ستاسې خالق (الله) عزوجل او د کمزورو او ناقصو بندګانو وجود سره یو دی. نعوذ بالله.

وحدت الشهود : د دې مقصد دا دی دا څه چې مونږ ته ښکاري نعوذ بالله دا ټول الله دی، مثال یې دا وایي لکه د یو لرګي په سر کې اور بل شي او بیا دا لرګې تاو کړې شي، نو دا یو دائروي شکل ښکاره کیږي، خو حقیقت کې صرف یوه نقطه کې اور دی، همدغه رنګه اصل کې الله عزوجل وجود دی، خو د بندګانو په وجود کې ظاهریږي.

حلول : د دې عقیدې مطلب دا دی چې عبادت کې انسان ترقي وکړي، زړه یې صفا کیږي، تر دې چې الله عزوجل پدغه مخلوق کې حلول وکړي یعني ورننوځي.

نعوذ بالله، دا هغه کفریات دي چې د انسان په خوله نه راځي او نه هم قلم دا خبرې لیکي خو د ډیرې مجبورۍ له امله دا ذکر کوو، چې خلکو ته د طالبانو حقیقت معلوم شي.

نو دغه درې واړه عقیدو کې داسې لږ فرق شته خو نتیجه د ټولو یوه راوځي، چې خالق او مخلوق یو دي.

دا هغه فلسفه ده چې نصارى ترې په تثلیث تعبیر کوي، هغوى هم دغه د حلول عقیده لرله، هندوان او شیعه ګان هم دا د حلول عقیده لري، نو دا عقیده کفري عقیده ده او همدغه مذهب د طالبانو دی. ښه ښکاره یې اقرار کوي،انکار ترې نه کوي. د طالبانو مشر چې سید الطائفة امداد الله ورته ویل کیږي، چې دا په هند کې اوسیده، هلته د هندوانو همدا د حلول عقیده وه نو نوموړي هم دا عقیده خپله کړه او د انګریزانو خلاف له جهاد څخه یې ځان پټ کړ او آخر مکې ته وتښتید او بیا یې ځان باندې د مهاجر مکي نوم کیښود. د هغه د لس رسالو مجموعه د کلیات امدادیه په نوم چاپ ده، نوموړي پکې دا عقیده واضحه بیانه کړې ده.

ضیاء القلوب ۱۸ کلیات امدادیہ

الا اللہ کا تصور حضور قلب سے کرنا چاہئیے اور اپنی ذات وصفات کو جناب باری کی ذات صفات کے ساتھ اس طرح مربوط کردے کہ الا اللہ سے استثنار کی نفی ہوجائے جب سالک یہ مرتبہ حاصل کرلیتا ہے۔ تو مرتبہ دل سے متجاوز ہوکر مرتبہ روح پر پہنچ جاتا ہے اور چونکہ روح کا ذکر اسم کا ذکر ہے اس واسطے سالک کو چاہئیے کہ اسم ذات کے ذکر میں اسطرح متوجہ ہوجائے کہ الف لام جو اللہ پر داخل ہے باقی نہ رہے اور صرف لفظ ہو رہ جائے اس مرتبہ پر پہنچنے پر سالک سراپا ذکر ہوجائے گا اور مرتبہ روح سے ترقی کرکے مرتبہ سر پر پہنچ جائے گا۔ اور اس کے بعد اس کو ہو ہو کے ذکر میں اسقدر منہمک ہوجانا چاہیئے کہ خود مذکور یعنی (اللہ) ہوجائے اور فنا در فنا کے یہی معنی ہیں اس حالت کے حاصل ہوجانے پر وہ سراپا نور ہوجائے گا۔ اور مرتبہ بی یسمع دبی یبصر (یعنی اس کو خدا کے ساتھ ایسا تعلق خاص ہوجاتا ہے کہ وہ خدا ہی کی آنکھ سے دیکھتا اور خدا ہی کے کان سے سنتا ہے) حاصل ہوجائے گا۔ پھر وہ مرتبہ جس میں عبدیت و معبودیت کی حقیقت بے نقابانہ آشکارا ہوجاتی ہے یعنی مرتبہ عبدیت لا الٰہ الا اللہ بخوبی ظاہر ہوجائے گا۔ اس کے بعد عبادت میں اس کو کماحقہ، مشغول ہونا چاہیئے اور حفظ مراتب اور احکام شریعت کی بجا آوری کرے اور مسند ارشاد پر جلوہ گر ہوکر طالبانِ حق کے لئے راہنما ہو اور ایسی حالت پر اس کی ولایت[1] اور مشیخت[2] مسلم ہوجائے گی۔

فائدہ:۔ وصال محبوب ہونے میں جس قدر دیر ہوتی ہے اسی قدر آتش شوق میں التہاب در خواہش وصل میں زیادتی ہوتی جاتی ہے اور جو شخص استقلال و مردانگی سے جد وجہد کرے گا اس کے متعلق خدا کے فضل وکرم سے ظفر مندی و کامیابی کی امید ہے۔

کلیاتِ امدادیہ

یعنی دس کتابوں کا مجموعہ

جو تصوف وسلوک، تزکیۂ نفس اور اصلاح اخلاق میں بے نظیر اور اس فن کی بنیادی اور مشہور کتابیں ہیں

سید الطائفہ حضرت حاجی امداد اللہ صاحب مہاجر مکیؒ

دار الاشاعت

د دې ص ۱۸ ،رساله ضیاء القلوب کې وایي :

(اور اس کے بعد اس کو ہو ہو کے ذکر میں اسقدر منہمک ہو جانا چاہیۓ که خود مذکور یعنی (اللہ) ہو جائۓ) ص ۱۸ ضیاء القلوب (کلیات امدادیه)

او د دې نه وروسته هغه ته د هو هو ذکر کې دومره ورننوتل پکار دي چې خپله مذکور یعني (الله) شي.

إنا لله وإنا إليه راجعون. وايي چې بنده الله وګرځي. دې نه بل صريح كفر به هم چيرته په دنيا كې وي؟ كه دې نه پس هم څوك طالبانو ته مسلمان وايي نو بس بيا به بيخي زياتې كوي.....!!

ځكه پدې عقيده كې كوم معتبر تاويل نه لري، او نه هم دې باطل تاويلاتو ته اعتبار شته، نه جهل لري، نه خطا كې واقع دي، نه مكره دي، او دليل پرې بار بار قائم شوى، چې اوس هم څوك دغه د نصاراو، هندوانو او شيعه ګانو عقيده لري، نو حكم يې د هغوى دى، لكه دا زمونږ شخصي نظر ندى، بلكې وروسته د علماؤ اقوال راروان دي. ان شاء الله.

بل ځاى كې وايي:

(اور ظاہر میں بندہ اور باطن میں خدا ہو جاتا ہے اس مقام کو برزخ البرازخ کہتے ہیں) ص ٣٦، ضياء القلوب (كليات امداديه)

او په ظاهره بنده وي او باطن كې الله شي، دې مقام ته برزخ البرازخ وايي. پدې ځاي هم نه بس كوي په همدغه ٣٦ ص كې مخكې وايي :

اور وہ ذی اختیار ھو جاتا ھے.

پدغه حالت كې بنده د اختيار مالك ګرځي.

ہو کر لوگوں کو اس تک پہونچا تا ہے اور ظاہر میں بندہ اور باطن میں خدا ہو جاتا ہے اس مقام کو برزخ البرازخ کہتے ہیں اور اس میں وجوب وامکان مساوی ہیں کسی کو کسی پر غلبہ نہیں مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ اس مرتبہ پر پہونچ کر عارف عالم پر متصرف ہو جاتا ہے۔ اور سخر لکم ما فی السموٰتِ وما فی الارض کا انکشاف ہوتا ہے اور وہ ذی اختیار ہو جاتا ہے اور خدا کی جس تجلی کو چاہتا ہے اپنے اوپر کرتا ہے اور جس صفت کے ساتھ چاہتا ہے متصف ہو کر اس کا اثر ظاہر کر سکتا ہے چونکہ اس میں خدا کے اوصاف پائے جاتے ہیں اور خدا کے اخلاق سے وہ مزین ہے اور اس نے جمال اسبغ علیکم نعمہ ظاہرۃ وباطنۃ کو دیکھا ہے اور نورٌ علیٰ نور ہو گیا اس وجہ سے حال اس کے تابع ہو گیا ہے۔ **قطعہ**

ہیچ کس ایں درد را درماں نیافت ہیچ کس ایں راہ را پایاں نیافت

اے برادر بے نہایت در گہے ست ہر چہ بروی می رسی بروی ماست

فائدہ۔ سالک کو ذکر زبانی و دلی میں تنہائی اور مجمع میں باآواز اور بلا آواز رات دن مشغول رہنا چاہیئے تاکہ اپنے کو اور اپنے ذکر کو بالکل بھول جائے اور محو کر دے انشاء اللہ ذاکر کے دل پر لاتعداد انوار واسرار الٰہی جلوہ فرما ہوں گے اور ان انوار کی روشنی میں جمال کا لطف اور تجلّی حق حاصل ہوگی اور اپنے مقصد میں کامیابی ہوگی۔

فائدہ۔ مگر اس جگہ ہوشیار رہنا چاہیئے اور مراقبہ کرنا چاہیئے کہیں ایسا نہ ہو کہ اس نور کی طرف متوجہ ہو جائے جو مطلوب نہیں ہے اور لطف اٹھا کر خسارہ اٹھائے اور رشک معشوقیت سے جل جائے اگرچہ خدا کے انوار صرف جلالی نہیں ہیں جمالی بھی ہیں مگر حفظ مراتب ضروری ہے اور اچھے برے میں امتیاز کرنا چاہیئے ورنہ کفر اور زندیقیت کا ڈر ہے لہذا اچھے برے انوار کے علامات اور آثار جاننا چاہئیں۔


وايي انسان په ښکاره بنده او په باطن کې الله شي؛ نعوذ بالله. داسې کفري عقائد والله که د لويو گمراهانو هم وي. د اختيار مالک يې هم وگرځاوه او نور زيات شمير باطل عقائد يې ليکلي.

بل ځاي ص ۳۱ کې وايي :

وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ. [سورة الذاريات:21]

خدا تم میں ہے کیا نہیں دیکھتے ہو.

الله په تاسې کې دی. آيا تاسې نه گورئ.



دیگر مراقبات بہت ہیں

جیسے اَیْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰہِ (جدھر منہ پھیرو ادھر ہی خدا ہے) اور کَانَ اللّٰہُ عَلَیْکُمْ رَقِیْبًا (خدا تمہاری

حالتوں کا معائنہ فرماتا ہے) اور وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ مُحِيطٌ (خدا ہر چیز کو احاطہ کئے ہوئے ہے) اور وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ

خدا تم میں ہے کیا تم نہیں دیکھتے ہو۔

هغه د توحيد آيت نه يې نعوذ بالله د شرکي عقيدې استدلال وکړ او په حقيقت کې دا د توحيد د اثبات لپاره الله عزوجل دليل راوړی دی. که دا زمونږ شخصي فهم وای نو چا به اعتراض کړی وای خو راشئ د شيخ المفسرين امام ابن جرير الطبري رحمه الله تفسير وگورئ چې هغه د دې آيت څه معنا ذکر کوي:

معنى ذلك: وفي أنفسكم أيضا أيها الناس آيات وعِبر تدلُّكم على وحدانية صانعكم، وأنه لا إله لكم سواه، إذ كان لا شيء يقدر على أن يخلق مثل خلقه إياكم (أَفَلا تُبْصِرُونَ) يقول: أفلا تنظرون في ذلك فتتفكروا فيه، فتعلموا حقيقة وحدانية خالقكم. تفسير الطبري ج 22 / 419.

د دې معنا دا ده چې ستاسې نفسونو کې هم اې خلکو! نښې او عبرتونه دي چې تاسې ته ستاسې د پيدا کونکي يو والی ښايي، او ستاسې لپاره له هغه پرته بل معبود نشته، ځکه هيڅ شی پدې قادر ندی چې هغه داسې پيدايښت وکړي لکه څنګه چې الله عزوجل تاسو پيدا کړي یاست. (آيا تاسې نه ګورئ) معنا دا چې تاسې ولې دې نښو ته نه ګورئ چې فکر پکې وکړئ، نو د خپل خالق وحدانيت به وپيژنئ.

امام قرطبي هم وايي :

"(وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلا تُبْصِرُونَ) وَقَالَ قَتَادَةُ: الْمَعْنَى مَنْ سَارَ فِي الْأَرْضِ رَأَى آيَاتٍ وَعِبَرًا، وَمَنْ تَفَكَّرَ فِي نَفْسِهِ عَلِمَ أَنَّهُ خُلِقَ لِيَعْبُدَ اللَّهَ." [تفسير القرطبي: سورة الذاريات]

ژباړه : امام قتاده د دې آيت په اړه وايي : معنا دا ده چې څوک په ځمکه کې وګرځيد نو نښې او عبرتونه به وګوري او چا چې په خپل ځان کې سوچ وکړ، نو پوهه به شي چې هغه د الله عبادت لپاره پيدا شوی.

حافظ ابن کثير رحمه الله هم وايي :

"{وَفِي أَنْفُسِكُمْ أَفَلا تُبْصِرُونَ} : قَالَ قَتَادَةُ: مَنْ تَفَكَّرَ فِي خَلْقِ نَفْسِهِ عَرَفَ أَنَّهُ إِنَّمَا خُلِقَ وَلُيِّنَتْ مَفَاصِلُهُ لِلْعِبَادَةِ." [تفسير ابن كثير ج 7 / 419]

ژباړه : امام قتاده وايي : چا چې د خپل ځان په پيدايښت کې سوچ وکړ نو دا به پوهه شي چې د عبادت لپاره پيدا شوی او د ده اندامونه (جوړونه) د عبادت لپاره نرم شويدي.

اوس د احنافو تفسيرونو ته ځير شئ :

أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين النسفي (المتوفى: 710هـ) وايي :

"{وَفِي أَنفُسِكُمْ} في حال ابتدائها وتنقلها من حال إلى حال وفي بواطنها وظواهرها من عجائب الفطر وبدائع الخلق ما تتحير فيه الأذهان."

[تفسير النسفي (مدارك التنزيل وحقائق التأويل) ج 3 / 374]

ژباړه: معنا دا چې په ابتدائي حالاتو(پيدايښت) د نفس کې او د يو حالت نه بل حالت ته اوړيدو وخت کې، په باطن د نفس کې او په ظاهر کې، د پيدائښت عجيبه نښې او نآشنا کمالات د خلقت دي چې ذهنونه ورته حيران پاتې کيږي.

شاه ولي الله دهلوي (المتوفى: 1176هـ) ترجمه كوي :

ودر ذات شما نشانهاست آيا نمى نگريد.

او ستاسې په ذات کې نښې دي آيا تاسو يې نه وينئ ؟

[د شاه ولي الله ترجمه ص ٦٢٧]

د شاه ولي الله شاګرد قاضي ثناء الله پاني پتي الحنفي العثماني المظهري المتوفى 1225هـ وايي:

"وفى أنفسكم أيها الناس آيات لهم." [التفسير المظهري. ج 9 / 83]

ژباړه: او ستاسې په نفسونو کې ستاسې لپاره نښې دي اې خلکو.

دا د احنافو ويناګانې وې، خو طالبان احناف ندي، هسې ځان ته حنفيان وايي، احنافو خو دغه ځاي کې دا شرکي تفسير ندی کړی.

دا عقيده خو نه د امام ابو حنيفه وه او نه هم د قاضي ابو يوسف صاحب وه.

راشئ اوس د الله کلام ته غوړ شو، رب د داسې عقيده لرونکو په اړه څه فرمايي:

وَجَعَلُوا لَهُ مِنْ عِبَادِهِ جُزْءًا إِنَّ الْإِنْسَانَ لَكَفُورٌ مُبِينٌ. [سورة الزخرف: 15]

ژباړه: و هغوی د الله لپاره د هغه د بند ګانو څخه حصه ګرځولې، يقيناً چې (دغه) انسان ښکاره کافر دی.

وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمَنُ وَلَدًا {88} لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْئًا إِدًّا {89} تَكَادُ السَّمَوَاتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الأَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا {90} أَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمَنِ وَلَدًا {91} وَمَا يَنْبَغِي لِلرَّحْمَنِ أَنْ يَتَّخِذَ وَلَدًا {92} إِنْ كُلُّ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ إِلا آتِي الرَّحْمَنِ عَبْدًا.[سورة مريم:88-93]

ژباړه: او وايي دوی، رحمان ذات بچی نیولی، يقيناً تاسې ډېره درنده خبره کوئ، نزدې دی چې اسمان ددې خبرې له کبله وچوي، ځمکه څيري شي، غرونه ټوټې ټوټې راوغورځيږي. د دې خبرې له امله چې دوی رحمان ذات ته بچې رابولي، ندي مناسب رحمان ذات سره چې ونيسي زوي، په آسمانونو او ځمکو کې چې هر څه دي، ټول الله ته د بندګانو په حيث وړاندې کيدونکي دي.

او داسې نور ډېر آيتونه دي، چې د دغه شرک په مذمت کې راغلي دي.

همدغه رنګه شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله فرمايي :

"وَأَمَّا " الاتِّحَادُ الْمُطْلَقُ " الَّذِي هُوَ قَوْلُ أَهْلِ وَحْدَةِ الْوُجُودِ الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّ وُجُودَ الْمَخْلُوقِ هُوَ عَيْنُ وُجُودِ الْخَالِقِ فَهَذَا تَعْطِيلٌ لِلصَّانِعِ وَجُحُودٌ لَهُ وَهُوَ جَامِعٌ لِكُلِّ شِرْكٍ." [مجموع الفتاوى ج 10/ ص 59]

ژباړه: او اتحاد مطلق دې ته وايي چې د وحدت الوجود والا قول دی، دوی دا عقیده لري چې د مخلوق وجود دا عین د خالق وجود دی. نو دا د صانع (د الله جل جلاله) نه منل او د هغه څخه انکار دی او دا عقیده هر شرک لره جمع کونکې ده.

دا تاسې د شیخ الاسلام له خولې د دې عقیدې حقیقت واوریده.

پدې عقیده علامه ملا علي قاري حنفي (المتوفى: 1014هـ) چې د مشکات د مشهورې شرحې، مرقاة المفاتيح مصنف دی، د الحاد حکم کوي او وايي :

"فَقلت هَذَا كَلَام ظَاهر الْفساد مائل إِلَى وحدة الْوُجُود أَو الإتحاد كَمَا هُوَ مَذْهَب أهل الْإِلْحَاد." [الرد على القائلين بوحدة الوجود لملا علي قاري ص 13 ط دار المأمون دمشق]

ژباړه: زه وایم دا ښکاره فاسده خبره ده، چې وحدت الوجود یا اتحاد ته مائله ده، لکه چې دغه د ملحدينو مذهب دی.

بيا وايي:

"فَإِن كنت مُؤمنا حَقًا مُسلما صدقا فَلَا تشك فِي كفر جمَاعَة ابْن عَرَبِيّ وَلَا تتَوَقَّف فِي ضَلَالَة هَذَا الْقَوْم الغوي .... فَإِنَّهُم شَرّ من الْيَهُود وَالنَّصَارَى وَإِن حكمهم حكم الْمُرْتَدين عَن الدّين .... وَيجب إحراق كتبهمْ الْمُؤَلّفَة وَيتَعَينَّ على كل أحد أَن يبين فَسَاد شقاقهم وكساد نفاقهم فَإِن سكُوت الْعلمَاء وَاخْتِلَاف بعض الآراء صَار سَببا لهَذِهِ الْفِتْنَة وَسَائِر أَنْوَاع الْبلَاء. [الرد على القائلين بوحدة الوجود. الملا علي قاري ص ١٥٥ ط دار المأمون دمشق]

ژباړه: که چیرته ته یقیني مومن او کلک مسلمان یې نو د ابن عربي ډلې په کفر کې شک مه کوه او نه هم د دې سرکشه قوم په گمراهۍ کې توقف کوه .... یقینا دوی له یهودو او نصاراو نه بدتر دي او د دوی حکم د مرتدینو (دین څخه اوختونکو خلکو) پشان دی .... د دوی لیکل شوي کتابونه سوځول واجب دي او په هر چا لازم دي چې د دوی د فرقه پرستۍ فساد او د منافقت بدي په ډاگه کړي، ځکه د علماؤ سکوت او د بعضې فکرونو اختلاف د دې فتنې او د نورو مصیبتونو سبب گرځیدلای.

د ملا علي قاري حنفي صاحب د عبارت نه یو څو خبرې معلومې شوې:

١. د وحدت الوجود قول کونکی، ابن عربي او د هغه ډله کافره ده.

۲. دغه د وحدت الوجود قول کونکي خلک، گمراه او سرکشه قوم دی.

۳. دوی له یهودو او نصاراو څخه بدتر دي.

۴. حکم یې د مرتدینو دی.

۵. د دوی ټول کتابونه سوځول واجب دي.

٦. په هر عالم لازم دي چې د دې خلکو فساد او منافقت په ډاګه کړي.

بناءً طالبان هم دا قول کوي، لهذا د ملا علي قاري صاحب په خبره دوی هم کافر، گمراه او سرکشه، له یهودو او نصاراو څخه بدتر او مرتدین دي. کتابونه سوځول یې واجب دي او په هر عالم لازم دي چې د طالبانو ضلالت او منافقت څخه ډکه خیره امت مسلمه ته ښکاره کړي.

اوس وگورئ! د احنافو او طالبانو ترمنځ څومره توپیر دی ؟؟

دویم: طالبان په شرک القبور کې اخته دي.

له قبرونو څخه کومکونه غواړي، خپل حاجتونه ورته وړاندې کوي، د قبرونو د کشف او فیض حاصلولو عقیدې لري.

په ننګرهار کې د طالبانو د واک سیمه کې په لسګونو زیارتونه د طالبانو په زور آباد ول. لکه د وچ کوټ الیاس بابا زیارت او داسې په هره سیمه کې یو زیارت به خامخا وو.

همدغه رنګه غور او جوزجان په سیمو کې هم شرکي زیارتونه ولاړ وو، بیرغونه پرې لګیدلي وو، غیر شرعي تعمیرات او آبادۍ پرې جوړې وې، د خلافت مجاهدینو ترې لرې کړل.

په موجوده وخت کې د طالب د حاکمیت لاندې ساحو کې تاسې خپله د مزارونو او نورو شرکي اډو او په کې د شرک او ګمراهۍ د ترسراوي شاهدان یاست.

دریم: د طالبانو د واک پر مهال ټول شرکیات آزاد و، ټولو زیارتونو ته به ښځې او سړي تلل او د شرکیاتو ترڅنګ د فحاشۍ ستر مرکزونه هم وو.

لکه مشهور زیارت د مزار شریف چې هلته د طالبانو د واک په دوران کې هم بیرغ پورته شوی وو او هر چې د بامیانو بت وو، نو په هغه کې هم د طالبانو ترمنځ اختلاف و چې آیا دا ونړوو او که نه ؟

خو د پاکستان حکومت په امر هغه وویشتل شو، ځکه چې دغه بت ته به خارجیان راتلل او نزدې نه به یې د طالبانو سره اړیکې پیدا کولې او دا

خبره (آی.إیس.آی) نه برداشت کوله، ځکه یې ختم کړ او دویم غرض یې دا وو چې هندوستان ته یې زور ورکاوه او دریم دا هم وو، که چیرته څوک په طالبانو د مشرکانو نوم ږدي نو دوی به د قسم لپاره یواځې د بامیانو بت ویشتلی وي او ځان ته به بت شکن وایي.

که پدغه یو بت طالب بت شکن ګرځي نو د سعودي مرتدو پاچاهانو خو پخوا ډیر مزارونه وران کړي نو هغوی خو بیا له طالبانو څخه زیات د بت شکن لقب حقدار دي!!

خو نه طالبان پدې سره بت شکن ګرځي او نه هم د سعودي حکومت، ځکه دوی دواړو د نن زمانې نور بتان نیولي دي، چې د طالبانو بعضې بیان وشو او نور مخکې راروان دی او د سعودي حکومت د ډیموکراسۍ او نور کفري بتانو عبادت له هیڅ عاقل څخه پټ ندی.

څلورم: د طالبانو اکثریت سیفیان دي، حتی تر دې چې قاضیان یې هم د سیفي ګروپ پیران دي، لکه غلام حضرت سیفي چې د طالبانو قاضي وو، پیښور (پاکستان) کې د خلافت مجاهدینو د الله په توفیق سره ختم کړ. ځکه د دوی خو ټول مشران په پیښور او کویټه کې اوسیږي، فقط کله نا کله یو مشر چکر راولږوي د بعضې ساحو څخه لیدنه وکړه او بیا کمیسون ته راپور ورکړي.

سيفي ډله چې دا د بریلیانو یو قسم دی، دا هم مشرکه ډله ده، ډیر ناوړه عقائد لري، لکه د سیفیانو مشر پیر سیف الرحمن خپل کتاب هداية السالكين في رد المنكرين (طبعه دار العلوم جامعه جیلانیه نادر آباد بیدیان روډ لاهور کینټ) کې ډیر کفریات لیکلي، بعضې عقائد یې دا دي:

١. وایي زه امام الأنبیاء یم.

٢. زما صحبت د نبي علیه السلام د صحبت په شان دی.

٣. وایي الله سره زه په رحمان نوم کې شریک یم او د عرش د پاسه لیکل شوی.

۴. زه او زما مریدان چې کله هم وغواړي، انبیاء کرامو روحونه حاضرولی شي.

۵. زه او زما مریدان چې هر کله وغواړو د آسمان او زمکې ملائک حاضرولی شو.

٦. مونږ چې وغواړو نو ځان مدینې ته بوتللی شو.

٧. پیر سیف الرحمن د انبیاءو د جملې څخه دی او قیامت په ورځ به د انبیاءو په ډله کې وي.

٨. پير سيف الرحمن په بدر جنگ کې د نبي عليه السلام توره وه او د ده په برکت مسلمانانو ته فتح نصيب شوه.

او بل ځای کې وايي چې څوک دا دعوه کوي چې بدر کې د نبي عليه السلام توره زه وم، دا کافر دی.

٩. همدې هداية السالکين په ټايټل او دننه کتاب کې سيف الرحمن ته قيوم زمان ويل شوي، او سيف المؤمنين کې هم وايي، سيف الرحمن حي او قيوم دی، يعني هميشه ژوندی او د زمانې نظام او تدبير چلونکې دی، کامل او مکمل دی. ټول د رب صفات دي، دا يې د الوهيت دعوه ده.

١٠. سيف المؤمنين کې وايي چې زما طريقې نه غير طريقو والا کافر دي او څوک چې سيف الرحمن او د ده مريدان اولياء نه گڼي، هغه هم کافر دي. څوک چې نبي عليه السلام بشر گڼي، هغه هم کافر دی.

عبد القادر جيلاني رحمه الله ته غوث الأعظم وايي خو وايي هغه د عبديت په مقام باندې وو، او سيف الرحمن د هغه نه ٦ درجې پورته وو.

هغه تکفيري پير چې پټکې(عمامه) لازم بولي او فقط لوڅ سر گرځيدل يا په سر خولۍ کيښودل هم د کافرو نښه بولي، راشئ مسلمانانو، دا

وګورئ، خلافت ته خلک هسې تکفيريان وايي، تکفيريان خو طالبان (سيفيان) دي چې خولې ته هم د کفر نښه وايي.

دغه سيفيانو په سيف المؤمنين، سيف الرجال او نورو کتابونو کې تبليغيانو، اشاعت والا او د مالاکنډ تحريک نفاذ شريعت، سلفيان، اکوړه خټک مفتيان، د نيشنل پارټي خان عبد الغفار خان، پيپلز پارټي او نورو زياتو خلکو صريح تکفير کړی دی، خو افسوس چې بيا هم خلک طالبانو ته تکفيريان او خوارج نه وايي.

له مړو نه کومک غوښتل، قبرونو ته سجدې لګوي، حلول او د شهود عقيدې هم لري.

د وجد په نوم د فحشاء مجلسونه قائموي، د پير سره د بيعت په نوم د سړو او زنانه و ناروا تعلقات قائموي چې له امله يې بعضې سيفي پيرانو د خپلو مريدانو ښځې هم وتښتولې. نعوذ بالله.

سيف الرحمن خپله د بريلويانو مشر احمد رضا خان بريلوي کتاب حسام الحرمين تاييدوي، او کله بيا وايي چې زه بريلوي نه يم، د هغه ټولې خبرې متناقضې دي، يوځای کې يوې خبرې ته کفر وايي بل ځای کې هماغه موقف خپله نيسي، نو د خپلو اصولو موافق کافر ګرځي، او تقريبا ۱۵۰ بريلوي ملايانو او ليکوالانو يې صفتونه کړي او هغه يې بريلوي

مسلک والا یاد کړی، اګر که ډیرو بریلویانو د بعضې اختلافاتو په بناء سیف الرحمن ته کافر هم ویلي.

چې کله بیا دغه سیفیان د خلافت مجاهدین ووژني، طالبان پرې سخت خفګان ښکاره کوي، لکه د کابل شکر دره کې د دوی مفتي نعمان باندې اسلامي خلافت مجاهدینو برید وکړ، د دوی تاثراتو ته وګورئ.



دا وګورئ، دا هغه کس وو چې خلک یې له سیفیت شرکونو پرته، د کفري سیاست په اړه هم ډاډه کول. دا اوس کفري سیاست باندې د عامو خلکو قانع کولو په اړه د امریکا، پاکستان او طالبانو لخوا ګمارلی شوی وو.



دا غلام حضرت سيفي او دا بل مفتي نعمان دواړه د اسلامي خلافت د تېرو مردكيو ښكار ګرځيدلي، ولله الحمد. طالبان يې مرثيې كوي.

ذبـــيح الله م.. (Zabihullah @Zabehulah_M33 · ۱۴ مه

#غبرګون:

نن دكابل په شكردره كې په مسجد كې چاودنه او د يو ديني عالم مفتي نعمان صاحب په ګډون د لسو نفرو شهادت او د ګڼو كسانو ټپي كيدل په تر ټولوسخته ټكوغندو.

دغه وحشيانه عمل دكابل اداري د استخباراتو د دين ضد جناياتو د لړۍ يوه كړۍ ده چې عاملين به يې بې حسابه پاتې نشي. ان شاءالله



او دا يې هم د رسمي وياند ښرګندونې:

نور د مفتي نعمان جنايتونو او د دغه مسجد حکم د اسلامي خلافت شرعي څانګې لخوا نشر شوی، شائقين دي مراجعه ورته وکړئ، تفصيل به هلته وموئ چې څنګه يې د کابل اداري د منبرونو څخه د اسلام خلاف غږ پورته کاوه او د طالبانو د سولې په نوم د امريکا سره له موالاتو وروسته د طالبانو لپاره يې شپه او ورځ کمپاين کاوه.



فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡ

دا مشركان اوژنئ، چيرته چې يې وموموئ

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، أما بعد:

د كوچني اختر په دويمه، (٢ شوال ١۴۴٢ هـ ق) د جمعې په مباركه ورز مو خوشبختانه دا خبر ترلاسه کړ چې د اسلامي دولت غازيانو د الله عزوجل په فضل په هغه چا مرگونې بريد ترسره کړ چې په يو وخت د افغانستان په ديموكراتيک كفري جمهورت كې عضويت لرونكې، دغه كفري نظام ته مشروعيت وركونكې او حمايت كونكې د صوفيزم د شركي عقيدې ترويجونكې او خورونكې، او په دې وروستيو كې امريكا ته د طالب د تسليمۍ په لړ كې د وركول شوي دستور په بنا د امارت په نامه د نړۍ د استخباراتي

١

كړيو د كرايي جگړه مارو طالب مرتدينو مبلغ او د دغه مرتدينو ليكو ته د گمراهو سيفيانو ليږونكې و ...دغه هر كاره مشرک او مرتد مفتي نعمان نوميده چې لله الحمد له شره يې مومنان وژغورل شول. و الحمد لله على ذلک.

پنځم:

طالبان د امت د بعضې نیکانو په اړه شرکي عقیدې لري او دا په اولس کې خپروي، یوه بیلګه یې تاسې ته وړاندې کوو:



شیخ عبد القادر جیلاني ته د الوهیت صفات ورکوي، دې پورتني نظم کې هغه لپاره غوث الأعظم، دستګیر او نور کفري الفاظ استعمالوي.

یعني تر ټولو لوي کومک کونکی شیخ عبد القادر جیلاني یادوي، أعظم د اسم تفضیل صیغه ده، مطلب أعظم من کل شيئ، له هر څه لوي، نو د رب نه یې هم لوي وګرځاوه؛ نعوذ بالله.

طالبان د داسې شرکیاتو داعیان دي، ښه ښکاره شرک خپروي، په زرګونو کسانو دا شرکیات کتلي خو هیڅکله یې پرې ویاند رد ونه کړو.

نو طالبان عقیده نه پیژني، ملا برجان چې کله کنړ ته راورسیده نو ویې ویل چې دا ټول د تعویزونو برکت دی.

دا د طالبانو حال دی، توحید نه پیژني، ځکه نو نن ډیموکراسي ورته اسلام ښکاري. نن خلک د سولې په نوم موالاتو ته راکش کوي.

او شرك هغه ګناه ده چې الله جل جلاله یې هیڅ کله هم نه بخي او د انسان ټول اعمال ورسره ضائع کیږي.

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا [سورة النسآء:١١٦]

ژباړه: یقینًا الله تعالی شرک نه بخي او له شرک پرته نور ګناهونه بخي، چا ته چې وغواړي او چا چې پر الله شرک وکړ نو یقینا دا له حق نه په لرې ګمراهۍ ګمرا شو.

وَلَقَدْ أُوحِيَ إِلَيْكَ وَإِلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكَ لَئِنْ أَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ (65) بَلِ اللَّهَ فَاعْبُدْ وَكُنْ مِنَ الشَّاكِرِينَ. [سورة الزمر:٦٦-٦٥]

ژباړه: او یقینا وحي شوې ده تا ته او له تا نه مخکې کسانو ته، که چیرته تا شرک وکړ نو عمل به دې برباد شي او ته به له تاوانیانو څخه وګرځې. بلکې خاص د الله عبادت وکړه او له شکر ګزارو څخه شه.

کله چې په انسان کې شرک موجود وي نو اعمال یې بربادیږي، نو د طالبانو عقائد او افعال تاسو وکتل چې مشرکانه دي، لهذا دوی دې دا دعوه نه کوي چې مونږ جهادونه کړیدي، مونږ استشهادیانې کړېدي.

ځکه ستا عقیده کې شرک دی، نو دا جنګ خو تا ته فائده نه درکوي، که هر څومره نور جنګونه هم وکړی او عقیده اصلاح نه کړې نو دا ټول د رب په نزد برباد دي.

او د طالبانو په مقابل کې د اسلامي خلافت مجاهدین نبوي عقیده د صحابه و او سلفو په فهم زده کوي، په کومه عقیده چې متقدمینو سلفو کتابونه لیکلي او له هغوی څخه رانقل شوي، لکه د صحابه و شاګردان، تابعین او همدغه رنګه نور امامان لکه: امام قتاده، سعید بن المسیب، سفیان ثوري، امام مالک، امام شافعي، امام ابو حنیفه، امام أهل السنة احمد بن حنبل، امام بخاري او داسې نور. په دوی کې هیچا د حلول عقیده نه لرله، د وحدت الوجود او الشهود عقیده یې نه لرله او نه یې هم ترې څوک ثابتولی شي.

همدارنگه اسلامي خلافت، خپله عقیده د شیخ الاسلام ابن تیمیة او شیخ محمد بن عبد الوهاب رحمه الله له کتابونو څخه اخلي، چې هغوی د نړۍ د توحید امامان دي.

الحمد لله مونږ خپله عقیده واضحه بیانه کړې ده، زمونږ د عقیدې کتابونه موجود دي، التقریرات المفیده، مجموع الرسائل، سلسلة علمیة في بیان مسائل منهجیة، تعلموا أمر دینکم او داسې نور کتابونه دي. څوک دې داسې خرافات پکې وښايي.

همدغه شان د عقیدې په لسگونو عربي دورې دي. د شیخ ابو علي الأنباري، ابو همام الأثري، أبو مالک أنس النشوان التمیمي تقبلهم الله او داسې نورو د سترو ،سترو مشائخو دورې دي. ټول د هغه علماؤ دورې دي چې ځانونه يې له دين څخه ځار کړي. عملا صحنې ته مخکې شوي، داسې نده چې چیرته په شمشتو،حیات اباد،پېښور، کویټه یا بل ځاي کې ناست وي او خپلو کشرانو طالبانو ته د غرب دسیسې څیړي اوخپله د غرب په لویو دسیسو کې راگیر وي.

او زمونږ د مشرانو همیشه کوشش هم دا وي چې کشران توحید زده کړي خو د طالبانو مشران نه خپله توحید پیژني او نه يې هم کشرانو ته ورزده کوي، نواقض د اسلام نه پیژني.

ځکه تر اوسه مونږ د طالبانو رسمي د عقیدې دوره ونه لیده، چې ټول توحید یې پکې بیان کړې وي، نواقض یې پکې ذکر کړې وي. بعضې کسانو یې فضائل، د عقیدې بعضې مسائل او د جهاد اړوند بعضې مسائل بیان کړي خو هغه د هغوی شخصي نظر و، چې نن هغوی هم د خپلو خبرو خلاف کوي او په رسمي ډول طالبان خو ورته هیڅ اهمیت نه ورکوي.

رَبَّنَا لاَ تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ

د طالبانو دویم ناقض: د ډیموکراسۍ (جمهوریت) اصول مني:

نن سبا د طالبانو انحراف تر دې حد ورسیده چې د نړۍ نوی ستر کفر (جمهوریت،ډیموکراسي) یې هم ومنله.

که هغه د اکثریت اصل دی، که هغه د اتباعو ترمنځ شرعي تبعیض د منځه وړل دي، که هغه د افغان په نوم د افغانستان هر فرد ته په اقتدار کې حق ورکول دي، برابره ده که مسلمان وي او که مرتد یا هم اصلي کافر وي، که هغه د اولس د رای حاکمیت دی او که د ډیموکراسۍ نور

اصول دي او د دغه اصولو په شمول، نور ټول اصول د ډیموکراسۍ په اتفاق د علماؤ سره کفر بواح دی.

١. طالبان خپل رسمي موقف په قطر کې پدې الفاظو بیانوي :

د افغانستان د خپلواکۍ نه وروسته اسلامي امارت د قدرت د انحصار په فکر کې نه دی، بلکې د ټولو افغانانو سره په ګډه، په ګران هیواد کې یو افغان شموله اسلامي نظام غواړي.

٢.د هبت الله په نوم د طالبانو د زعیم په ادرس خور شوي اختریز پیغام (رمضان ١٤٤١، اپریل ٢٠٢٠) کې راغلي:

٤. هغه جهتونه او اشخاص چې د اشغال له خاتمې وروسته د راتلونکي نظام په اړه اندیښنې لري، اسلامي امارت یو ځل بیا ټولو ته ډاډ ورکوي چې انحصار طلبه پالیسي نه لري.

٣. د طالبانو د قطر دفتر غړی ستانکزی وایي:

که اکثریت د افغانانو په کومه خبره توافق وکړو، نو مونږ یې منلو ته تیار یو.

خبریال ورته وایي: که په ډیموکراسۍ باندې توافق وکړي، بیا یې منلو ته تیار یاست ؟ هغه ورته وایي: ما درته وویلې چې اکثریت په کومه خبره

اتفاق وکړ، مونږ يې منلو ته تيار يو.



وګورئ، دا واضحه صراحتونه دي، چې مونږ د قدرت انحصار په فکر کې نه يو، څه معنا ؟

معنا دا نورې ډلې، د کابل اداري مرتد چارواکي، شيعه ګان، حزبيان، ښځې او نر ټولو ته به پکې برخه ورکول کيږي، مقصد نور به حکومت هماغه پخوانې حکومت وي، چې هر قسم خلکو پکې برخه درلوده خو فقط طالبان به پکې اضافه شي او فرمانونو جاري کيدو کې به د اکثريت په اصولو عمل کوي، د چا راى چې زياتې وي، د هغه خبره به تنفيذيږي.

بله عجيبه خبره دا ده چې طالبان د " افغان شموله" اصطلاح کاروي او

د کابل ادارې چارواکي " ټول شموله " اصطلاح کاروي.

اوس د دې اصطلاحاتو حاصل يو دی، ټول شموله څخه مراد هم د ټولو افغانانو شموليت دی او د افغان شموله اصطلاح هم د دې پرته بل کوم مفهوم نه لري، فقط د اولس په سترګو کې خاورې اچوي، نور هيڅ هم ندي.

طالبانو ته اسلام مطرح ندی، بلکې افغانيت ته اعتبار ورکوي، دا افغان که د هر ملت څخه تعلق لري، که مسلمان وي، که شيعه وي، او که سيک وي، هر يو لپاره ځاي شته، چا ته د اقليت په نوم او چا لپاره بل نوم پيدا کوي. او پدغه چل سره غواړي چې د اولس ساده ګان خپل ملاتړي وګرځوي.

نو تش د اسلام لفظ پورې خو خبره نده موقوف، که نه بيا تاسې تراوسه پورې د کابل ادارې پر خلاف چې مبارزه کوله، هغوی هم د اسلام نوم اخسته!!

خو مسلمانانو! زمونږ له داسې قوم سره سر دی چې د شرم او حياء په نوم څه نه پيژني، دومره صراحتونه وکړي، بيا هم له دغه خبرو سره د اسلام نوم يوځای کوي او وايي چې نه مونږ سوچه اسلامي نظام غواړو، خو د دغه ثبوتونو په شتون کې دا د روښانه لمر په دوو ګوتو پټول دي.

د اکثریت په اصل عمل کول، کفري اصل دی او د ضلالت باعث دی:

الله تعالی فرمایي:

وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ. [سُورَةُ الأنعَام : 116]

ژباړه: او ای محمد صلی الله علیه وسلم! که ته په ځمکه کې د اکثرو خلکو تابعداري وکړی نو دوی به تا د الله له لارې واړوي.

له اسلام پرته نور دینونه الله عزوجل نه قبلوي او نه هم ورته اجازت ورکوي:

إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ وَمَا اخْتَلَفَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْعِلْمُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ وَمَنْ يَكْفُرْ بِآيَاتِ اللَّهِ فَإِنَّ اللَّهَ سَرِيعُ الْحِسَابِ.

[سُورَةُ آل عِمرَان : 19]

ژباړه: د الله په وړاندې دین همدا اسلام دی او اهل کتابو اختلاف نه دی کړی مگر د علم او دلیل له راتلو وروسته، د ضد له وجې یې کړی او څوک چې د الله په آیاتونو کفر وکړي نو الله زر حساب کونکی دی.

وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ [سورة آل عمران:٨٥]

ژباړه: له اسلام څخه پرته چې هر څوك كوم بل دين غوره كړي، هيڅكله به ورڅخه قبول نه شي او په اخرت كې به هغه ناكام او زيانمن وي.

او د ډيموكراسۍ په دې نورو ټولو اصولو باندې د كفر زيات شمير دلائل دي، نور وضاحت تاسې له خراسان ولايت څخه په نشر شوي كتاب (الأدلة الجلية على كفر الدولة الباكستانية) كې كتلاى شئ.



د اسلامي امت ناسور

د اسلام هغه پراخه خاوره چې يو ديوال يې له اندلسه يا جنوبي فرانسه تيريده ترجنوبي افريقا او بل ستر ديوال يې د جنوبي افريقا له تبجنو دښتو د اندونيزيا تر سواحلو خور و، بل ديوال يې په شرقي تركستان راتاو شوى و او په څان كې يې د چيچين، داغستان په شمول ټول جماهير شوروي رانغاړل اوس هم محكومه او يرغمل ده، دا خاوره د ملل ملحده له لوري په مختلفو نومونو په هيوادونو ويشل شوې د دوى ترمنځ د وطنيت او عصبيت ليكې راښكل شوي او بيا د دغه كرښو ترشا ګڼ مفاهيم پراته دي.

د فكري يرغل زور دى چې په اسلامي خاوره حاكم جمهوريت او ديموكراسي خلكو ته اسلامي نظام او ديرمختګ يو بام ښكاري، د ديموكراسۍ دول ته د اسلام په نامه ډير جوړ شوي ګوندونه، تنظيمونه او شخصيتونه هم غبرګ لستوني غورځوي.

د جمهوريت په دې شريك اتڼ كې د پاكستان رول ډير څرګند دى پاكستان د اسلام په بدن هغه ناسور او سرطان دى چې له درده يې ټول امت كړيږي.

پاكستان څنګه او د چا له لوري رامنځ ته شو؟

په پاكستان كې كوم نظام حاكم دى؟

پاكستاني حكام او پاكستاني نظام څنګه د اسلامي امت د ټوټه كولو او بيا د ديموكراسۍ د تطبيق پروژه عملي كوي؟

دا او دې ته ورته ګڼ موضوعات او پوښتنې په دغه په زړه پورې كتاب كې په ډير مدلل او مفصل شكل ځواب او تحليل شوي دي.

دا كتاب داسې محک دى چې تاسې به پرې د اسلامي قانون سره زر د جمهوريت د جسو څخه بيل كړئ.

دا كتاب داسې هنداره ده چې تاسې ته به نه يوازې په پاكستان بلكې د افغانستان، ايران، عربستان، يمن، مصر او تركيې په شمول د ټولو تش په نامه اسلامي هيوادونو د موجوده نظامونو او په كې موجودو د اسلام په نامه تنظيمونو او ګوندونو اصليت او حقيقت وښايي.

د دې كتاب په لوستو به بيا ډيرو خلكو ته پاكستان د اسلام كلا نه بلكې بلا ښكاره او اسلام اباد به ورته اسلام برباد څرګند شي.

د دې كتاب لوستل او خورول يو ستر جهاد او سپيڅلې فريضه وبولئ او له لوستو پس يې تر خپلې وسې وويشئ.

سلطان عزيز عزام حفظه الله

د طالبانو دريم ناقض : طالبان طواغيت دي:

د طالبانو بل ناقض دا دی چې دوی طواغیت دي. مناسبه ده چې اول طاغوت لږ وپیژنو :

الطَّاغُوْت : لغة مشتق من الطغيان وهو مجاوزة الحد.

د طاغوت لفظ د لغت په اعتبار سره له طغيان څخه ماخوذ دی او له "حد څخه تيريدلو ته وايي ".

او په اصطلاح کې حافظ ابن القيم رحمه الله وايي :

"وَهُوَ كُلُّ مَا تَجَاوَزَ بِهِ الْعَبْدُ حَدَّهُ مِنْ مَعْبُوْدٍ أَوْ مَتْبُوُعٍ أَوْ مُطَاعٍ } فَطَاغُوتُ كُلِّ قَوْمٍ مَنْ يَتَحَاكَمُونَ إلَيْهِ غَيْرَ اللَّهِ وَرَسُولِه، أَوْ يَعْبُدُونَهُ مِنْ دُونِ اللَّه، أَوْ يَتْبَعُونَهُ عَلَى غَيْرِ بَصِيرَةٍ مِن اللَّهِ، أَوْ يُطِيعُونَهُ فِيمَا لَا يَعْلَمُونَ أَنَّهُ طَاعَةٌ لِلَّه؛ فَهَذِهِ طَوَاغِيتُ الْعَالَمِ." [إعلام الموقعين ج 1 / ص 40]

ژباړه: هغه معبود، متبوع او مطاع ته ويلی کيږي چې بنده د هغه له کبله د شريعت له حد (پولې) څخه تير شي.

نو د هر قوم طاغوت هغه دی چې دوی ورته د الله او رسول څخه پرته فيصلې وړي، يا د الله نه سيوا يې عبادت کوي، يا د الٓهي دليل پرته يې

تابعداري کوي، يا په هغه څه کې يې اطاعت کوي چې دوی نه پوهيږي چې دا د الله جل جلاله اطاعت دی. دا د نړی طواغيت دي.

[معبود: هغه څوک چې عبادت يې کيږي، متبوع: هغه څوک چې تابعداري يې کيږي، مطاع: هغه څوک چې اطاعت يې کيږي]

نو ورونو ! خلاصه دا چې هر هغه شی چې د هغه د وجې نه يو انسان د شريعت له اصولو څخه تير شي او د الله جل جلاله نافرماني وکړي نو دا د هغه انسان لپاره طاغوت شو.

برابره خبره ده، که کاڼی وي، بوټی وي، انسان وي، اور وي، بت وي او داسې نور. لکه يو مشر دی، هغه تا ته په غير شرعي لار باندې امر کوي او تا د هغه خبره ومنله نو ستا لپاره دغه مشر طاغوت وگرځيد؛ ځکه تا د الله جل جلاله نافرماني، د همدغه مشر له خاطره وکړه، د تجاوز علت دغه مشر وگرځېد.

أقسام الطاغوت

د حافظ ابن القيم صاحب له دغه تعريف څخه د طاغوت درې ډولونه معلوميږي :

١- طاغوت العبادة (د عبادت طاغوت) :

وَالَّذِيْنَ اجْتَنَبُوا الطَّاغُوْتَ أَنْ يَعْبُدُوْهَا وَأَنَابُوا إِلَى اللَّهِ لَهُمُ الْبُشْرٰى فَبَشِّرْ عِبَاد.

"وهو كل ما عبد من دون الله من شيطان أو إنس حي أو ميت (ويشترط في الانسان أن يكون راضيا بعبادتهم) أو حيوان أو جماد من شجر أو حجر، أو كوكب من الكواكب وغيرها سواء عبد بتقديم القرابين له أو بدعائه أو بالصلاة والسجود له من دون الله. "

ژباړه: هر هغه شي ته ویل کیږي چې له الله جل جلاله نه سیوا يې عبادت کیږي، برابره خبره ده، که هغه شیطان وي او که انسان، مړ وي او که ژوندی خو په انسان کې یو شرط شته (هغه دا دی که چیرته دا په خپل عبادت راضي وو نو طاغوت دی او که راضي نه وو نو بیا طاغوت نه دی، پدې قید سره هغه نیکان خلک او انبیاء ترې خارج شول چې د هغوی عبادت کیږي څکه نعوذ بالله مشرکان خو د نبي علیه السلام، عیسی علیه السلام او د علي رضي الله عنه او نورو نیکانو عبادت هم کوي، نو هغوی طواغیت ندي) او که حیوان وي او که د جماداتو څخه وي لکه بوټی، کاڼی یا ستوری وي وغیره، بیا برابره ده که د هغه عبادت په قربانۍ وړاندې کولو سره وي او که څه غوښتلو سره وي او که د الله

عزوجل څخه پرته د هغه لپاره مونځ او سجده کولو سره وي، دا ټول د عبادت په طاغوت کې داخلیږي. هر نوعه عبادت دلته مراد دی.

۲- طاغوت الحکم (د حکم او فیصلې طاغوت):

" وهو كل ما تحوكم إليه من دون الله من دستور شركي او قانون وضعي أو حاكم بغير ما أنزل الله، سواء كان قاضيا او سلطانا أو غيرهما {يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ} وقوله {أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ}."

ژباړه: دا هر هغه شي ته ويل کيږي چې له الله جل جلاله څخه پرته ورته فيصلی وړل کيږي، که دا شرکي او وضعي قانون وي او که د الله جل جلاله له نازل کړي قانون پرته په بل څه فيصلې کوي، برابره خبره ده که دا قاضي وي او که پاچا وي او که بل څوک.

۳- طاغوت المتابعة (د تابعدارۍ طاغوت) :

"ومثاله متابعة العلماء السوء في تحليل الحرام وتحريم الحلال، وتشريع أحكام الطواغيت. ولا بد أن يعلم المرء أن التشريع من خصائص الله تبارك وتعالى."


{ اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ }

او د دې آيت په تفسير کې راغلي چې د دوی ملايانو او پيرانو به دوی ته د الله حرام حلالول او حلال به يې ورته حرامول، نو ځکه يې د ملايانو څخه معبودان جوړ کړي و. تفسير الطبري.

ژباړه: د دې مثال هغه ناکاره ملايان دي چې له ځانه حرام حلالوي او حلال حراموي او د ځانه کفري او شرکي قوانين جوړوي او خلک يې تابعداري کوي نو دا د تابعدارۍ طاغوت دی او دا هم لازمه خبره ده چې بايد هر مسلمان خبر وي پدی خبره چی قانون جوړول دا هم يوازې او يوازې د الله رب العالمين حق دی.

او د تابعدارۍ طاغوت ته شرک الطاعة هم ويل کيږي.

نو د نن عصر طواغيت طالبان دي، د دوی په وجه ډير خلک د شريعت له حد څخه واوښتل، د دوی په تابعدارۍ کې ډير تنظيمونه د ارتداد صفونو ته داخل شول، لکه ننی القاعده، تحريک طالبان پاکستان او داسې نور. نعوذ بالله من ذلك.



خپله خو طالبان هسې هم جهاد نه کوي خو نورې ډلې هم د شريعت له حد څخه اړوي.

- لکه څنګه چې کعب بن أشرف ته طاغوت اليهود (ديهودو طاغوت) ويل کيده، همدغه شان د نن عصر طالبان هم طواغيت دي. امام نووي په تبويب د صحيح مسلم کې وايي:

42 - بَابُ قَتْلِ كَعْبِ بْنِ الْأَشْرَفِ طَاغُوتِ الْيَهُودِ (صحيح مسلم)

دا باب دی په باره د بيان د يهودو طاغوت، کعب بن اشرف د قتل په اړه.

- أبو النصر جوهري په الصِّحَاح کې وايي :" هُوَ کل رَأس فِي الضلال."

طاغوت د هر گمراهۍ سر (مشر) ته ویل کيږي.

- علامه عيني حنفي هم د بخاري شرح عمدة القاري کې همدغه شان وايي: "طاغوت، وَهُوَ الشَّيْطَان وكل رَأس فِي الضلال." [ج 16 / ص 91] ژباړه: طاغوت شيطان او د گمراهۍ سر ته ویل کيږي.

نو د طالبانو مشران نن طواغيت دي، ځکه په زرگونو کشران او نور تنظيمونه يې د باطل په لور روان کړيدي. ځکه دوی د يهودو ملايانو په شان نن د سولې او نورو مزخرفه نومونو په سيوري کې د گمراهۍ او کفر سرونه دي او کشران يې هم د يهوديانو دکشرانو په څير، د دوی تابعداري کوي او همدغې ته د تابعدارۍ طاغوت وايي.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِياؤُهُمُ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُمْ مِنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُماتِ [الْبَقَرَةِ: 257]

ژباړه: او د کافرانو دوستان طاغوتان دي چې هغوی له رڼا څخه تيارو ته وباسي.

د طواغيتو دوستي نه کوي مگر کفار، نو طالبان طواغيت دي او کشران يې د دوی د غير شرعي تابعدارۍ له امله مشرکان گرځيدلي؛ لهذا مونږ تاسو به پدغه طاغوت باندې کفر کوو.

【 الْكُفْرُ بِالطَّاغُوْت 】

په پنځه طريقو سره به په طاغوت باندی کفر کوو:

١- اعتقاد بطلانها: د طاغوت د بطلان عقيده لرل.

٢- ترکها والتبرؤ منها: طاغوت پريښودل او براءت ترې کول.

٣- بغضها: کينه او بغض ورسره کول.

٤- تکفير أهلها: طاغوتيانو ته کافر ويل.

٥- معاداتهم في الله: د الله لپاره دغه طاغوتيانو سره دښمني کول.

نو طالبانو سره به همدغه معامله کوو:

باطل به يې گڼو، طالبان به پريږدو او پريښودل په درې قسمه دي :

الترك بالاعتقاد : لکه بعضې منافق ډولي په خوله وايي چې مونږ طالبانو سره نه يو خو عقيده يې د هغو وي، نو دا پريښودل ندي.

الترك بالقول: بعضې خلک د عقیدې له لحاظه خو د طالبانو خلاف وي مگر پخوانی مرض پکې پاتې وي، د هغو صفتونه کوي.

الترك بالفعل: کله یو کس د طالبانو عقیدې بطلان هم ذکر کوي، په وینا کې یې هم طالبان پریښي وي خو د طالبانو په نفع اعمال ترسره کوي.

نو طالبان به هم عقیدتا پریږدو، هم عملا او هم قولا. نه به د هغوی په شان عقیده لرو، نه به د هغوی لپاره کوم کار کوو او نه به هم د دوی د نفع لپاره له خولې څخه یوه کلمه اوباسو.

همدغه رنگه طالبانو سره به بغض او کینه کوو. کافر او مرتد به ورته وایو. د الله لپاره به ورسره دښمني کوو. د چا ایمان چې اعلی وي نو د حدیث مطابق به یې په لاس مخنیوی کوو، په لاس کې به ټوپک او توره راخلو، که بیا د دویمې مرتبې والا ایمان و، نو بیا به بیانونه کوو، په خوله به یې منع کوو، کتابونه به ورپسې لیکو او دریمې مرتبې ایمان والا دومره خو به کوي چې بد یې وګڼي، عقیدتًا د طالبانو خلاف وي؛ ځکه نبي علیه السلام وایي چې منکر (گناه)څوک په زړه سره هم بد ونه گڼي نو د هغه په زړه کې بیا د ذرې په اندازه هم ایمان نشته.

الله رب العالمين دې مونږ تاسې ته د طالبانو او نورو فتنو په خلاف په لاس، ټوپک، توره، قلم، بیان او نورو طریقو سره د مخنیوي توفیق راکړي. آمین.

د طالبانو څلورم ناقض : بین الملل کفري قانون منل:

طالبانو په ضلالت کې دومره پرمختګ وکړ چې د بین الملل ټول کفري قوانین یې ومنل. برادر په قطر کې د طالبانو موقف څرګندولو پر مهال وایي:

اسلامي امارت د شرعي اصولو او ملي منافعو په رڼا کې بین المللي اصولو ته متعهد دی. مونږ نه غواړو چې هیواد مو د سیمې او نړۍ د هیوادونو د ناسالم رقابت او سیالیو ډګر وي، بلکې د یوه مستقل، خپلواک او قوي هیواد په توګه د سیمې، نړۍ او خصوصا اسلامي هیوادونو د قضایاوو حل او ثبات غواړو.

د طالبانو زعیم ملا هبت الله اخوند زاده په اختریز پیغام (رمضان ۱۴۴۱، اپریل ۲۰۲۰) کې وایي:

۳.د نړۍ او سیمې له هیوادونو سره د اسلامي امارت سیاسي اړیکې د پخوا په نسبت ډېرې پراخې شوې، د اسلامي امارت موقف او پالیسي

ورته واضحه شوې چې پر بنسټ يې باور او اعتماد رامينځ ته شوی، موږ د خپلې پاليسۍ له مخې غواړو چې له اسلامي هيوادونو سره د ورورۍ، له ګاونډيو سره د حسن همجوارۍ، له سيميزو او د نړۍ له ټولو هيوادونو سره ګټورې اړيکې لا پياوړې کړو، ترڅو د سيمييزې او نړيوالې اقتصادي رفاه، امنيت او ګډ ژوند په برخه کې لازم مسؤليتونه ادا شوي وي. له نورو هيوادونو څخه هم د ورته ګامونو د پورته کيدو هيله لرو.

الله أكبر! دا به د مسلمان ګفتار وي ؟

چې زعيم يې خپله د کفارو سره سياسي اړيکې پراخولو باندې فخر کوي، مرتدو دولتونو ته اسلامي وايي، ټولو کفارو سره حسن همجواري او ګټورې اړيکې پياوړې کوي، نړيوال کفري ملکونو اقتصاد، رفاه او امنيت ټينګول يې هدف او مرام وي او بل خوا د اسلامي دولت مجاهدينو خلاف يې ګرم سنګر نيولی وي.

آفرين بر اسلام غلام جان !!

د ښځو حقوقو په نوم زنانه وو ته کفري آزاديورکول هم ورسره طالبانو ومنل.

حتی تر دي چې یوه خبریاله د طالبانو مذاکراتي ټیم غړي شاهین نه تپوس کوي چې ستاسې د واک دوره کې به آیا زه ستا مخې ته بیا هم د خبریالې په حیث ودریدلې شم ؟ هغه ورته وخاندي وایي: هو.

نو آیا اسلام کې زنانه وو لپاره سیکولر تعلیم، د کفري ژورنالیژم دنده تر سره کول روا دي؟ او که نه د طالبانو اسلام او محمدي اسلام دوه جدا جدا دینونه دي؟

د دغه رنګ سایکس پیکو پولې مني، کله چې ورته لاربښودنه وشي، د منلو پرځای بې ځای اعتراضات شروع کړي، د معقول ځواب د نشتوالي پرمهال بیا تیښته کوي او وایي:

د سایکس پیکو پوله د هیوادونو ترمینځ کوم دیوالي شکل نه لري، نه نور کوم لوي لوي موانع د دې پولو په اوږدو کې نصب شوي چې ودې نړول شي. څومره خندونکې ؟ عدناني په شړه دښته کې د کامرو مخ ته په بلډوزر سپور دی، او د سایکس پیکو حدود نړوي.

دا احمقان اوس پدې هم نه پوهیږي، چې سایکس پیکو یوه عقیده او نظریه ده، چې ظاهري وجود یې د پولو په صورت کې دی، لکه د تورخم ګیټ، دا حد دی د وضعي پاکستان او افغانستان، د دغه ګیټ نه رادیخوا اوسیدونکي افغانان او اخوا پاکستانیان حسابیږي. د دوی ترمنځ د

دوستۍ، دښمنۍ معيار همدغه کړښه ګرځېدلې، اوس چې مونږ دلته دغه د جغرافيايي حدودو او د ځمکې د ویش کفري عقیده ختموو نو دغه ظاهري بناوې به هم ختموو او ټول به یو خراسان ګرځي، ان شاء الله. خو دغه مخالفینو فقط د انتقاد لپاره دا یو تصویر راخیستې، نور نه ګوري چې دغه موانع لرې شو، عوام مسلمانان ښه خوشاله دي او وايي چې مخکې به دلته موانع وو، حکومتي تالاشیانې به وی، پاسپورټونه به یې غوښتل، اوس مونږ په آزادانه توګه نقل او حرکت کولای شو.

د جنګي قیدیانو نه وژل، دا هم یو نړیوال قانون دی چې د اسلام خلاف دی، طالبان پرې عمل کوي. طالبان چې کله هم عسکر ونیسي نو بیا یې نه وژني، که کوم ځاي کې یې څوک ووژني سخته سزا ورته ورکوي پدې کې یې هدف څه دی ؟

ځان له بین المللي قوانینو سره جوړوي. تاسې نه ګورئ د کابل ادارې ټول عسکر یې تر دې دمه ژوندي ساتلي وو. دا دې نن یې پرې معامله وکړه، کابل ادارې چې په طالبانو انتقاد وکړ، چې زمونږ بعضې عسکر ورک دي، هغه تاسې وژلي او دا د نړیوال قانون څخه سرغړونه ده! طالبانو ورته زر ځواب ورکړ چې نه مونږ هیڅوک ندی وژلي، دغه عسکر جګړو کې لګیدلي او ننګرهار کې درته داعش (!) وژلي.

يو خو دا خبره معلومه شوه، چې طالبان د دغه نړیوال قانون منونکي دي او بله خبره دا خپله یې په ځان رد وکړ، ځکه دوی خو وایي چې اسلامي خلافت د کابل ادارې سره لار لري، نو که لار یې درلودی نو بیا یې ولې ورته عسکر وژل.

د اسلام بې عزتي کیږي او د قرآن بې عزتي کیږي، د نبي علیه السلام بې عزتي کیږي، خو طالبان یې د بین الأقوامي دستور مطابق د ملتونو د نفرت ذریعه بولي او فقط د یوې اعلامیې خپرولو سره یې غندي، نور خیر ما و خیر شما. آیا دا اسلام به مونږ ته دا وایي ؟

دا کوم جهاد دی؟ چې د الله رب العالمین او د نبي علیه السلام په شمول د ټولو مقدساتو توهین کیږي او دغه کفارو ته بیا هم ته خوله وازوی او ورته وایي چې ما سره سیاسي اړیکې جوړې کړه! ما له تور لیست ځخه اوباسه، ما سره کومک وکړه، آیا د اسلام د مشرانو سنت همدا دي ؟ که نه په اجماع د امت سره شاتم الرسول(د نبي علیه السلام بې عزتي کونکي) سزا مرگ ده.



د افغانستان اسلامي امارت
د فرهنګي چارو کمیسیون
د ویاند دفتر

شمار: ۲۹۳ ۱۴۴۲/۳/۸هـ ق

د اسلام په اړه د فرانسې د صدراعظم د بې مسئولیته خبرو په غبرګون کې د اسلامي امارت اعلامیه

په دا وروستیو کې د فرانسې صدراعظم (مکرون) د اسلام په ضد بې مسئولیته خبرې کړې او تور یې پورې کړی چې ګنې اسلام په نړۍ کې له انزوا سره مخ ده او تغیرته ضرورت لري، په فرانسه کې به په مسلمانانو باندې محدودیتونه وضع کړي او داسې نورې خبرې.

اسلامي امارت د فرانسې د صدراعظم دغه رازخبرې غندي او هغه د ملتونو په ضد دریځ بولي.

ښه داده چې نوموړی د اسلام په ضد د بې خبرانه څرګندونو پرځای د اسلام دین دقیق مطالعه کړي، د اسلام په اړه د دښمنو کړیو د ناقصو معلوماتو په اساس بې ځایه خبرې ونکړي او له داسې موقف څخه ډډه وکړي چې هغه د نړۍ امنیت پرخلاف وي او د ملتونو ترمنځ نفرتونه او کرکې را پاروي.

دا څووم ځل دی چې په فرانسه کې د اسلام سترپیغمبر حضرت محمد صلي الله علیه وسلم ته منسوب کارتون خپرېږي او په دغه هیواد کې ځینې شریرې کړۍ د مسلمانانو په اړه غلط تصور وړاندې کوي.

د افغانستان اسلامي امارت
۱۴۴۲/۳/۸هـ ق
۱۳۹۹/۸/۴هـ ش - 2020/10/25م

که نور دې هیڅ په وس نه وي، دلته افغانستان کې یې سفارت دی، په هغه حمله وکړه، که دا هم نشی کولی، بائیکاټ خو ورسره وکړه، سوالونه خو ورته مه کوه، دغه مقدس اسلام د صلیبي فرانسې د پښو لاندې مه بې عزته کوه! دغه جنوبي فرانسه چې د اسلام او مسلمانانو اشغال شوی سیمه ده، نو څنګه ورسره ته نن خبرو ته تیار یې؟ څنګه د هغه د امنیت غم راخیستې یې ؟

د بین المللي اصولو موافق یې قطر کې دفتر خلاص کړ، د ټولو کفري ملکونو سفارتونه یې افغانستان کې ومنل، د مسلمانانو غربت څخه په

استفاده د هغوی حیا او دین پورته کونکې نړیوالې موسساتو ته یې اجازت ورکړو، او بعضې احکام وروسته هم رازي ان شاء الله.

الغرض: دا د طالبانو د بین المللي کفري قوانینو د منلو بعضې ثبوتونه شو.

او دا شرعي او اسلامي الفاظ چې کاروي، دا هسې ډولي جمله ده.

دا کوم شریعت دی؟ چې د کفري نړۍ لپاره امن او ثبات غواړي! د کفري سفارتونو اجازت ورکوي، د قطر کفري دفتر یې فعال کړ، ټول مذاکرات یې د بین المللي اصولو په رڼا کې روان کړي او ټول هر هغه څه ورسره مني چې پرون ورسره افغان حکومت منلي وو خو هغه کافر شو، هغه په خلاف جګړه مشروع شوه، ځکه پتلون یې اغوسته او طالب مسلمان شو، ځکه ده پګړۍ په سر کړې، اګر که عمل د دواړو یو شان دی !!!

طالبان ټول هغه څه له بین الملل سره مني چې پاکستان، اروپایي ملکونه او امریکا ایالتونه او داسې نور کافر یې ورسره مني. دا یې د زعیم خپل شهادت دی، نو د دې شرعي لفظ مصداق څه شی دی ؟؟

ښکاره خبره ده، دا فقط مغالطه ده.

دا د طالبانو يو لوي ناقض دی، بين الملل داسې اتحاد دی چې د نړۍ څخه د شرعي جهاد ختمول غواړي، د اسلام بېخ ويستونکې اداره ده.

طالبانو نن دا ټول هر څه ومنل.

سبحان الله ! دا د واک مينه او ارتداد هم عجيبه شی دی! پرون يې پدې خبره امريکا سره جنګ راغی چې بين الملل ټول اصول يې نه منل، خو نن چې طالب بين الملل ومانه نو امريکا خو همدغه غواړي، نوره څه خبره خو نشته، جګړه ختمه ده او امريکا خپله کډه تړي او روانه ده.

استاذ ياسر د طالبانو پروني رسمي موقف داسې څرګندوي، د هغه د خولې الفاظ دا دي:

د ملا محمد عمر جنجال په افغانستان کې په اسامه رانغی، امريکايانو امارت اسلامي ته پيش نهاد وکو چې ستا نظام او امارت د دنيا د اصولو، د بين المللی قومونو سره جوړ ندی، که ته خپل حکومت پدې اصولو برابروې نو مونږ درسره مرسته کوو او که يې منلو ته تيار نه وې نو زمونږ جنګ ته تيار شه. پاي.

نو اې طالبه! پرون دې مشرانو جنګ ولې کاوه؟ دا دومره وينې ولې تويې شوې؟ که دا بين الملل منل جائز وای نو پرون به مو منلی وای، په

زرګونو عوامو مسلمانانو، ماشومانو او زنانه وو وينې تويې شوې، بې عزتيانې يې وشوې، زندانونه ډک شول، جوماتونه وران شول، کورونه کنډواله شول، د دې هدف څه و ؟ نتيجه يې څه شوه ؟

د بين الملل منل ؟!


نو اوس تاسې دواړو کې کوم يو په حق دی؟ پرون ملا محمد عمر په حق وو، او که نه نن ستاسې له دغه کفارو سره دوستي پر حق ده ؟

که ملا صيب پر حق وو نو تاسې په واضحه ګمراهۍ کې ياست! او که نه تاسې ځان په حقه ګڼئ نو بيا خو نتيجه دا راوځي چې ملا صيب سخت ظلم کړی چې دومره شرعي او بدني تلفات مهاجرو او عامو مسلمانانو ته ورواوښتل؟

يو خو به پکې خامخا واياست! ځکه دا نقيضين دي، ارتفاع او اجتماع د دواړو محال ده، مانعة الخلو ده.

أَحْلَاهُمَا مُرٌّ، چې کوم يو انتخابوئ، هغه له بل څخه تريخ دی.

ځکه نو د امريکا ځانګړي استازي خليل زاد آخر هم دا حقيقت راڅرګند کړ او طالبان يې ښه په خوشحالۍ ورسره بدرګه کوي، هغه خليل زاد چې طالبان وايي هغه مونږ خه پيژني:



طالبانو همدا د خلیل زاد لار ښوونې کلکې نیولي دي، او د بین الملل له سرو کرښو قدم نه پورې باسي، ځکه نو ورځ تر بلې کفار ورته په خپلو غیږو کې ځای ورکوي؛ والله المستعان.

د طالبانو پنځم ناقض : له اصلي کافرو سره د جهاد معطل کول او انکار:

نن طالبان د سولې په نوم، امریکایانو له هرې خوا ټینګ وتړل او پر طالبانو یې د تعطیل الجهاد قباحت هم ومانه؛ هغه داسې چې د

وسلوالي مبارزې ځای یې ورته ورک کړ (د دوی مبارزې ته جهاد نه ویل کیږي، ځکه هغه د وطن او واک لپاره ده).

د دوحې په توافقنامه کې راغلي :

٤- دایمي او هر اړخیز اوربند به د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو په اجنډا کې یوه موضوع وي. د بین الافغاني مذاکراتو ګډونوال به د تطبیق د ګډو میکانیزمونو په شمول د یوه دایمي او هر اړخیز اوربند په نېټې او څرنګوالي بحث وکړي.

دایمي او هر اړخیز اوربند د جهاد معطل کولو نوم دی. معنا یې دا ده چې هیڅکله به هم د جهاد نوم نه اخستل کیږي. هیڅ کافر سره به جنګ نه کیږي او دا په اتفاق د امت سره حرام دی.

له پخوا راهیسې طالبانو دا ویل چې جګړه (جهاد) په موږ تپل شوې، امریکایي اولس ته د طالبانو په یو لیک کې راغلي:

جګړه په موږ تپل شوې، زموږ انتخاب نه دی، زموږ ترجیح دا ده چې د افغانستان مسئله له سولیزې لارې حل کړو. امریکا باید اشغال ختم کړي.

گرانو لوستونکو!


دا خبره منو چې د مسلمانانو اسلامي سیمې اشغال شوي، خو طالبان دلته سولییز حل (د ډیموکراسي او بین الملل قوانین) په لټه کې دي، او دغه سولییزې لارې مقابل کې له جهاد څخه براءت ښکاره کوي.

نو طالبان په خپله چیغې وهي چې جګړه یعني جهاد زمونږ انتخاب ندی، چې په دومره صراحت سره خبره کوي او بیا هم څوک وایي چې نه! طالبانو جهاد کړی، نو دا د طالبانو په حق کې بیخي ظلم دی.

چې جهاد ستا انتخاب ندی! بیا ولی وایي چې مونږ قرباني ورکړې ؟

خو صراحتا دا اووایه چې امریکا له تا چوکۍ اخیستې او د کابل ادارې ته یې ورکړې. لهذا تر هغه به جنګیږې چې چوکۍ تر لاسه کړې، تا ته مهمه نده، که دا واک ته په ډیموکراسۍ تر لاسه کوې او که په نورو غیر مشروعه لارو!

طالبان د خپل بندي کافر وینا ډیر په فخر رانقلوي، او استدلال ترې کوي چې پر مونږ جګړه تپل شوې، د ټیمتي ویکس د رویټرز سره مرکه یې نقل کړې او بیا یې پرې نتیجه مرتب کړې، تاسې یې پخپله کتلې شئ:



طالبان د دایم لپاره وسلوالي مبارزې ته د پاي ټکي ږدي، هم د امریکا متحده ایالتونو سره، هم ګاونډیانو او ټولې نړۍ سره او همدې ته تعطیل الجهاد او انکار الجهاد وایي.

شیخ الاسلام د تاتاریانو په اړه وایي : "فَإِنَّ التَّتَارَ يَتَكَلَّمُونَ بِالشَّهَادَتَيْنِ، وَمَعَ هَذَا فَقِتَالُهُمْ وَاجِبٌ بِإِجْمَاعِ الْمُسْلِمِينَ.

وَكَذَلِكَ كُلُّ طَائِفَةٍ مُمْتَنِعَةٍ عَنْ شَرِيعَةٍ وَاحِدَةٍ مِنْ شَرَائِعِ الْإِسْلَامِ الظَّاهِرَةِ، أَوْ الْبَاطِنَةِ الْمَعْلُومَةِ، فَإِنَّهُ يَجِبُ قِتَالُهَا، فَلَوْ قَالُوا: نَشْهَدُ وَلَا نُصَلِّي قُوتِلُوا حَتَّى يُصَلُّوا، وَلَوْ قَالُوا: نُصَلِّي وَلَا نُزَكِّي قُوتِلُوا حَتَّى يُزَكُّوا، وَلَوْ قَالُوا: نُزَكِّي وَلَا نَصُومُ وَلَا نَحُجُّ، قُوتِلُوا حَتَّى يَصُومُوا رَمَضَانَ. وَيَحُجُّوا الْبَيْتَ. وَلَوْ قَالُوا:

نَفْعَلُ هَذَا لَكِنْ لَا نَدَعُ الرِّبَا، وَلَا شُرْبَ الْخَمْرِ، وَلَا الْفَوَاحِشَ، وَلَا نُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، وَلَا نَضْرِبُ الْجِزْيَةَ عَلَى الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى، وَنَحْوِ ذَلِكَ، قُوتِلُوا حَتَّى يَفْعَلُوا ذَلِكَ. كَمَا قَالَ تَعَالَى: {وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ لِلَّهِ} [البقرة: 193] .

وَقَدْ قَالَ تَعَالَى: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ} [البقرة: 278] {فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ} [البقرة: 279] . وَالرِّبَا آخِرُ مَا حَرَّمَ اللَّهُ، وَكَانَ أَهْلُ الطَّائِفِ قَدْ أَسْلَمُوا وَصَلَّوْا وَجَاهَدُوا، فَبَيَّنَ اللَّهُ أَنَّهُمْ إِذَا لَمْ يَنْتَهُوا عَنْ الرِّبَا، كَانُوا مِمَّنْ حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ." [مجموع الفتاوى ج٢٢ صـ٥١]

ژباړه: يقينا تاتاريان د شهادتينو اقرار کوي خو سره له دې هم د دوی په خلاف جنګ په اجماع د مسلمانانو واجب دی. همدغه رنګه هره ممتنعه ډله چې د اسلام له يو شرعي حکم (ظاهري يا باطني) څخه ځان بند کړي نو د دوی په خلاف جنګ واجب دی. که چيرته دوی وايي: مونږ د شهادتينو اقرار کوو خو مونځ نه کوو نو له دوی سره به جنګ کيږي، تر دې چې مونځ شروع کړي. که وايي: مونځ کوو، زکات نه ورکوو. جنګ به ورسره کيږي، تر دې چې زکات ورکړي. که وايي: زکات ورکوو خو روژه نه نيسو او حج نه کوو. جنګ به ورسره کولې شي، تر دې چې د

رمضان روژې او د بيت الله حج شروع کړي. که وايي: مونږ دا کار کوو خو سود، شراب او زنا نه پرېږدو **او د الله په لار کې جهاد نه کوو، له يهود او نصارى نه جزيه نه اخلو** او دغه شان نور، نو تر هغې به ورسره جنګ کيږي تر دې چې دغه کارونه شروع کړي. لکه څنګه چې الله جل جلاله فرمايي:

اې مؤمنانو! له دې کافرانو سره تر هغه پورې وجنګيږئ چې فتنه پاتې نه شي او ټول دين د الله لپاره شي. بيا که هغوى له فتنې څخه لاس واخيسته، نو د هغو د عملونو ليدونکى الله دى.

او سود تر ټولو وروسته الله عزوجل حرام کړى، د طائف خلکو اسلام راوړى وو، مونځونه يې کول او جهادونه يې هم کول، الله عزوجل دا خبره بيانه کړه: که چيرته هغوى له سود نه منع نه شول نو دا به د هغه چا له جملې څخه وګرځي چې له الله او رسول عليه السلام سره يې جنګ کوي.

دا د شيخ الاسلام فتوه ده چې که کومه ډله له جهاد نه په زور ځان بندوي، له جزيې مقررولو نه په زور ځان بندوي، هغه طائفه ممتنعه ده او حکم د طائفه ممتنعې ارتداد دى.

"وَقَدْ اتَّفَقَ الصَّحَابَةُ وَالْأَئِمَّةُ بَعْدَهُمْ عَلَى قِتَالِ مَانِعِي الزَّكَاةِ وَإِنْ كَانُوا يُصَلُّونَ الْخَمْسَ وَيَصُومُونَ شَهْرَ رَمَضَانَ وَهَؤُلَاءِ لَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُبْهَةٌ سَائِغَةٌ، فَلِهَذَا كَانُوا مُرْتَدِّينَ وَهُمْ يُقَاتِلُونَ عَلَى مَنْعِهَا، وَإِنْ أَقَرُّوا بِالْوُجُوبِ كَمَا أَمَرَ اللَّهُ." [الفتاوى الكبرى لابن تيمية ج ٣ / ص ٥٤١]

ژباړه: يقينا صحابه وو او له هغوی څخه وروسته امامانو ټولو د زکات منع کونکو په جنګ باندې اتفاق کړې وو، اګر که پنځه مونځونه يې هم کول، د رمضان روژې يې هم نيولې او د دې خلکو هيڅ قسم معتبره شبهه هم نشته؛ ځکه هغوی مرتدين و او صحابه و ورسره د زکات په منع کولو جنګ کاوه. اګر که هغوی د زکات په واجبوالي اقرار کاوه، لکه څنګه چې الله حکم کړی و.

دغه صحابه او د امت ټول امامان او شيخ الاسلام خو به خارجيان نه وو، هغوی وايي کومه ډله چې له جهاد نه په زور ځان بند کړي، هغه مرتده ده، نو طالبانو نن له جهاد څخه په ځان بندولو باندې ترون لاسليک کړ.



د جهاد نه په یوازې ناسته او تخلف په مسلمانانو ذلت نازلیږي، پاتې لا دجهاد تعطیل، له جهاد نه انکار؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: «إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ وَأَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ وَرَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ سَلَّطَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلاًّ لا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ». رواه أبو داود عن ابن عمر بإسناد حسن.

ژباړه: کله چې تاسې د عینه بیعه شروع کړه، او د غواګانو لیکی مو ونیولې او په کشت وکر باندې راضي شوئ او جهاد مو پرېښود، الله

عزوجل به دربانديې ذلت مسلط کړي او تر هغه به در څخه لرې نشي چې تر څو تاسې خپل دین ته واپس نشئ.

او نبي علیه السلام سوله خپل ځان قوي کولو او نورو پوځي تحرکاتو لپاره ترسره کړې وه. د اسلام پیغام يې تر سترو کفارو ورساوه او له صلح وروسته يې د جهان په نورو کافرو يهودو، د نجد په قبائلو او رومیانو شروع وکړه. لکه بعضې لوی مشهورې غزاګانې يې په لاندې ډول دي :

١. غزوة الغابة أو غزوة ذي قردٍ ٢.غزوة خيبر ووادي القرى

٣.غزوة ذات الرقاع ٤.معركة مؤتة

او سرایا خو بې شمېره وې :

١. سرية غالب بن عبد الله الليثي إلى بني المُلَوِّحِ بالكَدِيد ٢. سرية حِسْمىَ بالكسر ثم السكون مقصور: أرض ببادية الشام، بينها وبين وادي القرى ليلتان. وبعضهم قالوا حَسْمى. ٣. سرية عمر بن الخطاب إلى تُربة ٤. سرية بشير بن سعد الأنصاري إلى بني مُرَّة بناحية فَدَك ٥. سرية غالب بن عبد الله الليثي ٦. سرية عبد الله بن رواحة إلى خيبر ٧. سرية بشير بن سعد الأنصاري إلى يمن وجَبَار ٨. سرية أبي حَدْرَدْ الأسلمي إلى الغابة ٩. سرية ابن أبي العوجاء ١٠. سرية غالب بن عبد الله إلى مصاب

أصحاب بشير بن سعد بفدك ١١. سرية ذات أطلح ١٢. سرية ذات عِرْق إلى بني هَوَازِن ١٣. سرية ذات السلاسل ١٤. سرية أبي قتادة إلى خَضِرَة.

زمونږ پوښتنه دا ده چې طالبان له ګاونډيو سره هم ډېر بندي وکړي،د اروپا، روسيې، چين او امريکا په شمول د نړۍ له ټولو کفارو سره تړون وکړي نو آخر ډز به په چا کوي ؟ له چا سره به جنګ کوي ؟

معلومه خبره ده چې د مسلمانانو په خلاف به يې کوي.

د مسلم په حديث قدسي کې راځي :

عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ الْمُجَاشِعِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ فِي خُطْبَتِهِ: إنمَّا بَعَثْتُكَ لأَبْتَلِيَكَ وَأَبْتَلِيَ بِكَ وَإِنَّ اللهَ أَمَرَنِي أَنْ أُحَرِّقَ قُرَيْشًا، فَقُلْتُ: رَبِّ إِذًا يَثْلَغُوا رَأْسِي فَيَدَعُوهُ خُبْزَةً، قَالَ: اسْتَخْرِجْهُمْ كَمَا اسْتَخْرَجُوكَ، وَاغْزُهُمْ نُغْزِكَ، وَأَنْفِقْ فَسَنُنْفِقَ عَلَيْكَ، وَابْعَثْ جَيْشًا نَبْعَثْ خَمْسَةً مِثْلَهُ، وَقَاتِلْ بِمَنْ أَطَاعَكَ مَنْ عَصَاكَ. أخرجه مسلم.

نبي عليه السلام خطبه کې وفرمايل، (الله تعالی فرمايلي):

يقينا ما ته ليږلې يې ددې لپاره چې زه پر تا امتحان وکړم او ستا په وجه په نورو امتحان وکړم. يقينا الله تعالی ما ته امر کړی چې زه قريش

وسوځوم. ما ورته وويل: اې ربه! دغه وخت کې به قریش زما سر زخمي کړي او ډوډۍ به ترې جوړه کړي، الله تعالی وفرمایل: دوی اوباسه لکه څنګه چې ته یې ویستلی یې، ته ورسره غزا وکړه مونږ درسره کومک کوو او ته خرچه کوه، مونږ به په تا باندې خرچه کوو، ته یو لښکر ولیږه، مونږ د هغه په شان پنځه لښکرې لیږو او د خپل اطاعت کونکو په ملتیا د نافرمانو په خلاف جنګ وکړه.

ډیر یو خوږ حدیث دی. د خلافت مجاهدینو زیری قبول کړئ! الله تعالی فرمایي: تاسې یو لښکر لیږئ، مونږ ورسره پنځه ملګري کوو. یو مجاهد چې دې ولیږه، ته فکر وکړه چې شپږ مجاهدین دې لیږلي؛ ځکه پنځه ورسره د رب له طرفه وي او الله تعالی فرمایي دا کفار وسوځئ! دا تاکید ده په سختۍ او دښمنۍ کې او نبي علیه السلام ته الله تعالی فرمایي چې له دې مخالفینو او کفارو سره به الله تعالی تا باندې امتحان کوي او ستا په لیږلو سره به پدغه نورو خلکو امتحان کوي. نو مؤمنه! دا خبره بیانه شوه چې په جهاد کې به اول الله عزوجل تا امتحانوي، چې څوک په توحید پاتې کیږي؟ همدغه رنګه د پراخۍ امتحان، ځکه امتحان خو فقط دا ندی چې سخته. کله امتحان د پراخۍ، سهولت او د فتحې په صورت کې هم په انسان راځي، چې دې ته هر څوک نشي ټینګیدای. رب دا ښکاره کوي چې څوک په سخته کې د دین د قیام لپاره مبارزه

کوي او څوک دغه جهاد پرېږدي؟ څوک خپلو مفادو لپاره د مسلمانانو وینې خرڅوي؟ په دې حدیث کې د کفارو امتحان وروسته ذکر شو نو دا زېری د هغه چا لپاره دي، چې د الله لپاره جهاد کوي.

اوس د دومره کلک امرونو باوجود طالبان جهاد ته د پاي ټکې کیږدي؛ بلکې ځان ترې په زور منع کوي نو دوی طائفه ممتنعه گرځیدو له وجې مرتد دي. خو دلته یوه خبره یاد ساتل پکار دي، چې یو د انسان شخصي عمل دی، لکه زید، عمرو، بکر جهاد نه کوي نو دا د هغه شخصي گناه ده، هغه ورسره نه مرتد کیږي. زمونږ دغه مراد ندی خو چې کله د شریعت د یو عمل نه یوه ډله په زور ځان بند کړي نو بیا هغه مرتده گرځي. پدې باندې مونږ مخکې د شیخ الاسلام نه اجماع نقل کړه چې د ټولو صحابه وو او امامانو پرې اتفاق دی. لکه زکات نه چې خلکو ځان بند کړې وو، صحابه وو ټولو ورته مرتد وویل. اگر که شخصا د هجرت او جهاد څخه ځان بندولو ته هم یو حدیث کې ارتداد ویل شوی خو د هغه حدیث په صحت کې اختلاف شته.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ ، قَالَ : " آكِلُ الرِّبَا وَمُوكِلُهُ ، وَكَاتِبُهُ إِذَا عَلِمُوا ذَلِكَ ، وَالْوَاشِمَةُ، وَالْمَوْشُومَةُ لِلْحُسْنِ، وَلَاوِي الصَّدَقَةِ، وَالْمُرْتَدُّ أَعْرَابِيًّا بَعْدَ الْهِجْرَةِ، مَلْعُونُونَ

عَلَى لِسَانِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ". [سنن النسائي ومسند أحمد وابن خزيمة]

ژباړه: عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: سود خپله خوړونکی، په بل چا خوړونکی او ليکونکې، کله چې هغه ته پته وي. خال لګوونکې ښځه، او چا ته چې د ښايست لپاره خال لګول کيږي او زکات منعه کونکې، او د هجرت څخه مرتد (ګرځيدونکی) بانډچي د قيامت په ورځ د نبي عليه السلام په ژبه لعنتيان دي.

ددې روايت سند کې اختلاف شته. په يو سند کې حارث الأعور په نوم ضعيف راوي دی او ابن خزيمه کې د مسروق په واسطې هم نقل شوې خو بعضې محققينو ورته وَهَم ويلي او دا حديث يې ضعيف ګرځولی او وايي چې دې بعضې حصې لپاره قوي شواهد شته خو دا آخري حصه شاهد نه لري او بيا بعضې نورو ورته حسن او صحيح ويلی دي.

که اوس طالبان له دغه کفارو سره جوړ رانشي او دا د جهاد د تعطيل تړون لغوه هم اعلان کړی، فقط د خپلې پاليسۍ له مخې نو بيا هم مرتد دي ځکه دوی عملا دا کار وکړو، لهذا توبه به وباسي هله به مسلمانان ګرځي.

د طالبانو شپږم او اووم ناقض: طالبان د مسلمانانو، یهودیانو او نصرانیانو درېو واړه ملتونو په اتفاق سره کافر دي، ځکه چې تعطیل الحدود کوي او شرعي حدود یې تغییر کړي:

د طالبانو بل ناقض دا دی چې شرعي حدود یې معطل کړیدي، حدود یې ساقط کړي، نه یې نافذوي او د حدودو پرځای یې خپل وضعي سزاګانې مقرر کړیدي. حدودو یې تغییر کړي، له غل نه لاس نه پرېکوي، بلکې ویښته تري پرې کوي او په لښتو یې وهي او مخ ورته توروي. واده لرونکي زاني ته هم د یهودو په څیر مخ توروي او په خره باندې یې سپروي. په توبې سره محصن زاني معاف کوي، د ردت حد نشته، د قذف حد نشته، د حرابې(ډاکې) حد نشته.

ځکه دوی خو اوس خپل ځان له بین الأقوامي قوانینو سره برابروي او بین الملل هیڅ کله دوی ته د رجم اجازت نه ورکوي.

بعضې بیلګې یې دا دي:

<u>اول: د غل مخ توروي او د خلکو مخې ته یې راولي:</u>

۱. د لغمان ولایت الیشنګ ولسوالۍ کې طالبانو په ۲۳ چنګاښ ۱۳۹۹ ل دوشنبې په ورځ (۱۴ جولایي ۲۰۲۰) باندې څو تنه غله نیولي دي او

بيا يې سرونه ورته نيم خريلي دي، مخ يې ورته تور کړی او په سر يې ورته هم ختې اچولي، په خولو کې ورته چپلې ورکړې دي.



او بيا يې ليکلي که چيرته افغان حکومت داسې کار وکړي نو يوه مياشت کې د غلو مخه نيول کيږي. بين المللي قوانينو سره ځان سموي کنه. کفارو ته نآشنا طريقې سره ډاډ ورکوي چې بې غمه شئ! مونږ له يهودو

 څخه چلونه زده کړي. اسلامي نظام هسې نوم اخلو، نور د مخونو له تورولو پرته به هیڅ هم ونه وینئ!

۲. دغه رنګه هلمند او نورو ځایونو کې یې هم د غلو مخونه تور کړي او په غاړو کې ورته چاینکونه اچولي او دغه رنګه په نورو مختلفو ځایونو کې.



<u>دویم: د حرابې (ډاکې) حد نشته:</u>

۲. زابل ولایت، شاجوی ولسوالۍ عوام او طالبان په شریکه راټول دي، دوه ډاکوان یې نیولي دي چې کس یې وژلې او فلډر ګاډی یې ترې اخیستی. په شنو لښتو او ډانګو یې ووهل او بیا چیغې وهي: امارت اسلامي زنده باد!

دوشنبه ۳ وږي ۱۳۹۹ ل يې ويډيو نشر کړه. ۲۴ / ۸ / ۲۰۲۰

دريم: واده لرونکي زاني په خر باندې سپروي:

د واده لرونکي زاني حد يعني رجم نه داسې کلک انکار کوي، لکه لويه گناه يې چې کړي وي، د کابل ادارې لخوا په طالبانو تور(!) پورې شوی چې طالبان واده لرونکي زناکار رجم کوي. طالبان يې په غبرگون کې وايي چې نه دا مونږ ندی کړی، له ځان څخه يې ردوي. انا لله وانا اليه راجعون.

سنګرمیدیاsungermedia
5.4K subscribers

سنګرمیدیاsungermedia

#وضاحت:
دشرعي شرائطو اوبشپړ حاکمیت په صورت کې
محصنو زانیانوته دسنګسار سزا شرعي حکم دی
چې هیڅ مسلمان ترې انکار نشي کوی.
خو په غور کې نشر شوي ویډیو د شپږ کالو
پخوانی ده چې دمرکز پیروزکوه اړوند غلمین
سیمه کې داربکی قوماندان سعیدی یار لخوا
ترسره شوي او یاد قومندان د کابل اداري پورې
اړه لري.

#توضیحات:
درصورت شرائط شرعی و حاکمیت کامل، جزای
سنګسار به زانیان محصن حد وحکم شرعی
است که هیچ مسلمان از آن انکار کرده نمی
تواند.
مګر ویدیوی بخش شده در ولایت غور مربوط
یک قوماندان اربکی بنام سعدی یار است که
۶سال قبل درمنطقه غلمین مربوط مرکز غور
صورت ګرفته است، وی قومندان اداره کابل
میباشد.
ذبیح الله مجاهد
خادم مجاهد, 2:06 PM 1K

سره له دې چې د افغانستان ٦٠ یا بعضې مصادرو کې ۷۰ سلنه د واک دعوه لري، له دې نه به هم نور د بشپړ تمکین انتظار کیږي. تاسې سوچ وکړئ! د کابل موجوده اداري څخه د زیات د واک دعوه لري او بیا هم شرعي حدود نه نافذوي، نو د کابل اداري او طالبانو ترمنځ څه فرق شو؟

بنه چې طالبان شرعي حدود نه نافذوي نو بیا څه کوي ؟

بیا طالبان واده لرونکې زانې ته مخ توروي او په خره يې سپروي.



دا د طالبانو شريعت دی چې په لارو او کوڅو کې زنانه په لښتو وهي خو نن بربنډو جينکو سره ماسکو، ايران او قطر کې خنداگانې او مجلسونه کوي!

ځلورم: له قاتل څخه د قصاص اخستلو قانون يې هم بدل کړی:

له قاتل څخه قصاص اخستل نشته، فقط کور کې ورته د قومي ملکانو غوندې لوگې وکړي، له علاقې نه يې وشړي او خبره ختمه؛ ځکه له بين المللي قوانينو سره ځان سموي ، د ملت رعايت په نوم د مجرمانو رعايت کوي، د الله عزوجل رعايت خو نشته.

پنځم: د ردت حد نشته:

مرتد باندې د الله عزوجل د حکمونو مطابق حد نه قائموي، بلکې د بين الملل د قانون له مخې يې د جنګي بندي په حيث ساتي او مرګ يې ناروا بولي.

همدا علت دی چې د طالبانو سيمو کې غل ډاډه کيږي، د هغه مخ هم چې په ختهو يا سکرو تور شي نو هغه خو د شرم نه بچ شو دا خو د دغه مجرم سره کومک شو، هغه سبا بيا غلا کوي چې هسې هم مخ تورول او ويخته پرې کيدل دي. قاتل په قتل او مفسدين خلک پدې نورو ناوړه کارونو ډاډه کيږي او د فساد کچه ډيره لوړيږي.

الله تعالی د شرعي حدودو بدلونکو په اړه په قرآن کريم کې فرمايي:

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ كُبِتُوا كَمَا كُبِتَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ مُهِينٌ. [سورة المجادلة:5]

يقينا هغه کسان چې خلاف کوي د پولو د الله تعالی او د رسول د هغه نه، ذليل کړی شويدي هغوی په شان د هغه کسانو چې له هغوی څخه مخکې ذليل شوي او يقينا مونږ ښکاره نښې ذکر کړي او خاص د کافرانو لپاره شرمونکی عذاب دی.

مفسر بيضاوي وايي:

"(يحادون) يضعون أو يختارون حدودا غير حدودهما، (كبتوا) أخزوا أو أهلكوا، وهم الكافرون ولهم عذاب مهين." [تفسير البيضاوي ج5/صـ 193]

ژباړه: (يحادون): د الله تعالی او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د تعيين شويو حدودو په خلاف حدود ټاکي يا غوره کوي.

(کبتوا): خوار او هلاک کيږي او دوی کافران دي او دوی لپاره شرمونکې عذاب دی.

امام ابن جرير الطبري وايي، معنا دا ده:

"إِنَّ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ اللَّهَ فِي حُدُودِهِ وَفَرَائِضِهِ، فَيَجْعَلُونَ حُدُودًا غَيْرَ حُدُودِهِ." [تفسير الطبري]

يقينا هغه کسان چې د الله تعالی خلاف کوي په حدونو او احکامو کې، نو د الله د حدودو پرته نور حدود جوړوي.

امام ابن حزم هم وايي: "لا يجيز تبديل أحكام الدين إلا كافر." [الإحكام في أصول الأحكام ج 6/ صـ 109]

ژباړه: د دين احکامو بدلولو اجازت نه ورکوي، مگر کافر.

لهذا طالبانو دا حدود معطل کړي، بلکې د خپل سیکولر دین څخه یې بیخي ساقط کړي؛ ځکه څوک چې ورته د دغه حدودو نسبت کوي نو زر یې له ځان څخه نفي کوی. دهمدغه رنګه خلکو په اړه د امام ابن تیمیه فتوه واورئ!

شیخ الاسلام ابن تیمیه وایي:


"ومعلوم أن من أسقط الأمر والنهي الذي بعث الله به رسله فهو كافر باتفاق المسلمين واليهود والنصارى." [مجموع الفتاوى ج 8 / صـ 106]

ژباړه: او دا ظاهره ده، چې چا د دین یو حکم یا منع شوی کار ساقط کړ (وغورځاوه) هغه چې الله جل جلاله پرې خپل رسولان رالیږلي نو دا د مسلمانانو، یهودو او نصاری ټولو په اتفاق سره کافر دی.

اوس طالبان د حدودو تغییرولو او ساقطولو له امله د درې واړه ملتونو په اتفاق سره کافر وګرځیدل.

دا د امامانو او علماؤ تصریحات دي، دوی خو خوارج ندي کنه! دا زمونږ شخصي خبره نده او د طالبانو څخه مو درته عملي ثبوتونه هم وړاندې کړل؛ هسې بهتان هم چا پورې نه تړو نو دا د طالبانو نور دوه نواقض وو.

کله چې پرې د خلافت لخوا نه کلک تنقیدونه وشول او نړۍ ته یې رسوا کړل نو اوس د طالبانو مشرانو هم په ۱٦ ربیع الأول ۱۴۴۲ ه کال باندې دا اعلامیه خپره کړه: د محاکمو له فیصلې پرته سزا او تصویر اخستل منع دي. هیڅ شخص ته اجازه ورنکړئ چې د محکمې له حکم پرته څوک په سوکانو، لښتو، درو او کیبل ووهي او یا کوم بل ډول تعذیب ورکړي.



دا د طالبانو د خپل شرم پټولو ناکامي هڅې دي، خو اوس ترې ورخ اوبو وړې دی.

طالبانو له شرعي حدودو څخه تېرې افساني جوړې کړې دي، وايي:

چې کله په افغانستان کې اسلامي امارت قائم وو نو هغه وخت دخوست په ولايت کې يې په يو غل، او يو قاتل باندې شريعت جاري کړو، په عام محضر کې يې ترې لاس کټ کړو او يو قاتل يې په دار کړو نو بيا بل د ادې زوى نه وو چې يا يې غلا يا قتل ترسره ....

او نن په خوست کې څه حال داى.!!!



وګوره دا يې خپل اقرار دی. چې مونږ حد جاري کړی وو خو وس نشته سره له دې چې اوس هم په افغانستان له شپېته فېصده د زيات واک دعوه لري.

په مقدماتو کې مونږ دا خبره وکړه چې سابقې ته هله اعتبار وي چې کله حال د انسان برابر وي، چې په موجوده وخت کې شريعت نه واوړيدې تا ته سابقه فائده نه درکوي.

که تمکين او قدرت نه لرئ خو وواياست او که لرئ لکه تاسې چې کله د کامرو په مخ کينئ نو بيا د افغانستان د ٦٠ سلنه واک دعوې کوئ نو بيا څنګه حدود نه جاری کوئ او د حدودو تعطيل، له تمکين سره، د شريعت تعطيل دی او دا خو په اتفاق د امت سره کفر دی.

طالبان دې په موجوده حالاتو کې د زنا د يو حد رسمي ويډيو نشر کړي، يا دې د ردت حد رسما په ويډيو وښايي.

نه کوي، دا کار هيڅکله نه کوي سره د دې چې د طالبانو په سيمو کې دا ټول جرائم ترسره کيږي، خو هغوی ورله خپلې وضعې سزاګانې مقرر کړې دي، او که بالفرض زمونږ د دې خبرې له وجې که کوم حد جاري کړي او ويډيو وښايي نو بيا هم مسلمانان نه ګرځي ځکه نور نواقض پکې دي.

د طالبانو اتم، نهم او لسم ناقض : الحكم بغير ما أنزل الله والتحاكم إليه ووضع القانون.

د طالبانو اتم ناقض دا دی چې هغوی حکم بغير ما أنزل الله کوي يعني د الله په نازل کړي قانون، د محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم د راوړي شريعت مطابق پريکړې نه کوي. مونږ په مقدماتو کې ويلي وو، چې له معاشرې څخه توحيد اوچت شي، ځای يې شرک نيسي نو چې طالبان په شرعي قانون پريکړې نه کوي نو خامخا په کفري جرگو او مرکو باندې يې کوي.

نهم ناقض دا دی چې طالبان خپلې شخړې هم غير الله ته مخکې کوي. د پرېکړو لپاره کفري محکمو ته ځي، مرتد او اصلي کفار خپل ثالثين(درېمگړي) ټاکي.

لسم ناقض دا دی چې مخکې طالبانو هم له ځانه قوانين وضع کول او نن سبا خو له افغان حکومت سره د نوي اساسي قانون او نظام لپاره مجلسونه او غونډې کوي چې په آينده کې څنگه نظام جوړ کړي، همدې ته د قانون وضع کول وايي.

◆ طالبان د خپل واک په ساحو کې په رسمونو، رواجونو او دودنو پریکړې کوي. ملکانو ته اختیار ورکوي چې تاسو د خپلو دودنو موافق فیصله وکړئ او طالبان خپله هم له خصمینو(جګړه کونکو لوریو) څخه دا پوښتنه کوي چې کومه فیصله درته وکړو، آیا شرعي فیصله درته وکړو او که نه د پښتو په رواج؟ نو اکثر ورته خلک وایي چې په پښتنواله راته فیصله وکړئ، ځکه هغه کې ظاهرا آساني ډیره وي نو طالبان ورته په هماغه رواج پریکړه کوي.

◆ اکثر طالبان د قوم په غوښتنې، د قاتل کور سوځي، بس له دې کار سره د قاتل جرم معاف شي.

او الله عزوجل فرمایي :

وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ. [سورة المائدة:44]

ژباړه: او څوک چې د الله په نازل کړي قانون پرېکړې نه کوي، پس هغوی کافران دي.

دا حکم بغير ما أنزل الله شو او هر چې تحاكم دی، یعني خپله پریکړه کفارو ته وړل دي نو د هغې بیلګې هم خورا زیاتې دي:

١. طالبانو چې له افغان حکومت سره د واک په سر کومه شخړه روانه کړې ده، د دې پریکړه یې پر چا وکړه؟ آیا نړیوالو کفارو ته یې دا فیصله مخکې نه کړه ؟

٢.کله په قطر کې ناست وي، کله ایران ته روان وي، کله مسکو کې برادر او خلیل زاد په یو بل باندې لاسونه اچولي وي او په گپونو کې له خندا شنه وي. کله یې اوږده قمیصونه د استنبول تالارونه جارو کوي. منځگړتوب او فیصله یې همدا د روس، قطر، امریکا، چین، ترکیې، ایران او پاکستان مرتد حکومتونه کوي.

نړیوالو کفري قوانینو ته مراجعه کول، د هغوی دغه قوانین، اصول او پریکړې منل، همدې ته د هغوی عبادت وایي، همدې ته شرک وایي.

عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ الْمُجَاشِعِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ ذَاتَ يَوْمٍ فِي خُطْبَتِهِ: " أَلَا إِنَّ رَبِّي أَمَرَنِي أَنْ أُعَلِّمَكُمْ مَا جَهِلْتُمْ، مِمَّا عَلَّمَنِي يَوْمِي هَذَا، كُلُّ مَالٍ نَحَلْتُهُ عَبْدًا حَلَالٌ، وَإِنِّي خَلَقْتُ عِبَادِي حُنَفَاءَ كُلَّهُمْ، وَإِنَّهُمْ أَتَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ فَاجْتَالَتْهُمْ عَنْ دِينِهِمْ، وَحَرَّمَتْ عَلَيْهِمْ مَا أَحْلَلْتُ لَهُمْ، وَأَمَرَتْهُمْ أَنْ يُشْرِكُوا بِي مَا لَمْ أُنْزِلْ بِهِ سُلْطَانًا.

ژباړه: نبي علیه السلام یوه ورځ په خطبه کې وفرمایل:

خبر شئ يقينا زما رب ما ته حکم کړی چې تاسې ته هغه څه وښایم چې تاسې پرې نه پوهیږئ. د هغه علم څخه چې ما ته یې نن راکړی (دا دي): ما چې بنده ته کوم مال ورکړی هغه حلال دی او ما خپل ټول بندګان په توحید پیدا کړیدي او یقینا هغوی ته شیطانان راځي او له خپل دین څخه یې اړوي او زما حلال کړي شیان ورته حراموي، او دا حکم ورته کوي چې زما د نازل کړي دلیل پرته له ما سره شریکان جوړ کړي.

نن سبا دغه شیطانان په مختلفو صورتونو کې دي، تر ټولو ستر پکې نړیوال کفري قضاء ده، چې حلال حرام او حرام حلال ګرځوي. طالبان هم د دغه شیطانانو ښکار شول او خپلې پریکړې یې دغه د طاغوت محاکمو ته وړاندې کړې.

۳.کله چې د طالبانو زعیم، ملا محمد عمر د وفات خبر خپور شو او د اختر منصور حقیقت هم عامو طالبانو ته راښکاره شو نو دغه وخت په طالبانو کې د واک په سر سخت جنجال پیدا شو چې فیصله یې هیڅ ممکنه نه وه نو آخر طالبانو دغه پریکړه د (آی. أیس آی.) رئیس جنرال حمید ګل (قبحه الله) ته وروړه او له ډیر بحثونو نه وروسته حمید ګل پدې وتوانیده چې اختر منصور د طالبانو زعیم وګرځوي او دا پریکړه ټولو

ومنله. چا طوعًا، په خوشالۍ سره ومنله او په چا باندې په زور تحميل شوه، د (آی. أیس آی.) له لورې ورته د استاد یاسر او د نورو په څير د مرگ او زندان گواښونه وشول. دا دې هیره نه وي چې دا فقط د واک په سر جنگ وو، نور دغه طالب مشران مُکره نه ول.

نو هغه طالبان چې د خپلو شخړو پریکړې بین الملل، امریکایانو، روسانو، ایرانیانو او د (آی. أیس آی.) جنرالانو ته مخکې کوي نو آیا هغوی به مسلمانان پاتې شي ؟

راځئ د الله له کتاب څخه تپوس وکړو، د همداسې منافقانو په اړه الله عزوجل په خپل کتاب کې فرمايي:

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا. [سورةالنساء:65]

ژباړه: داسې نه ده، قسم دی په رب ستا باندې دا خلک مومنان نشي کیدای، تر هغې چې تا فیصله کونکی وگرځوي، په خپلو شخړو کې، بیا ستا د پریکړې له امله په خپلو سینو کې تنگسیا مونده نه کړي او ځان تسلیم کړي په پوره تسلیمولو سره.

الله عزوجل، نبي عليه السلام ته قسم ياد کړی چې تر څو دا د ايمان دعوه کونکي، که هر څوک دي، پدې کې طالبان هم داخل دي ځکه هسې په خوله خو دعوه کوي، دوی خپلې پريکړې په تا او ستا په حديث او سنت باندې ونه کړي او بيا پرې مکمل خوشحاله نه وي نو دا مومنان ندي.

اوس طالبانو ته وګورئ، پريکړه په خليل زاد کافر باندې کوي. که چېرته شريعت ته دا پريکړه راجع شي چې له مرتد سره سوله کيږي او که نه ؟ او که کيږي نو د سولې کوم شرائط دي، اجماع د صحابه و وګورئ او بيا د طالبانو عمل چې له افغان حکومت، پاکستان، ايران او دې نورو حکومتونو سره کوم ربط لري، نو د طالبانو ايمان به درته معلوم شي چې صفر سره ضرب دی.

ابو بکر رضي الله عنه په اجماع د صحابه و سره د بزاخه قوم مرتدينو سره سوله هله جائز وګڼله چې کله هغوی دا شرطونه ومنل:

١. دا ګواهي به کوئ چې ستاسې ټول مړي مرداران دي او جهنم ته تللي.

٢. دا ګواهئ به کوئ چې د مجاهدينو ټول شهداء جنتيان دي.

۳. کوم مال چې ترې مجاهدینو نیولې هغه به غنیمت وي.

۴. کوم مال چې تاسې د مجاهدینو څخه نیولې هغه به بیرته واپس کوئ.

۵. ټوله اسلحه او اسونه به بیت المال ته ورکوئ.

٦. په تاسې به هر قسمه منصب او د عزت او شرافت دنده بنده وي.

۷. تاسې به ګډې، بزې او غواګانې څروئ تر دې چې د توبې صدق مو ښکاره شي.

[مصنف ابن أبي شيبة، السنن الكبرى للبيهقي، فضائل الصحابة]

لکه وروسته د سولې باب کې د دې تفصیل راځي ان شاء الله.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَنْ يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَنْ يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَنْ يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا. [سورة النسآء:60]

ژباړه: آیا ته نه ګورې! هغه کسانو ته چې دعوه کوي چې دوی ایمان راوړی دی، په هغه وحې باندې چې په تا باندې نازله شوې ده او په هغه وحې چې له تا څخه مخکې نازله شوې ده، هغوی غواړي چې طاغوت ته پریکړې یوسي، یقینًا هغوی ته حکم شوی و چې د هغه له پریکړې نه

انکار وکړي او شیطان غواړي چې هغوی له حق نه په لرې گمراهۍ سره گمراه کړي.

مسلمانانو سوچ وکړئ، فقط په اراده يې كافر وبلل نو نن چې طالب دومره عملي گامونه پورته کړي، دا به مرتد نه گرځي ؟؟

امام ابن كثير وايي:

"فدل على أن من لم يتحاكم في محل النزاع إلى الكتاب والسنة ولا يرجع إليهما في ذلك، فليس مؤمنا بالله ولا باليوم الآخر."

[تفسير ابن كثير ج2/صـ 346]

دا دلیل دی پدې خبره چې چا په شخړه کې پریکړه کتاب او سنت ته وړاندې نه کړه او دې دواړو ته يې راونه گرځوله نو دا په الله او د اخرت په ورځ باندې مؤمن نه دی.

بل ځای وايي:

"فمن ترك الشرع المحكم المنزل على محمد بن عبد الله خاتم الأنبياء وتحاكم إلى غيره من الشرائع المنسوخة كفر، فكيف بمن تحاكم إلى الياسا وقدمها عليه؟ من فعل ذلك كفر بإجماع المسلمين. " [البداية والنهاية ج13 /صـ 139]

ژباړه: چا چې په آخري نبي محمد بن عبد الله صلى الله عليه وسلم نازل شوي، ثابت دين او شريعت فيصله پرېښوده او له هغه نه سيوا منسوخ شويو شريعتونو ته يې وروړه نو ده كفر وكړ، نو د هغه چا به څه حكم وي چې فيصله ياسا قانون ته وړي او دغه قانون په اسلام مخكې كوي ؟ چا چې دا كار وكړ نو د مسلمانانو په اجماع سره كفر يې وكړ.

چې كله طالبانو د دغه اجماعي كفر ارتكاب وكړو نو بيا څنگه د مسلمانۍ دعوه كوي؟ بيا څنگه د نبي عليه السلام د شفاعت اميد ساتي، سره له دې چې په احاديثو كې د (شَهِدَ) قيد راغلی:

"قِيلَ لِي: سَلْ فَإِنَّ كُلَّ نَبِيٍّ قَدْ سَأَلَ، فَأَخَّرْتُ مَسْأَلَتِي إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ، فَهِيَ لَكُمْ وَلِمَنْ شَهِدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ". مسند أحمد وفي البخاري الشفاعة

ژباړه: ما ته ووېل شول: ته وغواړه! يقينا هر نبي يو څه غوښتي دي، خو ما خپله دعا د قيامت ورځې ته وروسته كړې، نو دا ستاسې لپاره ده او د هغه چا لپاره چې د لا اله الا الله گواهي وركړي.

شَهِدَ قيد يې لگولې، فقط نطق ندی، بلكې شهادت مستلزم دی نطق، علم او عمل ته، په عمل سره به هم گواهي وركوي. په قانون كې، په نظام

کې، په سوله کې، په جنګ کې، هر څه کې به د رب په قانون باندې پریکړه کوې؛ نه ددې ملګرو ملتونو په کفري قوانینو باندې.

دا خو د طالبانو هسې یو څو بیلګې دي، نوره دا موضوع ډیره اوږده ده.

لسم ناقض دا چې طالبان قانون وضع کوي.

طالبان له افغان حکومت سره په قطر کې ناست دي او په دغه وضعي ډیموکراتیک قانون کې د یو څو تغیراتو غوښتنه کوي.

او هڅه کوي چې نوي قانون او نظام جوړ کړي، نو ځانونه یې مشرِّعین وګرځول. د ولسي او مشرانو جرګې پرځای، طالب او افغان حکومت په شریکه په نوي نظام بحث کوي. آیا دا د الله رب العالمین واک اخستل ندي؟

چې نن د افغانستان لویه جرګه، ولسي جرګه، پارلمان یا د پاکستان قومي اسمبلي، سینټ، پدې خبره کافر ګرځي چې هغوی د قانون په تعدیل، تصویب، توشیح، تنقیح او تردید باندې خبره کوي نو چې همدا کار طالب شروع کړ نو دا پرې کافر نه ګرځي ؟

په دنیا کې د یو شرعي حاکم واک، په معمولي تعزیراتو کې اخستل هم جائز ندي نو هغه رب العالمین، ملک الملوک، خالق الأرض والسمآء د قانون جوړوني حق څنګه یو کمزوري بنده ته روا ګرځي ؟؟

إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ [سُورَةُ الانعَام : 57]

ژباړه: د پریکړې واک یوازې د الله لپاره دی.

أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ [سُورَةُ الاعرَاف : 54]

ژباړه: خبردار اوسئ! خاص الله پیدایښ کوي او خاص هغه لره د پریکړې واک دی، برکت والا دی الله چې پالونکې د ټولو مخلوقاتو دی.

فَالْحُكْمُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ .[سُورَةُ المؤمن : 12]

ژباړه: د پریکړې واک هغه الله لره دی چې اوچت او لوي ذات دی.

اسلام ته د ځان نسبت کونکو په لړ کې اول ځل تاتاریانو د شریعت خلاف قانون وضع کړ او په هغوی مسلمانانو اتفاقًا د کفر فتوی ورکړه.

طالب چې نن د شیعه ګانو، هزاره ګانو، او امریکایانو په خوښه د ډیموکراسۍ پر بنسټ ولاړ نظام او قانون جوړوي، دوی به مرتد نه ګرځي؟

عجيبه ده، طالبانو ته سړی حیران شي چې دا کیسې مو منلې نو بیا مو ولې دومره وخت جنګ وکړ، هسې مو ځانونه په عذاب کړل، د دغه کړنو له امله آخرت خو ستاسې هسې برباد ښکاري، دا دنیا خو به مو جوړه کړې وای!! معاذ الله.

د طالبانو یولسم ناقض : د نړیوالو کفارو رضا کیدل:

یولسم ښکاره او څرګند ناقض د طالبانو دا دی چې له دوی څخه نن سبا د نړۍ ستر طواغیت ټول راضي دي. پخپله پدې خبره اقرار کوي. هسې یو څو بیلګې به یې مونږ ذکر کړو:

١. برادر په نوم یو کس چې ځان د طالبانو سیاسي مرستیال معرفي کوي او له قرائنو څخه داسې ښکاري چې آینده د دولت مشرۍ ته ځان کاندید کړي، ځکه یې د طالبانو د قطر کفري سیاست دفتر رئیسان او معاونان شاته پرېښودل، کوم کسانو څخه چې ډاریده چې مشري ترې ونه نیسي، هغه یې د دفتر له مشرۍ څخه لرې کړل او د نیابت په دنده یې وګمارل، چې په هغې باندې هم د طالبانو ترمنځ لوی اختلافات رامنځ ته شول خو بیا د خلیل زاد په منځګړتوب او د درواغجنو ژمنو وروسته یې قناعت وکړ. دغه د برادر په نوم کس، په هر مجلس کې خپله لیکلې وینا کوي او همدا یوه خبره په هر کانفرنس کې کوي. سره له دې

چې نه فصاحت لري، نه شرعي علم لري، نه ورسره حق شته، نه په خبره پوهيږي، حتی ډير کرت د پښتو عبارت هم نشي ويلای، نه خبريال ته ځواب ورکولی شي. د خبريالانو لپاره يې بس يو دوه درې کسان روزلي خو الغرض موضوع ته راګرځوو. دغه برادر وايي چې ما سره د امريکا پخواني ولسمشر نيم ساعت په ټيليفون خبرې وکړې او طالبان وايي چې د نړۍ له پاچاهانو سره هم د امريکا ولسمشر له لس منتو نه ډيرې خبرې نه کوي او د افغان حکومت مرتد ولسمشر ټيليفون خو له سره اوچتوي نه.



نوموړې د پاکستان سندهـ ايالت، کراچۍ ښار کې د (آی.إس.آی) لخوا د طالب زخميانو مجهز روغتون کې د وينا پرمهال دا څرګنده کړه چې ټرمپ له ما سره خبرې وکړې او بيا باټې وهي چې ما ورکټ کړ خو الغرض چې د نړۍ د هيڅ يو تنظيم او ملک مشر سره دومره خبرې نه کوي او له طالب مشر سره يې کوي نو د نورو دلائلو ترڅنګ دا يې هم د رضائيت نښه ده.

۲. په مسکو کې د دوی د سياسي دفتر نائب، دا په ډاګه کړه:

چې زمونږ نظاميان د امريکا له نظاميانو او خليل زاد سره په يو کانال او چينل کې رابطې لري، بالمقابل د کابل مرتدې اداري د مشر مرستيالان، دا چيغې وهي چې امريکا طالبانو ته په دومره امتيازاتو ورکولو تيروتنه کوي. نو امريکا اوس طالب ته له افغان مرتد حکومت څخه زياته توجه کوي.

خليل زاد مرتد ښکاره دا خبره کوي چې نن طالبان هغه پخواني ۱۹ کاله مخکې طالبان ندي.

۳. په مسکو کې د پنج شنبې ورځ ، ۴ شعبان، ۱۴۴۲ د سولې په اړه چې کومه غونډه جوړه شوې وه نو طالبان خپله ډير په فخر سره دا اقرار کوي چې د روسيې چارواکو د افغان حکومت استقبال ونه کړ، مخې ته

ورته راونه وتل، د ټیکسیانو مصارف يې ورنکړل، د شپې لپاره هوټلونو خرچه يې ورته نه منله، بلکې ورته ويل شوي وو، چې د ټیکسي پیسې ځان سره جبیونو کې راوړئ نو بیا روسیې ته راشئ او د دې په خلاف د طالبانو استقبال، هر کلی، د طالبانو مصارف دا هر څه د روسیې حکومت له طرفه وو.

سنگرمیدیا sungermedia
5.4K subscribers
0:50
1.6 MB
مشعل

#ارګ ته د مسکاو تاریخي سپکاوی!
خو بیا هم ارګ له شرمه پټه خوله ده،او پلاوی یې مسکاو ته ولیږلو.
هېره د نه وي چې مسکاو د ګوتو په شمېر کسانو ته د عوت ورکړی وو،خو ارګ ۲۸کسه ورلیږلي،مسکاو خبرداری ورکړی، چې موږ نه دودی،نه موټر او نه هم هوټل کي ځاي ورکوو،شخصي مصارف به کوی.
#ارګ #شرم..
عبدالمنان حقاني, 7:01 AM 773

سنگرمیدیا sungermedia
5.4K subscribers
3:51
20.4 MB
Mashal Afghan
مشعل
عمر داوودزی نماینده خاص رییس جمهور در امور پاکستان

د روسیې غونډي دا ښه واضح کړه،چي امارت چیرته ولاړ ده؟او او دموکراسي چیرته ولاړه ده؟
زموږ صدر اعظمان معاونان لوړ پوړي چارواکي روسیې ته ور روان دي،روسیه ورته وایي بخښه کوئ،موږ دملاقات وخت نلرو، ټیکسي هم نه درکوو،د ټیکسي پیسې درسره راوړی،که یي طالبانو ته داسي خبري کړي وې،یقیني درته وایم، طالبانو ورته ویل خپل کار کوئ موږنه درځو.
موږولي دومره ذلیله شوو؟
موږ ولي افغانان دومره ذلیله کړل؟
داشرف غني خاص استازی
عمر داودزی
عزیـــزالله عزیـــراشنـــا, 7:14 PM 1K

او طالبان د بعضې نورو خبرو دعوه لري چې له دوستم ملحد څخه مو نظامي لباس وويسته، دا او دا کارونه هم د طالبانو په غوښتنې ترسره شوي وو، لکه:



که دا خبره رښتيا وي، نو د دې نه به بل کوم لوي ثبوت د رضائيت کيدای شي؟

۴. دغه رنګ طالبان خپله وايي د ۲۰۲۱ کال اپريل په ۲۴ نيټه باندې د سولې په اړه په ترکيه کې ترسره کيدونکي غونډه زمونږ د انکار له امله وځنډېده.

نو قاعده دا ده چې المرء يؤخذ بإقراره.

خپل اقرار باندې سړی پړ وي.

او د افغان حکومت چارواکو هم دا خبرې تایید کړې نو د کابل مرتدې ادارې لپاره هم د ذلت د پاڅه ذلت ورځې دي، هغوی خو کفر همدې لپاره کړې وو چې دنیا کې عزت ترلاسه کړي، خو نن د دغه کفر سره دومره ذلیله شول چې خپلو کشرانو ته قناعت نشي ورکولای؛ ځکه د الله رب العالمین په ځای یې د کفر غلامي قبوله کړې وه نو دغه کفري بادارانو د غني او نجیب پشان ډیر مرتد غلامان بیا په میدان پریښي او پښې یې ترې سپکې کړي، نو اوس دا د دغه کفارو د رضا لوي ثبوت نه دی ؟؟ چې احمق طالبان یې اوس هم عزت بولي.

نبي علیه السلام چې له قریشو سره سوله کړې وه نو نه ورته کافرانو پسونه حلال کړي وو او نه یې هم دومره ظاهري امتیازات او تشریفات ورکړي وو خو طالبانو ته په هر کفري هېواد کې قالینونه غوړیږي، او افغان حکومت ته د ټیکسي مصرف هم نه ورکوي. دلته علت دا دی چې له کابل مرتدې ادارې څخه اوس هغه استفاده نه کیږي، کومې طمعې چې د دې کفارو له طالبانو څخه دي.

طالبانو پرون القاعده خپله ګڼله، نن یې تروریستان وبلل. پرون یې مشرانو لکه: ملا داد الله دغه رنګه سوله چې په جیلونو کې تور سرې زنانه بندیانې وي خیانت وبلو او دوی ویل کفري اشغال په ټوله اسلامي

خاوره چې له مراکش نه تر شرقي ترکستانه پورې واکمن وي نو سوله نه کوو، نن طالبان لگیا دي، ښه ډاډه یې کوي، پرون یې له امریکا سره جنگ پدې راغی چې بین الملل ټول قوانین یې نه منل (د استاد یاسر په قول) نن یې هماغه بین الملل ومانه نو اور بند ته هم تیار دي او داسې نور. حسبنا الله ونعم الوکیل.

د داسې خلکو په اړه د الله عزوجل پریکړه دا ده:

وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ. [سورةالبقرة]

ژباړه: او هیچرې له تا څخه یهود او نصارا نشي راضي کیدای تر څو چې ته د هغوی دین ونه منې.

رب العالمین خبره ورخلاصه کړی ده، اخوا د نور څه ویلو ضرورت نشته.

د طالبانو څخه امریکا لا څه چې د روسیې کمونستان او دهریان هم راضي شول، نو دا څرگنده شوه، چې طالبانو کفر له زړه څخه قبول کړی؛ ځکه د نړۍ د غلیظو کفارو او مرتدینو محبوبین وگرځیدل او د کابل غلامې ادارې ته یې توجه کمه کړه.

لهذا اې مسلمانانو!

تاسې په انصاف سره ووایاست! کوم کافر دي چې نن د طالبانو نه خفه دي؟

کوم کافر دي چې د طالبانو مذاکراتو کوربه توب ته چمتو نه دي ؟

کوم کافر دي چې د طالب مشرانو نومونه د تور لیست څخه د ویستو خلاف دي ؟

کوم کافر دي چې طالبانو ته د افغانستان واک کې برخه ورکولو مخالفت کوي؟ کوم کافر دی چې نن طالبان تروریستان بولي ؟

کوم کافر دي چې وایي طالبان نن هم خپل ۱۹ کلن پخواني دریځ باندې ولاړ دي؟

کوم کافر دي چې اوس هم دا وایي چې زه به د طالبانو خلاف خپل عملیات جاري ساتم ؟

کوم کافر دي چې هغه د طالبانو له راتلونکي نظام سره له مرستې انکار کوي؟

کوم کافر دي چې هغه د کابل مرتده اداره له طالبانو څخه غوره بولي ؟

کوم کافر دي چې د طالبانو په خیر یې بل کوم تنظیم په غیږ کې نیولې وي ؟

د ټولو خبرو جواب منفي دی او د طالبانو د رضائيت ستر دلائل دي، چې دوی يې خپله هم اقرار کوي خو فقط تعبير بدلوي چې دا هر څه زمونږ د توري په زور وشو !!

نو که دا هر څه د طالب د تورې په زور شوي وي نو بيا خو دوی أشقی خلق الله (د الله په مخلوقاتو کې تر ټولو بدبخته) دي، ځکه د دومره جنګونو په بدل کې چې ته نن بين الملل او ډيموکراسي منی نو بيا خو ....

الغرض دا د طالبانو بل ناقض وو چې د نړۍ ټول کفار ترې رضا او خوشحاله دي.

د طالبانو دولسم او ديارلسم ناقض: انكار الجزية وانكار نظام السبي:

د طالبانو بل ناقض دا دی چې په اهل کتابو او مجوسو باندې جزيه مقررولو څخه انکار کوي.

ځکه طالبان ډيموکراټيک نظام غواړي او په دغه نظام کې د جزيې قانون نوم هم څوک نشي اخستلای؛ ځکه اصل حاکمان خو همدا يهود او نصارى دي. طالبان له هغوی نه د جزيې اخستلو خبره چيرته کولی شي.

دوی خو لګیا دي دغه یهودو نصاراو ته ډاډ ورکوي چې ګورئ! زمونږ حکومت راتلو کې ستاسې لپاره هم خیر دی، زمونږ د سیمو نه به تروریستي ډلو ځالی ورکې شي، نو د نړیوالو نظامونو او امن خلاف به هیڅوک نه کوي.

څه وخت مخکې (مارچ ۲۰۲۱) د مسکو په غونډه کې یو طالب چې په برادر باندې یادیږي وایي: **د افغانستان ثبات او استقرار د ټولو لپاره مهم دی او خپل اغیز پرې لرلی شي.**

نو کله چې طالبان محکوم دي او یهودو نصاری پرې حاکم، نو آیا طالبان د له خپلو بادارانو څخه د جزیې غوښتنه کولای شي ؟

شیخ الاسلام بل ځای وایي :

او بيا نو دا خبرې د هرې رسنۍ سرټکي وګرځيدل:

افغان طالبانو داعش ته ماتې ورکولو لپاره ايران ته د مرستې لاس اوږد کړی.

او دا خبره هم له چا پټه نده چې له روسيې سره د طالبانو اړيکې ايران جوړې کړې، ځکه ايران او روسيه دواړه ظاهرا ځانونه د امريکا سياسي مخالفين حسابوي، نو روسيه د طالبانو له حمايت څخه دوه هدفونه لري:

١. د خلافت مخنيوی.

٢. د طالبانو قوي کولو سره د امريکايانو کمزوري کول.

ځکه خو روسيې طالبانو ته ډيرې وسلې ورکړی، خصوصا ليزري ټوپکې.

ايران ته چې د طالبانو وفد لاړ نو ايران زر زر خپل د بهرنيو چارو وزير روسيې ته وليږه تر دې چې روسيې طالبانو ته بلنه ورکړه او خبري کانفرنس يې ورته برابر کړ چې بيا ستانکزي د مسکو په هغه مخکی کانفرنس کی وويل:

مونږ اهل تشیع سره مشکل نه لرو.

نو طالبان نن سبا له دغه شیعه ګانو سره کلکه دوستانه لري، کافر ورته نه وايي، هلته سفرونه کوي، تړونونه ورسره امضاء کوي خپلو صفونو کې شیعه ګانو ته ځای ورکوي، مشري ورته ورکوي نو لهذا دوی پدې کار سره د څو وجوهاتو له امله له دین څخه خارج شويدي.

اوولسم ناقض: د پاکستان حکومت غلامي:

د طالبانو د ارتداد او د نني انحراف تر ټولو ستر لامل پاکستان حکومت سره موالات دي. دغه موالات دوه پړاونه لري.

اول، تاریخ ته چې وګورو نو د طالبانو بنیاد هم د پاکستان حکومت ایښی دی. د پاکستان کرنل امام چې خپل نوم یې سلطان تاړړ وو، د هغه په شمول هغه کرنیلانو او افسرانو ته د (آی. إس. آی) لخوا د طالبانو تحریک جوړوني ستره وظیفه ورکړل شوه چې د روس خلاف په مقاومت کې پاتې شوی وو، خلکو سره یې آشنایي درلوده نو دلته یې قومندانان روزل، چې دغه کسانو کې د طالبانو مهم مشران لکه ملا محمد عمر، ملا اختر منصور، ملا برادر، ملا برجان، ملا رباني او نور مهم مشران شامل وو چې

دوی ته یې خصوصي روزنه ورکړه او بیا یې ورته د پاکستان له مدرسو څخه د درسي طالبانو لیږلو لړۍ پیل کړه.


نو یو تعلق د طالبان او پاکستان دا دی چې د طالبانو اساس له پاکستان څخه وو.

دویم مهم پړاو هله شروع شو چې کله د طالبانو امارت سقوط وکړ او مشران یې پاکستان ته منتقل شول نو بیا طالبان ټول په ټوله د پاکستان حکومت لاس ته پرېوتل او دا داسې یوه ړنده کیسه ده چې ټول جزئیات یې تر ننه ندي په ډاګه شوي خو ورځ تر بلې یو یو حقیقت افشاء کیږي. لکه د طالبانو زعیم ملا محمد عمر مرګ په اړه مختلف واقعات مشهور دي. خو حقیقت وس رب ته معلوم دي، چې دغه انسان څنګه تری تم شو ؟ هیڅ درک یې نه لګي او کومې کیسې چې طالبانو لخوا مشهورې دي چې په جنوب افغانستان کې یوه بانډه کې اوسیده، نو دا د دروغو له ناول او افسانې پرته نور هیڅ ندي. ځکه یو ثبوت نشته، یوه قرینه نشته، او حقائق ټول د دې په خلاف دي، څنګه ټول مشران پاکستان ته لاړل، حتی د ملا صیب زوی او ورور هم پاکستان ته لاړل، هغه کوم جرم کړی وو د دوی په نزد، چې طالبانو افغانستان کې پریښودو او ټول ترې لاړل ؟

طالبان خو اختر منصور په اړه هم دا وايي چې د نيمروز او هلمند ترمنځ اوسيده، سره د دې چې ټول عمر يې پاکستان کې تېر کړې وو، دا دومره کره ثبوتونو څخه قصدا انکار کوي، طالبان هم عجيب دروغ وايي !!

سنګرميډيا sungermedia
5.4K subscribers

سنګرميډيا sungermedia
اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور صاحب له شهادت وړاندې چېرته اوسيده؟
له شهادت نه مخکې شهيد منصور صاحب د افغانستان د هلمند او نيمروز تر منځ په يوه کليوالي سيمه کې له خپلو څو تنو خاصو ملګرو مجاهدينو سره ژوند کاوه. ملا اغاجان چې په همدې مرحله کې څه موده له شهيد منصور صاحب سره يو ځای پاته شوی وايي چې دا مې دژوند تر ټولو خوږه خاطره وه. ځکه د اسلامي امارت زعيم د خپل وطن په سپيرو کوډلو کې داسې ساده ژوند درلود لکه يو عام دسنګر مجاهد.
په دې سيمه کې نوموړی له ۸ کسو مجاهدينو سره اوسيده،دوی د عامو مجاهدينو په شان مسلح ګرځيدل اود سيمې مجاهدينو او عامو خلکو ته يې ځانونه د يوه محلي ډلګۍ مشرپه انډيوالانو معرفي کړي وو تر څو د اوسيدو ځای يې افشا نه شي. د اړتيا په وخت يې شاوخوا نورو سيمو ته هم سفر کاوه.



خو الغرض له دې ځای نه د طالبانو د انحراف يو نوی دوران شروع شو.

کله چې د حکومت واګې د اختر منصور په لاس ورغلل نو د طالبانو د تحريک مخ، له جزئي شريعت څخه نړيوال کفري سياست ته واوښت.

د قطر دفتر لپاره يې هڅې شروع کړې، له ايران سره يې روابط قائم کړل، له پاکستاني چارواکو سره يې هم خپلې اړيکې تر پخوا پياوړې کړې او د افغانستان واک ته رسيدو لپاره يې سياسي تګ لار وټاکله نو هغه ورځ

نه بیا طالب د ارتداد په یوه بله دروازه هم ورننوت او اسلام سره یې بالکلیه مخه ښه وکړه چې تر ننه د اسلام او طالب ترمنځ فاصلې قدم په قدم زیاتیږي.

طالبان ځواب کوي: خیر که د امیر (اختر منصور) سیاست باندې څه نیوکې وي نو بیا هم تر کفر بواح پورې یې اطاعت پکار دی. نو آیا د ملګرو ملتونو قوانین منل، ډیموکراسي منل به هم کفر بواح نه وي نو بیا خو د کابل ادارې مرتد مشران هم مسلمانان دي، تاسې ولې ورسره جنګ کوئ ؟

د پاکستان حکومت هغه حکومت دی چې د طالبانو امارت خلاف یې امریکا ته هډې ورکړې، جیکب آباد، سبي، تربیله او نورو ځایونو کې امریکایانو ته هډې ورکړې. له همدغه ځایه به امریکایي طیارو په افغانستان باندې بمبارونه کول، د تورخم په لار یې ټول اکمالات کیدل، بحر یې هم د امریکایي جنګي بیړیو لپاره وقف کړی وو، د طالبانو سفیر ضعیف یې ونیوه او بربنډ یې امریکا ته حواله کړ، په سلګونو عرب مهاجرین او مهاجراتې عفت مندې خویندې یې امریکا ته حواله کړې.

د طالبانو حکومت همدي پاکستان ړنگ کړ او بیا لګیا شو د خپل مقصد لپاره یې بعضې دنیا پرسته طالب مشران پخپل غیږ کې پټ کړل چې بیا هر قدم دغه طالبانو د آی إس. آی په لارښوونې اخسته.

نو له پاکستان سره د طالبانو موالات، تولي او ملګرتیا ثبوتونه ډیر دي، خو بعضې یې دا دي:

١. د پاکستان په امر طالبانو قطر، ایران، روس او چین سره سیاسي اړیکې قائمې کړی.

د طالبانو سیاسي بهیر ملاتړ او ډاډ خو ټول د پاکستان لخوا وو، ټوله زمینه سازي ورته پاکستان وکړه.

٢. د خلافت په خلاف جنګ یې د (آی. إس. آی) په امر شروع کړ:

ځکه د خلافت یو مهم هدف د پاکستان حکومت وو.

د آی. إس. آی سابقه رئیس جنرال حمید ګل دا څرګندونې په میډیا باندې وکړې چې په کومه ورځ طالبان په افغانستان کې کمزوري شول نو په هماغه ورځ د پاکستان مستقبل په اړه زه سوچ نشم کولای.

٣. د پاکستان په مختلفو ښارونو کې طالبان د پاکستان حکومت لپاره جاسوسي کوي:

چې صرف چا باندې یې شک هم راشي چې دا خلافت سره خواخوږي لري نو فورا یې استخباراتي کړیو ته په ګوته کوي.

همدغه شان د پاکستان په امر یې د خلافت تمکین ته خپل جاسوسان هم رالیږل چې اکثره پکې الله عزوجل رسوا کړل.

۴. طالبان د پاکستان غیر رسمي پوځ دی:

د پاکستان د دفاع لپاره هر وخت تیار دي، لکه طالبانو د هندوستان او امریکا په خلاف د پاکستان دفاع کولو په اړه خپل رسمي موقف څرګند کړی.

کله چې ټرمپ پاکستان ته د حملې ګواښ وکړ نو طالبانو په اکوړي کې د مفتي محمود ذاکري په مشرۍ غونډه وکړه او دا یې وویل: که امریکا یا هند پر پاکستان برید وکړ د افغانستان په څیر یې دفاع کوو :



امریکا ہو یا بھارت اپنے دارالہجرت پاکستان کا دفاع افغانستان کی طرح کریں گے

افغان طالبان کا اعلان

پاکستانی قوم سیاسی و مذہبی اختلافات بھلا کر امریکا کو منہ توڑ جواب دے: مولانا سمیع الحق کے نام پیغام، جے یو آئی امیر کا خیر مقدم

۵. د طالبانو اکمال اکثره برخه تر ډیر وخت پورې پاکستان کاوه:

بیا ورسره ایران، روسیه، چین او بعضې نور ملکونه هم شریک شول.

طالبانو اقتصادي اکمال، افرادي او د اسلحې اکمال هم پاکستان کوي لکه ډیر کرت تورخم کې کابل اداري د طالبانو د بارودو ډکې ټیلرې هم نیولي چې د سیمنټ په نوم يې افغانستان ته انتقالول. د افغان مهاجرینو په نوم یا نورو نومونو د نړیوالو څخه کومکونه اخلي او هغه ټول دلته طالبانو ته ورکوي.



NDS Afghanistan
۱۲:۵۴ په د ۲۰۱۷ د لړم ۵ ·

۱۶۵۰۰ کیلو گرام مواد انفجاری در شهر کابل کشف و خنثی گردید
کابل: 14 اسد 1396
ریاست عمومی امنیت ملی مقدار ۱۶۵۰۰ کیلوگرام مواد امونیم نایتریت
را که در یک عراده واسطه تریلی از آنسوی خط فرضی دیورند
بارگیری و به... نور





NDS Afghanistan
۱۲:۵۴ په د ۲۰۱۷ د لړم ۵ ·

۱۶۵۰۰ کیلو گرام مواد انفجاری در شهر کابل کشف و خنثی گردید
کابل: 14 اسد 1396
ریاست عمومی امنیت ملی مقدار ۱۶۵۰۰ کیلوگرام مواد امونیم نایتریت
را که در یک عراده واسطه تریلی از آنسوی خط فرضی دیورند
بارگیری و به... نور



شمشاد تلوېزيون
5.8K subscribers

شمشاد تلوېزيون

تورخم ښارګوټي کې اووه زره اته سوه کيلو
ګرامه امونيم نايتريت ونيول شول
ننګرهار ولايت مومندرې ولسوالۍ اړوند تورخم
ښارګوټي کې د ملي امنيت موظفينو په يوې
لارۍ ډوله موټر کې ۷۸۰۰ کيلو ګرامه امونيم
نايتريت ونيول.
د معلوماتو له مخې دغه مواد په ۱۵۶ بوجيو کې
سبزيو لاندې ځای پر ځای شوي و.
دغه مواد وسله والو مخالفينو له پاکستان هېواد
څخه راوړي و او غوښتل يې، چې په ننګرهار کې
ترې د تخريبي کړنو په موخه ګټه پورته کړي.
@shamshadtv

302 11:10 PM

303 11:12 PM

299 11:12 PM

302 11:12 PM

June 11, 2018

او افرادي قوت لپاره يې حقانيې مدرسې پشان کارخانې جوړې کړې دي، چې ۵۰۰ کسانو ته ضرورت شي يو مدرسه ورته رخصت کړي، او چې زياتو خلکو ته ضرورت شي يو څو نورې مدرسې ورته رخصت کړي، او ټول دېخوا راوليږي.

٦. د طالبانو سوله:

تاسې نه ګورئ چې نن سبا د طالبانو سوله د کوم ځاي نه شروع شوه ؟

کله چې امریکایانو خپل ځانګړی استازی خلیل زاد پاکستان ته ولیږی، هلته یې د پاکستان چیف آف آرمي سټاف (لوي درستیز) او د آی.إس.آی افسرانو سره وکتل او موافقه یې وکړه نو بیا د سولې بهیر شروع شو.



دغه خلیل زاد ولې نورو ګاونډیو ملکونو ته نه ته، هغه هند چې تکرارًا یې له طالبانو ځخه ویره ځرګندوله، له ډیر اصرار نه وروسته خلیل زاد هلته صرف یو ځل لاړو او بس نور هر ځل اول پاکستان ته ځي بیا افغانستان

ته راځي نو معلومیږي دا چې د سولې اصل مرجع څوک دی ؟ د پاکستان حکومت.

همدا علت دی چې د کابل ادارې ډیر کوشش وکړ چې د پاکستان له چارواکو سره خپلې اړیکې مثبتې کړي، وزیر اعظم ته یې بلنه ورکړه، هغه دلته راغی، ژمنې یې وکړې خو له تلو سره یې په دویمه ورځ په گوشته، کنړ او نورو سیمو باندې توغندي راوغورځول. لوی درستیز یې دلته راغی، هغه د کابل ادارې څخه خپل هدفونه پوره کړل او نور یې ځان غلی ونیوه.

لکه کابل مرتدې ادارې د آی.إس.آی مستنطقینو ته د افغانستان په زندانونو کې پاکستان ته له مطلوب بندیانو څخه د تحقیق اجازه ورکړه.

د طالبانو مذاکراتي ټیم قطر ته له کوم ځای څخه راغی ؟ کورونه یې چیرته دي؟

ټوله نقشه د پاکستان د استخباراتو ده، د هغه ځای نه هر کار څاري او خوشحاله وي چې ټول کار د پلان موافق روان دی.

۷. د طالبانو ټول مشران پاکستان کې ساتل کیږي.

۱. د طالبانو دویم زعیم اختر منصور، الله عزوجل په کویټه کې هلاک کړ او هماغه ځای کې خښ دی. هغه چوکۍ چې هغې لپاره یې کفر وکړ، خو آخر هم بې مراده تش لاس او په خاورو ډکه خوله قبر ته ورغې. نعوذ بالله. د نبي علیه السلام ناموس پسې بد رد ویونکو شیعه ګانو لخوا راروان وو او رب ته ورغی!!



۲. استاذ یاسر پاکستان حیات آباد پیښور کې کور وو، او هلته ونیول شو.

۳. برادر په کراچۍ پاکستان کې ونیول شو.




۴. ملا عبد الكبير يې پاكستان كې ونيول شو.

۵. جلال الدين حقاني په پاكستان كې مړ شو.

حقاني نیټ ورک بیا په طالبانو کې هم د آی.إس.آی خصوصي روزل شوي پوځیان دي، د دوی سهم او امتیازات د نورو طالبانو په پرتله زیات وي، ځکه چې حقاني د آی.إس.آی لپاره د شورویانو له دورې څخه نیولي

تر دې دمه ډېر په اخلاص کار کړی، همدا علت دی چې نن يې يو زوی د هبت الله مرستيال دی او بل يې په مذاکراتي ټيم کې دی.



د حقاني په مرگ دغه جنرال حميد گل د زيات خفگان اظهار وکړ، او ويې ويل چې نن اسلام له يو لوي جرنيل څخه محروم شو.

د حقاني په شمول د طالبانو هغه مشران چې د آی.إس.آی په قالب سل په سله برابر وو، هغوی يې يو هم زندان ته وانه چول، لکه اختر منصور، حقاني، هبت الله او داسې نور.

۵. حافظ احمد الله نوري د هبت الله ورور کويټه کې ووژل شو.



٦.د طالبانو د واک پر وخت، د دوی رسمي ویاند عبد الحي مطمئن په پیښور کې مړ شو او پیښور تاج آباد کې يې جنازه وه. دا اعلان طالبانو خپور کړ:



د افغانستان اسلامي امارت
د فرهنگي چارو کمیسیون
د ویاند دفتر

شمار: ۳۱۸ ۱۴۴۲/۶/۱۰هـ ق

د اسلامي امارت د پخواني ویاند مولوي عبدالحی مطمئن د وفات په اړه د تسلیت پیغام

په خواشینې سره مو خبر تر لاسه کړ چې د اسلامي امارت پخواني ویاند او د کندهار ولایت د اطلاعاتو او کلتور مخکنۍ رئیس مولوی عبدالحی مطمئن صاحب د ورپیښې اوږدې ناروغۍ له امله وفات شو. انا لله وانااليه راجعون

د نوموړي د وفات له امله، د هغه کورنۍ، خپلوانو او متعلقینو ته د زړه له کومې تسلیت وایو، مطمئن صاحب ته له الله تعالی څخه د مغفرت او جنت غوښتنه کوو او کورنۍ ته یې جمیل صبر او جزیل اجر غواړو.

الله تعالی دې د مرحوم ټول کړي خدمتونه، جهاد، هجرت او ستړیاوې په خپل دربار کې قبولې وګرځوي. والسلام

د افغانستان اسلامي امارت
۱۴۴۲/۶/۱۰هـ ق
۱۳۹۹/۱۰/۴هـ ق 23/1/2021م

۷. د طالبانو نور مشران لکه ملا احمد الله نانې، ملا سلیمان آغا، ملا صمد ثاني هم کویټه کې ونیول شول. تر اوسه د دوی د رهبرۍ کوم غړی په افغانستان کې ندی نیول شوی او نه هم چا لیدلی، نه یې اختر

منصور، نه يې برادر، نه هبت الله، نه يې يعقوب ملا، نه سراج الدين او نه بل. دا ټول پاکستان کې دي.

٨.لغمان والي مولوي عبد الصمد پشه يې وال په پېښور کې ووژل شو. د طالبانو واليان او قومندانان، اسلامي خلافت په کراتو په پاکستان کې په نښه کړي دي، چې دا لړۍ اوږده ده.

٩.مشهور وطن پرست، سيکولر او حلولي ترانه ويونکي درويش د مور او د ورور د فاتحې مراسم په همدې پېښور کې ترسره کيدل.

sungermedia سنګرمیډیا
5.4K subscribers

د فاتحې اعلان

ټولو محترمو مشايخې عظامو ، علماء کرامو ،
طلباء کرامو، مجاهدينو ، او عامو مسلمانانو
ورونو ته خبر ورکول کيږي چې .

دافغانستان اسلامي امارت د مشهور شخصيت
الحاج ملا فقير محمد درويش د محترمې
مرحومې والدې (مور بي بي) چې جنازه يې
څو ورځې مخکې خاورو ته سپارل شوي ده

د فاتحې مراسم يې سبا سې شنبه
د 2020 کال د ديسمبر په (29) تاريخ
د ماسپښين له يوې نيمې بجې (1:30) څخه
د ماز ديګر تر اذانه پورې.

دالحاج ملا فقير محمد درويش لخوا اخيستل
کيږي.

ادرس

بورډ تاج اباد دکوچيانو جامع مسجد سره نيږدې
13نمبر کوڅه يا ګلۍ د حاجي سعدالله عيسئ
خيل حجره.
نوټ: 👈 په کوم ځای کې چې د ده د شهيد
ورور زنداني صاحب فاتحه وه، همغه ځای دی .

د اړيکو لپاره د تيليفون

شمېره ـــ 03023204270

۱۰.د طالبانو اکثر کاري دفترونه پاکستان کې دي:



او دا يې قبر خوا کې د پاکستان بيرغ:



۱۱.د ملا محمد عمر د مړينې فاتحه خواني په پاکستان کويټه او نورو ښارونو کې اخستل کيده. حتی پنجاب کې پرې غايبانه جنازې وشوې.


عالی قدر
امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاہد کو خراج
عقیدت پیش کرتے ہیں
جمعیت نظریاتی
© Getty Images/AFP/B. Khan


Afghanpaper

او داسې نور ډیر ثبوتونه دي. چې پاکستان پوځ او طالبان دا د یو جسد دوه لاسونه دي.



۸. د طالبانو زعیم په کشرانو په زوره منل:

د موالات بل صورت دا دی چې د طالبانو زعیم ټاکلو کې د پاکستان استخباراتو پوره لاس وي، لکه اختر منصور او هبت الله، دا دواړه د

آی.إس.آی لخوا نه په زور په طالبانو تپل شوي او د کشرانو په نه زړه سره منلي، هبت الله سره هم د دغه تنظیم بعضې مشرانو اختلاف کاوه نو د هغوی د جملې څخه د اته مشرانو نومونه اخستل کیږي چې هغوی هبت الله سره په مشرۍ باندې اختلاف د وجې پاکستان استخباراتو اوچت کړي وو او خفیه محبسونو کې یې قید کړي وو. پدې کې أحمد الله نانې یې په کویټه کې ونیوه، چې دا د رهبرۍ شورى غړی او د جلب وجذب کمیسون رئیس وو، ملا سلیمان آغا چې د دایکندي مخکنې والي وو، د اقتصادي کمیسون مسؤول ملا صمد ثاني چې دا درې واړه د اختر منصور خاص کسان وو او بعضې نورو کسانو باندې یې هم چاپې اچولې وی خو هغوی پخپلو ځایونو کې نه وو موجود. دا بعضې طالبان بیا د بحث پر وخت په ډیر چل سره اوبه خړوي او دومره لوی لوی مایان پکې پټوي، او وایي چې نه دغه فلانی خو په دغه وخت په افغانستان کې وو!!

۹. د طالبانو تداوي ټوله په پاکستان کې کیږي:

پېښور، کراچۍ او نورو سیمو کې یې خاص شفاخانې دي، لکه د کراچۍ شفاخانه کې به تاسې برادر هم لیدلې وي. چې ولاړ دی او خپلو زخمي

جنگياليو ته ډاډ ورکوي. پيښور کې د سره صليب نصراني اداري شفاخانو کې هم زخميان يې تداوي کيږي.

۱۰. پاړه چنار او کرم ايجنسۍ کې طالبانو ته مرکزونه ورکړي دي:

آی.إس.آی ورته وزيرستان، ميرانشاه کې مرکزونه ورکړي وو او وس هم بعضې شته دي، قاضيان يې پاکستان کې دي. د پيښور او کويټه مدرسو کې د دوحې توافقنامې د کليزې په مناسبت غونډې، مشاعرې او په مدرسو کې جلسې دا ټول په پاکستان کې ترسره شول.

۱۱. جنرل حميد گل ته خپل لاس وايي:

تاسې فکر وکړئ، د طالبانو زعيم اختر منصور په خپلو څرگندونو کې ملا عمر او د آی.إس.آی سابقه رئيس جنرال حميد گل يو شان گڼې نو دا څوک شو ؟ وايي يو لاس د امارت ملا عمر او بل لاس يې جنرال حميد گل وو، وايي د ملا عمر د مرگ پښان پرې خفه يو.

۱۲. د خلافت خلاف جنگ کې ورسره پاکستان حکومت پوره مرسته کوله:

سپين غر باندې طالبانو ته يې سنگرونه ورکړي وو. يو خوا ته به د پاکستان حکومت پوسته وه بل خوا به طالب سنگر نيولې وو. له دې سره

سره پاکستان پوځ به د خلافت په مختلفو ساحو توغندي راویشتل، لکه تختو، سلو خلو، باغ دره وغیره، په نازیانو کې به یې د ټانکونو ګزارونه هم کول، هر رقم کوشش یې کاوه، خو د خلافت تعارضونه یې ناکامول.

۱۳. د طالبانو معسکرات په پاکستان کې فعال دي:

دا ویډیو ګانې تاسې ګورئ چې په سلګونو کسان نظامي لباس کې تربیتونه کوي. خو دا خو د پاکستان ساحه ده، نه ډرون شته، نه ویره شته، بې غمه زړه باندې لګیا وي. سره له دې چې اسلامي خلافت معسکرات امریکا په هر صورت ویشتل، حتی خراسان کې د معسکر په نوم یې د اچین مربوط ځپرې کې سیپارو ته ناست ۴۰ ماشومان ټوټه ټوټه کړل، په پېښبه کې یې جماتونه بمبار کړل. خو طالبان بیا د پاکستان په ساحو کې په آزاد زړه تربیتونه کوي. حقاني نیټ ورک ته پاکستان وزیرستان، میرانشاه کې مرکزونه ورکړي وو چې په زرګونو کوټې پکې وې، دلته د حقاني کسان بې له کومې ویرې اوسیدل او اوس هم ترې ټول پاکستان ډک دی.



دا څوک دي ؟ خو آی.إس.آی ده کنه، مخونه يې پټ کړيدي، د هيرا منډۍ د ساتلو په موخه د اسلامي شعارونو څخه سوء استفاده کوي، او د اسلامي خلافت مجاهدينو په خلاف جنګيږي.

۱۴.طالبان د پاکستان حکومت ته په رسمي ډول کافر نه وايي:

طالبان د پاکستان غليظ مرتد دولت ته مرتد نه وايي، نه يې تر اوسه کوم رسمي کتاب پرې وليکه او نه يې هم کومه رسمي ويډيو خپره کړه.

نو د طالبانو خټه د پاکستان ده. اوس هم بعضې متجاهله طالبان د پاکستان د غلامۍ څخه انکار کوي، آيا دا انکار به ورته څه فائده ورکړي؟

اوس له پاکستان سره د دغه شان تولي او موالاتو حکم د الله په کتاب کې واورئ:

لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللَّهِ فِي شَيْءٍ إِلَّا أَنْ تَتَّقُوا مِنْهُمْ تُقَاةً وَيُحَذِّرُكُمُ اللَّهُ نَفْسَهُ وَإِلَى

اللَّهِ الْمَصِيرُ. [سُورَةُ آل عِمرَان : 28]

ژباړه: مؤمنان دی هیڅکله داسې نه کوي چې مؤمنان پرېږدي او له کافرانو سره ملګرتیا او دوستي وکړي. څوك چې داسې چلند وکړي، د هغه له الله سره هیڅ اړیکه نه شته. خو که تاسې د هغوی (کافرانو) له ظلم څخه د ځان ژغورلو په خاطر، په ظاهره دغه ډول چلند غوره کړئ، نو (بیا څه باک نه شته). خو الله تاسې له خپله ځانه ویروي او د هماغه (الله) لوری ته ستاسې ورګرځېدل دي.

سره د دې چې طالبان مکره هم نه دي، چې د اظهار الکفر په صورت کې تقیه وکړي.

وَدُّوا لَوْ تَكْفُرُونَ كَما كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سَواءً فَلا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ أَوْلِياءَ حَتَّى يُهاجِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ وَلا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلا نَصِيراً. [سُورَةُ النِّسَاء : 89]

ژباړه: هغوی خو دا غواړي لکه چې څنګه په خپله کافران دي، هماغسې تاسې هم کافران شئ؛ تر څو تاسې او هغوی ټول سره برابر شئ. له دې امله له هغو څخه هیڅوك خپل دوستان مه نیسئ، تر څو چې هغوی د الله په لار کښې هجرت ونه کړي، او که هغوی له هجرت څخه منعه

راوړي؛ نو چیري یې چې وومومئ ویې نیسئ او ویې وژنئ؛ او له هغوی څخه هیڅوک خپل دوست او مرستندوی مه ګرځوئ.

مختصره دا چې دا رقم غلامي او دوستي صریح کفر دی او طالبان د دې له امله له اسلام څخه خارج شوي دي.

تنبیه: مونږ چې بار بار د پاکستان لفظ استعمالوو، زمونږ هدف پاکستاني قوم ندی، بلکې مونږ د پاکستان حکومت، پوځ او استخبارات یادوو.

نور دې کفري سایکس پیکو کرښو او پولو ته خو مونږ اعتبار نه ورکو، دا خو بیا د قومیت طاغوت شو، نه، بلکې مسلمان چې هر چیرته دی، هغه مسلمان دی او زمونږ ورور دی، خو کافر او مرتد هم چې هر څوک وي نو زمونږ دښمن دی، که هغه د کابل مرتده اداره ده او که پاکستان مرتد حکومت دی، که طالبان دي او که داسې نور دي.

او دا خبره هم نړۍ ته څرګنده ده، چې د اسلامي خلافت دروازې هر مسلمان ته خلاصې دي، مونږ سره د نن سباني پاکستان خاورې زیات شمیر موحدین شته، الحمد لله، او مونږ د مهاجرینو په شتون فخر کوو.

په اسلامي خلافت د پاکستان د حمایت د تور حیثیت:

عجيبه دا ده چې د طالبانو له لورې دا تور په اسلامي خلافت باندې پورې کيږي چې دوی د پاکستان خلک دي! بیا ترې خپله خبره هيره شي نو کله وايي د افغان حکومت خلک دي!

سره له دې چې هر عاقل پدې پوهه دی چې اسلامي خلافت د پاکستان سرسخته دښمن دی.

آیا زمونږ مشران پاکستان کې چا لیدلي ؟ آیا مونږ پاکستان کې مرکزونه لرو؟ آیا زمونږ زخمیان چا په پاکستان کې لیدلي ؟ آیا د اسلامي خلافت په نوم ځوک پاکستان کې دعوت کولې شي ؟ آیا اسلامي خلافت نوم ځوک پاکستان کې اخستلې شي ؟ دغه معترضین دې پاکستان کې فقط اسلامي دولت ته برملا ځان منسوب کړي، بیا ورته خپله معلومات کیږي.

آیا مونږ جنرال حمید گل خپل د تن لاس بللی ؟ آیا زمونږ په تایید پاکستان په طالبانو حمله کړې ؟ آیا سپین غر په سر باندې د طالبانو خلاف پاکستان سره زمونږ سنگرونه وو ؟ آیا په پاړه چنار او کرم ایجنسی کې مونږ پټن ځایونه لرو ؟ آیا زمونږ معسکرات په مانسهره، ایبټ آباد او وزیرستان کې شته ؟

آیا پاکستان کې زمونږ له خونړیو بریدونو څخه هم تاسې ونه شرمیدئ ؟

د کراچۍ د اسماعیلیانو وژنه مو هیره شوه ؟ چې د پاکستاني چارواکو قول مطابق ۴۷ مردار او ۱۳ زخمیان پکې و ؟



د کویټې سل تنه وکیلانو باندې مبارک استشهادي عملیات مو له یاده ووتل؟



چې نن يې هم د پاکستان حکومت د شهداءو په نوم يادوي، او پدغه ورځ خفګان کوي.



دې نږدې وخت کې د لس شيعه ګانو ذبح کولو ته نه ګورئ، چې هزاره ګانو بيا څلور ورځې لاريون وکړ او بيا د حکومت په ژمنو وګرځيدل، حتی د پاکستان صدر اعظم هم ورته راغی.



دا خو طالبانو هم ومنله.

سنګرمیډیاsungermedia
5.4K subscribers

الأحد 19 جمادى الأولى 1442 هـ
عالى، تمكن جنود الخلافة من استهدف آلية مسؤول
لقة (شيرزاد)، بتفجير عبوة ناسفة، في الناحية السابع
أدى لتدميرها، ولله الحمد.

#تازه
داعش ډلې په بلوچستان کې د یوولسو کان
کېندونکو د وژلو مسوولیت منلی دی. د راپورونو
له مخې داعش ډلې منلې چې په بلوچستان کې
یې ۱۱ شعیه کان کېندونکي په ډزو وژلي دي. دغه
پېښه د یکشنبې په شپه د بلوچستان په جنوبي
ښار مچ کې رامنځ ته شوې ده.

#تازه
گروه داعش مسئولیت قتل یازده کارگر شیعه را
به عهده گرفت
گروه داعش مسئولیت قتل یازده کارگر شیعه
هزاره در ایالت بلوچستان در غرب پاکستان را به
عهده گرفته است.
نیروهای گروه داعش این کارگران را در روز شنبه
در کنار معدن زغال سنگ ربوده بودند.
عزیــزالله عزیــراشنــا, PM 1:01 796

نور غربیانان پدې نه پوهيږي چې د اسلامي خلافت کوم خبر يې راخيستې خو فقط د اعماق يو خبر يې رانقل کړي او لاندې يې ورته دا خبره ليکلې.

ننګرهار کې د پاکستان په کونسلګرۍ باندې زمونږ استشهادي برید.

د لعل شهباز قلندر شرکي او فحاشۍ اډې باندې خونړی برید.

د پیښور مجاهدینو ډیر پوځیان مرادرول. داسې ملګري پکې وو، چې په خپل لاس يې د هدفي بريدونو په لړ کې ۸۰ څخه زيات پوځيان او پوليس مردار کړي وو، چې د شهادت څخه وروسته پرې حکومت تبصرې خپرې کړې.

او دا بحث هم زيات وخت غواړي، خو د څرګندوالي له امله ورسره مخه ښه کوو.

طالبان د پاکستان سره تولي او موالات پټولو لپاره له يو دليل څخه کمزوری استدلال کوي:

طالبان وايي مونږ پاکستان ته هجرت کړی، دا داسې ده لکه چې نبي عليه السلام په امر صحابه وو حبشې ته هجرت کړې وو، نو بس دغه دليل د امله مونږ ته دا هر څه روا ګرځي.

مونږ ورته وایو:

یو هجرت دی او بل دوستي او غلامي ده، طالبان له پاکستان سره د غلام او بادار تعلق لري. د صحابه وو هجرت او د طالبانو موالات کې د مشرق او مغرب هومره فرق دی نو دا قیاس مع الفوارق دی. هغه داسې:

١. آیا حبشه کې مسلمانانو ته په پوره دین عمل کولو اجازت نه وو، د هغوی د نصرانیت خلاف څرګندونې جعفر رضي الله عنه ونه کړی ؟


طالبان پاکستان کې د پاکستان وضعي قانون خلاف کولی شي، د ډیموکراسۍ رد بیانولی شي ؟

٢. آیا د حبشې پاچا نجاشي مسلمانانو پر خلاف د قریشو کومک کړی وو ؟

پاکستان خو ستاسې په خلاف امریکا ته پوځي اډې ورکړی. ٧٥٠٠٠ بمبارونه یې د پاکستان د اډو څخه په افغان اولس باندې وکړل.

٣. آیا د حبشې پاچا کوم مسلمان شهید کړې وو ؟

پاکستان خو تاسې کې سم خلک ټول ووژل لکه ملا محمد عمر، استاذ یاسر متعلق هم داسې ښکاري، همدغه رنګه شیخ اسامه پشان انسان یې په امریکایانو باندې شهید کړ.



او د لال مسجد او جامعه حفصې په شمول د زرگونو مجاهدينو شهادتونه له چا پټ ندي.

۴. آيا حبشي پاچا د کومې مسلمانې ښځې بې عزتي کړې وه ؟

پاکستان خو د عرب، اوزبک او نورو مهاجرو زنانه وو عزتونه لوټ کړل.

۵. آيا د حبشي پاچا د مسلمانانو کوم يو نارينه غړی قريشو ته حواله کړې و؟

پاکستان د نورو ډيرو عربو او عجمو مجاهدينو په شمول ستاسې سفير ملا ضعيف بربنډ امريکايانو ته حواله کړ.

٦. آيا د حبشي پاچا کومه مسلمانه زنانه قريشو ته حواله کړې وه ؟

پاکستان خو د عافيه صديقي او د جامعه حفصه طالباتو په شمول سلگونو عجمې او عربانې خويندې امريکايانو ته حواله کړی.

۷. آيا د حبشي پاچا د مسلمانانو کومې اسلامي شعيرې بې عزتي کړې وه ؟

پاکستان خو د لال مسجد، باجوړ مدرسې په شمول په قبائلو کې لسګونو جماتونه او مدرسې ورانې کړې.

آيا نجاشي د لال مسجد په څير مساجد ړنګ کړي وو ؟







د باجوړ مدرسې شهيدان:





٨. آيا نجاشي مسلمانانو کې عقیدوي انحراف راوستی وو ؟

د پاکستان د اوسیدو له برکته خو نن طالبان د ډیموکراسۍ په دروازو وردننه شول.

٩. آیا د مسلمانانو مرکزي قیادت هم هلته منتقل شوی وو ؟

نه،بلکې نبي علیه السلام په مکه کې پاتې وو، ستاسې خو د هبت الله نه تر کشره پورې ټول پاکستان کې اوسیږئ.

١٠. آیا حبشه کې مسلمانان دائمي پاتې شول ؟

نه هغوی بیرته د مدینې تمکین ته راوګرځیدل او طالبان په افغانستان کې پنځوس سلنه، شپیته سلنه تمکین دعوه کوي خو مشران یې دلته نه راځي. دا ولې ؟

١١. آیا د مکې مسلمانانو د هجرت پرمهال په هغوی جهاد فرض وو ؟

نه بالکل نه وو، ځکه یې هلته پناه اخستې وه.

١٢. آیا د حبشې د مهاجرینو تعداد د نني طالبانو تعداد برابر وو ؟

نه، بلکې مسلمانان ډیر کم وو. نن خو طالبان ځانونه له پنځوس زرو څخه زیات بولي.

۱۳. آیا د حبشۍ مشرانو د مسلمانانو قومندانانو د عقیدوي انحراف په موخه هغوی ته درې درې ښځې کړې وې، موټرې او بنګلې یې ورته ورکړې وې؟

۱۴. هلته یې د خپل وطن حبشۍ په نفع، د کفري استاذانو په نګرانۍ کې معسکرات فعال کړي وو او غونډې یې کولې ؟



۱۳. آیا صحابه وو د حبشۍ د دفاع هوډ کړې وو، لکه څنګه چې طالبانو وویل: که امریکا یا هند پر پاکستان برید وکړ، د افغانستان په څیر یې دفاع کوي:



امریکا ہو یا بھارت اپنے دارالہجرت پاکستان کا دفاع افغانستان کی طرح کرینگے افغان طالبان کا اعلان

پاکستانی قوم سیاسی و مذہبی اختلافات بھلا کر امریکا کو منہ توڑ جواب دے: مولانا سمیع الحق کے نام پیغام، جے یو آئی امیر کا خیر مقدم

پوښتنه دا ده چې دغه مړو ته بيا كوم نوم وركوي ؟

دغه رنګ د حبشې پاچا خو مسلمان شو، خو آيا د پاكستان پاچاهان مسلمانان دي ؟ نه هيڅكله هم نه.

د دې سره سره امريكا د طالبانو پر خلاف ټول اكمال د پاكستان په لارې كيده او ټول جنګ د پاكستان له طريقه وكړ. دا هماغه پاكستان دی چې مشران يې ورله ووژل، مسلمانې زنانه يې كفارو ته حواله كړې، مسلمانان يې په كافرو خرڅ كړل او نور په لسګونو نواقض زمونږ د لجنې كتاب (الأدلة الجلية على كفر الدولة الباكستانية) كې كتلی شئ نو د مسلمان معاهده هم پر دې ماتيږي، جنګ ته تياريږي خو والله اعلم طالبان د پاكستان لمن هيڅكله نه پريږدي، ځكه هغه ورله په قيادت، اقتصاد، جلب وجذب او مركزي نقطو قبضه كړې ده،اوس طالبان هيڅ نشي كولی.

هجرت يو مبارک حكم دی او د دار الاسلام د نشتوالي پرمهال دار الكفر ته هم روا دی، خو پخپلو شرطونو او د موقت وخت لپاره، ځكه خو نبي عليه السلام خپل صحابه د حبشې نه راوغوښتل، سره له دې چې د حبشې پاچا هم مسلمان وو.

چې تمکين لاس ته راشي او بيا هم دغه هجرت نه ختميږي، د مشر نه تر کشره پورې ټول، د ژوند سهولياتو څخه خوندونه اخلي نو دا خو هجرت ندی. ته خپله پدې اقرار کوې چې د پاکستان مشران منافقان دي، مرتد خو ورته هسې هم نشې ويلای او بل طرف واياست چې افغانستان کې مو ٦٠ سلنه خاوره په لاس کې ده، نو دغه منافقانو د واک څخه تاسې ولې دې ٦٠ سلنې واک ساحې ته نه راځئ ؟

تاسې نه خو دې جزئي مسئله کې د کابل اداري مرتد او غلام جمهور رئيس هم ښه دی چې خپله ۴۰ سلنه پاچاهۍ کې خو ناست دی.

نو مختصر دا چې د طالبانو ارتداد لوی علت، د پاکستان غلامي او کفري انډيوالي ده.

د طالبانو اتلسم ناقض : د الله د دين څخه مخ اړول، نه يې زده کول او نه پرې عمل کول.

د طالبانو د گمراهۍ يو لوی لامل دا دی چې په دين پوهه نه لري او نه يې هم زده کوي، نو همدا علت دی چې څوک يې کوم خوا کش کوي نو دوی ورپسې ورځي؛ کوم مشر چې يې راشي نو کشران يې ټول د هغه په مذهب وي.

د دين څخه د اعراض او جهالت ډيرې بيلګې دي، بعضې دا دي:

١. د طالبانو يو ملا چې شپه او ورځ لګيا دی، له پاکستان څخه لايف پروګرامونه او سوالات جوابات کوي، عجيبه خبره خو دا ده زمونږ چينلونه چې مازيګر جوړ شي بيا ماښام نه وي او د طالبانو دغه لايف پروګرامونو کې ۱۲۰۰۰ کسان وي، خو هيڅ چينل يې نه بلاک کيږي، هيڅ خطر ورته نه پېښيږي، نو ځکه يې اواز عامو خلکو ته رسي، خو زمونږ د چينلونو جاسوسي کفارو ته همدا طالبان کوي چې د بلاک په نوم يې يو چينل جوړ کړی ، خپل کسان يې پکې راټول کړي او د خلافت د مجاهدينو چينلونو ادرس پکې نشروي او بياټولو ته وايي چې اوس پرې ريپوټونه وکړئ او د ټيلګرام شرکت د خلافت په خلاف خپل خاص ريپوټ نشر کړی چې خلک دې دا ريپوټ د ټيلګرام ادارې ته لېږي نو هغه به يې چينل ډيلټ کوي. دا کار يې يوازې د خلافت په خلاف کړی او طالبان ورته جاسوسي کوي. طالبان زمونږ د چينل په اړه هماغه خاص ريپوټ د ټيلګرام ادارې ته لېږي او هغوی بيا زمونږ چينلونه له منځه وړي. په دې شکل زمونږ نشريات دې کفارو محدود کړي نو عام خلک زمونږ د دعوت په حقيقت ندي پوهه، اګر که پدې لږو امکاناتو کې هم رب برکت اچوي او وخت په وخت خلک الله عزوجل په حقيقت باندې پوهوي خو بيا هم خپل آواز ولسونو ته رسول دا ډير اړين دي او بايد هر مجاهد دا خپله

وظيفه وگرځوي چې خپل منهج عوامو ته ورسوي. نو دغه ملا سره يو كس بحث كوي، په لاس كې يې د كابل ادارې بيرغ دى، نو ملا ته وايي:

د افغانستان پدې بيرغ كې څه مشكل دى ؟

هغه ورته وايي: هيڅ مشكل نشته.

اخوا ورسره د آى.إس.آى يو جنرال ناست دى، هغه ورته وايي زمونږ بيرغ كې څه مشكل دى ؟

الله اكبر ! چې مشكل نشته نو بيا ورسره ولې جنګيږې؟؟

دا يې ملايان دي نو د عوامو به يې څه حال وي؟؟

كه خبره صرف د كلمې الفاظ ليكلو پورې محدود وي نو بيا ولی د كابل اداري سره مو دومره جنګ وكړ؟

بيا خو د شيعه ګانو په ټانكونو هم كلمه ليكل شوې وي.

د پاكستان په ګاډو هم، په پوستو هم آيتونه ليكلي وي.

د سعودي په بيرغ هم كلمه ليكل شوې ده.

شيخ الاسلام وايي:

«إذا رأيتموني من ذلك الجانب- أي في جانب التتار- وعلى رأسي مصحف فاقتلوني». [شرح العقيدة الأصفهانية]

ژباړه: کله چې تاسې زه د تاتاريانو په طرف وليدم، پداسې حال کې چې زما په سر باندې قرآن کريم وي نو هم ما ووژنئ.

چې شيخ الاسلام په سر قرآن کريم وي او د مرتدينو په صف کې ولاړ وي، هغه کې مشکل شته نو څنګه نن په هغه بيرغ کې مشکل نشته چې د ډيموکراسۍ د عقيدې، د وطنيت، د يهودو اونصاراو د غلامۍ، خپل عزتونه خرڅولو او د نورو ناوړه عقائدو او اعمالو ترجماني کوي او د دوکې لپاره يې زمونږ مقدسه کلمه هم پرې ليکلي وي !؟

طالبان او د دوی مشران خو دغه د کفر شعايرو ته په احترام قايل دي او مونږ يې سوځوو، الحمد لله.



۲.د اعراض او جهل بل مثال دا دی چې د یهودو او نصاراو لخوا جوړ شوی سیکولر نظام 4000 روزنتونونه د مکتبونو په نوم منظور کړل.

سنگرمیدیا sungermedia
5.2K subscribers

لوړو تعليماتو ترڅنګ به د پښتو، دري، عربي او
انګليسي ژبو، کمپيوټر او اداري څلور مياشتني
کورسونه هم پکې تدريسيږي.

له دې ابتکاراتو سره په خوا کې، په ۲۰۲۰ز کال
کې د هېواد د تعليم وتربيې د وضعيت د سمون
او پرمختګ په مقصد له مختلفو مؤسسو او
خيريه ادارو سره د سياسي کمېسيون په مرسته
تفاهمات او ناستې وشوې. د دې ناستو په
نتيجه کې د تعليم او تربيې او عالي تحصيلاتو
کمېسيون او يونيسيف مؤسسې ترمنځ د
هېواد په مفتوحه سيمه کې د څلور زره (۴۰۰۰)
ښوونځيو فعالولو توافق وشو.

د افغانستان د اسلامي امارت د تعليم وتربيې
او عالي تحصيلاتو کمېسيون هدف د هېواد هر
کس د علم په ګاڼه سمبالول دي. همدې هدف
ته د رسېدو لپاره په ملي او بين المللي سطحه
خپلې هڅې جاري ساتي، تر څېله وسه کوښښ
کوي چې د هېوادوالو د تعليمي کچې د لوړولو
لپاره په ليرې پرتو سيمو کې نوي معياري ديني
او عصري ښوونځي فعال کړي. د اسلامي امارت
د نورو ارګانونو په څېر د تعليم وتربيې او عالي
تحصيلاتو کمېسيون خپل مرام ته ژمن دی او
خپل سپېڅلي هدف ته د رسېدو لپاره به له هيڅ
کوښښه هم دريغ ونکړي.

مجاهد, PM 11:00 904

اوس طالبان دومره نه پوهيږي چې د جهاد مقصد او غايه دا ده چې دغه د کفر مرکزونه ختم شي، زمونږ نوی نسل يې ټول بې دينه، وطن پرست، ډيموکراټ او بې لارې کړ، ډيموکراسي ورته اسلام ورپېژني، جهاد ورته ترهګري معرفي کوي، سوله، د ښځو حقوق، انتخابات، مقننه جرګې، ملګري ملتونه، قوم او وطن د دوستۍ او دښمنۍ معيار ګرځول او نور د بې شميره کفرياتو زهر زمونږ د اسلامي امت بچيانو ته ورپيچکاري کوي. حتی د دې امت هغه عفت مندې بچيانې يې هم پدغه حيلو بهانو نن په پارلمان، ژورناليزم، طبابت او نورو د کفر خدمتونو او د فحشاء مرکزونو باندې وګمارلې.

دا خو هغه شيان دي چې دا کفار مجاهدينو ته زارۍ کوي چې زما کلينک او مکتب پرېږده، تا باندې بمبار نه کوم، تا باندې عمليات نه کوم! دا خبره مونږ ته څه څرګندوي ؟

او مونږ دا خبره تکراراً کړې چې يو کسبي تعليم دی، د طبابت، د نورو کسبونو، د دې په اړه خو شريعت جواز ورکړی، خو چې داسې د کسب تعليم وي، چې دغه مذکوره کفري مادو نه پاک وي، خو سيکولر تعليم که په هره جامه او نامه وي، دا شرعا حرام دی او مونږ يې په هره ممکنه لاره مخنيوی کوو، ان شاء الله.

۳.له دين څخه د اعراض او جهل بله بيلګه دا ده اوس هم د طالبانو ادرسونو څخه د شيخ عبد القادر جيلاني رحمه الله په اړه شرکي نظمونه خپريږي، لکه د اول ناقض په ضمن کې هم ورته اشاره وشوه.

غوث الأعظم دستګير .... نعوذ بالله د رب څخه يې هم ورته لويه مرتبه ورکړه ځکه دا خو اسم التفضيل دی، الأعظم من کل شيئ.

۴.همدا علت دی چې د دوی په صفونو کې مختلف قسمه مشرکان لکه سيفيان، قبوريان، شيعه ګان او صوفيان ښه په ګڼ شمير موجود دي او دوی د غير الله نه کومک غواړي، د نبي عليه السلام په اړه غلطې عقيدې لري، حتی تر دې چې دا ټول د حلول، وحدت الوجود او وحدت الشهود عقيدې لري.

او نورې ګمراه ډلې چې اسماء صفاتو کې يا نورې غلطې عقيدې لري لکه جهميه او ماتريديه، قدريه، مرجئه دا خو هم ښه ډير دي.

۵.طالبان د کلمې اجمالي علم څخه اعراض کوي. هغه فرض علم چې رب فرمايي: فاعلم أنه لا اله الا الله.

او د کلمې دغه اجمالي علم چې کفر بالطاغوت پکې شامل دی، دا چا سره نه وي نو هغه خو مسلمان ندی.

ځکه اصول الدين کې خو جهل ندی معتبر، او دا دوه کسان کيدای شي: اول هغه کس چې د کلمې په معنا پوهيږي، او د دې خلاف کار به کوي نو دا خو مرتد دی، بل هغه کس دی، چې نوی اسلام يې راوړی او د کلمې په معنا لا ندی پوهه نو هغه خو دين ته ندی داخل شوی.

تنبيه: دلته به دا وضاحت وکړو چې پدې ټولې عقيدې نطق لازمي ندی، لکه سپين ږيري يا زنانه چې دغه ترتيب سره عقيده نشي بيانولی، نور پدې پوهه دي، کفر او اسلام پيژني هغه مونږ نه يادوو. هغوی کفر او اسلام پيژني، هغوی دلته دا انقلابونه ليدلي، هوښياران شوي دي، هغوی امريکا په کفر خبر دي، د امريکايانو مرتدو غلامانو په کفر داسې خبر دي لکه څنګه چې پرون د روس د ګوډاګيانو، مرتدو خلقيانو په کفر خبر وو او داسې کلکه جګړه يې ورسره وکړه چې آخر يې هم روس د الله په فضل ورمات کړ.

هغوی په روس، برطانيه او امريکا کې فرق نه کوي او نه هم د دغه کفارو ملاتړي مرتدو رژيمونو کې فرق کوي ؟

٦.د اعراض يوه لويه بيلګه دا ده چې خلافت ورته بار بار دا تنبيه ورکړه چې ستاسې دا فعاليتونه او کړنې د اسلام مخالفې دي او په ارتداد کې واقع ياست خو هيڅ نه فکر کوي، نه پرې عمل کوي. په هر قدم مو ورته

لاربسودنه کړې، د قطر دفتر په اړه ورته اسلامي دولت علماؤ مخلصانه ویناوې کړي، د آی.إس.آی غلامی، د بین الملل قوانینو منل، طائفه ممتنعه گرځیدل، د مرتدو ملکونو سره دوستي او موالات کول، د شریعت تغییرول او بدلول، پدې هر ناقض ورته زمونږ علماء کرامو، مشائخو او قائدینو بار بار تنبیهات ورکړي، خو طالبان پرې هیڅ غوږ نه گروي او نه هم د دوی مخلصانه ویناوې اوري. نو د داسې خلکو په اړه الله عزوجل فرمايي:

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَا إِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِينَ مُنْتَقِمُونَ. سورة السجدة 22.

او څوک دی لوی ظالم له هغه چا نه چې نصیحت ورکړی شو، په آیاتونو د رب خپل، بیا یې له هغې نه مخ وگرځاوه، یقینا مونږ له مجرمانو څخه بدله اخستونکي یو.

امام طبري وايي:

يقول تعالى ذكره: وأيّ الناس أظلم لنفسه ممن وعظه الله بحججه، وآي كتابه، ورسله، ثم أعرض عن ذلك كله، فلم يتعظ بمواعظه، ولكنه استكبر عنها. تفسير الطبري.

الله تعالی فرمايي، خلکو کې به تر هغه چا خپل ځان سره لوي ظالم ځوک وي چې الله تعالی ورته په دلائلو، د خپل کتاب په آيتونو او په رسولانو نصيحت وکړي او بيا د دې ټولو څخه مخ واړوي، د الله تعالی د وعظونو څخه عبرت نه اخلي؛ مگر ځان يې له هغې څخه لوي وگاڼه.

قال تعالى: وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ ذُكِّرَ بِآيَاتِ رَبِّهِ فَأَعْرَضَ عَنْهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ. [سورة الكهف: 57]

ژباړه: او څوک دی لوي ظالم له هغه چا نه چې هغه ته د رب آياتونه ورياد کړی شي، نو مخ ترې واړوي او هېر يې کړي ،هغه څه چې مخکې ليږلي دي، لاسونو د هغه.

وقال سبحانه: وَالَّذِينَ كَفَرُوا عَمَّا أُنْذِرُوا مُعْرِضُونَ. [سورة الأحقاف: ٣]

ژباړه: او کافران خلک، له هغه څه نه چې دوی پرې ويرولی شي، مخ اړونکي دي.

وَإِذا تُتْلى عَلَيْهِ آياتُنا وَلَّى مُسْتَكْبِراً كَأَنْ لَمْ يَسْمَعْها كَأَنَّ فِي أُذُنَيْهِ وَقْراً فَبَشِّرْهُ بِعَذابٍ أَلِيمٍ. [سورة لقمان:7]

ژباړه: او کله چې ولوستلی شي په هغه باندې زمونږ آیتونه، شا راوګرځوي او ځان لوی ګڼونکی وي، ګویا که هغه هیڅ ندي اوریدلي، ګویا که هغه په غوږونو کې دروندوالی دی، نو د درد ناک عذاب زیری ورته ورکړه.

أَبَىٰ وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ. [سورة البقرة:34]

ژباړه: انکار يې وکړ او ځان يې لوي وګاڼه او هغه له کافرانو څخه وو.

نو له دين څخه داسې اعراض کول، دا هم د طالبانو بل ناقض دی.

د طالبانو نولسم ناقض: افغان حکومت ته مرتد نه وايي:

طالبانو د ګڼ شمير نواقضو له جملې څخه يو بل ناقض دا دی چې د افغان مرتد حکومت ته مرتد نه وايي، عمده علت يې دا دی که دغه نواقض په ډاګه کړي نو ټول په طالبانو کې موجود دي، لهذا طالب مشران خپل کشران د مرتد د احکامو څخه ناخبره ساتي، يا همدغه رنګه د طالب کشرانو بيا پاکستان حکومت ته فکر کيږي چې دا ټولې خبرې خو په آي أيس آي کې هم په اعلی درجه شتون لري نو له دې وجې نه طالبان د کابل اداري عسکرو او ټولو چارواکو ته مرتد او کافر نه وايي. څو بيلګې:

١. د طالبانو د جلب وجذب يو مسؤول چې نيټونو کې غرېږي، او د کابل اداري عسکرو ته دعوتونه ورکوي. نو د يوې پوستې عسکرو ته وايي: ته زما ورور يې، تا سره هيڅ مشکل نه لرم. او بار بار ورته وايي سرتيريه وروره.

د افغانستان د پارلمان وکيل ورسره غرېږي، هغه ته هم وايي چې ته زما ورور يې. تا سره هيڅ مشکل نه لرم.

دغه رنګ د دوی ټولو پاڼو کې دا الفاظ کارول کيږي:



د دعوت دا اصول ندي، دې ته حکمت نه وايي، موسی او هارون علیهما السلام ته الله عزوجل د نرمۍ وينا امر کوي خو ورته وايي چې هلته به توحيد بيانوئ، نو په نرمو ټکو دا خبره دې عسکر ته وکړه چې ګوره ډيموکراسي کفر ده او ته د هغه ساتونکی يې، لهذا دغه کار نه توبه اوباسه. بيا زمونږ وروڼه ياست، الله رب العالمين سورت توبه کې توبه شرط لګولی، {فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ} [التوبة: 5] چې توبه يې اوويستله او مونځ يې قائم کړ، زکات يې ورکړ نو لار يې پريږدئ.

ياني که دغه نيک اعمال له توبې نه وروسته شروع کړي نو لار يې پريږدئ.

بل ځاي کې هم وايي: (فَإِنْ تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ) [التوبة: ١١]

کچيرې توبه يې اوويستله او مونځ يې قائم کړ او زکات يې ورکړ، نو دا ستاسې په دين کې وروڼه دي.

حاصل دا چې د توبې نه مخکې ورور ندی.

۲. د ساتنکزي خبرې:

ماسکو کې په ۱۸ مارچ ۲۰۲۱ م کال باندې د نړۍ په مخکې ستانکزي دا وویل: **مونږ ټول سره ورونه یو، د میز په سر کینو او خپل مشر او کشر په خپله ټاکو.**



نو چې بیرغ سره یې مشکل نه لرې، عسکر سره یې مشکل نه لرې، او دا ستا ورور وي، د پارلمان وکیل ستا ورور وي نو بیا ورسره جنګیږې ولې ؟؟

۳. طالبان د کابل اداري مرتد عسکر مزدوران او اجیران بولي:

مرتد او کافر ورته نه وايي.



د طالبانو دعوې داسې ضد او نقيض او مبهمې دي، چې انسان ورته حيران شي، دا وګورئ خپله يې همدغه عسکرو کفر هم ثابت کړی او بيا هم ورته اجير وايي. بت پرستي، د اشغالګرو غلامي يې ورله ثابته کړې، د مسلمان په کور چاپه وهلو کې د امريکايي ښخه مخکې تلل يې ورله ثابت کړي، چې دا ټول نواقض د اسلام دي خو د آی.إس.آی لخوا د ارتداد فتوی ورکولو اجازه نه لري. عجيب دريځ دی د طالبانو !!



نو د مزدور او اجير وژلو څخه خو منع راغلي، علماؤ دا وضاحتونه کړيدي چې بل کوم علت نه وي نو د مزدور وژل ناجائز دي، او چې دغه مزدور جګړې ته راووتلو بيا به وژل کيږی، ځکه هغه بيا مرتد شميرل کيږي.

دليل :

عن رِياحِ بن ربيع، قال: كُنا مع رسولِ الله -صلَّى الله عليه وسلم- في غزوةٍ ... فقال: قل لخالد لا يقتُلَنَّ امرأةً ولا عَسِيفاً" أخرجه أبو داود وأحمد.

رياح بن ربيع رضي الله عنه وايي مونږ په يو جنګ کې د نبي عليه السلام سره وو، هغه وفرمايل: خالد ته ووايه ښځه او اجير ونه وژني.

د عسيف لفظ راغلې په حديث کې، په مصداق کې اختلاف شته، خو ظاهره دا ده چې اجير او مزدور ته وايي، نو علماء د دې معنا ذکر کوي :

العسيف هو الأجير. وكان المراد الأجير على حفظ الدواب ونحوه لا الأجير على القتال.

عسيف هغه اجير ته وايي چې هغه څاروي ساتي نور د جنگ لپاره اجير نيول ندي مراد.

امام خطابي د دې حديث په اړه وايي :

"والمرأة إنما لا تقتل إذا لم تكن تقاتل فإن قاتلت قتلت وعلى هذا مذهب أكثر الفقهاء." معالم السنن

ژباړه: ښځه به هله نه وژل کيږي، چې کله جنگ نه کوي، که چيرې جنگ يې کاوه، بيا به وژل کيږي او دا د اکثره فقهاؤ مذهب دی.

"ألا ترى أنه جعل العلة في تحريم قتلها: أنها لا تقاتل. فإذا قاتلت دل على جواز قتلها؟" معالم السنن

ژباړه: پدې حديث کې دليل دی چې کله ميرمنه جنگ وکړي نو بيا به وژل کيږي، آيا ته نه گورې نبي عليه السلام د هغې د وژلو حراموالي

علت دا بیان کړي چې دې جنګ نه کاوه. کله چې جنګ کوي نو بیا د هغې مرګ په روا کیدو دلالت کوي.

نو دا اتفاقي او راجحه خبره ده.

اوس د ښځې او اجیر له وژنې څخه منع په یو حدیث کې راغلې ده، علت یې هم حدیث کې بیان شوی چې دې ښځې خو جنګ نه کاوه، همدغه حکم د اجیر هم ده، چې جنګ کې یې برخه واخیسته نو بیا به وژل کیږي، ځکه بیا د ارتداد له امله وژا کیږي.

۴. د خلافت خلاف تري کومک اخلي:

څه بې شرمه قوم دی طالبان، تاسې به اوس وګورئ چې زمونږ خلاف یې د همدغه کابل اداري څخه کومکونه واخستل او بیا په مونږ الزام پورې کوي چې تاسې د امنیت ملي خلک یاست.

اچین او سپین غر ولسوالی:

شډل، کرکنې وغیره علاقو کې طالبانو او کابل اداري یو بل ته مخامخ پوستې وې خو په یو بل یې هیڅ غرض نه درلود، بلکې دواړو په شریکه د خلافت خلاف عملیات کول.

پچير آګام کې د مجاهدينو خلاف حکومتي ځواکونه، ولسي پاځون خيل او طالب درې واړه د يو سنګر نه جنګيدل او د هغه وخت هر خاص او عام پدې خبر وو، او کفري رسنيو هم دا تاييد کړه.

خوګيانيو کې:

د طالبانو د وزيرو تنګي او شاوخوا ساحو کې د افيومو کارخانو ساتونکی او يو مشر اربکيانو خواته ورغلی دی، هلته د خلافت په ضد وينا کوي او شعارونه زمزمه کوي.

همدغه شان وزيرو تنګي، وادي حصار، مرکي خيلو سيمو باندې د طالبانو آخري اشر پروخت هم د افغان حکومت نه يې مرسته اخستې وه او طالبان به د پوستو څنګ ته راتيريدل، د بره نه به پرې عسکرو آوازونه هم کول چې طالبان دي. ويډيو يې خراسان ولايت خپره کړې.

چپرهار:

چپرهار طرف د کابل اداري عسکر په ايم بيانو کې روان وي، طالبان ورته ولاړ وي، وايي سلام اچوئ سلام. بيا د سرک په سر له يو بل سره ودريږي او خبرې اترې کوي. ويډيو يې مشهوره ده.

د کنړ مرتد والي څرګندونې:

د کابل مرتدې ادارې د کنړ والي دا خبره په میډیا باندې وکړه چې دوی طالبان په ټانګونو او ایمبیانو کې کوړنګل او نورو سیمو ته انتقال کړل او د منطقې خلک هم د دې شاهدان دي.

جوزجان:

جوزجان کې طالب وسلوال د یو طرف نه او کابل اداره له بلې خوا نه په مجاهدینو باندې راغله او په شریکه یې د اسلامي دولت په مجاهدینو عملیات وکړل.

۵. طالبان اوس له دغه مرتد حکومت سره یوځای کښېني او د آینده لپاره په شریکه نظام ټاکي.

آیا مسلمان چیرته یهودي ته ورور وایي ؟ د مسلمانانو خلاف ترې کومک اخلي؟

آیا یهودي ته وایي چې ته راشه زه او ته په شریکه د دې وطن لپاره قانون او نظام جوړوو. نو دا مرتدین خو د یهودو څخه ډېر خطرناک دي، وژل یې تر هغوی مقدم دي:

شيخ الاسلام وايي: "وقتل المرتد أوجب من قتل الكافر الاصلي." الصارم المسلول

ژباړه: د مرتد وژنه له اصلي کافر څخه ستره وجيبه ده.

دلته دې څوک دا نه وايي چې خوارجو به هم ويل چې مرتد به له اصلي کافرو څخه مخکې وژل کيږي، ځنګه دا شيخ الاسلام خو به خارجي نه وي کنه! هغه خوارجو خو مسلمان ته مرتد ويل نو مونږ خو هغه د امريکا غلام او کفري نظام لپاره جنګيدونکي ته مرتد وايو، چې پرون همداسې خلقيانو او پرچميانو په ضد زمونږ ملت قيام کړې وو او په اجماعي ډول يې کافر بللي وو، او ابتداء کې طالبانو ورله ښځې هم وينځې وګرځولې چې بيا ..!!!

د طالبانو رسمي موقف د افغان حکومت په اړه په لاندې کرښو کې ذکر کوو، وايي چې د افغان حکومت په څو تقسيمه دی:

١.کوم کسان چې له الهي احکامو منکر وي، او بالکل اعتقاد پرې نه لري او هغې ته په سپکه ګوري دا کافران دي.

٢. هغه اميران او مشران چې د الهي احکامو معتقد وي خو د کفارو له ويرې او دنياوي طمعې له وجې الهي احکام نه عملي کوي، دا کسان ظالمان دي.

٣. هغه عوام چې قدرت سره بيا هم شرعي احکام نه عملي کوي، او نه ورته کوشش کوي، دا فاسقان او بدکاران دي.

نو د کابل اداري کارکنان که دغه سيکولرزم او ډيموکراسي، د نظام په حيث تسليموي او بالمقابل که اسلام يوائې د مسجد، مدرسې، خانقا او د کور نظام بولي او وايي: چې سياست کې اسلام نشته او اسلام کې سياست نشته نو د دغه خلکو په کفر کې شک نشته.

او که دغه کارکونکي اسلام د بشريت لپاره يو کامل نظام تسليموي او همدا يې عقيده هم وي، خو د ويرې او دنياوي طمعې له وجې سيکولريزم او ډيموکراسۍ ته کار کوي، نو دا کسان ظالمان، فاسقان او منافقين دي.

او د کابل اداري جنگي ارگانونه لکه دفاع، داخله وزارت، ملي امنيت، اربکيان، سرحدي پوليس، او د دوی اړوند مشاورين ټول د وژلو په حکم کې يو شان دي، وژل يې واجب دي، اگر که دوی وايي: مونږ مسلمانان

يو، څکه چې د مجاهدینو خلاف د کفر په صف کې ولاړ دي، نو ظاهري حکم يې د هغو پشان دی.

پاملرنه:

البته له تفصیل او وضاحت پرته هر گناهگار ته کافر ویل، د خوارجو طریقه ده او یا گنهگار د اسلام له دایرې ایستل د معتزله وو مسلک دی، اهل السنت والجماعت گنهگار کافر نه بولي تر څو چې کوونکی گناه حلاله ونه گڼي او یا د الله تعالی د حکم او د دین د شعائرو او علائمو سپکاوی او انکار ونه کړي.

انا لله وانا الیه راجعون.

چې کابل اداره دغه ډیموکراسي د نظام په حیث نه قبلوي، نو بیا ولې خپل اساسي قانون په زور په خلکو تحمیلوي، بیا ولې وایي د دې ډیموکراسۍ خلاف ټول قوانین لغوه دي.

عجیبه خبره ده، آیا واضعینو د قانون کې هم تقسیم شته، چې څوک د استحلال سره قانون وضع کوي هغه کافر، او که څوک د دنیاوي طمعې له امله قانون وضع کوي هغه مسلمان ؟؟

دا تقسيم کوم ځای کې دی ؟؟

او بله مغالطه دا چې دلته د کفر څخه په گناه سره تعبیر کوي، دا صحیح ده چې د قرائنو او قیوداتو سره په شرک او کفر هم د گناه اطلاق کیږي، خو دلته د کابل اداري د نواقضو او اسلام ماتونکي شیانو خبره ده، طالبان د کابل اداري کفر خلکو ته د کبیره گناه په درجه کې معرفي کوي او دغه نواقضو کې د اعتقاد، استحلال او سپکاوي قیدونه لگوي او همدا د جهمیه او مرجئه وو هغه بدترین اقوالو څخه یو دی، د هغوی په نزد کفر هیڅ عمل په خپله کفر ندی، تر څو چې د دغه عمل په اړه د کفر عقیده ونه ساتي او حلال یې ونه گڼي، خو اهل سنت دا وایي لکه څنگه چې ایمان د عقیدې، قول او عمل نوم دی، هماغه شان کفر هم د عقیدې، قول او عمل نوم دی. اوس عقیده لرل یا حلال گڼل خو د باطن سره تعلق ساتي. داسې کار چې مونږ پرې هیڅ پوهه نه لرو، لکه داسې خو ډاکټر نجیب مرتد هم ویل چې په سینو کې پرتو زړونو یو الله پوهیږي، دې مجاهدینو ته څه پته ده چې زما په زړه کې ایمان شته او که نه ؟

او طالبان په ظلم کې دومره ورننوتل چې جهميه او مرجئه گمراه ډلې يې اهل سنت وگرځول. جهميه څنگه اهل سنت دي، چې د امت اسلافو د دوی په اړه داسې فتوې ورکړي؟

مشهور ثقه محدث سلام بن أبي مطيع وايي:

«الْجَهْمِيَّةُ كُفَّارٌ لَا يُصَلَّى خَلْفَهُمْ». [رواه عبد الله بن أحمد بن حنبل في السنة، مسائل أحمد برواية أبي داود وشرح السنة للالكائي وسنده صحيح]

ژباړه: جهميه کفار دي، مونځ به ورپسې نشي کولای.

مشهور ثقه تابعي امام سليمان بن طرخان التيمي وايي:

"ليس قوم أشد نقضاً للإسلام من الجهمية والقدرية". [رواه عبدالله في السنة بسند جيد]

ژباړه: د جهميه او قدريه څخه زيات اسلام ماتونکي خلک نشته.

امير المؤمنين في الحديث امام بخاري وايي:

"نَظَرْتُ فِي كَلَامِ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى وَالْمَجُوسِ فَمَا رَأَيْتُ أَضَلَّ فِي كُفْرِهِمْ مِنْهُمْ." [خلق أفعال العباد]

ژباړه: ما د يهودو، نصاراو او مجوسو خبرې هم وکتلې، خو د (جهميه) څخه مې په کفر کې څوک لوي گمراه ونه ليد.

تر دې پورې ثقه امامانو اقوال کړي چې جهمي له دوه سوه شيطانانو څخه زيات مضر دی!!

مشهور امام إبراهيم النَّخَعِيّ وايي:

"لفتنتهم يعني المرجئة أخوف على هذه الأمة من فتنة الأزارقة." [الايمان لابن تيمية]

ژباړه: د دوی (مرجئه و) فتنه باندې زه د ازارقه (سخت خوارج) فتنې څخه زيات ډاريږم.

مشهور تابعي امام زهري وايي:

"ما ابتدعت في الإسلام بدعة أضر على أهله من الإرجاء." [الايمان لابن تيمية]

ژباړه: په اسلام کې د ارجاء پرته بل داسې بدعت ندی پيدا شوی چې خپل اهل ته زيات ضرر ورکړي.

مشهور تابعي سعيد بن جبير فرمايي:

سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، أَنَّهُ قَالَ: «الْمُرْجِئَةُ يَهُودُ الْقِبْلَةِ». [رواه عبد الله بن أحمد في السنة واللالكائي في شرح أصول الاعتقاد]

ژباړه: مرجئه زمونږ د قبلې يهوديان دي.

آيا طالبان همدا اهل سنت يادوي ؟ هغه خلك چې اسلافو ورته كفار او يهود القبله ويلي ؟؟

كه په مونږ هر قسمه ټاپې ولگوئ، خو دغه تابعين او امامان خو به خوارج يا معتزله نه وو كنه ؟؟

طالبانو د دې قول په بطلان زيات شمير دلائل دي، بعضې دا دي:

وَلَئِنِ سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ قُلْ أَبِاللهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنتُمْ تَسْتَهْزِؤُونَ {65} لاَ تَعْتَذِرُواْ قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ. [سورة التوبة:66]

ژباړه: كچيرې ته له دوی څخه پوښتنه وکړې نو خامخا دوی به وايي مونږ خو ځان مشغوله وو او لوبې مو كولې، ته ورته ووايه آيا په الله او د هغه په آيتونو او د هغه په رسولانو تاسې ټوكې كوئ. عذرونه مه وړاندې كوئ، تاسې د ايمان څخه وروسته كافر شوي ياست.

شيخ الاسلام ابن تيميه د دې آيت په اړه فرمايي:

"فبين أنهم كفار بالقول مع أنهم لم يعتقدوا صحته." [الصارم المسلول]

ژباړه: دا خبره ورته الله تعالی بیانه کړه، چې دوی د دغه وینا له امله کفار دي، سره له دې چې دوی د دغه وینا د سموالي عقیده نه درلوده.

زرکشي شافعي د دې آیت په اړه لیکي:

"فَمَنْ تَكَلَّمَ بِكَلِمَةِ الْكُفْرِ هَازِلًا، وَلَمْ يَقْصِدْ الْكُفْرَ كَفَرَ." [المنثور في القواعد الفقهية]

ژباړه: څا چې په ټوکو سره د کفر کلمه وویله او کفر یې مقصد نه وو، هغه کفر وکړ.

ابن نجیم الحنفي وایي:

"والحاصل أن من تكلم بكلمة الكفر هازلا أو لاعبا كفر عند الكل ولا اعتبار باعتقاده." [البحر الرائق شرح كنز الدقائق]

ژباړه: حاصل دا شو چې څا د کفر کلمه په ټوکو یا لوبو سره وویله، د ټولو په نزد یې کفر وکړ، او عقیدې ته یې اعتبار نشته.

دا وګورئ، ابن نجیم حنفي وایي چې په ټوکو کې د کفر کلمه ویلو باندې دا انسان د ټولو په نزد کافر ګرځي، پرته له دې چې دا عقیده وساتي.

بل دلیل:

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُواْ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُواْ إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُواْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلاَلاً بَعِيدًا. [سُورَةُ النِّسَاء : 60]

ژباړه: اې پېغمبره صلى الله عليه وسلم! ايا تا هغو خلکو ته نه دي کتلي چې دعوه کوي چې: موږ پر هغه کتاب چې تا ته راغلی دی او پر هغو کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوي وو، ايمان راوړی دی؟ دوی غواړي چې خپلې فيصلې طاغوت ته وړاندې کړي، او حال دا چې دوی ته په طاغوت د کفر کولو امر شوی وو او شيطان غواړي چې دوی بې لارې کړي؛ په ډېرې لرې گمراهۍ سره.

علامه جمال الدين قاسمي وايي:

" فجعل التحاكم إلى الطاغوت يكون إيمانا به ولا شك أن الإيمان بالطاغوت كفر بالله كما أن الكفر بالطاغوت إيمان بالله." [تفسير القاسمي ج3/صـ 195]

ژباړه: الله رب العالمين طاغوت ته فيصله وړل، په طاغوت د ايمان له جملې څخه وگرځاوه او دې کې شک نه شته چې په طاغوت ايمان راوړل، په الله جل جلاله کفر کول دي، لکه څنگه چې په طاغوت کفر، په الله ايمان دی.

شيخ الاسلام ابن تيميه وايي:

"ويزول الايمان بمجرد الإعراض عن حكم الرسول وإرادة التحاكم الى غيره." [الصارم المسلول]

ژباړه: او د رسول د حکم څخه په تش مخ اړولو او د هغه نه پرته بل چا ته پريکړه وړلو باندې ايمان زائل کيږي.

نو دې آيت کې هم فقط د کفري محکمې ته پريکړه وړلو ارادې باندې الله عزوجل کافر وګرځاوه.

چې اراده باندې کافر ګرځي، نو د دنيا له امله د کفر غلامۍ او کفر قبلولو باندې به څنګه کافر نه ګرځي.

شيخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب رحمه الله قول دی، هغه وايي:

"الوجه الثاني: أَنْ يوافقَهم في الظاهر مع مخالفته لهم في الباطن، وهو ليس في سلطانهم، وإِنَّما حمله على ذلك إِما طمعٌ في رئاسةٍ أو مالٍ أو مشحَّةٍ بوطنٍ أو عيالٍ أو خوفٍ ممَّا يحدث في المال، فإِنَّه في هذه الحال يكون مرتدَّاً ولا تنفعه كراهتُه لهم في الباطن، وهو ممن قال الله فيهم: {ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ اسْتَحَبُّوا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا عَلى الآخِرَةِ وَأَنَّ اللهَ لا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ} سورة النحل: 106، 107. [مجموعة التوحيد ص ٢٩٦]

ژباړه: دويم صورت دا چې يو شخص په ظاهر کې د مشرکينو ملګرتيا وکړي او په باطن کې يې مخالف هم وي او دی د مشرکانو په تسلط او قبضه کې هم نه وي (څه د اکراه يا مجبورۍ حالت نه وي) او دې کار باندې باعث صرف طمع د مال يا د وطن د حفاظت يا د عيال او بچو د ساتلو وجه وي يا د هغې څه نه چې په آينده کې ترينه ويرېږي نو داسې شخص په دې حالت کې مرتد وي او په باطن کې بد ګڼل ورته فايده نه ورکوي او د داسې کس په اړه الله تعالى فرمايي:

دا پدې وجه چې هغوی خوښ کړی دی، ژوند دنياوي او الله تعالى لارښودنه نه کوي قوم کافرانو ته.

دلته د شيخ د خبرې دا مقصد شو چې دې کسانو کفر د جهل يا د اسلام د بغض يا د باطل د محبت د وجې ونه کړ، مګر باعث پرې دنيا وه، يا مال، يا وطن يا مشري، يا د بچو پالنه وغيره.

طالبانو دغه عقيده د شيخ الاسلام په يو قول بناء کړی:

"لَا يُقَاتِلُ مَعَهُمْ غَيرُ مُكْرَهٍ إلَّا فَاسِقٌ، أَوْ مُبْتَدِعٌ، أَوْ زِنْدِيقٌ، كَالْمَلَاحِدَةِ الْقَرَامِطَةِ وَالْبَاطِنِيَّةِ، وَكَالرَّافِضَةِ السَّبَّابَةِ." [الفتاوى الكبرى لابن تيمية]

ژباړه: تاتاریانو په مشرۍ کې نه جنګیږي پرته له مجبور سړي، مګر فاسق، بدعتي یا زندیق انسان، لکه قرامطه او باطنیه ملحدان او یا په شان د هغه روافضو چې کنځلی کونکي دي.

وايي شيخ الاسلام تاتاريانو ته کافر وايي، خو هغوی سره یوځای کیدونکو خلکو کې تقسیم کوي، چې بعضې فاسقان او بعضې بدعتیان او زندیقان دي.

مونږ ورته وایو، د تاتاریانو په اړه خو د شیخ الاسلام موقف زیات څرګند دی، خو تاسې دغه قول په فهم کې خطا یاست، که لږ مو همدغه عبارت مخکې وروسته مطالعه کړی وی نو خبره درته خپله ښکاره کیده خو خیر بیا هم د دې عبارت د وضاحت لپاره تاسې ته د همدې فتاوی بل عبارت ذکر کوو:

ژباړه: تاسې دا مشرکان ووژنئ، چیرته چې یې وموموئ، او هغوی ونیسئ او ایسار یې کړئ، او په هر ځارنځي کې د هغوی لپاره کښینئ.

ثقه امام ابو حیان اندلسي پخپل تفسیر البحر المحیط کې د دې آیت لاندې لیکي :

"وَلَفْظُ الْمُشْرِكِينَ عَامٌّ فِي كُلِّ مُشْرِكٍ."

ژباړه: د مشرک لفظ عام دی، هر کافر ته شاملیږي. (معنا که اصلي کافر وي که مرتد)

او مخکې تیر شو، کتاب او سنت عام دي، چې علت وي، مانع نه وي نو شرعي حکم به کولی شي.

او د کابل اداري اکثره نظامیان او غیر نظامیان دا د حلول عقائد بیخي نه پیژني، بلکې ابتداءا د کابل اداري اکثره مامورین د مادیاتو په وجه

مرتد شوي وو، بیا وروسته دیموکراسۍ کې خه سم ورننوتل او په کفر کې پاخه شول.

۲. امریکا اسلام او جهاد د بیخه ختمول غواړي او دا د طالب په واسطه کیږي، د کابل اداري په واسطه ونشو ځکه شل کاله یې مصرف وکړ خو خپلو اهدافو ته کاملا ونه رسیده. افغانان اوس هم د اسلام سره مینه لري، نو پدغه نوم چې کومه ډله رامخکې شي هغه خلک خه قبلوي.

۳. د کابل مرتدې اداري چارواکو اکثره لباس او ناسته ولاړه ټوله د انګریزانو ده، نو عام خلک ترې دغه فرهنګ په واسطه هم کرکه کوي خو طالب سپینې جامو، خه اوږد پټکې، تور واسکټ او اوږدو ږیرو ښخه په ګټه اخستلو خلک تیر باسي، ځکه نو عام خلک په طالب زیات دوکه کیږي.

۴. د کابل اداري نواقض شل کاله خلکو وکتل، او کفر یې بیخي واضحه او ښکاره دی، د امریکایانو په حضور کې یې غلامي ښکاره ده، خو د طالبانو ارتداد د اسلام په نقلي پوښونو کې پټ کړی شوی دی، چې لا تر اوسه ډیر جاهلان پرې خه ګمان کوي. دا حربه نړیوالو کفارو ځکه اختیار کړه چې تیره شل کلنه پروژه یې آخر هم د ناکامۍ ښکار وګرځیده.

۵. مونږ به نن وګورو چې امریکا په چا زیات اعتماد کوي، چا ته توجه زیاته کوي ؟ دا واضحه ده طالب ته، ځکه د کابل ادارې غلام چارواکي په سرو سترګو ژاړي او طالبان له خوشحالۍ نه په جامو کې نه ځایېږي.
او الله جل جلاله فرمایي:

وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ. [سورة البقرة]

ژباړه: او هیچرې به له تا څخه یهود او نصارا راضي نشي تر دې چې ته د هغوی د دین تابعداري وکړې.

د الله ګواهي څخه دا څرګندیږي چې طالبانو د زړه له کومې کفر منلی او د کابل ادارې په نسبت کفارو ته زیات مخلص او په ګټه دي. ځکه د چا د فساد کچه چې څومره لوړه وي، هغومره به د امریکا محبوب وي.

٦. نن امریکا د کابل ادارې مشران استعفاء ته مجبوره کوي، د دغه چارواکو د شدید مخالفت باوجود یې د طالبانو زرګونه بندیان خوشې کړل، تولې سرې کربښې یې زیږې شوی، کابل اداره یې تنزل ته مجبوره کړه، د کابل ادارې څخه واک طالبانو ته لیږدول غواړي، په شمول د بعضې نورو وفادارو چارواکو.

٧.د امريکا اقتصاد نور کمزوري شوی، او د کابل اداري مصارف نور نه شي پوره کولای، او د طالب اخوندانو مصرف کم دی، هغوی ارزان بيعه اربکيان دي، نو امريکا ځکه د اسلام په نامه په یوه بله بڼه د ډيموکراسی د تطبيق لپاره طالبان انتخاب کړل. ځکه د طالبانو اکمال روسيه، ايران، پاکستان هم کوي، او پاکستان کې د چندو په نوم په لويه کچه گرده او سوالونو باندې هم راټولوي، کوکنارو او نور مخدره مواد کې عشرونه او نور ټيکسونه اخلي، اختطافونه هم کوي، نو آمدن يې برابر دی.

او نور زيات وجوهات دي، چې طالبان د کابل اداري څخه اسلام ته زيات ضرري دي. حسبنا الله ونعم الوکيل.

دلته طالبانو ته دا اعتراض په لاس نه ورځي چې تاسې افغان حکومت پلوي کوئ، نه، مونږ هغوی ته هم مرتد وايو، خو کفر او ارتداد کې هم درجې وي، او دغه امتيازي درجه تاسې وګټله.

مسلمانانو! هر کله چې مونږ تاسې د طالبانو حکم وپيژنداه، چې مرتد دي، او د ارتداد ضرر يې د يهودو، صليبي امريکايانو او د کابل اداري څخه هم زيات دی نو مونږ تاسې به هم ورسره د دې ټولو کفارو څخه سخت چلند کوو.

"فَالْعَدُوُّ الصَّائِلُ الَّذِي يُفْسِدُ الدِّينَ وَالدُّنْيَا لَا شَيْءَ أَوْجَبَ بَعْدَ الْإِيمَانِ مِنْ دَفْعِهِ فَلَا يُشْتَرَطُ لَهُ شَرْطٌ بَلْ يُدْفَعُ بِحَسَبِ الْإِمْكَانِ." [الفتاوى الكبرى ج ٥ / ص ٥٣٨]

ژباړه: حمله کونکې دښمن چې دین او دنیا خرابوي، د ایمان څخه وروسته د دغه دښمن دفاع پرته بله کومه ستره فریضه نشته، دې لپاره هیڅ شرط نشته، بلکې د وس مطابق به یې مقابله کولی شي.

نو چې دغه دنده طالبانو په غاړه واخیسته، او دین او دنیا دواړه فاسدوي نو د ایمان څخه وروسته د طالبانو جنګ څخه بل ستر واجب نشته.

او د غلیظو مرتدینو چلند به ورسره کیږي:

لکه په هر حال به وژل کیږي، جزیه به ترې نشي اخستل کیدای، ذمي نشي کیدای، طالب که د جنګ نه عاجز هم وي وژل کیږي به، طالب به میراث نه وړي، خپلولي (نکاح) به ورسره نشي کیدای، د طالبانو ذبیحه به نشي خوړل کیدای، جنازه به پرې نه کیږي، د مسلمانانو هدیره کې به نه خښیږي، ښځه پرې طلاقه ده، ټول اسلامي حقوق لکه محبت، خیرخواهي وغیره دا ترې سلب کیږي. بلکې ده سره به د بد ترین دښمن چلن کیږي، او طالبانو توبه هم نه قبلیږي.

الإحكام في أصول الأحكام ج ٦/ صـ ١١٠، مجموع الفتاوى ج ٢٨، ٥٣٤ او نورو کتابونو کې د مرتد دا احکام لیکل شوي دي.

د طالبانو د گمراهۍ بعضې اسباب:

دا چې طالبان ولې د دومره انحرافاتو ښکار وگرځیدل، د دې بنیادي څو علتونه دي:

۱. د طالبانو د گمراهۍ ستر لامل د عقیدې څخه جهالت دی ، کفر او اسلام ترمنځ توپیر نشي کولای.

۲. د مشرانو ړوند تقلید: دا هم د طالبانو د ضعف ستره نقطه ده، تور او سپین نه گوري، کنده او کړنگ نه گوري خو د مشر په پل ،پل ږدي، چې نتیجه یې د سترو کړنگونو څخه غورځیدل وي.

۳. د طالبانو په لیکو کې د دښمن نفوذ گیري: د طالب په جامه د آي ایس آي ستر جنرالان دغه صف ته ننوتل او مهم منصبونه یې ونیول او د امارت د برخه لیک په اړه یې غیر مشروع پریکړې وکړې.

۴. د موالاتو او سولې توپیر نه کول: ځکه همیش طالب له دې سوري چیچل شوی، چې د سولې شرائط، حدود او اصول نه مراعات کولو له امله د استخباراتو ښکار شوي.

۵. د يو كافر مقابل کې د بل څخه كومک اخستلو قاعدې غلط تطبيق له امله طالبان تيروتلي دي، او نتيجه کې يې هدف د اسلام پرځاي د هماغه كفري ملک ټول پلانونه سر ته رسول وټاکل، او د گمراهۍ تيارو ته يې ورودانگل.

٦. د طالبانو رهبري سالمه نده، دنيا ته يې د مشرانو ميلان هم د دغه تنظيم ارتداد لوي علت دی، چې ټول د موټرو ، بنگلو او د ژوند هر قسم سهولياتو له امله د غر، فقر، سنگر او د هجرت زندگي نه خوښوي.

سالم قيادت په حق باندې د ثبات يوه لويه وسيله ده، او دغه رنگه بالعكس خبره هم ده، د طالبانو مشران د اولې ورځې څخه د آي ايس آي په فكر روزل شوي وو:

د طالبانو ملا برادر د آي أيس آي د كرنل امام چې خپل نوم يې سلطان تارړ و، شاگرد وو. د هغه وخت راهيسې د پاكستان دفاع په نظريه تربيه شوی، نه د اسلام په سپيڅلې عقيده.

ملا اختر منصور هم د كرنل امام شاگرد، د هغه لخوا روزل شوې د آي أيس آي خصوصي كارمند و. او دنده يې قاچاق برانو څخه د چرسو ټيکس راټولول و او خپله هم خه كلک چرسي و.

ملا برجان او داسې نور مهم مشران يې آي أيس آي په ناپاکه عقيده او فکر روزلي وو، دا د کرنل امام خپلې څرگندونې دي.

د کرنل امام تاريخ وگورئ چې څنگه طالبان وجود ته راغلل او دوی د پاکستان سره څومره وفاداري لري، څومره کارونه يې د پاکستان لپاره کړي دي، پاکستان ورته په بدل کې څه ورکړي ؟؟

نو حقيقت به درته ټول په ډاگه شي. طالبانو خپله دا اقرار کړی چې مشران يې په زياتو لگښتونو دويم، دريم او څلورم واده کوي، د بيت المال څخه غلاوې کوي، او دې ته مجبور شول چې دا خبره رسنيزه کړي:



دافغانستان اسلامي امارت

د مشرتابه دفتر

گڼه: ۱۱۵ج۶ ‏ ‏ ‏ نېټه: ۱۴۴۲/۵/۲۴هـق

بسم الله الرحمن الرحيم

په زياتو لګښتونو له بې ضرورته دوهم، دريم او څلورم واده څخه د اسلامي امارت د مسئولينو د منعه کولو په هکله د اسلامي امارت د مشرتابه

هدايات

په دې کې شک نه شته څوک چې د زوجيت حقوق ادا کولای شي او واده کولو ته يې شوق وي؛ اسلامي شريعت هغوی ته د واده کولو اجازه ورکړې ده، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «مَنِ اسْتَطَاعَ مِنكُمُ البَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ، وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ؛ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ» رواه ابوداود ج۲ ص۲۱۹.

قال النووي: فى هذا الحديث الأمر بالنكاح لمن استطاعه وتاقت إليه نفسه وهذا مجمع عليه لكنه عندنا وعند العلماء كافة أمر ندب لا إيجاب فلايلزم التزوج ولا التسري سواء خاف العنت أم لا، هذا مذهب العلماء كافة و لايعلم أحد أوجبه إلا داود ومن وافقه من أهل الظاهر. (عون المعبود شرح أبي داود ج٦ ص٣٠).

لاخلاف أن النكاح فرض حالة التوقان حتى أن من تاقت نفسه إلى النساء بحيث لايمكنه الصبر عنهن وهو قادر على المهر والنفقة ولم يتزوج يأثم. (بدائع النصائع ج۲ ص۴۸۲ - كتاب النكاح، مكتبة رشيدية). اذا كانت له امرأة و اراد أن يتزوج أخرى وخاف أن لايعدل بينهما لايسعه ذلک وان كان لايخاف وسعه ذلک والامتناع أولى ويؤجر بترک ادخال الغم عليها. (فتاوى السراجية، باب القسم ص۲۰۷).

دوهم، دريم او څلورم ودونه که څه هم په اسلامي شريعت کې مباح او جائز دي، خو دا چې زموږ د هېواد په زياترو سيمو کې ودونه زياتو لګښتونو ته اړتيا لري؛ په ځانګړې توګه دوهم، دريم او يا څلورم واده، ځيني يې د لګښتونو له زياتوالي سربېره غير ضروري او له هوسياتو څخه هم ګڼل کيږي، دا چې په اسلامي امارت کې د ځينو مسئولينو کورنۍ اقتصادي وضعيت دومره زيات لګښتونه نه ايجابوي نو له همدې امله د دوی په امانتدارۍ، اعتماد او نېک شهرت باندې ناوړه اغيز لرلی شي.

د مسئولينو خدمتي موقف او همدا راز جهادي بهير تر ډېره حده متضرر کېدای شي، حال دا چې د جهادي مسئول او هر اسلامي دعوت کوونکي لپاره ضروري ده چې د ژوند په هر اړخ کې يې بايد پوره شفافيت موجود وي، د تهمت او بدنامۍ له ځايونو څخه ځانونه ليرې وساتي، د خپل مشرتابه او متدين ملت او خپلو ملګرو له اعتماد څخه په دوامداره توګه برخمن وي، نو له دې کبله د اسلامي شريعت په رڼا کې مو د اسلامي امارت مسئولينو ته دا هدايات دي چې د اسلامي امارت مسئولين له بې ضرورته دوهم، دريم او څلورم واده څخه ځانونه وساتي ترڅو له لاندنيو مواردو څخه محفوظ شي:

- د اسلامي امارت د مسئولينو شرعي او جهادي ستر هدفونه به د دوهم، دريم او څلورم واده د هوس او غير ضروري شخصي غوښتنو له امله نه متضرر کيږي

~ ۱ ~

- د اسلامي امارت مسئولين به د رشوت، اختلاس او له بيت المال سره د خيانت له تور او تهمت څخه هم خوندي وي
- تر يوه د زياتو ودونو د کولو لپاره به د ناجائزو اسبابو او نامشروع لارو پر لور له حرکت کولو څخه محفوظ وي
- مکار دښمن ته به د اسلامي امارت په وړاندې د بدو تبليغاتو فرصت په لاس نه ورځي

البته څو صورتونه د بعضو مصلحتونو او يا هم چې تهمت په کې نه شته؛ له ياد حکم څخه مستثنی دي، دوی کولا[...] شخصي اموالو د خپل حال مناسب واده وکړي



- هغه چې ښځې اولاد نه لري او يا هم نارينه اولاد نه لري او د اولاد په خاطر بل واده ته اړتيا محسوسوي
- هغه چې د خپل ورور يا کومې بلې کونډې ښځې سره د هغې د خوښې او توافق په صورت کې نکاح کوي، چې عموماً زيات لګښت ته اړتيا نه لري

نو ټول طالب مشرانو ته د پاکستان لخوا دنیاوي سهولتونه مهیا دي، چیرته سنګر ته نه ځي، چیرته سخت ځای ته نه وړاندې کیږي، نو ځکه هغوی د پاکستان مطالبو څخه نشي تیریدای.

خلاصه خبره دا چې د طالب مشرانو دیني جهل او دنیاوي سهولت، دا دوه مهم اسباب د ضلالت د طالبانو دي. أعاذنا الله منها.

د طالبانو تعصب ته لنډه کتنه:

طالبان خپل ځانونه دیوبندي مسلک ته منسوبوي، او مذهبي تعصب یې په ختړه کې اغږل شوی دی، هغوی د دیوبندیت پرته نور اهل سنت مسلمانانو ته خپل صف کې هیڅ ځای نه لري. سره د دې چې دیوبندیان یوه وړه ډله ده، په هند باندې د برطانوي اشغال څخه څو کاله وروسته د 31 مئی 1867 میلادي کال بمطابق 15 محرم 1283 ه ق په نیټه، د هند سهارنپور ولسوالۍ، دیوبند سیمه کې د یوې مدرسې "دار العلوم دیوبند" بنیاد قاسم نانوتوي کیښود.



او بیا د دغه مدرسې په نوم یوه ډله منځ ته راغله، چې دغه ډله مخکنیو احنافو سره ډېر اختلاف لري، حتی امام ابو حنیفه سره هم ډېر اختلاف لري، لکه د عقیدې په باب کې دغه ډله امام ابو حنیفه سره زیات تضاد لري، فقط په فروعي احکامو کې امام صاحب ته ځان منسوبوي، کیدایشي امام صاحب عقیده به ورته غلطه ښکاري! والله أعلم، خو دا کوم منطق دی چې طالبان په فروعي احکامو کې امام صاحب پسې روان وي، او اکثر هغه مسائل مني چې د امام صاحب نه ثابت هم ندي، خو که عقیده د امام صاحب خرابه وي نو فروعو کې یې تابعداري بیا څنګه ده ؟ خو الغرض د دیوبندیانو د عقیدې معتبر کتاب "المهند علی

المفند" کې د دوی دا عقائد لیکل شوي. د یادونې وړ ده چې مذکوره رساله دیوبندیانو هغه وخت ولیکله چې د دوی د اکابرو بعضې عبارتونو له امله پرې د هغه وخت بریلیانو د تکفیر حکم وکړو، او مشران یې ورله کافران وبلل، او د هغه وخت د حرمینو ملایانو څخه یې تصدیقات واخستل او د حسام الحرمین په نوم یې هند کې چاپ کړه. بیا دیوبندیانو په جواب کې رساله المهند على المفند ولیکله، او د ټولو دیوبندي مشرانو امضاء ګانې پرې وکړی. ددغه کتاب په ابتداء کې یې لیکلي:

مونږ او زمونږ مشایخ او زمونږ ټول جماعت په فروعو کې د امام ابو حنیفه رضي الله عنه مقلدین یو او په عقائدو کې د امام ابو الحسن أشعري او امام ابو منصور ماتریدي رضي الله عنهما تابعدار یو. په صوفیت کې نقشبندیان، چشتیان، قادریان او سهروردیان یو. [المهند على المفند ص ۱]

دا د طالبانو د عقیدې رسمي کتاب دی، تاسې یې بیان پخپله واورید.

اشاعره دا د ابو الحسن أشعري په لار روان دي، دا اول کی د معتزله وو په مذهب و خو بیا ده خپل منهج اختیار کړو او د عقل مطابق د الله رب العالمین ۷ صفات مني او نورو ټولو کی تاویل کوي. هغه اووه صفات دا دي؛

ژوند، علم، اراده، قدرت، اوریدل، لیدل، کلام.

او دوی وايي چې قرآن کريم د الله جل جلاله حقیقی کلام ندی، دا کلام نفسي دی او دې کتابونو کې چې کوم لیکل شوی دی، دا مخلوق دی.

ماتريديه، دا هم اشاعره سره نزدي دي، دا د ابو منصور ماتريدي ډله ده، دوی اته صفات د الله جل جلاله مني او نور نه مني، او د الله تعالی نومونو کی يې صانع، قديم او ذات له ځانه ورزيات کړي دي او د ايمان باره کی وايي: دا صرف تصديق ته ویل کيږي او بعضې پکې وايي چې په ژبه اقرار هم پکې شامل دی، خو د زيادت او نقصان يې قائل نه دي.

چې دا د امت دوه باطلې ډلې دي. دغه رنګ په صوفيت کې د طالبانو مشر امداد الله مهاجر مکي دی، چې مخکې اول ناقض کې يې مونږ تذکره وکړه، نو طالبان د عقائدو له لحاظه هم ګمراهان دي، د حلول، وحدت الوجود او وحدت الشهود غلطې او کفري عقيدې لري.

نو څوک چې د دغه باطلو عقائدو حامل نه وي، د طالبانو په صف کې ورته ځاي نشته.

د دغه تعصب بيلګې خورا زياتې دي، خو هسې يو څو به مونږ ذکر کړو:

۱. طالبانو په وار وار دا اعلامیې نشر کړي چې افغانستان کې فقط دیوبندیت ته اجازت دی، چې یوه محدوده باطله ډله ده نور ټول اهل سنتو باندې پابندي ده، د طالبانو په نزد به هغوی مجازات کیږي، او دې لپاره خلک گماري چې همدغه تفرقه بازي ته په هر ولایت کې لمن ووهي او د دغه مفسدو خلکو مصارف هم د طالبانو ولایتي اداري څخه ورکول کیږي. او د طالبانو په لیکو کې په پراخه کچه بریلیان د سیفیانو په نوم موجود دي.

او دا هر څه یي په عمل کې هم ثابت کړل ، له دیوبندیانو پرته یي د نورې مدرسې او ان جماتونو کې لمونځونه هم بند کړل .

سبحان الله د مومنانو مور عائشه رضي الله عنها په ناموس تور لگونکو شیعه روافضو لپاره ځای شته، هغوی ته مشري ورکوي، ځکه چې د ایران څخه ډالر اخلي، کمیونستانو ته اجازت شته، ځکه روس یې اکمال کوي، حزبیانو، جمیعتیانو او نورو ټولو باطل پرسته ډلو ته د فعالیت اجازت شته خو اهل سنت مسلمانانو ته د فعالیت اجازت نشته.

۲. د طالبانو زعیم هبت الله اخوند خپله غریزه وینا کې دغه تعصبي څرگندونې کړي، نوموړی وایي:

" دا اندازه مه کوئ چې تاسو یواځې د افغانستان په سطحه مجاهدین یاست یا د ټولې دنیا په سطحه !! ټوله دنیا ستاسو په امید ده. د پاکستان د علماءو او د افغانستان د علماءو تاسو ته دغه امید دی چې تاسو به د امام صاحب مذهب ساتـئ.

متفرق مو کړي، اختلافونه درکې راولي یو د سلفي په نامه، بل د وهابي په نامه، بل د پنج پیري په نامه داسې غابښ ماتونکې جواب ورکوئ که سلفی درته راداخل شو که وهابی درته راداخل شو، وایی ته د جهاد دشمن یې.... په موټر سایکل چې تیریږئ خه په ادب پرې سپاره شئ خه په بسم الله باندې سپاره شئ، خه د سفر دعا وکړئ، خه په عجز باندې خه په عجز باندې خپل شکل برابر کړئ، لنګوټی وتړئ په ځنو کې لاړې وباسئ ".

الله أکبر! صرف د یو مذهب پورې یې ځان خاص کړ او بیا هغه کې یې هم صرف دیوبندیانو پورې ځان خاص کړی، او پنج پیریان یې ترې بیا هم وویستل، اګر که هغوی هم ځان ته دیوبندیان وایي.

دا د طالبانو حقیقي څیره ده، دا یې مشر دی، دې ته امیر المؤمنین وایي !! اوس نه پوهیږو چې دغه المؤمنین کې کوم الف لام مقصود دی؟ آیا دا اخوند د یوې وړې منطقې مسؤولیت صلاحیت لري ؟ د خولې نه

يې څنګه ګلان دوړيږي ؟ دې اخوند سره د خوارجو په څير د يوې کجورې غم شته، د لنګوټۍ غم شته، خو د امريکا په اشاره او مرسته د اسلامي خلافت مجاهدينو د شهيدانولو غم نشته، دا اخوند دومره نه پوهيږي چې تا نه د لنګوټۍ تپوس اول نه کيږي، تا نه هغه د بين الملل کفري قوانينو منلو تپوس کيږي، تا نه د کافرو سره دموالاتو پوښتنه کيږي، تا نه ستاسو د قوميت پوښتنه کيږي، عسکر دې ټول په ډيموکراسۍ ورننويستل ، ته ورته د هغې په اړه سپارښتنه نه کوې، د کفر او اسلام مسائل درته مهم نه دي، او بعضې استحبابي اعمالو باندې امر کوي، نور بيان يې مونږ پيدا نه کړ، کنه د دغه اخوند حقيقت به مونږ درپيژندلې وای، د دې بيان نه وروسته د دغه کس پيغامات ټول په ليکلي بڼه توزيع کيږي، وجوهات يې مختلف کيدای شي، يا به مړ وي، او دا برادر به ځکه پدې کانفرانسونو کې په بريتو کې خاندي راخاندي، يا هم کيدايشي آي أيس آي ورته ويلي وي، چې د رياست منصب دې په شرمو وشرماوه، ته لږ د خليفة المسلمين أبو بکر البغدادي بيان واوره، هغه هم امير او ته هم د امارت دعوه لرى!!


الغرض که علت هر څه وي، دا اوس مهمه نده، خو ليکلي پيغامونه يې ټول د دغه وينا سره ښکاره په تضاد کې دي. لکه دغه غړيزه وينا کې وايي چې تاسې د ټولې دنيا په سطحه مجاهدين ياست، او وياند يې د

افغانستان نه علاوه په نورو ملکونو کې جهاد ته تخريبي عمل وايي او اوس خو هر مجلس او کانفرنس کې برادر همدا ګيت تکراروي، چې مونږ تعهد کړی:

(او إسلامي امارت تعهد کړی چې د أفغانستان خاوره به د کوم هېواد د امنيت پر ضد نه استعمالېږي، چې دا په أفغانستان کې تلپاتې سولې ته عملي زمينه برابروي.)


موږ په افغانستان کې يو باثباته خپلواک اسلامي نظام غواړو چې هم خپله په آرامه فضاء کې ژوند وکړو او هم سيمه او نړۍ له افغانستان څخه ډاډه وي.

همدغه هبت الله دلته څومره تعصب څخه ډک زهر خواره کړل خو د اختر مبارکی پيغام کې يې دا تعصب پيدا کول د استخباراتي کړيو کار بللی:



۵- ځينې هغه کړۍ چې د بهرنيو استخباراتي حلقاتو د ورکړل شوي پلان له مخې خپل شوم هدف او قدرت ته د رسېدو لپاره غواړي په هېواد کې د ژبې، قوم، مذهب او نورو عنوانونو څخه په استفاده اختلافونه او تعصبات را وپاروي، د هېواد يووالی له ګواښ او خطر سره مخ کړي، بايد پوه شي چې افغان ولس او اسلامي امارت دغه راز کړنوته اجازه نه ورکوي، لکه په تير کې يې چې هېوادله داسې خطرونو څخه ژغورلی بيا هم د دې ورتيا لري چې مخه يې ونيسي ان شاءالله، نو ښه به دا وي چې د داسې کارونو عاملان پخپلو ګريوانونو کې سر ښکته کړي، نور په ناسمو اعمالو او افکارو سره دا ملت له ستونزو او مشکلاتو سره مخ نه کړي.

اوس استخباراتي کړیو هدف څوک پرمخ وړي، آیا همدا هبت الله په نوم د طالبانو مشر همدي لپاره ندی موظف شوی ؟



او زمونږ مشران څه وايي، د خلافت رسمي ویاند شیخ ابو محمد العدناني تقبله الله د خلافت موقف بیانوي:

"فالخلافة تجمع جميع المسلمين، تجمع الشامي والعراقي واليمني والمصري، تجمع الأوروبي والأمريكي والأفريقي، تجمع العربي

والعجمي، تجمع الحنفي والشافعي والمالكي والحنبلي، فهلموا إلى خلافتكم. "

ژباړه: خلافت ټول مسلمانان راجمع کوي، شامي، عراقي، يمني او مصري راغونډوي، اروپايي، امريکايي او افريقايي راغونډوي، عربي، عجمي راغونډوي، حنفي، شافعي، مالکي او حنبلي رايوځای کوي، نو تاسو خپل خلافت ته راشئ.

سبحان الله! دواړو مينځ کې څومره فرق دی، اوس به تاسې ته د متعصب او محدود فکر حامل امارت او د نړيوال خلافت توپير په ډاګه شوې وي.

اې پنج پيريانو او سلفيانو اوس هم تاسې نه شرميږئ! دا طالبان خو فقط تاسې استعمالوي، نور درته غاښ ماتونکي ګزارونه درکوي چې اوس هم تاسې نه پوهيږئ نو آخر کله به پوهه شئ ؟

الفصل الثالث

طالبان او سوله

راځو اوس هغه موضوع ته، چې نن د هر خاص او عام د بحث عنوان او د هري رسنۍ او خبرپاڼې سرټکي ګرځيدلي، چې عبارت ده د طالبانو او امريکايانو له سولي (!)څخه.

طالبانو دې خبري ته ډير زور ورکړی چې زمونږ سوله د نبي عليه السلام د مبارکې صلحي حديبيه په څير ده. طالبان خپلې سولې ته شرعي رنګ ورکوي او ډير په تکلف سره دا ثابتول غواړي، چې امريکايانو سره د سولې په نوم روانه پروسه د اسلامي نظام دقيام تمثيل دی، خو حقيقت دا دی چې دا سوله سراسر په غير مشروعه بنيادونو باندې ولاړه ده او د ملت د قربانيو په سر سودا ده.

ورونو! اسلام يو مکمل ضابطه حيات الله عزوجل مونږ ته راليږلې، چې تر قيامته د هري يوې لويې او وړې قضيې بيان پکې په احسنه توګه موجود دی، داسې جامع کليات شريعت بيان کړي چې د مسائلو هيڅ فرد ترې خارج نه دی. د دې خبري څه نا څه وضاحت مونږ په مقدماتو کې کړی و. الله عزوجل دا اعلان کړی دی:

{الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا} [المائدة: 3]

ژباړه: نن ورځ ما ستاسې لپاره ستاسې دين پوره کړ او په تاسې مې خپل نعمت تمام کړ، او اسلام مې ستاسې لپاره دين خوښ کړ.

تر دې پورې چې مشرکانو به صحابه وو ته طعنه ورکوله چې ستاسې رسول تاسې ته د هر څيز بيان کوي تر دې چې د استنجا چل هم درته ښايي:

عَنْ سَلْمَانَ ، قَالَ : قِيلَ لَهُ : قَدْ عَلَّمَكُمْ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى الْخِرَاءَةَ (وَهُمْ يَسْتَهْزِئُونَ بِهِ في رواية مسند أحمد)قَالَ : فَقَالَ : أَجَلْ لَقَدْ نَهَانَا أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ لِغَائِطٍ... صحيح مسلم

ژباړه: سلمان فارسي وايي، هغه ته وويل شول: تاسې ته ستاسې نبي عليه السلام د هر څه ښودنه کړې، تر دې چې د اودس ماتي چل يې درته هم ښودلی (بل روايت کې راځي چې هغوی ټوقې کولې) هغه ورته وفرمايل: هو، يقينا هغه صلى الله عليه وسلم مونږ د اودس ماتي پر وخت قبلې طرف ته مخ ګرځولو څخه منع کړي يو.

هغه کومه مسئله ده چې اسلامي شريعت کې نده بيانه شوی، راځي د ابو ذر رضي الله عنه څخه يې واورو:

عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: تَرَكنَا رَسُول اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَا طَائِرٌ يُقَلِّبُ جَنَاحَيْهِ فِي الْهَوَاءِ، إِلَّا وَهُوَ يُذَكِّرُنَا مِنْهُ عِلْمًا، قَالَ: فَقَالَ: صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا بَقِيَ شَيْءٌ يُقَرِّبُ مِنَ الْجَنَّةِ، ويُبَاعِدُ مِنَ النَّارِ، إِلَّا وَقَدْ بُيِّنَ لَكُمْ». المعجم الكبير للطبراني.

ژباړه: ابوذر رضی الله عنه وايی: مونږ رسول الله صلی الله عليه وسلم پداسې حال کې پريښي يو چې نشته يو مارغه چې په هوا کې وزرې اړوي راړوي مگر هغه مونږ ته د ده علم هم بيان کړی. نبي عليه السلام وفرمايل: ندی پاتې هيڅ يو شی چې جنت ته مو نزدې کوي او د جهنم څخه مو لرې کوي، مگر تاسې ته بيان شوی دی.

همدا خبره قرآن کريم کې رب فرمايلې ده:

وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طَائِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ. [سورة الأنعام:38]

ژباړه: په ځمکه کې خوځيدونکي کوم ساکښ او په هوا کې په وزرنو سره الوتونکي مارغه، دا ټول همدا ستاسې په څير انواع او ډولونه دي. موږ

پدې کتاب کې د هیڅ شی کمې ندی کړی، بیا به هغو خپل رب ته ورغوندېږي.

غرض مې دا دی چې کوم دین په اړه رب لایزال دا اعلان کړې وي، چې کامل دی، کوم دین کې چې د استنجاء مسائل په تواتر سره ثابت وي، کوم دین کې چې په هوا کې د مارغانو مسائل هم بیان شوي وي نو آیا هغه دین کې به د نظام چلولو مسائل او قوانین په کامله توګه نه وي بیان شوي ؟

عزتمندو! خامخا بیان شویدي، نو مونږ تاسې به د طالبانو هر سیاسي فعالیت د شریعت تلې ته اچوو، که برابر و، ډیره خه ده او که برابر نه و، نو دغه عمل او دغه فعل به مردود وي.

سوله په شریعت محمدي کې په اجماع د مسلمانانو سره روا ده، خو په خپلو معتبرو شرطونو سره. الله عزوجل فرمايي: ({وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا} [الأَنْفَال: 61])

کچیرې هغوی (کافر) سولې ته غاړه کیږدي نو ته هم ورته غاړه کیږده.

نو د طالبانو سوله به هم د کتاب او سنت په تله باندې وتلو.

تنبيه: دا خبره یاد ساتل پکار دي چې طالبانو کې لسګونه نواقض موجود دي، نو که دا یوه سوله یې په شریعت برابره هم شي نو هیڅ فائده نه ورکوي. دوی پرې نه مسلمانیږي. خو د دومره نواقضو سره د طالبانو څخه هیڅکله د شرعي سولې تمه هم نه کیږي.

زمونږ دعوه دا ده چې د طالبانو سوله غیر شرعي بلکې د کفارو موالات، ارتداد او تسلیمي ده، او د نبي علیه السلام مبارکې سولې سره زیات توپیرونه لري، بعضې یې مونږ د الله په توفیق سره ذکر کوو.

اول: مونږ مخکې هم ویلي و، چې طالبان د سولې په نوم امریکایانو له هرې خوا ټینګ وتړل، او پر طالبانو یې د تعطیل الجهاد قباحت ومانه، داسې کیسې یې ورسره وکړې چې مکمل یې په خپلو دامونو کې راګیر کړل، اوس چې قدم اخلي نو هم یو وار دغه کفارو سره رابطه کوي او معلومات ترې کوي. د وسلوالې مبارزې ځای یې ورته ورک کړو.



او نبي علیه السلام سوله خپل ځان قوي کولو او نور فوځي تحرکاتو لپاره ترسره کړې وه. د اسلام پيغام يې د وخت سترو امپراطوريو روم او فارس ته ورساوه، خو هغه الاهي دين، د طالبانو په څير دموکرات دين نه، او د صلح څخه وروسته يې د جهان په نورو کافرو يهود، د نجد قبائل او روميانو شروع وکړه. لکه بعضې لوي مشهورې غزاګانې يې په لاندې ډول دي:

١.غزوة الغابة أو غزوة ذي قردٍ ٢.غزوة خيبر ووادي القرى

٣.غزوة ذات الرقاع ٤.معركة مؤتة

او سرايا خو بې شميره وى :

١.سرية غالب بن عبد الله الليثي إلى بني المُلَوِّحِ بالكَدِيد ٢.سرية حسمىَ بالكسر ثم السكون مقصور: أرض ببادية الشام، بينها وبين وادي القرى ليلتان. وبعضهم قالوا حَسْمى. ٣.سرية عمر بن الخطاب إلى تربة ٤.سرية بشير بن سعد الأنصاري إلى بني مرة بناحية فدك ٥.سرية غالب بن عبد الله الليثي ٦.سرية عبد الله بن رواحة إلى خيبر ٧.سرية بشير بن سعد الأنصاري إلى يمن وجبار ٨.سرية أبي حدرد الأسلمي إلى الغابة ٩.سرية ابن أبي العوجاء ١٠.سرية غالب بن عبد الله إلى مصاب أصحاب

بشير بن سعد بفدك ١١.سرية ذات أطلح ١٢.سرية ذات عرق إلى بني هوازن ١٣.سرية ذات السلاسل ١۴.سرية أبي قتادة إلى خضرة.

زمونږ پوښتنه دا ده چې طالبان به کوم ځاي کې په کافر ډز کوي ؟ په چا به جنگ کوي ؟

معلومه خبره ده، د مسلمانانو په خلاف به يې کوي.

دويم: د نبي عليه السلام صلح د مومنانو دفاع لپاره وه خو طالبانو د کفارو سره توافق په نتيجه کې د خلافت پر مومنانو جگړه شروع کړه. او دا د سولې مهم شرط و، لکه د امريکا وزير خارجه مايک پايمپيو کافر قطر کې طالبانو ته وايي، خپلې ژمنې به پوره کوئ او خلافت اسلامي ته ماتې ورکولو لپاره به جگړه جاري ساتئ :

Keep up the fight to defeat ISIS.....

او د امريکا بايلونکې ولسمشر ټرمپ ډير په غرور سره وايي، طالبان به ترهگر وژني :

They will be killing terrorist

کله چې طالبانو د خلافت په مقابل کې ناکامي حس کړه نو مجبورا يې "المدد يا أمريکا" په اصولو باندې عمل وکړو، زميني مرسته يې د

پاکستان، ایران، روس او چین ځخه اخستله، سي آئي ای، آي أیس آي او کی جي بي استخباراتي ادارو ورسره کومکونه وکړل، او له پاسه امریکایي طیارو او کروزونو ورته زمینه سازي کوله. او بریتونه دغه طالبانو تاوول. لکه دا حقیقت اوس نړۍ ته هم راڅرګند شو. لله الحمد. او نبي علیه السلام فرمایي:

عن علي رضي الله عنه قال رسول الله علیه وسلم:

" وَلاَ يُقْتَلُ مُسْلِمٌ بِكَافِرٍ " صحیح البخاري

ژباړه: مسلمان به د کافر په بدل نه وژل کیږي.

نو مسلمان به د کافر په بدل هم نه وژل کیږي، پاتې لا د امریکا، روسیه او چین په خیر غلیظو کافرو لپاره !!

او د مسلمان خلاف د کافر کومک کول په اجماع د امت سره کفر دی. مشهور ناقض د اسلام دی. "الثامن: مظاهرة المشركين ومعاونتهم على المسلمين".

الله جل جلاله فرمایي :


أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نَافَقُوا يَقُولُونَ لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا وَإِنْ قُوتِلْتُمْ لَنَنْصُرَنَّكُمْ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ. [سورة المنافقون: 11]

ژباړه: ته هغو کسانو ته نه ګورې چې د منافقت کړنلاره يې غوره کړېده؟ دوی خپلو کافرو اهل کتابو وروڼو ته وايي: "که تاسې ويستل شوئ، نو موږ به هم ستاسې سره ووځو؛ او ستاسې په باب به موږ د هيچا خبره هيڅکله ونه منو؛ او که ستاسې سره جنګ وکړای شو، نو موږ به ستاسې مرسته وکړو." خو الله شاهد دی چې دغه خلك خامخا درواغجنان دي.

نو ای طالبه! ته سوچ وکړه چې د مسلمانانو په خلاف کومک کولو درواغو لوظونو له امله الله رب العالمين دوی کافر وګرځول، او دوی يې د کافرو ورونه وبلل، نو ستاسو به څه حکم وي چې د مسلمانانو خلاف کافرو سره مو امنيتي او افرادي کومک وکړو ؟؟

دريم: طالبانو عرب مجاهدينو څخه هم بيزاري اعلان کړه. حتی د القاعده په نوم ډله چې دشيخ اسامه وينو سره يې غدر وکړو، او اوس د آي أيس آي څخه تمويليږي، او ځانونه د ننی مرتد امارت لښکر حسابوي، نن طالب له هغې څخه هم انکار کوي. هغه د شيخ اسامه ډالرې يې هم هيرې شوی.





دغه د عربو شهزاده خپل مالونه په چا مصرفول ؟ ټول يې پدغه امارتي سفهاءو مصرف کړل. خو طالبان نن د هغه په څير عرب مجاهدينو ته ځای نه لري، د هغه عربو شهزاده نړيوال جهادي فکر يې د قوميت تر حده محدود کړ، د هغه منهج يې خارجيت او افراط وبالو، ځکه خو امريکايانو سره تړون کې وايي:

د افغانستان اسلامي امارت چې متحده ايالتونه يې د دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم يې پېژني، به خپل هيڅ غړي او د القاعدې په

شمول هيڅ ډلې او يا فرد ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان له خاورې څخه د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ته ګواښ پېښ کړي.



د افغانستان اسلامي امارت
د فرهنګي چارو کمیسیون
د ویاند دفتر

شمار: ۳۱۹ ۱۴۴۲/۶/۱۴هـ ق

د امریکا د خزانې وزارت د راپور په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې

د امریکا د خزانې وزارت په یوه راپور کې راغلي چې په افغانستان کې د القاعدې تنظیم غړي شتون لري او ګواکې پیاوړي شوي دي.

موږ دغه راپور په کلکه ردوو، یاد راپور د غلطو معلوماتو په اساس د مغرضو او جنګ غوښتونکو کړیو لخوا برابرشوی دی.

له ۲۰۰۱م کال وروسته چې په افغانستان کې پراخه جګړه پیل شوه، او وربسې په ځینو عربي هېوادونو کې تحولات راغلل، د القاعدې تنظیم غړي او د نورو بهرنیو هیوادونو اتباع چې لا له وړاندې په افغانستان کې اوسیدل، بیرته خپلو هیوادونو ته ستانه شول.

اوس په افغانستان کې د القاعدې تنظیم هیڅ غړی شتون نه لري او نه هم دلته د نورو هیوادونو اتباعوته اړتیا شته چې وه اوسیږي.

متأسفانه ځینې کړۍ د خپلو منافعو او شومو اغراضو لپاره د ادا دول پروپاګند له لارې په افغان ولس د تپل شوي جنګ دوام، او په دې توګه د ذهنیتونو خرابول او بې ځایه تشویشونه اچول غواړي، د جنګ غوښتونکو افرادو اوجهتونو څخه جعلي راپورونه راټولوي او نورو مراجعوته یې لیږي.

موږ د دوحې د ترون په بشپړ ډول عملي کول د روانې ستونزې معقول حل او د افغانستان او امریکا د ملتونو په خیر او نفع بولو.

اسلامي امارت یوځل بیا ژمنه کوي چې د دوحې ترون ټولو محتویاتوته به متعهد پاتې کیږي، هیچاته به اجازه نه ورکوي چې د افغانستان له خاورې څخه د امریکا او د هغوی د متحدینو امنیت ته ګواښ پیښ کړي، یا دلته مراکز جوړ کړي.

اسلامي امارت په ډاګه کوي چې باید اړونده اړخونه د دوحې ترون او په هغه کې خپلو خپلو ذکر شویو مسئولیتونو ته ژمن پاتې شي.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی
۱۴۴۲/۶/۱۴هـ ق
۱۳۹۹/۱۱/۸هـ ش - 27/1/2021م

سنګرمیډیا sungermedia
5.2K subscribers

رسوو!
ان شاءالله
عزیـــزالله عزیـــراشنـــا, AM 6:02 1K

سنګرمیډیا sungermedia
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر: موږ له افغان
حکومت او افغان عسکرو خپل ملاتړ روان ساتو،
له هغوی سره مرستو ته دوام ورکوو.
عزیـــزالله عزیـــراشنـــا, AM 6:03 802

سنګرمیډیا sungermedia
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر: موږ به پر طالبانو
نظر وساتو، د هغوی له لوري شوې ژمنې به
وڅارو او هغوی ته به اجازه ورنکړو، چې القاعده
او نورو بهرنیو ډلو ته په افغانستان کې د فعالیت
زمینه برابره نکړي.
عزیـــزالله عزیـــراشنـــا, AM 6:03 805

سنګرمیډیا sungermedia
د امریکا دفاع وزیر:زموږ د پوځیانو د شتون له
برکته نن افغانان په کوڅو او لارو کې پولیس
لري، د ټاکنو له لارې خپل ولسمشر ټاکي او
نجونې ښوونځیو ته ځي.
عزیـــزالله عزیـــراشنـــا, AM 6:03 804

سنګرمیډیا sungermedia
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر: د کومو اهدافو

سنګرمیډیا sungermedia
5.2K subscribers

*طالبانو د ملګرو ملتونو د امنیت شورا وروستي
راپور ته توند غبرګون وښووده*

عزم یکشنبه ۵زمری، ۱۳۹۹):په داسې حال کې
چې تیره ورځ د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په
افغانستان کې د القاعده وسلوالې ډلې د سلګونو
غړو او مشرتابه د شتون ادعا وکړه، طالبانو یې
پر وړاندې تفصیلي غبرګون ښوودلی او ویلي یې
دي چې « د امنیت شورا غړي هیوادونه هم باید
په دې اړه د استخباراتي غلطو معلوماتو قرباني
نشي او د دښمنو او سولې مخالفو کړیو چې
په افغانستان کې د جګړې دوام او د امریکا او
متحدینو په جګړه کې ښکیل پاتې کیدل غواړي
ناسمو راپورونوته اهمیت ورنه کړی»
طالبانو د دغې شورا هغې ادعا ته چې ګواکې
په افغانستان کې له ۴۰۰ څخه تر ۶۰۰ پورې د
القاعدې اړوند بهرني اتباع لاهم شتون لري؛
ویلي، چې دا ادعا څکه حقیقت نه لري چې په
وینا یې «وروسته له هغه چې په افغانستان د
امریکا لخوا تجاوز وشو او لویه جګړه پیل شوه،
د بهرنیو مسلحو افرادو لپاره دلته د شتون او
اوسیدو امکان له منځه لاړ، او کله چې په عربي
هیوادونو کې ستر تحولات راغلل د القاعدې
اړوند افرادو لپاره پخپلو هېوادونو کې د امن
سیمې پیدا شوې او ټول زموږ له هیواد څخه
خپلو هیوادونو ته ستانه شول.»

سنګرمیډیا sungermedia
5.2K subscribers

کړه.

باید یادونه وشي چې اسلامي امارت د داعشي
فتنې په له منځه وړلو سره د مسلمانانو او
خصوصاً د افغانانو لپاره ډېر زیات اهداف او
موخې تر لاسه کړې، چې دلته یې په یوه مقاله
کې ځایول محال دي.
عزیزالله عزیر, PM 9:37 979

سنګرمیډیا sungermedia
زبیح الله مجاهد:
د توافقنامې پر اساس طالبان نه خپل ځان او نه
هم بل چاته اجازه ورکوي چې د افغانستان څخه
بهرنیو هیوادونو ته ضرر ورسوي..
القاعده تنظیم پخوا افغانستان کې ډیر حضور
د میلمنو په حیث درلود، خو د اشغال وروسته
القاعده والا د افغانستان څخه وتلي.خپلو
هیوادونو کې اوس په مبارزه اخته دي
عزیزالله عزیر, PM 9:46 1K

سنګرمیډیا sungermedia
زبیح الله مجاهد:
د کورونا په اړه د صحت کمیسون له لوري تدابیر
نیول سوي دي او عام پوهاوی پیل سوی دی،
وقایوي تدابیر نیول کیږي، د کورونا ناروغانو
لپاره هم آهنګي رامنځته سوې او ناورغان به تر
تشخیص وروسته مرکزي روغتونونو ته استول

سنګرمیډیا sungermedia
5.2K subscribers

څرګنده کړې، افغان شخړه پوځي حللاره نه لري
او طالبانو ته په کار ده چې له نورو افغانانو سره
یو ځای افغان ستونزه د خبرو له لارې حل کړي.
عزیـــزالله عزیـــراشنـــا, PM 9:40 897

سنګرمیډیا sungermedia
خلیلزاد:
طالبان ۱۹ کاله مخکیني طالبان نه دي

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي
زلمي خلیلزاد ویلي، نه افغانستان پخوانی
افغانستان دی او نه هم طالبان د پخوا په څېر
دي. نوموړي په خپلو تازه څرګندونو کې ویلي،
طالبان باید درک کړي چې افغانستان نوی شوی
دی. خلیلزاد ویلي، طالبانو پخوا له القاعده ډلې
سره همکاري درلوده خو اوس باید له هغوی سره
اړیکې ونه لري او د دوی تر واک لاندې سیمو کې
یادې ډلې ته د فعالیت اجازه ورنه کړي. خلیلزاد
څرګنده کړې، افغان شخړه پوځي حللاره نه لري
او طالبانو ته په کار ده چې له نورو افغانانو سره
یو ځای افغان ستونزه د خبرو له لارې حل کړي.
عزیـــزالله عزیـــراشنـــا, PM 9:43 887

سنګرمیډیا sungermedia
خبر
د بین الافغاني مذاکراتي تیمونو د تماس کمیټو
نن د ماښام د لمانځه وروسته ناسته سره درلوده،

د طالبانو به لا دا څنګه اسلامي نظام وي، چې عرب، چیچن، ترکي، یورپي او نور خارجي مجاهدینو لپاره به ځای او اجازه نه وي او افغانستان پورې مربوط هر کافر ته به پکې ځاي وي ؟

کله د طالبانو مشران دا دوکه کوي، چې مونږ ترون کې دا ویلي چې افغانستان کې القاعده ته فعالیت اجازت نه ورکوو، نور خو مونږ دا ندي ویلي چې مونږ القاعده څخه براءت کوو، نو د طالبانو ټول سیاست په منافقت روان دی، دلته وګورئ، همدا ذبیح جاهل د کفارو د دې تور په غبرګون کې چې ګویا طالبان القاعدې سره اړیکې لري، وایي مونږ دا راپور ردوو:



د افغانستان اسلامي امارت
د فرهنګي چارو کمیسیون
د ویاند دفتر

شمار: ۳۵۹

۱۴۴۲/۱۰/۲۲هـ ق

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د وروستي راپور په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا راپور خپور کړی چې ګنې د اسلامي امارت لخوا سولې ته لیوالتیا نشته او بل داچې له القاعدې تنظیم سره اړیکې پالي.

موږ دغه راپور ردوو، متأسفانه چې دغه راپور د دښمنو کړیو د ناسمو معلوماتو په اساس ترتیب شوی او د ملګرو ملتو د امنیت شورا له موقف څخه په کې سوء استفاده شوې.

د اسلامي امارت پالیسي داده چې هیچاته اجازه نه ورکوو چې زموږ خاوره د بل چا د امنیت پرخلاف استعمال کړي.

همدا ډول د اسلامي امارت استازي د بین الافغاني مذاکراتو میز ته بشپړ چمتو والی لري، ترڅو په مذاکراتو کې پرمختګ وشي او د دوحې د تړون ټول بندونه عملي کړل شي، خو متأسفانه مقابل جانب لا هم نه دی توانیدلی چې په دغه مهم تړون باندې عمل وکړي، مثلا د مې تر میاشتې پورې لاهم ټول بهرني ځواکونه له افغانستان څخه نه دي وتلي، د ملګرو ملتونو له تورو او جایزو لستونو څخه د اسلامي امارت د مشرانو نومونه نه دي حذف شوي، د بین الافغاني مذاکراتو د پرمختګ په لاره کې خنډونه اچول شوي او د بین الافغاني مذاکراتو له پیل څخه تر دریو میاشتو پورې د ټولو بندیانو د خلاصون موضوع هم له لانده حل شوې، چې ټول د دوحې له تړون څخه سرغړونې دي.

پورته مواردو ته په کتو څرګندیږي چې اسلامي امارت د دوحې د تړون په اساس عمل کړی، خو مقابل جانب خپله ژمنه نه ده پرځای کړې او تخطیاني یې کړي دي.

په داسې حال کې د امنیت شورا لخوا لاهم په اسلامي امارت تور پورې کول، بې انصافي ده، هغوی باید د قضې د یوه اړخ په مزاج خبرې ونه کړي، خپل معلومات دقیق کړي، د اسلامي امارت له استازو سره خپل تشویش له نیږې شریک کړي او د وضعیت د مکدر کیدو لپاره ناسم معلومات خپاره نه کړي.

په داسې یو طرفه راپورونو سره د ملګرو ملتونو د امنیت شورا یې پرېتوب تر پوښتنې لاندې راځي او په نړیوله سطحه یې اعتبار ته زیان رسیږي.

اسلامي امارت د سولې پروسې ته ژمن دی، خو که څوک له بهر څخه په افغانانو د خپلو اجنداوو تحمیل غواړي او یا د افغانستان د خپلواکۍ پرخلاف دریځ نیسي موږ یې په وړاندې دریږو او له خپل حق څخه دفاع خپل مشروع حق ګڼو.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی
۱۴۴۲/۱۰/۲۲هـ ق
۱۴۰۰/۳/۱۳هـ ش. 2021/6/3م

او د نبي علیه السلام عهد وګورئ، صلح حدیبیه کې یو بند دا دی:

من أحب أن يدخل في عقد محمد وعهده دخل فيه، ومن أحب أن يدخل في عقد قريش وعهدهم دخل فيه، وتعتبر القبيلة التي تنضم إلى أي الفريقين جزآ من ذلك الفريق.

ځوک چې د نبي علیه السلام په عقد کې ځان داخلوي نو د هغه جزء به ګڼل کیږي او که څوک د قریشو په عهد کې ځان داخلوي نو هغه به د دوی جزء وي. کومه قبیله چې هر فریق سره یوځای شوه، د هغه جزء به ګڼل کیږي.

د نبي علیه السلام صلح کې د جهان مجاهدینو او مسلمانانو ته اجازت و، خو طالبانو نظم کې د یو څو کسانو پرته نور اسلام او مسلمانانو ته امن نشته.

دا د دوحې تړون یو جمله ده:

طالبان به یو څرګند پیغام ولیږي چې هر هغه څوک چې متحده ایالتونو او د هغوی متحدینو ته امنیتي ګواښ پیښوي، په افغانستان کې ځای نه لري او د افغانستان اسلامي امارت چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پیژني او د طالبانو په نوم یې پیژني، به خپلو غړو ته لارښوونه وکړي چې له هغو ډلو او افرادو سره همکاري ونه کړي چې د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو امنیت ګواښي.

دا ورته صلیبي بادارانو ویلي و چې مهاجرین به نه پریږدئ نو ځکه یې لاندینۍ رسمي اعلان خپور کړ چې بهرني وګړو ته به پخپل سر ځای نه ورکوئ.



د افغانستان اسلامي امارت
ونظامي چارو کمېسیون
اداري رياست

نېټه: ۱/رجب المرجب/۱۴۴۲ هـ ق
13/02/2021ميلادي

ګڼه: ۴۴/جلد:۲

بسم الله الرحمن الرحيم

د ټولو ولايتونو مسؤلينو ته!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

وبعد: صحت او عافيت مو له الله جل جلاله څخه غوارو.

ټولو مسؤلينو او مجاهدينو ته هدايت دی چي هيڅوک نه شي کولای چي په خپل سر بهرنيو وګرو ته په خپلو صفونو کي ځای ورکړي، او يا يې له ځان سره يې وساتي. که هرچا داسي عمل تر سره کړ او تاسي (ولايتي مسؤلينو) ته يې معلومات وشو، نو له مسؤليت څخه يې ليري (معزول) کړئ، دلګی او ګروپ يې لغوه کړئ او د بعدي جزاء لپاره يې د نظامي چارو کمېسيون ته معرفي کړئ.

والسلام



خلورم: د نبي عليه السلام اوربندونه دايمي نه و، بلکې مؤقتي و. او طالبان په تړون کې څه وايي ؟

(٤- دايمي او هر اړخيز اوربند به د بين الافغاني ډيالوګ او مذاکراتو په اجنډا کې يوه موضوع وي.)

ملا برادر قطر کې وايي :

(او إسلامي امارت تعهد کړی چې د أفغانستان خاوره به د کوم هېواد د امنيت پر ضد نه استعمالېږي، چې دا په أفغانستان کې تلپاتې سولې ته عملي زمينه برابروي.)

جهاد به تر هغې پورې جاري وي چې تر څو کافر باقي وي، خو دوی د دغه سولې سره جهاد ته پای ټکي کيښودل غواړي، دايمي اوربند شريعت کې نشته. قريشو سره د حديبيې په مقام صلح کې نبي عليه السلام لس کاله اوربند کړي و.

عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، وَمَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ، «أَنَّهُمُ اصْطَلَحُوا عَلَى وَضْعِ الْحَرْبِ عَشْرَ سِنِينَ، يَأْمَنُ فِيهِنَّ النَّاسُ وَعَلَى أَنَّ بَيْنَنَا عَيْبَةً مَكْفُوفَةً، وَأَنَّهُ لَا إِسْلَالَ وَلَا إِغْلَالَ» سنن أبي داود وإسناده حسن.

مسور بن مخرمه او مروان بن الحکم وايي:

هغوی (د قریشو مشرکینو او مسلمانانو) لس کاله جنگ بندي باندې صلح وکړه، چې خلک به په امن وي، او پدې خبره چې زمونږ ترمنځ به په عهد باندې سالم زړونه وي، او غلا او خیانت به نه وي.

بل روایت د څلورو کالو هم راغلی:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: كَانَتِ «الْهُدْنَةُ بَيْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ أَهْلِ مَكَّةَ بِالْحُدَيْبِيَةِ أَرْبَعَ سِنِينَ» هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ ". [المستدرک علی الصحیحین للحاکم]

عبد الله بن عمر رضی الله عنهما وایی: نبي علیه السلام او د مکې والا ترمنځ د حدیبیه په مقام کې څلور کاله سوله وه.

خو حافظ ذهبي او حافظ ابن حجر وایي چې دا ضعیف دی.

د سولې انتهایي مودې په اړه د علماؤ ترمنځ اختلاف شته، لکه امام خطابي ذکر کړي، د سولې مودې په اړه مختلف اقوال دي:

١. لس کاله آخري موده ده.

٢. څلور کالو څخه زیات روا نده.

٣. درې کاله.

۴. دې لپاره حد ندی معلوم بلکې د امام فکر ته به پرېښودلی شي.

حافظ ابن حجر وايي:

"وَقَدِ اخْتَلَفَ الْعُلَمَاءُ فِي الْمُدَّةِ الَّتِي تَجُوزُ الْمُهَادَنَةُ فِيهَا مَعَ الْمُشْرِكِينَ فَقِيلَ لَا تُجَاوِزُ عَشْرَ سِنِينَ عَلَى مَا فِي هَذَا الْحَدِيثِ وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ وَالْجُمْهُورِ وَقِيلَ تَجُوزُ الزِّيَادَةُ وَقِيلَ لَا تُجَاوِزُ أَرْبَعَ سِنِينَ وَقِيلَ ثَلَاثًا وَقِيلَ سَنَتَيْنِ وَالْأَوَّلُ هُوَ الرَّاجِحُ وَاللَّهُ أَعْلَمُ." [فتح الباري]

ژباړه: علماؤ کرامو د مشرکانو سره سولې د جائز مودې په اړه اختلاف کړی، ويل شوي چې د لس کلونو څخه پورته روا نده لکه څنګه چې حديث کې دي، دا د امام شافعي او جمهورو قول دی، دويم دا ويل شوي چې زياته موده هم روا ده، بل قول دا چې د څلورو کالو څخه زياته روا نده، چا ويلي درې کاله او چا دوه کاله خو اول قول راجح دی، (لس کاله موده) نور الله خه پوهيږي.

شيخ الإسلام ابن تيمية وايي:

"بَابُ الْهُدْنَةِ، وَيَجُوزُ عَقْدُهَا مُطْلَقًا وَمُؤَقَّتًا وَالْمُؤَقَّتُ لَازِمٌ مِنْ الطَّرَفَيْنِ يَجِبُ الْوَفَاءُ بِهِ مَا لَمْ يَنْقُضْهُ الْعَدُوُّ وَلَا يُنْقَضُ بِمُجَرَّدِ خَوْفِ الْخِيَانَةِ فِي أَظْهَرِ

قَوْلَيْ الْعُلَمَاءِ، وَأَمَّا الْمُطْلَقُ فَهُوَ عَقْدٌ جَائِزٌ يَعْمَلُ الْإِمَامُ فِيهِ بِالْمَصْلَحَةِ."
[الفتاوى الكبرى ج 5 / ص 542]

ژباړه: د سولې په اړه باب، د سولې تړون مطلق يعنې بغير د قيد څخه او تر يوې نيټې پورې جائز دی، په دواړو خواو وفا کول لازم دي، تر څو چې يې دښمن مات نه کړي، او د علماؤ صحيح قول مطابق، تش د خيانت له ډاره هم دا تړون نه ماتيږي، او هر چې مطلق دی، نو دا تړون به امام د مصلحت پر بناء تړي.

امام ابن المنذر د بعضې علماؤ څخه ذکر کړي:

"لَا يَجُوزُ مُهَادَنَتُهُمْ إِلَى غَيْرِ مُدَّةٍ، لِأَنَّ ذَلِكَ يُوجِبُ الْكَفَّ عَنْهُمْ عَلَى الْأَبَدِ، وَلَا يَجُوزُ ذَلِكَ، لِأَنَّ قِتَالَهُمْ مَتَى قُدِرَ عَلَيْهِ يَجِبُ إِذَا كَانُوا أَهْلَ أَوْثَانٍ حَتَّى يُسْلِمُوا، وَقِتَالُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَجِبُ حَتَّى يُسْلِمُوا، أَوْ يُؤَدُّوا الْجِزْيَةَ، وَإِذَا هَادَنَهُمْ عَلَى غَيْرِ مُدَّةٍ، كَانَ ذَلِكَ عَقْدًا خِلَافَ ظَاهِرِ كِتَابِ اللهِ، وَذَلِكَ مَرْدُودٌ لِأَنَّ اللهَ أَمَرَ بِقِتَالِ الْمُشْرِكِينَ، وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَعْقِدَ عَقْدًا خِلَافَ أَمْرِ اللهِ. "

[الأوسط في السنن والإجماع والاختلاف ١١ ج / ص ٣١١]

ژباړه: تر نامعلومې نیټې اوربند ناروا دی، ځکه دا د ابد لپاره له هغوی ـ څخه لاس نیول دي، او دا جائز ندي. ځکه د هغوی په جنګ چې کله هم بر لاسي شو نو واجب دی، کله چې هغوی د بتانو عبادت کونکي وي (اهل کتاب نه وي) تر دې چې اسلام راوړي، او د اهل کتابو جنګ هم تر هغه واجب دی چې اسلام راوړي، یا جزیه ورکړي، او کچیرې نامعلومه مودې باندې سوله وکړي، نو دا تړون د الله د کتاب د ظاهر خلاف دی، او باطل دی، ځکه الله تعالی د مشرکانو په جنګ امر کړی، او د الله د حکم خلاف تړون ناروا دی.

دغه رنګ خبره علامه ابن قدامه هم کړی چې ابدي سوله ناروا ده.

راجح قول په اتفاق د علماؤ سره دا دی چې هر اړخیز او دایمي اوربند په شریعت کې جواز نه لري، مطلق اوربندونو خبره هم علماؤ کړی خو دایمي چې د ابد لپاره وي، پدې باندې د علماؤ اتفاق دی چې دا ناروا دی او د طالبانو اوربند دایمي دی.

پنځم: طالبان نن سبا افغان حکومت سره سوله کوي، لکه د تړون متن کې امریکایان وایي:

د افغانستان اسلامي امارت چې متحده ایالتونه یې د دولت په توګه نه پېژني او د طالبانو په نوم یې پېژني، له افغاني جهتونو سره په ۲۰/حوت/۱۳۹۸ تاریخ بین الافغاني مذاکرات پیل کړي.

پوښتنه دا ده چې آیا مرتد سره سوله کیږي ؟

مرتد سره سوله په اسلام کې نشته. اجماع د صحابه وو وګورئ، دا خبره چې مرتد ذو شوكة په حکم د کافر اصلي کې وي، نو صحیح نده، ځکه اجماع د صحابه وو دا ده: طلحه بن خویلد الأسدي د نبوت دعوه کړې وه، خپل قوم یې تابعداري وکړه، خالد بن الولید رضي الله عنه ورسره جنګ وکړ، کله چې هغه د مسیلمة الکذاب څخه فارغ شو، نتیجه کې مسلمانانو ته الله عزوجل بریا ورکړه، نو دغه د بزاخه قوم ابو بکر رضي الله عنه ته وفد راولیږه، او د تسلیمیدو خبره یې وکړه.

اصل د دې حدیث په صحیح البخاري باب الاستخلاف کې دی خو دې نورو کتابونه تفصیلا راوړی.

عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَاب قَالَ: لَمَّا صَالَحَ أَبُو بَكْرٍ أَهْلَ الرِّدَّةِ (وفي رواية وَفْدُ بُزَاخَةَ مِنْ أَسَدٍ وَغَطَفَانَ) صَالَحَهُمْ (وفي رواية يَسْأَلُونَهُ الصُّلْحَ) عَلَى حَرْبِ مُجْلِيَة، أَوْ سِلْم مُخْزِيَة قَالَ: قَدْ عَرَفْنَا الْحَرْبَ الْمُجْلِيَةَ فَمَا السَّلْمُ الْمُخْزِيَةُ؟ قَالَ: «تَشْهَدُونَ أَنَّ قَتْلَانَا فِي الْجَنَّةِ، وَأَنَّ قَتْلَاكُمْ فِي النَّارِ، وَأَنْ تَدُوا قَتْلَانَا،

وَلَا نَدِي قَتْلَاكُمْ، وَإِنَّ مَا أَصَبْنَا مِنْكُمْ، فَهُوَ لَنَا وَمَا أَصَبْتُمْ مِنَّا رَدَدْتُمُوهُ إِلَى أَهْلِهِ» [مصنف ابن أبي شيبة، السنن الكبرى للبيهقي، فضائل الصحابة ج ٢/ ص ٨٩٣ واللفظ له]

ژباړه: کله چې ابو بکر رضي الله عنه مرتدينو سره سوله وکړه (بل روايت کې راځي چې د اسد او غطفان قبيلې څخه د بزاخه وفد و او هغوی سوله غوښتله)، نو ابو بکر رضي الله عنه ورته د سخت جنګ خبره وکړه (چې د مرتدينو ټول مالونه به پکې ختم شي، يا هغه جنګ چې د سختوالي له امله خلک تت وپرک کړي) او يا هغه شرمونکې سوله يې ورته وړاندې کړه. هغوی وويل مونږ خو دغه سخت جنګ پيژنو خو دا شرمونکې سوله څنګه وي ؟ ابو بکر ورته وفرمايل: تاسې به دا ګواهي ورکوئ چې زمونږ (د مسلمانانو) مړي په جنت کې دي او ستاسې مړي (مرتدين) په جهنم کې دي، او تاسې به زمونږ د شهيدانو ديت راکوئ او مونږ به يې نه درکوو، او له تاسې چې مونږ کوم غنيمت نيولی هغه به زمونږ وي او تاسې چې له مونږ کوم مالونه نيولي هغه به بيرته خپلو مالکانو ته سپارئ.

بل روايت کې ورسره دا زيادت هم دی:

"تُؤَدُّونَ الْحَلْقَةَ وَالْكُرَاعَ , وَتترْكُونَ أَقْوَامًا تَتَّبِعُونَ أَذْنَابَ الْإِبِلِ حَتَّى يُرِيَ اللهُ خَلِيفَةَ نَبِيِّهِ وَالْمُسْلِمِينَ أَمْرًا يَعْذِرُونَكُمْ بِهِ، قَالَ: فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: قَدْ رَأَيْتَ رَأْيًا وَسَنُشِيرُ عَلَيْكَ , أَمَّا أَنْ يُؤَدُّوا الْحَلْقَةَ وَالْكُرَاعَ فَنِعِمَّا رَأَيْتَ , وَأَمَّا أَنْ يَترُكُوا قَوْمًا يَتَّبِعُونَ أَذْنَابَ الْإِبِلِ حَتَّى يُرِيَ اللهُ خَلِيفَةَ نَبِيِّهِ وَالْمُسْلِمِينَ أَمْرًا يَعْذِرُونَهُمْ بِهِ فَنِعِمَّا رَأَيْتَ , وَأَمَّا أَنْ نَغْنَمَ مَا أَصَبْنَا مِنْهُمْ وَيَرُدُّونَ مَا أَصَابُوا مِنَّا فَنِعِمَّا رَأَيْتَ , وَأَمَّا أَنَّ قَتْلَاهُمْ فِي النَّارِ وَقَتْلَانَا فِي الْجَنَّةِ فَنِعِمَّا رَأَيْتَ , وَأَمَّا أَنْ يَدُوا قَتْلَانَا فَلَا , قَتْلَانَا قُتِلُوا عَلَى أَمْرِ اللهِ فَلَا دِيَاتَ لَهُمْ , فَتَتَابَعَ النَّاسُ عَلَى ذَلِكَ." [السنن الكبرى للبيهقي، ومصنف ابن أبي شيبة]

ژباړه: تاسې به اسلحه او اسونه سپارئ، او تاسې به پرېښودلی شئ چې د اوښانو لکیو پسې ګرځئ تر دې چې د نبي علیه السلام خلیفه او مسلمانان له تاسې څخه داسې کار ووینې چې تاسې معذوره وګڼي. عمر رضي الله عنه ورته وويل: تا خپل نظر وړاندې کړ او مونږ به درته مشوره درکړو، هر چې د اسلحه او اسونو سپارل دي، دا ستا خه خبره ده، او هر چې د دې خلکو اوښانو لکیو پسې کیدل دي، تر دې چې د نبي علیه السلام خلیفه او مسلمانانو ته داسې یو کار ښکاره شي چې دوی معذوره وګڼي، نو دا هم ستا ښایسته خبره ده، او دا خبره چې مونږ د دوی مالونه غنیمت کړو او هغوی به زمونږ مالونه راګرځوي نو دا دې هم خه خبره

ده، او هر چې دا خبره ده چې زمونږ شهیدان په جنت کې دي او د دوی مړي په جهنم کې نو دا دې هم خه خبره ده، خو هر چې زمونږ د شهیدانو دیت دی نو دا اخستل مناسب دي، ځکه هغوی د الله په حکم شهیدان شوي، او دیتونه یې نشته، ټولو خلکو د عمر رضي الله عنه د خبرې موافقت وکړو.

دا اجماع د صحابه وو ده، ټولو اتفاق وکړو. لهذا اجماع د صحابه وو سره دا ثابته شوه چې مرتد سره به سوله په یو څو خبرو کیږي:

١. دا گواهي به کوئ چې ستاسو ټول مړي مرداران دي او جهنم ته تللي.

٢. دا گواهئ به کوئ چې د مجاهدینو ټول شهداء جنتیان دي.

٣. کوم مال چې ترې مجاهدین نیولې هغه به غنیمت وي.

۴. کوم مال چې تاسې د مجاهدینو څخه نیولې هغه به بیرته واپس کوئ.

۵. ټوله اسلحه او اسونه به بیت المال ته ورکوئ.

حافظ ابن حجر وایي:

"أَنْ لَا يَبْقَى لَهُمْ شَوْكَةٌ لِيَأْمَنَ النَّاسُ مِنْ جِهَتِهِمْ." [فتح الباري]

ژباړه: چې هيڅ قوت يې پاتې نشي دې لپاره چې خلک ترې په امن شي.

٦. د باندچيانو په څير اوښانو لکېو پسې به ذليله گرځئ تر دې چې مجاهدينو ته ستاسې صدق د توبې معلوم شي، او تاسو معذوره وگڼې مطلب تر دې وخت پورې به تاسو ته هيڅ عزت او منصب وغيره نه ميلاويږي.

امام ابن بطال وايي:

"وَالَّذِي يَظْهَرُ أَنَّ الْمُرَادَ بِالْغَايَةِ الَّتِي أَنْظَرَهُمْ إِلَيْهَا أَنْ تَظْهَرَ تَوْبَتُهُمْ وَصَلَاحُهُمْ بِحُسْنِ إِسْلَامِهِمْ." [فتح الباري لابن حجر]

ژباړه: ظاهره دا ده چې دغه موده يې ورته ځکه وټاکله چې د دوی توبه ښکاره شي او د صحيح اسلام کره والی يې معلوم شي.

د دې حديث نه دا فائده هم راوځي چې په اجماع د صحابه وو سره د مرتدينو مشران او کشران ټول د ارتداد په حکم کې شريک دي، حتی چې ټولو پرې د جهنم گواهي هم ورکړه.

طالبه واوره دا ده د مرتد سره سولې کولو په اړه شرعي اصول، ته نن کوم خوا روان يې ؟ بين الأفغاني مذاکرات چې کوی آيا دا اصول او شرائط دي په کابل اداري اينبې دي ؟

آيا اشرف غني او دې نورو مرتدينو خپل ردت منلی، او توبه يې تري ويستلی؟

آيا دوی دا منلی چې د دوی ټول سربازان مرداران دي او جهنم ته تلي؟

آيا دوی ټوله اسلحه او امکانات د مسلمانانو بيت المال ته جمع کړی؟

آيا د دوی د توبې صدق مسلمانانو ته ښکاره شوی ؟

جواب يقينا منفی دی نو څنګه ته نن د صحابه وو اجماع څخه خلاف کوی؟

خو په ستايي د شرعيت سره څه ، ته خو دغه مرتدين خپل ورونه ګڼې ، او لنډه دا چې ستا ارتداد خو د کابل د اداري له مرتدينو څو چنده غليظ دي.

افسوس چې نن طالب د نبي عليه السلام دا ارشادات هير کړل:

"فَعَلَيْكُمْ بِمَا عَرَفْتُمْ مِنْ سُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ، عَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ." رواه ابن ماجة.

ژباړه: تاسې چې زما كوم سنت (لار) او د خلفاء راشدينو چې هدايت ورته شوي دى كوم سنتونه (لارې) پېژنئ هغه لازم ونيسئ او په غاښونو يې مضبوطې راټينګې كړئ.

خو چې طالب خپله مرتد دى نو خامخا د استتابت پرځاي به كابل ادارې چارواكو ته د مذاكراتو په ميز ورونه وايي، بله لار نه لري.

بين الأفغاني، هغه افغان حكومت چې مرتد حكومت دى، تر ننه ورسره طالبانو جګړه كوله، نن د واک لپاره ورسره خبرې سترګې مخامخ ناست دي، او په شريكه د نوي نظام لپاره خبرې كوي. نو هغوى خو اسلام نه دى راوړى چې تاسو ورسره خبرې كوئ، معلوميږي تاسو ورته وراوړيدلي ياست. آيا نبي عليه السلام د مكې مشركانو سره په ګډه نظام جوړولو لپاره خبرې كړي، ځكه كه دا افغانان وي، نو هغه خو هم د نبي عليه السلام كليوال وو ؟؟ د كابل اداره اګر كه هسې د اسلام دعوه لري، خو مونږ مخكې ووېل چې كلک مرتد دي.

شپږم: د سولې په نوم امريكا طالبان ډيموكراسۍ ته ورننباسي، ځكه كميونستان، خلقيان، پرچميان، حزبيان، اخوانيان، روافض او نور ډيموكراتان او طالبان به په شريكه نظام جوړوي، او همدا د جمهوريت هدف دى او همدا يې مفهوم دى.

او دموکراسي کفر دی، ارتداد دی، دموکراسي او جمهوريت کې نظام د بندګانو وي، او شريعت کې د قانون واک د الله رب العالمين وي، بندګان پکې نه شريکوي.

{فَالْحُكْمُ لِلَّهِ الْعَلِيِّ الْكَبِيرِ} [غافر: 12]

ژباړه: د فيصلې واک د اوچت او لوي الله په لاس کې دی.

دموکراسي خو د نصرانيت، يهوديت او مجوسيت پشان يو مستقل دين دی، دا خو مونږ ته رب ندی راليږلې، مونږ ته خو يې اسلام راليږلې. د اسلام پرته بل دين خو الله عزوجل نه قبلوي.

او د نبي عليه السلام صلحه هيڅکله داسې نه وه. نبي عليه السلام خپل نظام او قانون کې چا لپاره تغيير ندی راوستې، قريشو ته يې برخه نده ورکړې. مدينه کې عمومي واک د نبي عليه السلام و، د الاهي قانون مطابق يې پريکړې کولی.

او طالبان تړون کې وايي:

د افغانستان اسلامي امارت چې متحده اياالتونه يې د دولت په توګه نه پيژني او د طالبانو په نوم يې پيژني، مسئوليتونه په هغو سيمو کې وي چې د دوی تر ولکې لاندې دي، تر هغو چې د بين الافغاني ډيالوګ او

مذاكراتو له لارې تر جوړجاړي وروسته نوی افغان اسلامي حکومت جوړ شي.

برادر وايي:

د خارجي لاسونو پرته په داسې افغان شموله خپلواک نوي اسلامي نظام توافق وشي چې د اسلامي او افغاني ارزښتونو څرګندوی وي؛ ځکه چې خپلواک اسلامي نظام د هيواد د هر ډول پرمختګ، اسلامي عدالت او ملي يووالي ضامن دی.

او ترون کې دا هم وايي:


(متحده ايالتونه به د بين الافغاني ډيالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړ جاړي وروسته د نوي افغان اسلامي حکومت لپاره د بيارغولو اقتصادي مرستې وغواړي او په کورنيو چارو کې به يې لاسوهنه نه کوي.)

څه لاس وهنه به وکړي، هغوی ته پته ده چې داسې حکومت به جوړيږي لکه اوسني افغان حکومت، همدغه رنګه د اسلام يو څو ظاهري شرائع به پکې آزاد وي او نور واک به ټول د پاکستان او امريکا په لاس کې وي ......!!

" نوي افغان اسلامي حکومت " (!) دا اصطلاح خو معروفه او مشهوره ده دغه اسلام ټکي خو د افغانستان حکومت هم ځان سره لګولې، دا خو اوس هم موجود دی، همدا رنګه پاکستان هم لګولې، د ایران پشان شیعه ګانو او د آل سلول پشان د امریکا غلامانو هم لګولې، چې د امریکا په خوښه اسلام وي نو دا به کوم اسلام وي ؟

د نبي علیه السلام د سولې تړون له امله نظام کې قریشو ته هیڅ واک نه و ورکړل شوی، هیڅ اختیار یې نه درلود، دطالبانو خو پدې کې جنجال دی چې افغانستان کې به کوم نظام نافذوو، سیکولر اسلام غواړي، چې جهاد پکې نه وي، جزیه، وینځه جوړول پکې نه وي، وطنیت، قومیت، جمهوریت، د ښځو حقوق، د بشر حقوق، د بیان آزادي په نوم کفریات پکې خه آزاد وي، بین الملل قوانینو ته رجع کیږي، د هغه هر فرمان به منل کیږي، کفارو سره به موالات کیږی، سفیرانو په نوم د جاسوسی پوره عمله به دلته وي، زنانه وو ته به د مخلوط کار اجازه وي.

اووم: دا سوله د قانون وضع کولو پر بنسټ ولاړه ده. چې دا صریح کفر دی. څنګه نن طالبان او افغان حکومت په ګډه نوی اساسي قانون جوړوي.



آزاد افغانستان کې بیا نوی اساسي قانون جوړوي.

سره د دې چې دا خو شرک في الحکم دی.

{أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ} [الأعراف: 54]

ژباړه: خبردار اوسئ! خاص الله لره پیدا کول دي او د هماغه واک دی.

{وَلَا يُشْرِكُ فِي حُكْمِهِ أَحَدًا} [الكهف: 26]

او الله عزوجل خپل د پریکړې واک کې هیڅوک نه شریکوي.

نظام او قانون به د الله رب العالمین وي، د الله نظام مقابل کې بل قانون جوړول په اجماع د امت سره کفر دی. مخکې په نواقضو کې د دې وضاحت تیر شو.

عجیبه دا ده چې امریکا ولې حمله وکړه او ولې اوس درسره مذاکرات کوي، حمله یې ځکه وکړه چې تاسې هغه وخت د اسلام نوم اخسته او داسې خلک درکې موجود وو، چې ټول قوانین د بین الملل یې نه منل، او نن مذاکرات یې ځکه درسره شروع کړل چې د شریعت په نوم چې کومه لشه وه هغه یې درنه وویستله.

طالبانو خپله دا خبر خپور کړ، چې د امریکا ولسمشر جوبایډن وایي:

مونږ هدف ته رسیدلي یو، د دفاع وزیر هم دا خبره کوي او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن هم وایي: پر امریکا تر برید شل کاله وروسته یې په افغانستان خپل اهداف ترلاسه کړل او اوس د دې وخت دی چې خپل سرتیري کورونو ستانه کړي.

دا کومې خبرې چې نن تاسو ومنلې که دا مو په هغه کال ۲۰۰۱ میلادي کې منلې وای نو نن به هم ستاسو حکومت پاتې وای، ځکه هغه وخت

هم امريكا ملا محمد عمر ته ويل چې ستا حکومت په بين الأقوامي اصولو برابر ندی، دا د استاذ یاسر د خولې اقرار دی. خو نن چې کله تاسو د غیرت او ایمان جامې وویستلې نو ځکه مو ځان د بین الملل قوانینو سره برابر کړ.

ستانکزی وايي :

که اکثریت د افغانانو په جمهوریت راضي کیږي نو مونږ ورته تیار یو.

انتخاباتو نظام مني. نن سبا چې د طالبانو نه عام ژورنالیستان د انتخاباتو مطالبه کوي، ورته وايي چې تاسې د اولس د حمایې دعوه لرئ نو انتخابات وکړئ، نو طالبان ورته جواب کې وايي:


چې مونږ داسې انتخابات نه غواړو چې برخه لیک یې خارج کې ټاکل کیږي، او پایله یې دوه ولسمشران وي. سبحان الله! داسې نه وايي چې انتخابات کفر دی، شرک دي، بلکې دا نور علتونه ورله بیانوي، معنا دا چې برخه لیک یې دلته ټاکل کیږي، او پایله یې یو اولس مشر وي نو بیا ورته تیار دي.

آیا نبي علیه السلام قریشو سره انتخابات کړي وو ؟

اتم: د طالبانو سوله د خليلزاد پاکستان سفر څخه وروسته پيل شوه، او د پاکستان جنرال قمر باجوه موافقې څخه وروسته پيل شوه. او نبي عليه السلام صلحه خپله د مسلمانانو دخود مختاره قائدينو په لاس وشوه. له هيڅ يو کافر تر تاثير او فشار لاندې نه وه.



نهم: طالبانو صلح سره کفارو د دوی په منطقو کې د عام اولس گمراه کولو په موخه د سيکولرزم ودې لپاره ۴۰۰۰ سيکولر مکتبونه منظور کړل خو نبي عليه السلام خپلو ملگرو گمراه کيدو لپاره هيڅ يوه خبره د کفارو ونه منله.



-

طالبان د کابل اداري کفري مکتبونو، د معارف اړوند تعمیراتو، گودامونو، معلمانو، معارف مسؤولینو، مفتشینو او ناظرینو ساتنې ډاډ ورکوي، د معارف لخوا مقرر شوي نصابي کتابونو انتقال، د خیریه مؤسساتو موادو

ساتنې په شمول نور زيات شمير مادو ورسره توافقنامې لاسليک کوي.
لکه د هلمند ولايت توافقنامه په لاندې ډول ده:



د افغانستان اسلامي امارت

د تعليم او تربيې کمېسيون

نېټه: ۲۷/جمادي الاول/۱۴۳۹ هـ ق — مسلسله شماره (۲۵۱)

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ ﴾

تــــوافـــــقـــــنـــــامــــه

د افغانستان اسلامي امارت د **تعليم او تربيې کمېسيون د نماينده ګانو** او د **هلمند ولايت د معارف د استازي** تر منځ پر لاندې مادو موافقه وسوه او جانبين يې په اجراء مکلف دي:

اوله ماده: مدارس، مکاتب، د معارف اداري تعميرات او ګدامونه ملي ملکيت او شتمني ده، امارت يې ساتنه خپل فرضيت ګڼي، او د پوهنې الله ج پېژندنې د خپرولو اوترقۍ لپاره به شپه او ورځ کار کوي. او د تعليم د فرضيت په اړه به د مساجدو امامان په وعظ مکلف کوي.

دوهمه ماده: د معارف رياست دی د هرې ولسوالۍ د معارف مسولين ،مفتشين (ناظرين) او د تعليمي مراکزو ټول ناظمين خپلو مربوطه ولسواليو ته راولېږي، امارت يې په حفاظت او حمايت مکلف دی.

دريمه ماده: د تعليم او تربيې د رياست او وزارت ولايتي او مرکزي کارکوونکي او ناظرين په کامل اطمينان سره د امارت تر حاکميت لاندې مناطقو ته سفر او نظارت کولای سي، البته په مرکزي سطح د هيئت د راتګ څخه به قبلا د امارت د معارف مسولين په جريان کښي کوي.

څلورمه ماده: د معارف وزارت او رياست د مدارسو او مکاتبو لپاره د ننۍ او پرون په ډول هر ډول تعميراتي کارونه تر سره کولای سي او د امارت هيڅ نظامي او ملکي مسولين به يې مزاحمت نه کوي.

پنځمه ماده: د معارف رياست کارکوونکي به د نن څخه فورا د ټولو بندو مدارسو او مکاتبو د بيا فعال کولو لپاره جدي ګامونه اخلي، په هره منطقه کښي چې هر ملکي کس يا نظامي مسول خنډ پيښوي په ګوته او د شريعت مطابق به په سزا ورسېږي.

شپږمه ماده: د معارف مسولين به د هغو مناطقو لپاره چې مدارسو او مکاتبو ته رسيدګي نه سي کولای مکلف دي چې هغوی ته الحاقيه تعليمي مراکز او يا هم محلي صنوف تاسيس کړي.

اوومه ماده: امارت اطمينان ورکوي چې د معارف ټول غصب سوي ملکيتونه به د غاصبينو څخه خلاص او تاسو ته وسپاري، خو د املاکو تاييد سوي نقشې او اسناد به قبلا اماده کوئ او د معارف مسولين به يې له خان سره راوړي.

اتمه ماده: د مدارسو او مکاتبو لپاره د معارف تدريسي نصاب کتابونه، قرطاسيه او د همکارو موسساتو لخوا د متعلمينو سره مرسته کېدونکي ارتزاقي مواد په کامل اطمينان سره رانقل کولای سي، د ستونزې په وخت کې فورا د امارت مسولين په جريان کې کړئ.

نهمه ماده: جانبين به د معارف د ټولو مشکلاتو او موانعو د رفع کولو لپاره د هماهنګۍ متواتر جلسات دايروي او د معارف استازي به د هر ډول خوف او ترس څخه پرته په داده زړه راځي او مشکلات به شريک کوي.

لسمه ماده: هغه ښوونکي/سر ښوونکي/مديران او امرين چې د غفلت په وجه دندې ته حاضر نه سي، موږ يې غيرحاضر کوو، او معارف به د هغوی د غيرحاضرو ورځو معاش نه حواله کوي. تر څو لا ښه د وظايفو پابند سي.

پورته لس موارد تر ډېر جر او بحث وروسته تصويب او لازم الاجراء دي، هر جانب به په کامل اخلاص سره هغه تطبيق کوي.

د ښوونې او روزنې کمېسيون نماينده ګان — **د معارف استازي محمدداود افغان او مل هيئت**

د ښوونې مرستيال سعادت
رياست معاون قاري مسلم
۱۴۳۹-۵-۲۷

چې دا د مسلمانانو نوي نسل گمراه کولو لپاره ستر پلان دی، د کفارو مهم هدف دی، خو طالبانو ورسره په خوشالۍ ومانه .

لسم: سوله به د خليفة المسلمين په اجازه او د ضرورت حس کولو وروسته کيږي.

او د طالبانو هبت الله اخند زاده کې د خليفه مرکزي ټول شرائط مفقود دي. لکه اسلام پکې نشته، قريشي ندی، شرعي سياست باندې نه پوهيږي ځکه يې غربي کفري سياست ته لاس اچولې، په مصالحو د دين باندې نه پوهيږي، ځکه مسلمانانو کې تفرقه راوستلو لپاره تعصبي بيانات کوي، د سلفي او حنفي په نوم اختلافاتو ته لمن وهي، په واک کې حُر ندی، بلکې ټول واک يې د آي أيس آي په لاس کې دی. شرعي علم نه لري، د عقل هيڅ کومه کارنامه يې مونږ ونه کتله، د آي أيس آي په زور ټاکل شوی، خلاف کونکي يې د پاکستان استخباراتو زندانونو ته اچولي.

خپل عسکر يې په امريکايانو خرڅ کړل، له عقيدې څخه هيڅ خبر ندی، کفر بالطاغوت نه پيژني، مرتد سره تعامل څخه خبر نه دی، د سولې او موالاتو ترمنځ فرق نشي کولې، اسلام او ارتداد نشي بيلولی، د جمهوريت په معنا نه پوهيږي، او داسې نور گڼ شمير اسباب دي چې له امله يې

هبت الله هيڅ کله د مسلمانانو رهبر نشي کیدای، رهبر لا پریږده، اول دي د خپل ایمان غم وکړي.

نو بیا څنګه د هغه په خوښه سوله روا ده ؟

یولسم: د نبي علیه السلام سوله د یو حلیف په قتل باندې ختمه شوه، د قریشو امداد کول د بنو بکر سره د خزاعه خلاف د فتح د مکې سبب وګرځید، نبي علیه السلام خپلې لښکرې په مکه ورواچولې او د خپل حلیف انتقام لپاره یې د فتح مکې غزوه وکړه، دغه رنګ بنو قینقاع چې تر ټولو زړور یهود وو، مدینه کې ورسره اوسیدل، تر اوسه نبي علیه السلام په هغوی اقدام نه و کړی ، چې د یوې زنانه بې عزتي یې وکړه، نو نبي علیه السلام پرې اقدام وکړ او هغوی یې محاصره کړل او آخر یې له مدینې څخه وشړل. اګر که تر دې وخت پورې کومه رسمي سوله نه وه، خو په یو بل لا تعارض نه و شروع شوې.

د قینقاع جنګ واقعه هم محققینو ضعیفه کړې، اګر که حافظ ابن حجر ورته حسن ویلي، خو خپله یې یو راوي ضعیف کړی. نو دا د دې څخه استدلال به علی فرض صحته وي. او نبي علیه السلام خامخا دا کار کوو، ځکه چې د خزاعه لپاره یې په مکه جنګ وکړو، نو د یوې مسلمانې خور لور لپاره یې هم د دغه جعلي معاهدو څه پروا نه ساتله.

د امریکا متحده ایالتونو سره د مسلمانانو بې شمیره پیغلې بندیانې دي، عافیه صدیقیه په شمول سلګونو عرب او نورې مهاجرې خویندې ورسره د اسارت شپې تیروي ،خو د طالبانو پروا هم نشته، بې غمه ورسره د سولې تړونونه امضاء کوي، نو د مسلمانانو پیغلو د بې عزتۍ په وخت دغه کفارو سره سوله روا نده.

ملا داد الله وايي:

چې زمونږ خویندې وروڼه دي کفارو سره په زندانو کې بندیانې وي، سیمې مو اشغال وي او څوک چې امریکا سره خبرې کوي نو دا به غدار او خائن وي، نو څه مو فکر دی، نن د طالب ټول مشران خائنان او غداران نه دي؟

دولسم: نبي علیه السلام څخه اجتماعي سوله نده ثابت، خو طالبانو د نړۍ ټولو کفارو او مرتدو سره د صلح په نوم مذاکرات روان کړي دي.

ګاونډیان : پاکستان، ایران، هند، تاجکستان، اوزبکستان وغیره. د امریکا متحده ایالتونه او د هغې متحدینو ته امن شو، او ډز بندي شوه. سعودي، مصر، عراق، شام، یمن وغیره ملکونو سره جنګ نه کوي. یورپي ټولنه هم د امریکا متحدین دي، هغې سره به سوله شي. د اسرایل یهودو سره جنګ نه کوي، روس سره خو هسې هم جنګ نه کوي، هغه خو تر

اوسه اکمال کړی دي، د خلافت خلاف يي پريمانه اسلحې ورکړي، د ماسکو په بندو کوټو کې يې مجلسونه وکړل، ملا برادر وضاحت سره د امارت موقف بيانوي:

او إسلامي امارت تعهد کړی چې د أفغانستان خاوره به د کوم هېواد د امنيت پر ضد نه استعمالېږي، چې دا په أفغانستان کې تلپاتې سولې ته عملي زمينه برابروي.

داسې کمزوری خبره يې هم نده کړی، بلکې دغه کفارو سره يې تعهد کړی.

نبي عليه السلام په يو وخت کې اجتماعي لسگونو کافرو بلکې د نړی ټولو کافرو سره سوله نده کړې. داسې نبي عليه السلام ندي کړي چې د مکې مشرکانو سره يې سوله کړي وي، دغه رنگ يهوديانو سره يې هم سوله کړي وي، د نجد قبائلو سره، فارس سره، روميانو سره دې ټولو سره دې په يو وخت سوله وي.

ديارلسم: نبي عليه السلام د کفارو لپاره ارضي ملکيت ونه مانه، ځکه دا د الله عزوجل حق دی، خو طالبان د بين الملل د ځمکو ويش مني، ځکه خپل ټول فعاليت د افغانستان د وضعي جغرافياوي حدودو پابند بولي. د ډيورنډ کرښې څخه تجاوز نه کوي خو نبي عليه السلام دغه

سرحدات د کفارو ندي منلي. بلکې د مدینې څخه بیرون په یهودو یې حمله کړي ده، په قبائلو یې حملې کړي دي.

خوارلسم: نبي علیه السلام د صلح وړاندیز د قریشو لخوا و، قرآن کې هم الله عزوجل وایي :

"وَإِنْ جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ." [سورة الأنفال:61]

ژباړه: او کچیرې مائله شو هغوی صلح ته، نو ته هم مائله شه او په الله توکل وکړه، یقینا هغه اوریدونکې پوهه ذات دی.

او طالبانو خپله د سولې غوښتنه کوله، بین الملل ته یې اول د سیاسي دفتر سوالونه کول، بیا د مذاکراتو په باب د دوی ښکاره سوالونه هم مشهور دي، او پټ یې الله جل جلاله ته معلوم دي، خو یوه ورځ به دغه پټ مجلسونه هم راښکاره شي، دغه خلیلزاد او نور کفار به یې ښکاره کړي.

ملا برادر وایي:

د افغانستان اسلامي امارت له پیله سولې ته ژمن و، او همیشه یې د خبرو اترو له لارې د ستونزې د حل غوښتنه کړې ده. په لنډ ډول دلته

يو څو لنډو هغو دلايلو ته اشاره كوم چې سولې ته د إسلامي امارت عملي ژمنتيا په ګوته كوي:

په قطر كې سياسي دفتر..... پاى.

دا وګورئ، خپله وايي چې امارت غوښتنه كړې وه، خبره يې خپله خه په ډاګه كړى.

بعضې علماءو دا خبره هم ذكر كړى چې د سولې وړانديز د مسلمانانو له طرفه هم كيدايشي، او استدلال كوي د نبي عليه السلام د هغه عمل نه چې غطفان قبيلې سردار ته يې د سولې وړانديز كړې و.

د دې په اړه چې طالبان كوم روايتونو څخه دليل نيسي، دا خبره پكې ذكر شوې چې وړانديز د نبي عليه السلام لخوا و، لكه مصنف د عبد الرزاق، سيرت د ابن اسحاق، دلائل النبوة د امام بيهقي او الطبقات الكبرى د ابن سعد وغيره روايتونه ټول كمزوري، منقطع، بې سنده او مرسل روايتونه دي.

او د دې په خلاف په صحيح روايتونو كې داسې خبره راغلې چې وړانديز حارث غطفاني كړى و، لكه د " كشف الأستار عن زوائد البزار " صحيح روايت كې داسې راغلي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: جَاءَ الْحَارِثُ الْغَطَفَانِيُّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، نَاصِفْنَا تَمْرَ الْمَدِينَةِ، وَإِلَّا مَلَأْنَاهَا عَلَيْكَ خَيْلًا وَرِجَالًا، فَقَالَ: حَتَّى أَسْتَأْمِرَ السُّعُودَ، سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ، وَسَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ، يَعْنِي: يُشَاوِرُهُمَا، فَقَالَا: لَا وَاللَّهِ، مَا أَعْطَيْنَا الدَّنِيَّةَ مِنْ أَنْفُسِنَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ. [واسناده حسن لذاته. كشف الأستار عن زوائد البزار، ج ٢، ص ٣٣١، ٣٣٢، رقم ح: ١٨٠٣]

ژباړه: حارث غطفاني نبي عليه السلام ته راغی او ویې ویل: چې اې محمده! مونږ ته د مدینې نیمې کجورې راکړه، که نه دا مدینه به درته د سپرو او پیاده لښکرو ډکه کړو، نبي عليه السلام ورته وفرمایل: صبر چې زه سعد بن عباده او سعد بن معاذ سره مشوره وکړم، هغو دواړو وویل: نه قسم په الله مونږ په جاهلیت کې هم دې خلکو ته ټیټه نده ویلې.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: جَاءَ الْحَارِثُ الْغَطَفَانِيُّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ، شَاطِرْنَا تَمْرَ الْمَدِينَةِ، قَالَ: «حَتَّى أَسْتَأْمِرَ السُّعُودَ» ، فَبَعَثَ إِلَى سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ، وَسَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ، وَسَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ، وَسَعْدِ بْنِ خَيْثَمَةَ، وَسَعْدِ بْنِ مَسْعُودٍ، رَحِمَهُمُ اللهُ، فَقَالَ: «إِنِّي قَدْ عَلِمْتُ أَنَّ الْعَرَبَ قَدْ رَمَتْكُمْ عَنْ قَوْسٍ وَاحِدَةٍ، وَإِنَّ الْحَارِثَ يَسْأَلُكُمْ أَنْ تُشَاطِرُوهُ تَمْرَ الْمَدِينَةِ، فَإِنْ أَرَدْتُمْ أَنْ تَدْفَعُوا إِلَيْهِ عَامَكُمْ هَذَا، حَتَّى تَنْظُرُوا فِي أَمْرِكُمْ

بَعْدُ»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، أَوَحْيٌ مِنَ السَّمَاءِ، فَالتَّسْلِيمُ لِأَمْرِ اللهِ، أَوْ عَنْ رَأْيِكَ، أَوْ هَوَاكَ، فَرَأْيُنَا تَبَعٌ لِهَوَاكَ ورَأْيِكَ، فَإِنْ كُنْتَ إِنَّمَا تُرِيدُ الْإِبْقَاءَ عَلَيْنَا، فَوَاللهِ لَقَدْ رَأَيْتُنَا وَإِيَّاهُمْ عَلَى سَوَاءٍ مَا يَنَالُونَ مِنَّا تَمْرَةً إِلَّا بِشِرًى، أَوْ قِرًى، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هُوَ ذَا تَسْمَعُونَ مَا يَقُولُونَ» ، قَالُوا: غَدَرْتَ يَا مُحَمَّدُ. [المعجم الكبير للطبراني. ح 5409 واسناده حسن لذاته. ج ٦ ص ٢٨]

ژباړه: حارث غطفاني نبي عليه السلام ته راغی، ويې ويل: اې محمده! مونږ ته د مدينې نيمې کجورې راکړه، هغه ورته وويل: زه به سعد په نوم صحابه وو سره مشوره وکړم، نو سعد بن معاذ، سعد بن عباده، سعد بن ربيع، سعد بن خيثمه او سعد بن مسعود پسې يې کس وليږه، او ورته يې وفرمايل: يقينا زه پوهيږم چې عربانو ټولو د يوې لينديې نه پر تاسې ګزار کړې دی، حارث له تاسې دا غوښتنه کوي چې تاسې ورته د مدينې کجورې ورکړئ، (نو هغه به وګرځي) نو که ستاسې خوښه وي، سږ کال ورته ورکړئ، تر دې چې وروستي حال په اړه بيا فکر وکړئ، هغو وويل :اې د الله رسوله که دا د آسمان له طرفه وحي وي، نو مونږ د الله امر ته غاړه ږدو، او که ستا فکر او نظر وي، نو زمونږ نظرونه ستا د نظر تابع دي، او کچيرې ته زمونږ د ساتنې لپاره دا کار کوې، نو قسم په الله مونږ او هغوی برابر يو، هغوی به له مونږ څخه يوه کجوره هم لاس ته نه کړي،

مگر په اخستلو سره یا میلمستیا سره، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسې به واورئ هغه څه چې هغوی وایي، هغو وویل: تا دوکه وکړه اې محمده.

دلته دواړو روایتونو کې په سعد بن معاذ او سعد بن عباده باندې اتفاق دی، خو د طبراني په روایت کې سعد بن خیثمه، سعد بن مسعود، سعد بن ربیع چې ذکر شوي، نو دا د ناقل خطایي کیدایشي، ځکه سعد بن ربیع په احد کې شهید شوی و، سعد بن خیثمه په بدر کې شهید شوی و.

دې دواړو حسن روایتونو څخه دا څرګنده شوه چې مطالبه حارث غطفاني کړې وه، نبي علیه السلام له طرفه ورته دا وړاندیز نه و.

دغه رنګ صلح حدیبیه په اړه د امام زهري څخه امام بخاري په خپل صحیح البخاري کې نقل کړي:

فَجَاءَ سُهَيْلُ بْنُ عَمْرٍو، فَقَالَ: هَاتِ اكْتُبْ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ كِتَابًا. صحيح البخاري

ژباړه: سهیل بن عمرو راغی، او ویې ویل: راځه چې زمونږ او ستاسې ترمنځ یو خط ولیکو.

مسند أحمد روايت کې دا الفاظ دي، او سند يې حسن دی:

أَنَّ قُرَيْشًا بَعَثُوا سُهَيْلَ بْنَ عَمْرٍو، أَحَدَ بَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ، فَقَالُوا: ائْتِ مُحَمَّدًا فَصَالِحْهُ.

ژباړه: قریشو سهیل بن عمرو د بني عامر بن لؤي څخه و، ولیږه، او ورته یې وویل: ته محمد ته ورشه او صلح ورسره وکړه.

د ابن حبان الفاظ هم دا دي: لَمَّا حَضَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ الْبَيْتِ صَالَحَهُ أَهْلُ مَكَّةَ.

ژباړه: کله چې نبي علیه السلام بیت الله خواته ورغی، مکې والاو ورسره سوله وکړه.

نو دلته هم د سولې وړاندیز د مشرکانو لخوا و.

مهمه فائده: يهودو سره د نبوي سولې حقيقت:

د نبي علیه السلام لخوا یهودو سره سوله، په اول کال د هجرت بالکل نده ثابته، دا هغه خبره ده چې د سیرت په کتابونو کې سخته مشهوره ده، چې د طالبانو په شمول د اسلامي خلافت بعضې مخالفین ادا اعتراض کوي، چې نبي علیه السلام یهودو سره سوله وکړه، ځان لپاره

يې يو د اوسيدو مطمئن ځای برابر کړ او بيا يې د خپل کور مدينې څخه بهر جنگ شروع کړ، او وايي خلافت چا سره سوله نه کوي، نو په لوي لاس ځان هلاکت ته غورځوي. پدې ظاهري ډولي خبرې سره طالبان د پاکستان د چکرو او سهولتونو لپاره په خپل زعم کې دليل لټوي، او د تحريک په نوم پاکستاني طالبان افغانستان کې د سهولتونو لپاره مشروعيت ثابتوي.

نو اوله خبره خو دا ده چې أثبت العرش ثم انقش، دا خو يوځل ثابت کړئ، بيا مونږ باندې اعتراض وکړئ. دغه ټول روايتونه معضل، منقطع، ضعيف او شر المراسيل دي.

دويمه دا ده چې مونږ څخه اصلي کافر سوله وغواړي، او خليفة المسلمين ته پکې مصلحت ښکاره شي نو د نبوي شرطونو موافق مونږ خو سوله روا گڼو، خو مرتد سره سوله جواز نه لري، مگر په هغه شرطونو چې اجماع د صحابه وو سره ثابت دي.

او په اول کال د هجرت نبي عليه السلام يهودو سره سوله هيڅ استنادي حيثيت نه لري.

په دريم کال د هجرت باندې يو صحيح روايت شته چې کله نبي عليه السلام د يو تکتيکي عملياتو په لړ کې د يهودو مشهور شاعر او

ژورناليست، فتنه گر مشر كعب بن أشرف پخپله قلا كې وواژه نو يهود وډار شول او نبي عليه السلام په دربار كې حاضر شول، نو د هغوی په مطالبه نبي عليه السلام ورسره بيا يوه لوظنامه وليكله. او دا ۱۴ ربيع الأول ۳ كال د هجرت و.

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: فَلَمَّا أَبَى كَعْبُ بْنُ الْأَشْرَفِ أَنْ يَنْزِعَ عَنْ أَذَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ أَنْ يَبْعَثَ رَهْطًا يَقْتُلُونَهُ، فَبَعَثَ مُحَمَّدَ بْنَ مَسْلَمَةَ، وَذَكَرَ قِصَّةَ قَتْلِهِ، فَلَمَّا قَتَلُوهُ، فَزِعَتِ الْيَهُودُ وَالْمُشْرِكُونَ فَغَدَوْا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: طُرِقَ صَاحِبُنَا فَقُتِلَ، «فَذَكَرَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي كَانَ يَقُولُ، وَدَعَاهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَنْ يَكْتُبَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ كِتَابًا، يَنْتَهُونَ إِلَى مَا فِيهِ فَكَتَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بَيْنَهُ وَبَيْنَهُمْ وَبَيْنَ الْمُسْلِمِينَ عَامَّةً صَحِيفَةً». سنن أبي داود.

ژباړه: كله چې كعب بن أشرف نبي عليه السلام ته تكليف رسولو څخه منع نه شو نبي عليه السلام سعد بن معاذ ته امر وكړ چې يوه ډله مجاهدين وليږي چې كعب ووژني، هغه محمد بن مسلمه وليږه، بيا يې د هغه د مرگ كيسه وكړه، كله چې يې وواژه، نو يهود او مشركان وډار شو، سبا ته نبي عليه السلام ته راغلل، هغو وويل: زمونږ كس باندې د

شپې څوک وراوړیدلي وو او وژل شوی. نبي علیه السلام ورته هغه خبرې ذکر کړې چې کعب بن أشرف به کولی، او هغوی یې راوبلل چې ترمنځ یو خط ولیکي، چې د دغه څخه به نه تیریږي، نبي علیه السلام خپل او د یهودو او د مسلمانانو ترمنځ یو خط ولیکه.

دا واقعه د غزوه بدر څخه وروسته او د غزوه احد نه لږ مخکې منځ ته راغله، نو دلته هم یهود نبي علیه السلام ته راغلي، بیا ورسره نبي علیه السلام خط لیکلی.

د طالبانو ستانکزی ۱۸ مارچ ۲۰۲۱ نېټه باندې کانفرنس کې وایي که همدا سوله مو په ۲۰۰۱ کې کړې وایې نو دومره وینه به نه تویده.

پنځلسم: طالبان د نړیوالو اصولو غوښتنه کوي او د کفارو تور لستونو څخه خپلو نومونو ویستلو زارۍ او سوالونه کوي خو د حدیبیې په ورځ نبي علیه السلام د کافرو تور لست څخه خپل نوم ویستلو لپاره خواري نده کړې بلکې د کفارو نومونه یې خپل تور لست ته خیژولي او یوه ورځ یې د الله په مدد خپل انجام ته رسولي. د طالبانو فریاد ته متوجه شئ:

د سولې پروسه او تور لیست دوه متضاد مفاهیم دي، دا څنګه امکان لري چې د سولې مذاکراتو یو لورى په تور لیست کې وي، سفري بندیزونه پرې لګیدلي وي، خو بل لورى د هر ډول قیوداتو څخه خلاص

او آزادانه نقل او حرکت کولای شي. د اسلامي امارت ټول مشران او استازي هم باید د نورو خلکو په څېر د قید او شرط څخه پرته په آزادانه توګه نقل او حرکت وکړي، دا یې د نړیوالو اصولو له مخې ثابت انساني حق دی.

قطر کې برادر وايي :

ټولو ته معلومه ده چې د کابل اوسنۍ اداره د افغان ولس د ارادې ممثله نه ده، ځکه خو باید نړۍ د اولس د ممثل نظام په توګه تعامل ور سره ونه کړي.

نبي علیه السلام دا سوالونه ندي کړي. بلکې مسلمان د کفارو تور لسټ څخه نشي وتلې ، صرف تر یو وخت پورې جنګ بندي کیدای شي، خو طالبان کفري ملکونو ته چکرې وهل غواړي او ځان له اصلي کفارو سره برابرول غواړي.

او استاذ یاسر څه وايي چې مونږ داسې مشران نه غواړو چې تور لیسټ کې یې نوم نه وي.



الله اکبر!! نو معلومه شوه چې رشتیا هم طالبان بدل شوي، پرون د استاذ یاسر دغه دریغ او نن د هبت الله او برادر دغه دریغ ... دا د خلیل زاد مرتد خبره یقینا صادقه وختله چې طالب هغه طالب ندی چې نولس کاله پخوا طالب و. ځکه دا نبوي قاعده ده کنه: صدق وهو کذوب. خلیلزاد ولیدل، طالبان خپله وایي چې هغه مونږ تر ټولو خلکو زیات پیژني، هغه ورسره مجلسونه وکړل، د هر طالب خوي، عادت، ګفتار، کردار، صورت، سیرت الغرض اصلي خیره یې د نزدې نه مطالعه کړه. نو هغه نه یې وروسته دا څرګندونې وکړې.



شپاړسم: د طالبانو ټوله سوله صرف د افغانو لپاره ده، نو دا یو متعصب وطني ګوند دی، او نبي علیه السلام صحابه وو کې مهاجر او انصار دواړه شامل وو. سوله یې ټولو مسلمانانو پورې مربوط وه.

د امریکایانو برادر وایي:

(د سولې او د دواړو اړخونو ترمینځ د فاصلې د راکمولو لپاره باید مقابل لوری هغه افغانان آزاد کړي چې د اسلامي امارت مجاهدین دي، یا د مجاهدینو سره د تړاو په تور بندیان شوي دي.)

راتلونکي حکومت په اړه هم وایي: (د افغانستان د خپلواکۍ نه وروسته اسلامي امارت د قدرت د انحصار په فکر کې نه دی بلکې د ټولو افغانانو

سره په ګډه، **په ګران هیواد کې یو افغان شموله اسلامي نظام** غواړي).

چې اسلامي شو نو د افغان قید اضافي ته څه حاجت دی ؟

خو دا د دیموکراسۍ یو مهم اصل څرګندوي چې قومیت دی، بس اسلام کافي دی، که د هر ځای، هر قوم، نسل، رنګ، سمت مسلمان وي، هغوی ټولو ته شاملیږي، خو طالبان او امریکا داسې حکومت هیڅکله نه غواړي.

که خبره د قومیت وای نو ابو جهل، عتبه، شیبه او دا نور کفري مشران خو د عربو معززو کورنیو څخه وو نو بیا خو د هغوی وژل هم نه و پکار!!

د طالبانو نعره دا ده :

(د یوه ازاد، خپلواک، او سولییز افغانستان په هیله)

همدا نعره د پرچمیانو، خلقیانو، نیشنلیانو او دیموکراتانو ده، هغوی پرې کافر کیږي خو چې طالب یې په سپینو جامو او پټکي کې وهي دا پرې نه کافر کیږي، دې احمقانو ته دا پته نشته چې دا ایمان معنوي او عملي څیز دی، دا ظاهري لونګو او سپینو جامو پورې اړه نه لري، عقیده او عمل ته مو متوجه شئ، د قرآن او سنت په تله خپل اعمال وتلئ، دا

ظاهري اعمال په باطن باندې دلالت کوي چې د طالبانو سینو څخه ایمانونه وتلي دي، یو انسان ظاهره کې الله رب العالمین ته بد وایي او بیا ځان ته مومن هم وایي، څوک به یې ورسره ومني ؟؟

نه، دا څنګه په رب مومن دی چې کنځلې ورته کوي ؟

همدا شان دا طالب څنګه اسلام غواړي چې خپله اسلام پورې خندا کوي، د الله رب العالمین نظام په خلاف وضعي قانون جوړولو له امله د رب سپکاوی کوي، شیعه ګانو ته مشري ورکولو او ورسره تړون کولو له امله د محمد رسول الله ناموس پورې خندا کوي او بیا وایي سوچه اسلامي نظام غواړو ؟؟

د طالبانو آزاد او خپلواک اصطلاح څخه مراد : قومیت او وطنیت د بین الملل په رڼا کې حدود دي او سوله ایز لفظ د اصلي کافرو سره د جهاد تعطیل ښکاره اظهار ده.

اولسم: نبي علیه السلام د عقیدې د ساتنې لپاره یو څو کاله جنګ بند کړی و، خو طالبان له سره عقیده نه پیژني. دغه دیموکرات نظام نظامیان هم خپل ورونه ګڼي او جنګ ورسره فقط په همدې خاطر کوي چې د کابل له ګدۍ یې وغورځوي او دوی واکمن شي او امریکا او دیموکراسۍ ته خه خدمت وکړي ،ځکه یې د مرګ لائق ګڼي خو کافر ورته نه وایي،

چې دا هم د طالبانو يو ناقض دی، د ملي اردو عسکرو، پوليسو او اربکيانو ته کافر نه وايي. او چا چې ديموکراسي لپاره برگ پتلون نه وي اچولې هغه خو بيخي کلک مسلمان گڼي، اگر که د هغه فساد او ضرر د اسلام او توحيد لپاره د عسکر څخه لس چنده ډير وي لکه سيکولر نظام څارنوالان، مستنطقين، ژورنالستان، معلمان او د طواغيتو ملايان وغيره.

برادر په قطر کې وايي :

په ديني او تعليمي مراکزو بريدونه، اختطافونه، هدفي وژنې او نور جنايات خپله د کابل اداري په استخباراتي همکارۍ پلان کېږي، او بيا د إسلامي امارت پر ضد تبليغاتي استفادې ترې کوي، په کابل کې په شفاخانه، کورس او کابل پوهنتون حملې، په تخار کې په جومات او د قرآن کريم د حفظ په مدرسه بمبار ، مدني فعالان او خبرنگاران په نښه کول يې ښو نمونې دي، دوی گومان کوي چې په دې توگه به د خپل قدرت بقا تضمين کړي.

او نبي عليه السلام، صحابه وو نظاميان او غير نظاميان حربي کفار وژلي دي او د شرک هيڅ يوه اډه يې هم نه پرېښودله.

اتلسم: طالبانو له اوسه کفري نړۍ ته د سوال لمن نيولې ده، او گرده يې شروع کړي، برادر وايي :

(د اولس د ستونزو د هوارولو لپاره يې چې څه په وس پوره دي هغه يې کړي، او کوي يې. حال دا چې په دې اړه له إسلامي امارت سره هېڅ ډول مرستې نه کېږي، موږ له نړۍ او نړيوالو سازمانونو او حتی شتمنو اشخاصو څخه هيله کوو چې زموږ له هېواد او اولس سره په داسې توګه لازمې مرستې وکړي چې شفافيت او عدالت پکې تامين وي، او دا هغه وخت کېدای شي چې له إسلامي امارت سره په همغږۍ وي، په دې اړه إسلامي امارت هر ډول مرستې او همکارۍ ته چمتو دی).

بل ځای کې وايي :

(د نړۍ پانګونې او مرستې راجلبول خپل مسئوليت ګڼي).



امريکا څخه سوالونه کوي چې اوس ووځي او بيا راشئ او د هيواد په بيا رغونه کې برخه واخلئ.



د افغانستان اسلامي امارت
د فرهنګي چارو کميسيون
د وياند دفتر

شمار: ۲۹۸ — ۱۴۴۲/۴/۳هـ ق

په جينوا کې د افغان ولس لپاره د کېدونکو مرستو په اړه د افغانستان د اسلامي امارت اعلاميه

ټاکل شوې ده چې د ۲۰۲۰ کال /۱۱/ ۲۳-۲۴ نېټه په جينوا کې له افغانستان سره د بشري مرستو په اړه نړيوال کنفرانس جوړ شي. افغان مظلوم ولس په اوسني وخت کې له بل هر چا څخه زيات مرستو ته اړتيا لري، اسلامي امارت د خپل ولس د ارامتيا لپاره تل هڅې کړې او په همدې موخه يې د نړيوالو بې غرضه مرستو غوښتنه او هر کلی کړی او کوي يې.

مستحقينو ته په رسولو کې يې هم لازمه مرسته او همکاري کړې، خوکه چېرې مرستې د ولس او هېواد په نامه راټولېږي او بيا مستحقينو ته نه رسيږي؛ بلکې د کابل ادارې د خاصو اشخاصو جيبونو ته لوېږي، لکه په تېرو دوو لسيزو کې چې متاسفانه همداسې شوي، او لا هم جريان لري، په دې هکله نړيوالو معتبرو سازمانونو هم وخت په وخت څېړنې کړې او راپورونه يې خپاره کړي دي.

په ياد صورت کې (چې مرستې د ولس په نامه راټولېږي او مستحقينو ته نه رسيږي) اسلامي امارت يې نه غوښتنه کوي او نه هم ملاتړ.

لهذا موږ د نړۍ له هېوادونو او نړيوالو سازمانونو څخه غواړو چې د ولس په نامه راټولېدونکې مرستې بايد ولس ته ورسيږي.

د دې لپاره چې دغه ډول مرستې په شفافه او عادلانه توګه ولس او مستحقينو ته ورسي، ښه لاره يې دا ده چې نړيوال مؤسسات له اسلامي امارت سره په همغږۍ دا ډول مرستې وويشي.

په دې اړه اسلامي امارت هرې همکارۍ ته تيار دی، دا خپل مسئوليت ګڼي او خپل دغه موقف يې وخت په وخت له ځينو مرستندويه هېوادونو او نړيوالو سازمانونو سره شريک کړی هم دی.

په پای کې اسلامي امارت له ټولو هغو هېوادونو، ولسونو، سازمانونو او اشخاصو څخه مننه کوي او د مرستو قدر يې کوي چې زموږ له ځورېدلي ولس سره يې مرستې کړي او په سختو شرايطو کې لاس نيوی کوي.

د افغانستان اسلامي امارت
۱۴۴۲/۴/۳هـ ق
۱۳۹۹/۸/۲۸هـ ش ـ 18/11/2020م

د امريکا په سر څه سندرا پښه ايخې چې بيا ستا مرستې ته راځي ، خو دا نو ورسره په تړون کې موافقه شوې هغه پټې ضميمې دي چې ورته ويل شوي ، خير اوس ووځئ چې د خلکو سترګو ته خاورې واچوو ، بيا نو تاسې دلته خپل ټول اهداف وځارئ ، سفارت به مو فعال وي او نور چې

كوم اسلام ضد كارونه اوس په نظامي شکل کوئ نو دا به بیا د سفارتونو د بین المللي روابطو په څادر کې پټ ترسره کوئ ،او زمونږ خوږ او غیرتي نبي علیه السلام کفارو څخه یوه د غنمو دانه هم نده غوښتې.

نولسم: د سیکولر نظام د خپرولو تر ټولو مؤثره لار کفري رسنۍ به د طالبانو په راروان نظام کې آزادې وي. او نبي علیه السلام د کفر په نفعه تبلیغات کونکي رادیو صفته انسانان لکه کعب بن أشرف وغیره څخه د ځمکې مخ صفا کړی.

برادر د قطر په خبرو کې مستقل عنوان قائم کړی او وایي:

(اسلامي امارت د رسنیو په اهمیت او اړتیا باور لري او د ټولنې د اصلاح، اګاهۍ او لوړو ګټو د ساتنې لپاره یې ښه وسیله بولي).

رسمي ویاند یې وایي:



د افغانستان اسلامي امارت
د فرهنګي چارو کميسيون
د وياند دفتر

شمار: ۳۱۲ ۱۴۴۲/۵/۲۲هـ ق

په هيواد کې د عالمانو، ژورنالستانو او سياسي څيرو د هدفي وژنو په اړه د اسلامي امارت د وياند څرګندونې

څه موده کيږي چې د هيواد په بېلابيلو سيمو کې ځينې ديني عالمان، خبريالان او سياسي څيرې په هدفي ډول وژل کيږي.
اسلامي امارت هرڅل دا ډول وژنې رد کړي، غندلي او هغه يې د هېواد په زيان کار بللی.
اوس يوځل بيا هېوادوالو او نړيوالوته څرګندوي چې، ياد خلک په هيڅ ډول زموږ په نظامي اهدافو کې شامل نه دي.
د اسلامي امارت مجاهدين يواځې هغه دښمن په نښه کوي چې زموږ سره جګړه کوي او زموږ په وړاندې په استخباراتي فعاليتونو بوخت دي.
له دې ما سوا د نورو خلکو وژل نه هدف دي او نه هم زموږ د هيواد او راتلونکي په ګټه دي.
اسلامي امارت د مبارزې له پيله معلوم اهداف لري او تل يې د خپلو کړنو مسؤليت په غاړه اخيستی دی. په تېرو دوو لسيزو کې اسلامي امارت کله هم په داسې غير نظامي او بې دفاع اشخاصو بريدونه نه دي کړي. نو اوس هم د کابل اداري ادعاء بې ځايه ده چې بې له کوم دليله د دغسې بريدونو نسبت اسلامي امارت ته کوي.
اسلامي امارت په ټولو نړيوالو او هيواد والو غږ کوي، چې هغه عناصر او کړۍ وپېژني څوک چې په دې حساس پړاو کې داسې کړنو ته لاس اچوي تر څو اوبه خړې کړي او ماهيان پکې ونيسي.
زموږ په باور دا ډول بريدونه هغه څوک ترسره کوي چې په هيواد کې د سولې او اسلامي نظام له راتګ سره مخالفت لري، دوی هڅه کوي په دغسې بريدونو سره مجاهدين بدنام او د هيواد اشغال غزولو ته زمينه سازي وکړي.

ذبيح الله مجاهد د اسلامي امارت وياند
۱۴۴۲/۵/۲۲هـ ق
۱۳۹۹/۱۰/۱۷هـ ش. 6/1/2021م

دا د ړوند بيرغ تر سيوري لاندې جنګيدونکي طالبان پخپل هدف ندي خبر، د کفر په دسيسو ندي آګاه، صرف د چوکۍ ټپه يې په غوږ کې پرته ده، د رسنيو په اړه دا اجازه د عوامو مسلمانانو د فکري او عقيدوي تخريب مترادف ده، خو چې دوی خپله له سالمې عقيدې عاري دي نو د بل د عقيدې فکر به څنګه وکړي ؟



د افغانستان اسلامي امارت
د فرهنګي چارو کمیسیون
د ویاند دفتر

شمار: ۳۲۸ ۱۴۴۲/۱۱/۲۴هـ ق

په مفتوحه سیمو کې د شایعاتو او قیوداتو په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې

په رسنیو او ځینو سیمو کې آوازې خپرېږي چې د اسلامي امارت مجاهدین چې نوې سیمې تر خپل کنټرول لاندې راولي هلته په خلکو، رسنیو او ښځو او باندې قیودات ږدي او یا ځینې بندیزونه پرې لګوي.

موږ دا ډول پروپاګند ردوو، په نویو فتحه شوو سیمو کې د همدې مؤمن ملت غړي او مسلمانان دي، د اسلام په چوکاټ کې ژوند لري، اړتیا نه لیدل کیږي چې په هغو باندې قیودات وضع شي او یا له کوم څه څخه رامنع کړل شي.

مکاتب او ټولې تعلیمي ادارې فعاله دي، رسنۍ د شرعي حدودو په چوکاټ کې بې طرفه او آزاد نشرات کولای شي، همدا ډول کلینیکونه او صحي مراکز بې له کوم قید او شرط څخه فعالیت کولای شي، خیریه مؤسسات او نور آزاد بنسټونه هم د خلکو لپاره آزاد خدمات وړاندې کولای شي.

ملکي مامورین، خبریالان، د بیلابیلو خدماتي ادارو کارکونکي هم بې له کوم خوف او خطر څخه ژوند او خپل فعالیت کولای شي.

ورسره په ټول هیواد کې ملي تجاران، هټۍ وال، پانګه اچوونکي هیوادوال او ټول کسبه کارانوته هم اطمینان ورکول کیږي چې دوی او مالونه به یې مصئون وي، هیڅوک خنډ او مشکل نشي ورته جوړولای باید ډاډه واوسي.

د اسلامي امارت مجاهدین به له یادو ټولو برخو سره تر خپله ممکنه بریده همکاري او مرسته کوي او د کارونو په لا بهبود او ښه والي که به کومک ورسره کوي.

په دې مورد خلکوته تشویش اچول، پروپاګند کول او شایعات خپرول د دښمنو کړیو کار دی، رسنۍ او شخصیتونه باید د داسې آوازو فریب ونخوري او هیڅ تشویش ونه لري.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی
۱۴۴۲/۱۱/۲۴هـ ق
۱۴۰۰/۴/۱۳هـ ش - 4/7/2021م

صرف پدغه ټکي چې بیان آزادي به د اسلام حدودو سره ټکر کې نه وي، دا د کوم اسلام حدود یادوي، نو له هیڅ عاقل څخه پټه نده چې سیکولر امریکایي اسلام یادوي څکه زمونږ په اسلام کې دغه د سیکولر مستعمره یوې رسنۍ ته هم اجازت نشته.

هغه رسنۍ چې مستقیما د امریکا له لوري رهبري کیږي، افغانستان کې د امریکا سفیر وایي چې د ۲۰۰۱ راهیسې تر اوسه پورې یعني دوه لسیزو کې امریکا رسنیو باندې ۱۵۰ میلیون ډالر مصرف کړي.



Chargé d'Affaires Ross Wilson
@USAmbKabul

(2/2) Since 2001, the US has provided over $150 million to support Afghan media organizations & train journalists. On #WorldPressFreedomDay, I urge all Afghans to #PreserveTheGains of the last two decades, and especially the remarkable growth of the Afghan media sector.

دا طالبان هم نقل کوي، خه پوهيږي چې د اسلام دښمني يې مهم هدف دی، خو د طالبانو په قاموس کې دغه حرام حلال ګرځي، ځکه ځان د بين الملل په کفري اصولو برابروي. دې هر څه نه خه خبر دي خو بيا هم غلي دي.

ژورناليستان، علماء سوء يعني درباري او شيطان صفته ملايان او سياسي خيرې، چې دا نه وژني، نو بيا جنګ چا سره کوي، جنګ خو د دې

اهدافو لپاره کيږي، چې دې کړيو ته دې اجازه ورکړه، نو بين الملل خو درسره خامخا تړون لاسليک کوي، ستا واک ته رسميت ورکوي.

شلم: د سولې په اړه طالبان يو بل منافقت کوی، هغه موضوع ګانې يې رامخکې کړې، چې نړيوالو کفارو باندې خه لګي، لکه د مخدره موادو موضوع، د دې په اړه څه بيان مخکې نواقضو په ضمن کې وشو، نو طالبان وايي:

(د اسلامي امارت د تېرې واکمنۍ په وخت کې د کوکنارو کښت تقريبا صفر ته راټيټ شوی و).

دا ماضي شو، اوس مستقبل ته وګورئ وايي :

(په راتلونکي افغانستان کې د نړۍ د هيوادونو او نړيوالو سازمانونو په مرسته او هماهنګۍ، د بديل معيشت په برابرولو سره د کوکنارو کښت بايد تدريجا صفر ته راټيټ شي).

خو د حال خبره نه کوي چې د طالب جنګياليو مصارف په اکثره ساحو کې له کوم مدرک پوره کيږي ؟ ځکه د آي أيس آي په پيسو خو يي پوره قناعت نه کيږی. معلومه خبره ده چې د کوکنارو عشرونه راټولوي، له امله د طالبانو په ساحو کې يې کشت هم خورا زيات دی.

او نبي عليه السلام حرامو څخه تل ځان ساتلې، د ماضي، حال او مستقبل په اړه يې همدا يو دريځ او يوه عقيده وه.

يويشتم: د كفارو سره بين الأقوامي قوانينو منلو په ترڅ كې ديپلوماتيكي اړيكې لرل د طالبانو ارمان دی، دې لپاره يې د قطر سياسي دفتر (!) پرانيستې، برادر وايي:

بهرنۍ پاليسي: ١- سياسي اړيكې:

(اسلامي امارت غواړي د هيواد عليا مصالحو ته په كتو سره د نړۍ له هيوادونو په ځانګړې توګه له ګاونډيو سره د متقابل تعامل په اساس مثبتې او تعميري اړيكې ولري ....)

sungermedia سنګرمیدیا
5.4K subscribers

#تازه
العربیه د فرانس پرس اژانس په حواله د طالبانو د قطر دفتر د ویاند محمد نعیم له قوله ویلي چې دوی بهرنیو ډیپلوماټانو او مرستندویه ادارو کارکوونکو ته ډاډ ورکوي چې دوی ته هیڅ دول ګواښ متوجه نه دی.

#تازه
در پی اعلام آسترالیا برای بستن سفارت اش در کابل، محمد نعیم، سخنگوی طالبان، به آژانس خبری فرانسه گفته است که آنان برای دیپلماتان و کارمندان نهادهای مددرسان در کشور، فضای امن را فراهم خواهند ساخت و تهدیدی متوجه آنان نخواهد بود.
عطاءالله مجاهد, 527 edited 5:26 PM

او دغه سفارتونه نبي علیه السلام ندي پرېښي چې دلته د عامو مسلمانانو ذهنیت خراب کړي، دیموکراتان ترې جوړ کړي، جاسوسي وکړي او دغه رنګه نور ډېر فسادونه پکې دي.

یو یو فرد د سفیر په حیث راغلی دی او بیرته تلی دی، د کفارو سفارتونه د دومره افرادو سره او دومره تجهیزاتو سره د اسلام په خاوره کې څه کوي ؟

آیا نبي علیه السلام صحابه وو ته ویلي وو چې هلته فارس کې بیا سیاسي دفتر خلاص کړئ ؟

هلته بیا رومیانو ته سوالونه شروع کړئ ، چې خیر دې مونږ سره مذاکرات شروع کړئ ؟

دوویشتم: طالبان د هغه نړیوالو خیریه مؤسساتو دفاع کوي، امنیت یې خوندي کوي چې د لړو مرستو بدل کې غریب مسلمانان په لا شعوره طریقې د اسلام څخه وباسي او د سیکولر نظامونو تر درشل یې رسوي.

دغه شان مؤسسې چې هدف یې کفر او نصرانیت وي، نبي علیه السلام هیڅکله فعالیت ته ندي پریښي. او طالبانو موقف دا دی:

اسلامي امارت د بشردوسته هیوادونو، ملګرو ملتونو، نړیوالو موسساتو، ملي سوداګرو او د نورو بشري بنسټونو امنیت ته ژمن دی، او دوی ته بلنه ورکوي چې د بشري خواخوږی له مخې د هیواد په ټولو ساحو کې مستحقو خلکو ته مرستې ورسوي.





Suhail Shaheen
@suhailshaheen1

ا. امارت د خپلې پالیسي له مخې، نه داچې د بشري مرستوموسسات چې زمونږ ولس ته خدمت کوي، هدف نه ګرځوي بلکې په ټول هیواد کې یې دهغوی دبشري فعالیتونو لپاره آسانتیاوي برابرې کړې.
په دوی برید په کلکه غندي.

ترجمه توییت

١٦:٢٥ · ٠۴ دسامبر ١٩ u00B7 Twitter Web App

طالبان بیا وایي :

(اسلامي امارت له نړیوالو روغتیایي موسساتو، لکه سره صلیب، ایمرجنسي، او بې سرحده ډاکټرانو سره تفاهم لري).

د سره صلیب پشان اداره چې سیکولر نصرانیت په لور دعوت کوي، دا اقرار د سعودي حکومتي ملایانو په شمول ټولې نړۍ کړی، تر دې چې

ګوانتانامو په زندانونو کې يې د بنديانو څخه کلک تحقيقات کول. خو طالبان ورته ډيره توجه ورکوي، پيښور کې طالبانو ته بې پيسو مفته علاجونه کوي ...

درويشتم: طالبان د سيکولر نظام د نشر نورې مهمې ادارې لکه تعليمي او طبي ادارې بې پرې ګڼي.

دوی وايي :

د روغتيايي خدماتو او روغتيا د بخش کارکوونکي بې پرې دي.

بيا وايي :

اسلامي امارت مجاهدينو ته هدايت کړی چې د صحت او تعليم د کار کوونکو امنيت تامين کړي.

حکومتي طبيبان ولې بې پرې دي ؟ آيا دوی د مرتدو عسکرو علاجونه نه کوي ؟ آيا دوی د ديموکراسۍ غړي ندي ؟ آيا دوی د سيکولر نظام ارکان ندي ؟

همدغه رنګه د ديموکراسۍ معلمان کله راهيسې بې پرې شو ؟ بلکې د دموکراسۍ تر ټولو ستره مؤثره ذريعه هغه معلمان دي. ځکه د معلم

ورکړی سبق ماشوم ډېر خه زده کوي، نو دا د کفر ستنې او اساس بې
پرې ګڼي.

sungermedia سنگرمیدیا
5.3K subscribers

ذبیح الله مجاهد

د افغانستان اسلامي امارت ویندوی
سخنگوی امارت اسلامی افغانستان

#وضاحت:
په پروان کې د صحي کارکونکو په موټر چاودنه
زموږ د مجاهدینو کار نه دی، صحي کارکونکي
له بریدونو څخه مصئون دي، باید څوک یې په
وړاندې حمله ونه کړي.

حمله برموتر کارمندان صحی در پروان ربط به
مجاهدین امارت اسلامی ندارد، کارمندان صحی
از حملات مصئون اند باید مورد هدف قرار
نگیرند.
ذبیح الله مجاهد
عزیـــزالله عزیـــراشنـــا, 12:52 PM 746

نبي علیه السلام بیا داسې ندي کړي هغه بیا د کفر امامان، معلمان،
طبیبان او هر هغه څوک یې وژلي چې د کفارو صف کې ولاړ وي.

څلوریشتم:

د نبي علیه السلام سوله خو پداسې صورت کې وه چې د مکې مشرکان په خپلو ځایونو کې وو، دار الاسلام یې نه وو اشغال کړی، نو نبي علیه السلام ورسره سوله وکړه. او نن خو امریکا په هر ځای کې د اسلام خلاف دښمنۍ ته لمن وهي، مسلمانانو سیمې یې اشغال کړي، که د افغانستان نه ظاهرا ووځي خو فکرا دلته پاتې کیږي، خپلې نظریې باندې روزلي خلک دلته پریږدي، نو داسې حالت کې د طالبانو سوله قرار لري چې شرعا ناروا ده.

شیخ اسامه تقبله الله د سعودي مفتي ابن باز ته د یهودو سولې په اړه وایي:

یقینا فعلي یهودي دښمن پخپلو سیمو کې میشت ندی چې له بیرون څخه جګړه کوي، او صلح دې ورسره روا شي، بلکې دا خو صائل (اشغالګر) دښمن دی، دین او دنیا خرابونکې دی، او پدې باندې د شیخ الاسلام ابن تیمیه وینا تطبیقیږي:

"فَالْعَدُوُّ الصَّائِلُ الَّذِي يُفْسِدُ الدِّينَ وَالدُّنْيَا لَا شَيْءَ أَوْجَبَ بَعْدَ الْإِيمَانِ مِنْ دَفْعِهِ فَلَا يُشْتَرَطُ لَهُ شَرْطٌ بَلْ يُدْفَعُ بِحَسَبِ الْإِمْكَانِ." [الفتاوى الكبرى ج ٥ / ص ٥٣٨]

ژباړه: حمله کونکي دښمن چې دين او دنيا خرابوي، د ايمان څخه وروسته د دغه دښمن دفاع پرته بله کومه ستره فريضه نشته، دې لپاره هيڅ شرط نشته، بلکې د وس مطابق به يې مقابله کولی شي.

بيا وايي:

"الكل يدرك أنه ليس كذلك فهذا السلام المزعوم الذي يتهافت فيه المتهافتون الآن من الحكام والطواغيت مع اليهود ما هو إلا خيانة كبرى تتمثل في توقيع صكوك استسلام و تسليم للقدس وفلسطين كلها من قبل هذه الحكومات لليهود، والاعتراف بسيادتهم عليها إلى الأبد. "

[رسالة إلى ابن باز ببطلان فتواه بالصلح مع اليهود للشيخ أسامة]

ژباړه: هر څوک پدې پوهيږي چې خبره داسې نده، دا دروغجنه صلح ده او په حقيقت کې دا د امت مسلمه سره لوي خيانت دی، چې زورواکه حاکمان او طواغيتو غواړي يهودو ته تل لپاره دغه بيت المقدس او فلسطين په يو څو امضاګانو په واسطه وسپاري، او د دغه يهودو حاکميت پدغه منطقه کې په بشپړ ډول ومني.

نو کله چې يو کافر دار الاسلام باندې قابض وي، يا ورته نزدې وي او داخليدو اراده لري، پدې وخت کې د دغه سيمې خلکو باندې جهاد

فرض عين گرځي، په ټولو ځوانانو، بوډاگانو، آزادو، مريانو حتی که زنانه د جنگ توان لري هغه باندې هم فرض گرځي، دې وخت کې د امير شتون او غياب کوم عذر ندی بلکې د خپل توان موافق به هر کس د دې کفارو مخنيوی کوي او جهاد به ورسره کوي.

پدغه وخت کې سوله روا نه ده، او د غطفان قبيلې خبره مخکې ذکر شوه چې هغوی بيرته په تللو باندې د سولې وړانديز کړې و، خو نن امريکا پداسې حال کې وځي چې افغانستان کې د دموکراتيک نظام پريښودو په شرط وځي او تر څو چې دلته دموکراسي وي، سيکولرزم وي او د بين الملل اصولو رعايت کيږي، نو دا داسې ده چې امريکا بذاتها دلته موجوده ده، ځکه اسلام کې د چا ذات معتبر ندی بلکې کفر او اسلام ته به اعتبار وي.

او نبي عليه السلام خو قريشو پسې ورغلې و، قريش خو مدينې ته نه وو راغلي.

پنځويشتم: نبوي سولې سره مشابهت لپاره شرط دا دی چې دا سوله به په باطل شرط باندې بناء نه وي، لکه د مسلمان کافر ته حواله کول. ځکه امام بخاري باب لگولی:

"بابٌ إذا اصطَلَحوا على صلْحِ جَوْرٍ فالصلْح مَرْدودٌ

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ فِيهِ، فَهُوَ رَدٌّ»". صحيح البخاري

ژباړه: دا باب د دې په اړه دی کله چې خلک صلح په ګناه باندې وکړي نو هغه باطل ده.

نبي علیه السلام فرمایلي: چا چې زمونږ په دین کې نوی کار جوړ کړو، چې د دې څخه نه و، نو دغه کار مردود دی.

هر چې نبي علیه السلام ابو بصیر او ابو جندل رضي الله عنهما کفارو ته حواله کړي وو، نو هلته نبي علیه السلام فرمایلي و: چې زمونږ بندیانو ته به الله عزوجل لار خلاصه کړي:

عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ قُرَيْشًا صَالَحُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ... قَالَ: إِنَّهُ مَنْ ذَهَبَ مِنَّا إِلَيْهِمْ فَأَبْعَدَهُ اللهُ، وَمَنْ جَاءَنَا مِنْهُمْ سَيَجْعَلُ اللهُ لَهُ فَرَجًا وَمَخْرَجًا» صحيح مسلم.

ژباړه: انس رضي الله عنه وايي چې قریشو نبي علیه السلام سره صلح کړې وه ... نبي علیه السلام وفرمایل: مونږ نه چې څوک دې کفارو ته لاړ نو دا الله د خپل رحمت څخه لرې کړ (مرتد وګرځید) او څوک چې د

هغوی څخه مونږ ته راغی نو زر دی چې الله تعالی به ورته خلاصې او د وتلو لار پیدا کړي.

ځکه علماء کرام وايي دا صورت نبي عليه السلام پورې خاص و:

١.امام ابن حزم وايي:

"أن النبي صلى الله عليه وسلم لم يرد إلى الكفار أحدا من المسلمين في تلك المدة إلا وقد أعلمه الله عز وجل أنهم لا يفتنون في دينهم ولا في دنياهم وأنهم سينجون ولا بد قال أبو محمد قد قال الله عز وجل واصفا لنبيه صلى الله عليه وسلم {وما ينطق عن لهوى * إن هو إلا وحي يوحى} فأيقنا أن إخبار النبي صلى الله عليه وسلم بأن من جاءه من عند كفار قريش مسلما فسيجعل الله له فرجا ومخرجا وحي من عند الله صحيح لا داخلة فيه فصحت العصمة بلا شك من مكروه الدنيا والآخرة لمن أتاه منهم حتى تتم نجاته من أيدي الكفار لا يستريب في ذلك مسلم يحقق النظر وهذا أمر لا يعلمه أحد من الناس بعد النبي صلى الله عليه وسلم ولا يحل لمسلم أن يشترط هذا الشرط ولا أن يفي به إن شرطه إذ ليس عنده من علم الغيب ما أوحى الله تعالى به إلى رسوله وبالله تعالى التوفيق."

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم ندي واپس کړي، کفارو ته پدغه موده کې هیڅوک مگر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته الله دا خبر ورکړی و چې په دوی به امتحان نشي کیدای، نه د دین او نه د دنیا په اړه، او دوی به ضرور خلاصیږي، بیا یې پورتنې حدیث د انس رضي الله عنه ذکر کړی، بیا وایي: الله تعالی فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځان نه خبرې نه کوي، بلکې دا وحي ده، چې هغه ته کیدای شي، نو زمونږ یقین دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا خبر و چې ده ته څوک د کفارو نه مسلمان راشي نو الله تعالی به ورته لاره خلاصوي، او دا وحي د الله تعالی د طرف نه صحیح ده. نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم عصمت بغیر د شک نه صحیح دی، هم په دنیا، هم په آخرت کې، هغه څوک چې ده ته راځي الله تعالی ورته د کفارو د لاسونو څخه نجات ورکوي، پدې کې هیڅ مسلمان شک نه کوي، او دا داسې خبره ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته پرې هیڅوک نه پوهیږي، او نه مسلمان ته دا حلال دي چې دا شرط ولگوي، او یا دې پرې وفا وکړي، ځکه ده سره علم غیب نشته کوم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته الله وحي کوله. [الإحکام في أصول الأحکام ج ٥ / ص ٢٦]

۲. د امام أبو داود قول:

"وَكَانَ هَذَا فِي الْمُدَّةِ الَّتِي شَرَطَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَرُدَّ إِلَيْهِمْ مَنْ جَاءَ مِنْهُمْ، وَإِنْ كَانَ مُسْلِمًا، وَأَمَّا الْيَوْمَ، فَلَا يَصْلُحُ هَذَا." انْتَهَى. [زاد المعاد]

ژباړه: او دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په موده کې و، چې هغه کفارو سره شرط لګولی و، څوک چې د دوی څخه راغی نو واپس کوي به يې، اګر که مسلمان وي، خو نن ورځ دا جائز ندي.

۳. د شوافعو هم دا قول دی:

شوافع وايي د سړو واپس کولو شرط مطلق ندی بلکې د هغوی حالت ته به کتل کيږي، کچيرته کورنۍ يې لرله چې دا د کفارو تعذيب څخه خلاص کړي نو بيرته به يې ګرځوي او که کورنۍ او قوت يې نه درلود نو بيا به يې نه ګرځوي. او د دغه مسلمان د ګرځولو شرط به باطل وي، لکه څنګه چې د زنانه وو واپس کولو په اړه شرط د هغوی د تعذيب او قتل څخه ژغورلو له امله باطل وګرځيد. څکه نبي عليه السلام فرمايي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى: فَإِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ دِمَاءَكُمْ، وَأَمْوَالَكُمْ، وَأَعْرَاضَكُمْ.

صحيح البخاري.

ژباړه: نبي علیه السلام د منی په مقام کې وفرمایل: بې شکه الله عزوجل په تاسې باندې د یو بل وینه، مالونه او عزتونه حرام گرځولي.

په مسلمان امام باندې دا لازم دي چې بندي راخوشې کړي، نه دا چې پخپل لاس يې کفارو ته حواله کړي. او نبي علیه السلام چې ابو بصیر او ابو جندل کفارو ته حواله کړي و، نو هغه يې خپلوانو ته گرځولي و، چې هغوی د نورو کفارو د تعذیب څخه ژغورل. [الْحَاوِي الْكَبِير 14 / 271، ومغني الْمُحْتَاج 4 / 264، وتحفة الْمُحْتَاج 9 / 308]

سره د دې چې نبي علیه السلام ابو بصیر ته د فرار او تیښتې لار ښودنه کړې وه.

عَنِ المِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ، وَمَرْوَانَ، يُصَدِّقُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا حَدِيثَ صَاحِبِهِ، قَالاَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَيْلُ أُمِّهِ مِسْعَرَ حَرْبٍ، لَوْ كَانَ لَهُ أَحَدٌ». صحيح البخاري

ژباړه: نبي علیه السلام وفرمایل: د ده مور دې تباه شي، دا خو اور لګونې دی، کچیرته ورسره څوک پیدا شي.

حافظ ابن حجر وايي:

"وَفِيهِ إِشَارَةٌ إِلَيْهِ بِالْفِرَارِ لِئَلَّا يَرُدَّهُ إِلَى الْمُشْرِكِينَ وَرَمَزَ إِلَى مَنْ بَلَغَهُ ذَلِكَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ أَنْ يَلْحَقُوا بِهِ." [فتح الباري]

ژباړه: او پدې کې فرار (تیښتې) ته اشاره وه، چې مشرکانو ته ور ونه ګرځي، او کومو مسلمانانو (اسیرانو) ته چې دا خبره ورسیده نو هغوی ته يې هم لارښودنه وکړه چې ابو بصير ته ځان ورسوئ.

نور صحابه چې خبر شو هغوی هم ابو بصير رضي الله عنه خوا ته ورغلل، يو قوي ډله جوړه شوه، د دوی په قتلونو او چريکي ګزارونو باندې نبي عليه السلام خه خبر و، خو د مشرکانو کومک يې ونه کړ، چې ابو بصير نه يې براءت اعلان کړې وای، يا يې د ابو بصير په نيولو کې کومک کړی وي، چې دا يې لاس تړلی کفارو ته حواله کړی وای بلکې موقع يې ورته ورکړه چې وتښتي او دا غدر ندی بلکې دا د حاکم فريضه ده چې په هر ممکنې طريقې مسلمان د کفارو د پنجو وژغوري.

أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَخْبَرَهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «المُسْلِمُ أَخُو المُسْلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ». متفق عليه.

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: مسلمان د مسلمان ورور دی، نه به پرې ظلم کوی، او نه به يې دښمن ته يواځې پريږدي.

حافظ ابن حجر وايي:

"وَقَوْلُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ أَيْ لَا يَتْرُكُهُ مَعَ مَنْ يُؤْذِيهِ وَلَا فِيمَا يُؤْذِيهِ بَلْ يَنْصُرُهُ وَيَدْفَعُ عَنْهُ." [فتح الباري]

ولا يسلمه معنا دا ده چې هغه چا ته به دغه مسلمان نه پرېږدي چې تکلیف ورته ورکوي، او نه هم هغه څه چې تکلیف ورته رسوي، بلکې کومک به یې کوي او دفاع به ترې کوي.

دلته بیا دوه صورتونه دي چې عام خلک پکې ګډ وډېږي:

یو صورت دا دی چې د دار الاسلام نه یو مسلمان کافرو ته ورکول دي، دا خو په اتفاق د امت سره حرام دي.

دویم صورت دا دی چې د کافرو نه کوم کس مسلمان شي او بیا هجرت کوي نو هغه مسلمان په اړه نبي علیه السلام سوله کې ویلي و چې دا به بیرته ورکوو، او زر دې چې الله به ورته د خلاصون لار برابره کړي، خو اوس دغه شرط هم د راجح قول مطابق ختم دی یا پکې تفصیل دی.

نو د نن وخت طالبانو په ځای د دې چې د ابو بصیر رضي الله عنه غوندې د اسلامي خلافت مجاهدینو ته لار ورکړې وای، بلکې په لوي

لاس يې كفارو ته وسپارل، جاسوسياني يې شروع کړی، مجاهدينو سره يې خپله جنګ شروع کړ.

نو دا بعضې هغه خبرې وی چې له امله يې د نبي عليه السلام مبارکې صلح او د ننې منحرف امارت موالاتو ترمنځ توپيرونه څرګندوي، نور هم د نبي عليه السلام سوله سراسر په ايماني غيرت او اسلامي أخوت باندې بناء وه، چې يو کس به د معاهدې خلاف وکړ، بيا به يې ټولو سره جنګ کاوه، لکه زاد المعاد کې يې تفصيل شوی، د مکې بعضې کسانو د نبي عليه السلام په يو حليف باندې يرغل وکړو، نتيجه کې نبي عليه السلام د مکې ټولو مشرکانو باندې حمله وکړه.

موضوع کې تفصيلات ډير دي، خو مونږ پر همدې ځای اکتفاء کوو، اميد دی چې د موضوع په حقيقت پوهه شوي ياست. او د طالبانو بطلان به درته لا روښانه شوی وي.

د طالبانو همدا غيرشرعي سوله هم فقط دوکه او غدر دی:

دا د طالبانو پخوا راهيسې تاريخ دی چې هميش يې معاهده کې غدر کړی، عبد العلي مزاري مرتد طالبانو سره سولې لپاره لاړو، طالبانو اسير کړو او آخر يې هم د طيارې څخه ښکته وغورځاوو، او دا اوسنی سوله يې

هم تړول په غدر بناء ده. څوک به ووايي چې تاسې د هغوی په حق کې زیاتې کوئ، نو دا ثبوت وګورئ:

دخوارجو د تنقیدونو ځیرنه

کتابونه

له کافرانو سره موادعه او مهادنه رواء ده، په داسې حال کې چې که د موضوع بل آړخ ته وکتل شي نو که اصلاً اسلامي امارت له کوم هیواد سره مهادنه ونکړي هم، ځینو هیوادونو ته د دوی ډاډ او د هغوی سره مخکې له مخکې د ښو اړیکو غبرګ پورته کول یو تکتیک بللی شو، بلکې له دوی سره جنګ بندي کول یا دوی ته ډاډ ورکول صرف مطبوعاتي بڼه لري چې دا پخپل ذات کې یو تکتیک او د اَلْحَرْبُ خِدعةٌ مقتضی ده. که موږ د تمدد او توسع چیغې وهو په داسې حال کې چې زمیني حقائق بل ډول غوښتنه کوي او موږ په ځای د دې چې خپل حضور نورو ته پراخ کړو، ورځ تر بلې په موږ د حصار کړی تنګیږي او د کافرانو ائتلاف ورځ تر بلې زموږ په وړاندې غښتلی کیږي، نو دا مو له خپل رعیت سره خیانت او په جنګي امورو کې نا اهلي او ناپوهي په ډاګه کوي.

وايي: ځینو هیوادونو ته د دوی ډاډ او د هغوی سره مخکې له مخکې د ښو اړیکو غږ پورته کول یو تکتیک بلل شوی، بلکې له دوی سره جنګ بندي کول، یا دوی ته ډاډ ورکول صرف مطبوعاتي بڼه لري چې دا پخپل ذات کې یو تکتیک او د الحرب خِدعة مقتضی ده.

إنا لله وإنا إليه راجعون. اول خو يې سوله په شرعي اصولو نده برابره، دويمه دا چې دوی مخکې نه د غدر نیت کړی، دا طالبان داسې غداران دي، وايي دا کیسې فقط مطبوعاتي بڼه لري.

...لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ (2) كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ. [سورة الصف: 2-3]

ژباړه: ... ولې داسې خبرې کوئ چې عمل پرې نه کوئ، د الله په نزد دا ډیر د غصې خبره ده چې تاسې داسې خبرې کوئ چې عمل پرې نه کوئ.

او دومره خو د علم څخه عاري دي، پدې نه پوهیږي چې الحرب خدعة له امله لوظ او امن به نشي ماتولی، پدې د امت اتفاق دی.

امام نووي رحمه الله وايي:

"وَاتَّفَقَ الْعُلَمَاءُ عَلَى جَوَازِ خِدَاعِ الْكُفَّارِ فِي الْحَرْبِ وَكَيْفَ أَمْكَنَ الْخِدَاعُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ فِيهِ نَقْضُ عَهْدٍ أَوْ أَمَانٍ فَلَا يَحِلُّ." [شرح النووي على مسلم]

ژباړه: د علماؤ اتفاق دې پدې خبره چې په کومه طريقه ممکن وي، جنګ کې د کافر سره دوکه روا ده مګر که د لوظ او امان ماتول پکې وي، نو بيا نه ده روا.

اوس دا طالبان دي او که دوکه بازان ؟ حسبنا الله ونعم الوكيل.

او دا اعراب يې هم خطا کړی، الحَرْبُ خِدْعَةٌ، سم ندی بلکې الحَرْبُ خَدْعَةٌ، خُدْعَةٌ، او خُدَعَةٌ درې اعرابات پکې جائز دي. دغه خطا که کاتب کړې وي او که د ليکوال وي، خو ظاهرا همدا د ليکوال خطا ښکاري، ځکه عامو خلکو کې همدا اعراب مشهور دی، او بل قرينې نه هم معلوميږي، چې ليکوال د کتاب او سنت علم څخه زياته فاصله لري، د علم الرجال څخه هم بيخي ناخبره دی، ټول هغه روايتونه يې راوړي چې ضعيف، منقطع، معضل، مرسل او مُدَّلَس وي. کار يې بهتان، الزام تراشي، او خيانت دی، فقط ميډيا تعقيبوي، د معاصرينو يو او بل کتاب ته سر ورښکاره کوي، اصل مصادر نه ګوري، د ويډيو ګانو او رابرټ ګيټس راپورونه ځان سره نوټ کوي، همدا رنګ ميډيا کې چې فقط د مړې

تصویر ګوري ځان سره يې ثبتوي، بیا وايي دا خلافت وژلی، همدې نه کتاب جوړوي، والله المستعان.

د امریکا ولې سولې ته اړتیا پیدا شوه ؟

اول: امریکا د اقتصادي، نظامي او افرادي قوت د لحاظه ورځ تر بلې په مخ ښکته روانه ده، دا ځکه:

۱. د امریکا ټول جنګ په ټیکنالوژي روان دی، حتی الوسع امریکا کوشش کوي چې خپل سرتیري جګړې ته مخکې نه کړي بلکې د مادیاتو او وسایلو څخه په ګټه اخیستنې خپل هدف ته ځان ورسوي. خو سره د دې یې هم په عراق او افغانستان جګړه کې د امریکایانو ډیرې سرتیري وژل شوي. نو دغه مادیاتو او ټیکنالوژي په استعمال سره یې اقتصاد په مخ ښکته روان دی.

۲. امریکا د کابل اداري ټول مصرف ورکوي، خو نور د دې توان نه لري. د افغان ځواکونو تجهیز څخه نیولې د ارګ لګښتونو په شمول د ټول حکومت مصارف امریکا ته ورپه غاړه دي. چې فقط د کرونا په اړه کابل اداره په یوې سندرې باندې ۵ میلیونه افغانۍ مصرف کوي نو د نورو اخراجاتو به یې څه حال وي. د ۴۷۳ ملیون ډالر بودیجه ورته امریکا کوم ځای نه پوره کړې.

۳. پدې وروستیو کې الله عزوجل په امریکا باندې خپلې مختلفې لښکرې مسلط کړي، لکه سیلابونه، اور لګیدنه، بالخصوص کرونا مرض له امله خو الله عزوجل امریکا خه وځپله.

۴. اساسي د ضعف نقطه د اقتصاد يې د اسلامي خلافت جنګ ده، چې امریکا عراق، خراسان او نورو ولایتونو کې د اسلامي خلافت په خلاف جنګ کې د بودیجې لویه برخه له لاسه ورکړه. فقط څه کم درې کاله کې يې 15.6 بلین ډالر مصرف کړل، په فضايي عملیاتو کې يې هیڅ کومه ناراستي ونه کړه، بلکې د بمونو مور يې هم راګوزار کړه، بلکې امریکا د خراسان په تمکین باندې داسې بمونه استعمال کړل چې په تېر کې نه و کارولي ، د بمونو مور خو فقط میډیا ته وښودل شوه، نور د بمونو د تخریب کچه چې وکتل شي چې دا غرونه يې سنګه کړي وو، نو د بمونو مور تخریب د هغوی په مخکې کې کم و.

د بې پیلوټه طیارې میزائل چې تقریبا یو لک شل زره ډالر قیمت لري، دا يې د خلافت په عادي مجاهد باندې استعمالاو، بلکې د مجاهدینو بار وړونکې خارو باندې يې هم استعمالول، حتی تر دې چې د اسلامي خلافت په یو عادي مسؤل باندې يې مرغا پچیر په سیمه کې ٦ میزائلې استعمال کړی، د کرکڼې اچین په خط کې يې په عادي مجاهدینو

باندې ۸ لويې ميزائلې د ډرون استعمال کړی، او په وروستيو کې خو د دغه ميزائل، کروزونو او نورو اسلحو شمير نه وو، دا هر څه د هوان توغندو په څير باديدل.

د خراسان په تمکين ختميدو چې امريکا په څوکلونو کې څومره بمبار او نور د عملياتو لګښت کړې د هغې لسمه حصه يي هم په ټول افغانستان کې په شلو کلونو کې د امارت په خلاف نه ده کړې او اوس خو نو سره خيښان دي.

دويم:

د امريکايانو ترمنځ خپل منځي اختلافات زيات شوي، د سپين پوستو او تور پوستو ترمنځ دائما ګرمه جګړه روانه وي. هره ورځ په امريکا کې ۲۴ ساعته کې يوه يا دوه خونړۍ پيښې رامنځ ته کيږي. سره د دومره پټولو هم دا خبره راښکاره شوه چې دې آخري ټاکنو کې د امريکا کانګريس ودانۍ هم د بايلونکي ولسمشر پلويانو لخوا محاصره شوه، او د نوی ولسمشر لوړې په پار يي ځانګړې امنيتي اقدامات وکړل، په زرګونو پوځ يې د يوې ودانۍ لپاره موظف کړی و. همدغه رنګ د فحشاء په مراکزو هره ورځ وسلوال بريدونه کيږي، او عجيبه دا ده چې د دومره پرمختللي وسايلو سربيره هم حمله کونکي روغ رمټ د ساحې څخه وځي، نو امريکا

د خپل مملکت امنیت ساتلو کې پاتې راغلی ده، او د شوروي په څیر یې د خپلو ایالتونو د جدا کیدو ورځې رانږدې شوي ان شاء الله.

دریم:

علتونه د سولې لپاره زيات دي، خو د اقتصادي بحران سره سره هم امریکا د صلیبي ائتلاف په زور دلته پاتې کیدای شوه، خو بنیادي علت دا ده چې امریکا نن د طالب څخه راضي شوه، طالب یې سیکولر او دیموکرات کړ، او کفري نړۍ ته یې عملا وښوده چې طالب خو بدل شو، هغه ۱۹ کاله پخواني طالب نده پاتې نو نور د جګړې هدف لاس ته راغلی، راځئ! چې بیرته خپلو وطنونو ته وګرځو او پدې سیمه کې د دیموکراسۍ تنفیذ دنده به طالب ته ورپه غاړه کړو، او مونږ به یې د هغه ځایه رهبري کوو. او دلته په یو نوم او بل نوم خپل اصلي استخباراتي خلک ځاي پر ځاي کوي، چې هغوی د طالبانو یو یو راپور صلیبیانو ته ورسوي، څوک د پروژې په نوم، څوک د خیریه بنسټ او موسسې په نوم، څوک د صحي بخش او څوک د تعلیمي بخش په نوم، څوک د ديپلوماتيکي اړيکو او د سفارت په نوم دلته پاتې کړي ، او طالبانو سره به په یوه نوې بڼه د دیموکراسۍ په تطبیق کې عملا همکاري کوي ، او تر څو چې طالبان ننی انحراف باندې قائم وي، نو د نړۍ کفار د ننګونو

او شهامتونو ځانګو خراسان شخه بې غمه د نورې نړۍ مسلمانانو په خلاف توطيې او دسيسې جوړوي.

خو دغه طالب مليشې، صليبي او علماني امريكا او د كابل مرتده اداره پدې ندي خبر چې آخري بريا به د مومنانو وي ان شاء الله، د كابل اداره به د كمونستانو نظام په څير سقوط وكړي، او طالبان به لكه د سابقه تنظيمونو په څير د خپل منځي جنګ شخه وروسته د ارتداد ترخې پايلې ووينې. باذن الله العزيز القهار.

آيا تر اوسه امريكا او طالبانو د سولې شخه خپل اهداف ترلاسه كړي ؟

نن سبا مونږ تاسې ګورو چې د طالبانو او امريكايانو ترمنځ د دوحې او نورو پټو او ښكاره تړونونو موافق امريكايانو د وتلو تابع نيولې ده. نو پدې كې امريكايان هدف ته ورسيدل او كه نه ؟ نو لنډه دا چې:

١. د امريكا ستر هدف طالبان د ديموكراسۍ او ارتداد په دروازو ورننوستل و ، نو دې هدف ته خو نږدې ښكاري. چې دلته افغانستان كې يو ائتلافي حكومت جوړ كړي، بيا په كرار كرار طالبان هم صراحتا ديموكراسي او انتخاباتو په اصولو حكومت جوړ كړي. لكه د سعودي

حکومت، دا رنګ به طالبان د واک په لمړيو ورځو کې د اولس او خپلو کشر خيلو د غولولو په پار د بعضې اسلامي شعائرو درواغجن تمثيل کوي، خو ډير زر به تري دغه خرمن هم ډډه شي او کفر به يې داسې بربنډ شي لکه څنګه چې نن د پاکستان، عراق، ايران، سعودي، مصر او نورو تش په نومونو اسلامي حکومتونو کفرونه بربنډ شوي.

نو امريکا د سولې بنيادي هدف ته رسيدو په درشل کې ده. لکه د دې اقرار طالبان هم کوي، خو فقط د شيخ اسامه شهادت خبره ښکاره کوي او نور خپل ارتداد نه په ډاګه کوي.

سنگرميډيا sungermedia
5.2K subscribers

د امريكا ولسمشر جو بايډن له افغانستان څخه د خپلو ټولو ځواكونو د ايستلو له اعلان وروسته د امريكايي سرتيرو ملي هديرې (آرلينگټون) ته تللى او هلته يې لنډو خبرو كې ويلي دي چې،دوى افغانستان کې هغه هدف تر لاسه کړ چې هغو لپاره تللي وو او هغه د اسامه وژل کيدل وو.

عزيـــزالله عزيـــراشنـــا, 6:05 AM 834

سنگرميډيا sungermedia
5.4K subscribers

د امريكا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو وايي چې له القاعده سره د جګړې او امريكا ته د «متوجه» ګواښونو له منځه وړلو لپاره په افغانستان کې د زرګونو امريكايي عسكرو حضور ته اړتيا نشته.

مايک پامپيو همدارازد دوحې له تړون سره سم تېر كال پر بهرنيو ځواکونو د بريدونو نه کېدل او د بين الافغاني مذاكراتو پيل فوق العاده پرمختګ بللى دى.

عبدالمنان حقاني, 9:21 PM 746

۲. امریکا د افغانستان څخه تیښته کوي، ځکه جنګ پرې اوږد شو، ستړې شوه، اقتصاد یې کمزورې شو، نو دا هدف یې هم لاس ته راوړې دی، منډه زنده باد په اصولو یې پیل کړی.

۳. په سوله کې د امریکا بل ستر هدف دا دی چې طالبان به د امریکا او علماني نړۍ اربکیان وګرځي نو د خراسان خاوره به بیا چیرته د اسلام تمکین په سترګو ونه ګوري، او دا ضمانتونه ورته د طالبانو لخوا هم ورکړل شوي. خصوصا د اسلامي خلافت خراسان ولایت سقوط چې د امریکا، پاکستان، کابل ادارې او طالبانو د ګډ اشر له امله منځ ته راغی نو امریکا د خوشحالۍ څخه په جامو کې نه ځاییده. خو پدې ارمان به امریکا سر وخوري ان شاء الله.

او هر چې طالبان دي، نو هغوی هم سوله کې اهداف لري، لکه:

۱. د طالبانو د ارتداد او کفر ته تسلیمۍ او د دومره تنزل او دوستۍ ستر هدف د افغانستان واک لاس ته راوړل دي. او امریکا هم پدې طرحه بوخته ده چې دې نورو مرتدینو په شمول د طالبانو لپاره یو نظم راجوړ کړي، نو دغه هدف ته طالبان نزدې دي، چې د کابل ادارې غوښینه برخه به طالبان وي.

٢. دويم هدف د طالبانو دا دی چې د آي ایس آي او صلیبي ټولنې پرضد جنګیدونکو ډلو مخنیوی وکړي، لکه اسلامي خلافت پرضد امریکا سره کړي تضمینونه او ژمنې عملي کړي، نو دا هم د خیالي تصور پرته په خارج کې هیڅ وجود نه لري. او دې ارمان ته به ونه رسیږي، ان شاء الله.

خو بهر حال فعلا بریا د امریکا ده، طالبانو بریا به هله وای چې د دوی په جنګ امریکا وتلی وای، اوس خو د طالبانو دموکراسۍ کې منحل کولو له امله امریکا وځي، طالب یې بدل کړ اوس وځي نو امریکا یقینا خپل هدف ته رسیدلې.

د طالبانو سوله کې د پاکستان بعضې اهداف:

مونږ مخکې وویل چې طالبان او اي ایس آي په مشترکه جګړه هم ونه توانیدل چې د اسلامي خلافت مخنیوی وکړي، نو د ناکامې ورځې خپلې طالب ملیشې یې په امریکا د خرڅولو نیت وکړ، لکه څنګه چې یې سابق کې حکمتیار، سیاف، مسعود، رباني، مجددي او نور رهبران د امریکا په لاس خرڅ کړي وو، او دې پروسه کې مختلف اهداف لري:

۱. طالبان نړۍ ته د یو سوله اییز او د بین الملل په اصولو ولاړ ځواک معرفي کړي.

۲. د طالبانو سولې په نتیجه کې يې د خپل اصلي مخالفینو لکه اسلامي خلافت مجاهدینو په ضد جنگ لپاره امریکا استعمال کړه.

۳. پاکستان چې طالبان يې هم یوه وفاداره ملیشه ده نو د دې په واسطه د همیش په څیر اوس بیا افغانستان اشغال کول غواړي، لکه د کمیونستانو سقوط پر وخت يې هم د افغانستان واک لپاره بې شمیره هڅې وکړې خو د تنظیمونو ډیروالي له امله پدې ناپاک هدف ونه توانید، ځکه خو يې اوس یواځې د طالبانو تنظیم رامخکې کړی. چې د کابل واک تر لاسه کړي او د افغانستان څخه نور د پاکستان یو ولایت په توگه استفاده وکړي او دایم لپاره د پاکستان دفاعي سنگر پاتې شي.

۴. په آینده کې هم د اسلامي خلافت څخه ځان ژغورلو لپاره د طالبانو واک غواړي، ځکه که طالبان واک ته ونه رسیږي نو پاکستان د اسلامي خلافت څخه خار خوري چې هغه به یو وخت د خراسان حاکم شي. نو پاکستان غواړي چې خراسانیانو ذهن څخه د جهاد او آي ایس آي د دشمنۍ مطالب نور وباسي، که څوک د جهاد نوم اخلي باید د طالبانو دیموکرات دولت سره یوځای شي.



۵. د نړیوالې ټولنې له نیوکو څخه ځان ژوغورنې په پار، لکه نړیوال کفار پاکستان د طالبانو په حمایت تورنوي ځکه دا یو حقیقت دی، اوس پاکستان د سولې له لارې طالبانو څخه د کفر سپین بازان جوړوي چې بیا یې په حمایت کوم کافر ما ته د انتقاد ګوته ونه نیسي.

٦. پاکستان اوس د طالبانو اکمال څخه عاجز شوی نو د طالبانو تمویل اوس د نړیوالو کفارو په غاړه کې اچوي.

٧. د سولې څخه وروسته د امریکا وتل، ځکه چې پاکستان بیا هم غلام دی، د امریکا بادار په موجودیت خپلې بعضې طرحې نشي عملي

کولای، او دا يې د نورو متحالفينو تقاضا هم ده لکه چين، روس وغيره ځکه پاکستان خو د منافق په څير هر طرف څخه خپل مفاد راټولوي.

او نور زيات خطرناک اهداف لري.

آيا دا سوله به په مجاهدينو کوم اغيز ولري؟

دا خبره هله ممکن وه چې طالبانو يوځل او ناڅاپه د ارتداد په ميدان کې قدم يخې واى، او د اسلام مبارکې جامې څخه يې ځان اوس عاري کړى واى، خو حقيقت داسې نه دى، مجاهدينو خو دا طالبان د هغه ورځې څخه پيژندلي چې دوى د قطر دفتر لپاره هڅې شروع کړې وى.

مجاهدين الحمد لله د لسګونو ملکونو تحالف پر ضد جنګيږي نو دا هم پکې يو کمزورې او غلام مملکت شو، نو بفضل الله دا خبره مجاهدينو لپاره نوى نه ده.

دغه شان مجاهدين به هله د تاثير لاندې راتلاى چې چيرته يې طالبان نه پيژندلاى، نو طالبان خو مونږ پخپلو سترګو وکتل، جنګ مو ورله ليدلى،چې کله ورسره د امريکا د هوايي ځواک ملاتړ نه و، نو ددغه صحنو به ډير ژوندي طالبان هم شاهدان وي کوم چې د اسلامي دولت په خلاف جنګيدلي چې څنګه به درې او څلور سوه کسيزه رمه لس يا

پنځلس مجاهدينو په مخه کړې وه ، او که به د اسلامي دولت لس کسه سنګر کې وو، نو د امارت دوه سوه کسانو پرې کاميابي نه شوه موندلې بفضل الله ، او داسې کيسې شته چې سړی حيران پاتې شي ، د مرکخيلو په وروستيو جنګونو کې د اسلامي دولت د مجاهدينو دولس کلنو او ديارلس کلنو بچو د اشبالو کتيبې وړو زمرو به درې او څلور طالبان په يواځې ځان وژل او سلب به يي ترې ترلاسه کاوه، جبن، خيانت، غدر، ارتداد او مخدره موادو استعمال يې راته معلوم دی، نو څنګه به ترې مجاهدين متاثره شي.

بلکې طالبان چې سمې ته راکوز شي، مرکزونه يې مشخص شي مونږ ته به انتقام اخستل آسان شي، او کله چې د پستو چوکو، منصبونو، دنياوي نعمتونو او خوراکونو خوند يې وکتلو نو بيا به يې هڅه ټوله همدا دنيا وي، بيا غر ته نه خيژي، بيا د توپ، ټانک او طيارې پرته جنګ نشي کولای لکه د کابل اداري اردو. نو فقط به خپلې بنګلې ساتي لکه د پخواني تنظيم مشرانو په څير لکه سياف او حکمتيار. أعاذنا الله منهم.

مونږ سره زمونږ رب ملګری دی، هغه به زمونږ نصرت کوي، او رب ته طالبان وهل څه ګرانه خبره نده.

بلکې سوله یې زمونږ لپاره پدې هم ګټه وره ده چې د اولس هر خاص او عام به یې وپیژني، کفر به یې بیخي د لمر په څیر شي، په دوه ګوتو به نه پټیږی، او د طالب کشر خیل به هم تقسیم شي، بعضې به د حقیقت په درک کولو اسلامي خلافت سره بیعت وکړي، بعضې به په کور کیني، بعضې به د طالبانو څخه جلا بل نظم جوړ کړي، کیدایشي آي ایس آي د خپلو مفادو لپاره دا کار هم وکړي، او بعضې به په دیموکراسۍ کې ښکیل شي او د دنیاوي لذتونو اسیران به شي. او دې هره خبره کې د خلافت لپاره خیر شته، ان شاء الله.

د سولې بحث په همدې ځاي پاي ته رسوو.

څلورم فصل

په دې فصل کې به ان شاء الله هڅه وکړو د اسلامي دولت تاريخچه، عقيده منهج او په وړاندې يې د بې بنياده ځينو شبهاتو ځوابونه وکړو.

د اسلامي خلافت لنډه پېژندنه

کله چې د اسرائيلو پاچاهي اعلان شوه نو د دنيا له ګوټ ، ګوټ څخه دلته يهوديان راغلل، او په فلسطيني مسلمانانو باندې يې انتهايي زيات ظلمونه شروع کړل ، نو په نتيجه کې مسلمانانو د دې ځای څخه هجرتونه پيل کړل. د دې مهاجرينو د جملې څخه يو "أحمد النزال " و چې د اردن الزرقاء ښار کې آباد شو، او دغه ښار کې په "١٣ رجب ١٣٨٦ هـ او ٣٠ اکتوبر ١٩٦٦ شـ " نېټه د ده يو زوي پيدا شو، چې زوی ته يې نوم أحمد فضيل النزال کېښود ، چې بيا يې د أبو مصعب الزرقاوي په نوم شهرت وموند. ابو مصعب الزرقاوي تعليم کاوه چې د روس په خلاف د افغانستان جهاد شروع شو، نو ابو مصعب، د هغه وخت وتلي جهادي رهبر عبد الله عزام سره ليدنه وکړه، هغه ورته د جهاد دعوت ورکړ، نو ده قبول کړ او د هجرت نيت يې وکړ، تر دې چې پيښور ته الله راورساوه. دلته د روس خلاف مختلفو محاذونو کې پاتې شو، روس د همدغه راز

پاكو او سپيڅلو مجاهدينو د قربانيو په بركت الله ذليله كړ او په ماتې او شرمندګۍ يې مات او ګوډ له افغانستانه پښې سپكې كړې، خو د اولسونو او سپيڅلو مجاهدينو په وينو ، د كونډو او يتيمانو په اوښكو د تنظيمونو مشرانو تجارت شروع كړ او د يو شرعي نظام په ځاې يې په واك او چوكۍ جګړې پيل كړې ، چې په پايله كې شيخ زرقاوي او اكثره عرب مجاهدين اردن ته لاړل، او هلته يې د اردن په خلاف مسلح جهاد شروع كړ، د تقدير فيصله وه چې شيخ بندي شو، شپږ كاله پس چې راخوشې شو نو افغانستان كې د طالبانو حكومت قائم و، او شيخ اسامه هم د سوډان نه دلته راغلې و، نو شيخ بيا افغانستان ته هجرت راوكړ، خو متاسفانه دلته بيا د پاكستان حكومت لخوا بندي شو، خو د الله په فضل زر راخوشې شو. شيخ ابو مصعب الزرقاوي په هرات كې خپل تربيتي معسكر پرانيست، دغه دوران كې شيخ اسامه سره يې ډيرې ليدنې وكړې، شيخ اسامه ورسره مالي مرستې وكړې، چې په نتيجه كې شيخ د يو مستقل نظم " التوحيد والجهاد " بنياد كيښود، چې اكثره ورسره د اردن د زندان ملګري و، او نور اردني مجاهدين هم زيات و، شيخ ابو مصعب الزرقاوي شيخ اسامه سره بيعت نه و كړې، شيخ زرقاوي د مجاهدينو روزنه شروع كړه، تر دې چې امريكا او صليبي ائتلاف په افغانستان حمله وكړه او هغه وحشتونه يې وكړل، چې تاريخ يې سارى نه لري، شيخ اسامه په توره بوره

کې پناه واخیسته، شیخ زرقاوي هم د امریکا د بمبارۍ له امله زخمي شو او توري بوږې کې د شیخ اسامه خوا ته ورغې، بیا میرانشاه وزیرستان ته لاړ، له هغه ځای څخه د ایران په لاره عراق ته واوښت، نو امریکا په عراق هم حمله وکړه، شیخ زرقاوي د خپل جماعت ملګري منظم کړل او د امریکا په خلاف یې د جهاد اعلان وکړ.

دلته افغانستان او پاکستان کې عرب مجاهدینو سره ډیر ظلمونه او غدرونه وشول، چې دا ظلمونه او وحشتونه له هیچا پټ نه دي ، اې آېس اې د طالب په صف کې خپل وفادار ایجنټان په ځان راټول کړل او د همدوې له طریقه یې ګڼ عرب مجاهدین نیول او بربنډ به یې په امریکایانو پلورل ، اوس نو د زمان د لټ په اوښتو د اې ایس اې همغه مهار شوي طالب مشران دا دې د بجوه او اې ایس اې د جنرالانو امر منونکي عسکر دي او تل ورته لاس په نامه ولاړ وي کله یې پاکستان د کرملین په تالارونو ورننباسي ، کله یې د پیکینګ چیت پوزو چینایي کمونسټانو ته د وفادارۍ عهد د وفدونو په شکل ورلیږي او کله یې نو بیا دوحه کې امریکایانو سره د سولې په نامه د تسلیمۍ ، واک ته د رسیدو په بدل کې د دیموکراسۍ د تطبیق او اسلامي دولت سره د شریک جنګ تړونونه لاسلیکوي چې دا ددوې د همغه لمړنیو خیانتونو پایله ده چې ددوې د همغه لمړنیو خیانتونو له کبله اکثره عرب مجاهدینو عراق ته

مخه کړه او د شيخ زرقاوي خوا ته ورغلل، هلته يې د امريکا په خلاف منظم جهاد پيل کړ، او امريکا ته يې غابښ ماتونکي گذارونه ورکړل، امريکا په شيخ زرقاوي پينځويشت ميليون ډالر انعام مقرر کړ.

بيا شيخ زرقاوي د مسلمانانو اتحاد او يوالي لپاره شيخ اسامه سره بيعت وکړ او د "قاعدة الجهاد في بلاد الرافدين " په نوم يې نوی نظم اعلان کړ، او خپل زوړ نظم يې هم په همدې کې مدغم کړ. بيا يې شپه او ورځ د مجاهدينو اتحاد لپاره کوشش کاوه، او شيخ اسامه هم د عراق مجاهدينو ته د اتحاد دعوت ورکاوه ، چې آخر هم الله رب العالمين د دوی په کوششونو په "ذوالحجة ١۴٢٦ هـ، جنوري ٢٠٠٦ " باندې د عراق ټولو مجاهدينو اتحاد وکړو او د "مجلس شورى المجاهدين " په نوم يو نظم منځ ته راغی. بيا شيخ زرقاوي هغه سترې کارنامې وکړې چې د هيچا څخه پټې نه دي، چې د همدغه کارنامو او لاس ته راوړنو په وجه يې د امير الاستشهاديين لقب وگاټه، د امريکايانو خوبونه يې ورک کړي و، امريکايانو د مجاهدينو د اتحاد ختمولو لپاره سخت ماديات استعمال کړل، چې اکثره مجاهدين ونيول شو.

شيخ زرقاوي به ډير وخت پس يو نزدې ملگری د خپل کور احوال معلومولو لپاره ليږلو، بيا به د کور څخه ورته جامې او د ضرورت سامان

راتلو، نو یو ځل يې ملګرى ولیږه، په دغه دوران کې استخباراتو کور تعقیباوه، او د دغه ملګري تالاشي يې واخسته خو تالاشی دوران کې، د شیخ په سامان کې يې څه کیښودل، چې بالآخر د لوي مقاومت نه وروسته دغه ستر قائد په " ١٠ جمادى الأول ١٤٢٧ هـ جون ٢٠٠٦ " نیټه باندې د امریکې ایف شپاړس طیارې د ٢٣٠ کلو وزن لرونکي دوه لیزر ګائیډ بمونه استعمال کړل، او په نتیجه کې شیخ زرقاوي، د شهادت لوړ مقام ته ورسید. إنا لله وإنا إليه راجعون.

د دولة العراق الإسلامية قيام

د شیخ زرقاوي څخه وروسته، شیخ اسامه د دغه تنظیم امیر "شیخ ابو حمزه المهاجر " وټاکه، چې دا هم ډیر سپیڅلې او مبارک قائد و، خو دغه وخت د عراق مجلس شورى مجاهدین او نورو مخلصو مجاهدینو دا مشوره وکړه چې ټول به سره یو شو او داسې دولت به اعلان کړو چې مقصد يې د خلافت قیام وي، نو په "رمضان المبارک ١٤٢٧ هـ ' اکتوبر ٢٠٠٦ عـ کې " د دولة العراق الاسلامية " په نوم يې دولت جوړ کړ، شیخ اسامه دغه اقدام وستایه او شیخ ابو حمزه المهاجر ته يې هم د یوځای کیدو امر وکړ، د دغه قائدینو په مشوره، شیخ ابو عمر البغدادي د دولة العراق الاسلامية امیر او شیخ ابو حمزه المهاجر د حرب وزیر وټاکل شو.

د شيخ اسامه الفاظ دا دي:

"وهنا ينبغي ذكر أهل الفضل السابقين في باب الوحدة والاجتماع بما هم أهله، فلقد سر المسلمين تسابق عدد من أمراء الجماعات المقاتلة في سبيل الله مع عدد من شيوخ العشائر المرابطة المجاهدة لتوحيد الكلمة تحت كلمة التوحيد فبايعوا الشيخ الفاضل أبا عمر البغدادي أميرا على دولة العراق الإسلامية."

ژباړه: او دلته د اتحاد او يووالي ته مخکې کيدونکو غوره خلکو ذکر مناسب ده لکه څنگه چې هغو سره خايي. يقينا د الله په لار کې جنگيدونکو يو څو ډلو مشرانو د څو مجاهدو قومي مشرانو په شمول د توحيد کلمې په سيوري کې اتحاد ته مخکې والی وکړو، او غوره شيخ ابو عمر بغدادي سره يې د عراق اسلامي دولت په توگه بيعت وکړو.

بل بيان کې داسې وايي:

"لأنهم من أكثر الناس تمسكا بالحق والتزاما بمنهج رسول الله صلى الله عليه وسلم."

ژباړه: ځکه هغوی تر ټولو خلکو زيات په حق منگولې لگونکي او د نبي عليه السلام لار کلک نيونکي دي.

دا د شیخ اسامه ویناګاني دي نو دا د دولة الاسلام تزکیه ده، دوی داسې ګمنام خلک نه وو، بلکې د نړۍ د جهاد مشرانو يې برملا تایید کړی.

حتى دکتور ایمن الظواهري هم دا ګواهي ورکړی:

"إن الذين دافعوا عن الإسلام والجهاد وأهل السنة في العراق هم المجاهدون الشرفاء وعلى رأسهم دولة العراق الإسلامية المباركة التي لا زالت بفضل الله صامدة لم تغير عقيدتها ولم تتراجع ولم تتزحزح عن ثوابت الإسلام رغم كل الحرب الذرة التي شنت ضدها."

ژباړه: هغه کسانو چې له اسلام، جهاد او اهل سنت څخه يې په عراق کې ساتنه کړې ده، هغوی د قدر وړ مجاهدین وو، چې تر ټولو مخکې د عراق مبارک اسلامي دولت قرار لري، چې نن هم د الله په فضل ټینګ ولاړ دی، نه يې عقیده بدله شوې، او نه د دین ثابتو حکمونو څخه ګرځیدلي دي او نه هم لرې شویدي، سره د دې چې ناپاک جنګ يې په ضد شروع شوی.

دغه مجاهدینو ته الله جل جلاله ډیر فتوحات ورکړل، کفر سخت په هیبت کې شو او ډیره کلکه جاسوسي يې پیل کړه چې په نتیجه کې "اپریل ۲۰۱۰، جمادی الأول ۱۴۳۱ هـ" باندې امیر المؤمنین ابو عمر البغدادي په میزائلو شهید کړ او په همدغه ورځ شیخ ابو حمزه المهاجر

هم کور ته تللي و، چې د هغه جاسوسي هم وشوه او دې کفارو پرې چاپه ووهله، هغه يې هم شهيد کړ او د هغه ښځه او بچيان يې بنديان کړل.

د شيخ أبو بکر البغدادي إمارت:

د شيخ ابو عمر البغدادي او ابو حمزه المهاجر په يوه ورځ شهادت مجاهدين سخت خفه کړل خو دولة العراق الاسلامية شورى، شيخ ابو بکر البغدادي نوی امير وټاکه، هغه انکار وکړ خو ډيرې ورځې پس قانع شو او په " ٢ جمادی الثاني ١۴٣١ هـ " چې موافق " ١٦ مئ ٢٠١٠ شـ " کې د شيخ ابو بکر ابراهيم بن عواد الحسيني تقبله الله سره بيعت وشو. د دې ځخه مخکې شيخ ابوبکر البغدادي د امريکا حملې پر وخت خپل تنظيم " جيش السنة والجماعة " جوړ کړی و، بيا د مجلس شورى المجاهدين د اتحاد پر وخت ده هم خپل تنظيم په کې مدغم کړ او لږه موده وروسته چې کله دولة العراق الاسلامية بنياد کيښودل شو نو شيخ ابو بکر البغدادي د شورى رئيس وټاکل شو او بيا د شيخ ابو عمر البغدادي له شهادت وروسته د عمومي امير په توګه وټاکل شو. نو شيخ ابو بکر البغدادي شپه او ورځ محنت وکړ او دغه دولت يې تر شام وغځاوه او د " دولة الاسلام في العراق والشام " اعلان يې وکړ.



د دوکتور ظواهري ويناګاني هم مشهوري دي:

"ولا بد أن نقر بالفضل لإخواننا في دولة العراق الإسلامية وعلى رأسهم أميرهم فضيلة الشيخ أبي بكر البغدادي في إمداد الجهاد في الشام بخيرة الرجال وإيثارهم بالأموال على شدة ما يعانون ويقاسون. "

ژباړه: او باید د عراق اسلامي دولت کې خپلو ورونو په قدر چې سر کې یې د هغوی امیر محترم شیخ ابو بکر بغدادي دی، چې د شام جهاد ته په خپلو غوره ملګرو او د خپلو مالونو څخه ایثار کولو سره کومک وکړ، اقرار وکړو. سره د دې چې هغوی په کمبوډیو او سختیو کې ژوند کوي.

او د دولت اسلامي هدف یعني د خلافت قیام څخه دا ټول خبر وو، خو کله چې یې خلافت قائم کړ، نو بیا یې ترې انکار وکړ، (فلما جاءهم ما عرفوا كفروا به)

ظواهري بل ځاي وايي:

"هي دولة تدعو وتسعى وتجتهد في إعادة دولة الخلافة المنتظرة وتحرض المسلمين على ذلك."

ژباړه: دا داسې دولت دی چې هغه منتظر خلافت راوستلو لپاره کوشش او دعوت کوي او مسلمانان دې ته هڅوي.

د القاعدې د ختمولو اعلان ته یې غوږ شئ :

"أود أن أوضح أنه ليس هناك شيئ الآن في العراق اسمه القاعدة ولكن تنظيم قاعدة الجهاد في بلاد الرافدين اندمج بفضل الله مع غيره من الجماعات الجهادية في دولة العراق الإسلامية حفظها الله وهي إمارة

شرعية تقوم على منهج شرعي صحيح ، وتأسست بالشورى وحازت على بيعة أغلب المجاهدين والقبائل في العراق."

ژباړه: غواړم چې یوه نقطه واضحه کړم، دا چې اوس په عراق کې د القاعدې په نوم څه وجود نه لري، بلکې تنظیم قاعدة الجهاد في بلاد الرافدین د الله په فضل له نورو جماعتونو سره عراق اسلامي دولت کې داخل شوي، الله دې د هغې ساتنه وکړي، او دا داسې شرعي امارت دی، چې په سم شرعي تګلار باندې ولاړ دی، د شورا لخوا تاسیس شوی او د عراق اکثرو مجاهدینو او قبائلو بیعت څخه جوړ شوی.

اوس انصاف سره اووایاست، منهج یې هم دې ټولو تایید کړ، د شوری اقرار یې هم وکړ، د القاعدې د ختمیدو اعتراف یې هم وکړ، او دغه رنګ نورې زیاتې څرګندونې د القاعدې مشرانو وکړې، نو دې عباراتو سره ډیر سوالونه جواب شول:

د خلافت مشران څوک دي ؟

دا خو مجهول او نامعلوم خلک دي!

د خلافت قیام څخه مخکې هغوی نړیوال حیثیت نه درلود!

اسلامي دولت څنګه منځ ته راغی ؟

عراق کې خو القاعده موجود وه ؟

د اسلامي دولت منهج نړیوالو مجاهدینو تایید کړې وو او که نه ؟

آیا خلیفة المسلمین ابو بکر البغدادي د اهل الحل والعقد شورا لخوا ټاکل شوی ؟

دا پوښتنې ټولې د شیخ اسامه او هبت الله اخوندزاده عسکر دوکتور ظواهري د خولې جواب شوی، د دې نه وروسته هم دا پوښتنې تکرارول محض تجاهل او ضد دی.

بیا کله چې مجاهدین ښه قوي او منظم شول او ډیرو ښارونو کې تمکین حاصل کړ، د موصل، رقه په څیر ستر ستر ښارونه یې په ولکه کې راغلل نو" ۱ رمضان المبارک ۱۴۳۵ هـ" موافق " ۲۹ - جون ۲۰۱۴ شـ"باندې دغه دولت د موصل په یو تاریخي جمات کې د شیخ ابو بکر البغدادي د خلافت اعلان وکړ. د علي رضي الله عنه په نهج باندې د کومو أهل الحل والعقد حضور چې آسانه و او ظواهري په شمول نړیوالو یې په شرف او غوره والي اقرار کاوه، فائده پرې مرتب کیده نو هغوی ټولو په مشوره د خلافت انعقاد وشو، دا بیعت پداسې حال کې ترسره شو چې د طالبانو امیر ملا محمد عمر وفات شوی و، ډیر کوششونه ورپسې مجاهدینو وکړل خو آخر هم دا واضحه شوه چې ملا صاحب نشته نو د خلافت اعلان وشو.

ټول شروط پکې پوره و، د نړۍ په هر ملک کې تجدید د جهاد شروع شو، او بیا خلیفة المسلمین داسې قرباني ورکړه چې مخکني قائدین یې وروسته پرېښودل، د خلافت ٣٦ تمکیني ولایتونه او په لکونو مجاهدین و، ورځ تر بلې مجاهدینو تعداد ډېریده او کفار ذلیله او رسوا کیده .

د خراسان ولایت:

په عراق او شام کې چې کله الشیخ الامام المجدد ابو بکر ابراهیم بن عواد تقبله الله د رسمي خلیفه په توګه اعلان شو، نو د خراسان باننګه شازلمو هم د هجرت لپاره هڅې شروع کړې، ډله ایز بیعتونه وشول ، کله چې خلیفة المسلمین د دې ځاي د مجاهدینو د بیعت شوق او قوت نه خبر شو نو ډېره نآآشنا فیصله یې وکړه، خلیفة المسلمین ډېر د پوهې او بصیرت خاوند و، هغه د خراسان تاریخونو، غورځنګونو او حماسو څخه خبر و، نو دا محاذ یې هم تش پرېښود ، دا یې ډېره د بصیرت پریکړه وه ځکه یو خو هر ځاي کې خپل نفوذ کول او دویم دا چې ټولو مجاهدینو هلته د هجرت توان نه لرلو نو ځکه یې دلته د ولایت امر ورکړ . د دې ځاي نه مختلفو خلکو بیعتونه لیږلي و، هغوی ټولو ته د یوځاي کیدو او بیا د عالي شورى د تاسیس امر وشو، شورى د ژور سوچ وروسته حافظ سعید خان اورکزی د والي او مولانا عبد الرءوف خادم د نائب والي په

حيث وټاکه او د خلافت رسمي ویاند شیخ ابو محمد العدناني تقبله الله په خپل رسمي بیان کې دغه څرګندونې وکړی. نو هر طرف ته خوشحالي شوه او خلیفه سره بیعتونه شروع شول. د جهاد یو نوی پړاو پرانیستل شو، چې د مخکې پړاونو څخه ډیر غښتلې او منور و، په دغه پړاو کې هغه سپیڅلي او مخلص مجاهدین راټول شول چې د تحریک طالبان په چوکاټ کې د اې ایس اې په خلاف جنګونه کړي وو او زیات نور یی بیا کلونه ، کلونه د امارت په صف کې د اسلامي خلافت د قیام په نیت د امریکایي اشغالګرو په خلاف جنګیدلي وو، د طالب مرتدینو دا خبره بیځایه ده چې دلته شل کاله اسلامي امارت مبارزه او جنګ کړې او ددوی په اصطلاح داعش اوس راپیدا شو.

داسې نه ده.

اسلامي دولت سره په هره سیمه کې بیعت کونکي خلک څه له اسمانه نه وو راکیوتلي همغه مسلح مجاهدین وو چې مخکې د امارت په صف کې ولاړ وو د امارت له خباثتونو او خیانتونو تر پوزې رسیدلې وو، او دا پرې ډیر ژر الله احسان وکړ چې د اې ایس اې په شمول د ټولې نړۍ د استخباراتي کړیو له دسیسو اذاد او همدغه ټولو استخباراتي کړیو سره جنګیدونکو د اسلامي دولت مجاهدینو سره یوځاې شول ، مسلمانانو بیا

د فتحې امیدونه پیدا شول.دغه بیعتونه به والي حافظ سعید خان " تور دره " کې اخستل او ملګري يې تيرا او شينوارو کې پراته و.

حافظ سعيد خان تقبله الله

حافظ صاحب رحمه الله د اورکزو ایجنسۍ، د محمود زو قبیلې څخه و. د تحریک طالبان پاکستان اورکزی ایجنسۍ امیر و، زیات دیني علم يې ترلاسه کړې و. کله چې امريکا په افغانستان حمله وکړه نو حافظ صاحب به دلته د جهاد لپاره راتللو، د کرم او پاړه چنار شيعه ګانو خلاف جنګونو کې هم ډيره برخه اخيستې وه او کله چې د اورکزو پخواني امير حکیم الله محسود د بیت الله محسود ځای ناستې وټاکل شو، نو حافظ سعيد خان د تحریک طالبان پاکستان د اورکزو مجاهدینو امير شو. د حافظ صاحب جنګي مهارت، فکري بصيرت او شجاعت په تحريک کې له پخوا راهيسې مشهور و.

پاکستاني مرتدينو ته يې سخته مرګ ژوبله اړولې وه او مشهور جنګونه يې د احد دفاع جنګ، شاوو جنګ، جوګي جنګ، د خيبر أنصار الاسلام په نوم د آي ايس آي لښکريانو سره جنګ چې ددغه لښکريانو دولس سوه پاکستاني فوج ملاتړ کاوه.

د حافظ صاحب یو استشهادي حمله کې ۳۰۰ لښکریان، پاخون خیل او حکومتي کسان وژل شوي وو. او خه منظم گروپونه يې د پاکستان مختلفو ښارونو لکه کراچۍ، پیښور، کوهاټ او نورو منطقو کې لرل. حافظ صاحب سره اورکزو کې د سیمې مجاهدینو پرته عرب مجاهدین، ترکي، اوزبک او آذر بایجان مجاهدین شامل وو. چې د مجاهدينو د همدغه مختلفو تنظیمونو څخه جوړې شورا حافظ صیب د خراسان د والي په حيث خليفه المسلمين ته ورمعرفي کړ چې هغه يي هم بیعت قبول کړ او رسما يي د خراسان د والي په حيث وټاکه ، د حافظ صاحب د خراسان د والي په حیث ستري کارنامې هم واضحه دي، ځکه دغه شان مشکلاتو کې نوی نظم اعلانول او بیا د هغې سنبالول، یقینا دا ډیره گرانه خبره وه، او د افغان حکومت او امارت جنگیالو څخه يي ډیرې سیمې ونیولې . بالآخر د امریکې ډرون لخوا د اچین تختو سیمه کې شهید کړی شو. تقبله الله.

کله چې خراسان ولایت اعلان شو نو اې آیس آې یرې واخسته، ځکه چې یو خو دې ته په اندیښنه کې وه چې په تیر کې دلته د ټولو جهادي خوځښتونو مهار به په یو ډول نه یو ډول د اې ایس اې لاس کې و، او د اسلامي خلافت منهج ورته مالوم و، چې دوې نه د سایکس بیکو

سرحدات مني او نه هم په پاکستان او نورو تش په نامه اسلامي هيوادونو کې حاکم جمهوريت.

اې ايس آې په ډير قوت د اسلامي خلافت په خلاف همغه له پيله د ايران ، روس او نورو کفري او طاغوتي هيوادونو سره په شريکه د امارت جګړه مار چې لا له پخوا د اې ايس اې د جغ لاندې تلل پوره تحريک او تجهيز کړل همغه و، چې د امارت جګړه مارو له د اسلامي خلافت د کمزورو مجاهدينو په خلاف سخته جګړه پيل کړه، حال دا چې د اسلامي خلافت مجاهدينو ددوې سره جنګ نه غوښته او د دوې له جنګه يې تر ډيره ځان وساته ، بار بار يې ورته د علاقې علماء او بانفوذه مشران ورولیږل چې ګوره زمونږ دښمن امريکا، د هغې ائتلاف، افغاني او پاکستاني مرتدين دي، مونږ سره ولې جنګ کوئ؟

خو الغرض د طالبانو امير اختر منصور څخه استخباراتو په کلکه مطالبه وکړه چې په خلافت جنګ شروع کړه، بيا نو هغه د جهادي تاريخ تر ټولو ستره غلطي وکړه او جنګ يې شروع کړ، دا تاريخ کې هغه پسې وليکل شول چې جنګ يې شروع کړ، بې اتفاقي يې رامنځ ته کړه، دا خبره په افهام تفهيم هم حل کيده چې ويلې يې واي چې زما ذهن پرې ندې خلاص، بيعت به يې نه کولې خو د آي ايس آي په زور به يې جنګ خو

نه شروع کولای، که دا د واک دومره وږي و، خو نړیواله اجتماع چې رامنځ ته شوې وه د دې پرمخ خو به خنډ نه جوړیدو، خو دغه کس د خلافت مجاهدین دې ته پرېښودل چې د اصلي کفارو او مرتدینو په خلاف وجنګیږي، د کفارو لوي هدف چې د اسلامي خلافت مخنیوی و، د دې عملي کول د اختر منصور په برخه شو، هغه خلافت چې ورځې تر بلې يې په خپلو غورځنګونو لوي ،لوي ښارونه د اسلام په ولکه کې راوستل، ورځ تر بلې يې چپې د نړۍ ګوډ ،ګوډ ته رسیدی، او د کفر تغر په ټولیدو و، اصل کې رهبري جدا جدا وه، اختر منصور له پاکستانه رهبري اخسته، ځکه پاکستان يې استوګنځاي و، بیا په شینوارو مامند اچین سیمه کې طالبانو د خلافت پر مجاهدینو ناڅاپه حمله وکړه او خلک يې هم پاڅون ته وهڅول خو الله رب العالمین پرې مجاهدین برلاسي کړل او دغه امارتیان يې ژوندي ونیول، او شرعي دورې ورته شروع کړی او د خلافت لخوا ورسره احسان وشو او عمومي عفوه ورته وشوه. خو دې امارتیانو او پاڅون خیلو بیا خیانت وکړ او په مجاهدینو يې اعتماد جوړولو وروسته بیا حمله وکړه. مجاهدینو هم د ځان نه دفاع شروع کړه او غرونو ته وختل، دلته دې مرتدینو د مجاهدینو کورونه تالا کړل او سپینږیري لکه أبو رئیس وغیره يي د زنانه وو په منځ کې په چړو وهلو شهیدان کړل ، د مجاهدینو مهاجرې زنانه ، ماشومان او بوډاګان يي د سخت وحشت

لاندې ونیول او دغه د طاغوتي رژیمونو کرایي جګړه مارو هغه ظلمونه وکړل چې چنګیزانو هم نه وو کړي.

کله چې مجاهدین غره ته وختل نو هلته شیخ مقبول، مولانا ګل زمان فاتح، جهاد یار چې دا ټول عمومي مشران وو، دوی ملګري منظم کول چې امریکایي جیټ او ډرون لخوا ګذارونه شروع شول او د دې مشرانو په شمول څلویښت پورې مجاهدین شهیدان شول، او زخمیان په میدان پراته وو، دا نو ډیر دردونکي او ډیر عجیبه حالت و، همغه له پیله امریکایي طیارو د طالب ملیشو په مقابل کې د اسلامي خلافت مجاهدین بمبارول . څو ورځې پس پاتې ژوندیو مجاهدینو په مرګ بیعتونه وکړل او د الله په فضل يې حمله پیل کړه، نو د الله جل جلاله نصرت او کومک و چې بیا د دغه مرتدینو پښې خویه شوې او ذلیله شول. کوم کسان چې ونیول شول، له هغوې څخه لس خائنان، مجاهدینو په بمونو کینول چې نن هم خلک وایي دوی په بمونو خلک الوځولي، نور نو پوښتنه نه کوي چې څوک يې الوزولي او ولې الوزولي ؟

هو !

دا هغه خاینان مشران وو، چې د اسلامي خلافت د مجاهدینو د څو ځل ښښنې باوجود يې هم خیانتونه وکړل ، سپین ږیري په چړو ووهل او د

مجاهدينو تور سرې مهاجرې په کوڅو کې ځغلولې .

له دې وروسته نو د مجاهدينو د هجرت لړۍ له پخوا زياته چټکه شوه ، مشهورو علماء او جهادي خلکو هجرتونه وکړل، لکه شيخ عبد الحسيب(د خراسان دويم والي)، شيخ قاسم، شيخ جلال الدين، مولانا سيف الاسلام، سعد الأمارتي، شيخ منصور، شيخ ابو يوسف، شيخ عبد القاهر، قريشي امير، شيخ ابو سعيد المهاجر (د خراسان دريم والي)، د اوزبکو مجاهدينو حرکت اسلامي ازبکستان، د القاعده تنظيم پنجابي مجاهدينو، تاجک مجاهدينو، باجوړ ايجنسۍ مجاهدينو ،د دير مجاهدينو، پيښور مجاهدينو، د غور او فراه ولايتونو يوې مجموعې، قندوز، بدخشان، کنړ مجاهدينو، د جوزجان قاري حکمت په مشرۍ نور ګڼ شمير مجاهدينو، د لشکر جنګوي مجاهدينو ، د اردن بحرين په شمول د عربي ممالکو په شمول د ګڼو نورو هيوادونو مجاهدينو بيعتونه او هجرتونه شروع کړل. او کله چې مرکزي خلافت ته هجرتونو سلسله منقطع شوه نو خراسان د خارجي مجاهدينو دار الهجره وګرځيده، د هندوستان، بنګله ديش او ايغور مجاهدينو ډله ايز هجرتونه وکړل. او د يورپ بعضې ملکونو لکه ډنمارک او سويډن او نورو ملکونو څخه د مجاهدينو انفرادي هجرتونو هم زور واخيست. هر طرف ته د کافر په خلاف جنګونه شروع شول، د پاکستان بلوچستان ايالت کې ډيرې

پوځیان، وکیلان او جاسوسان ووژل شول، چې نن یې هم پاکستان حکومت په هغه ورځ غم رازي کوي. صرف یو حمله کې ۱۷۲ وکیلان مردار شوي وو. ولله الحمد. پیښور کې ډېر پوځیان او پولیس او د آي ایس آي کارمندان مردار شول. په کراچۍ کې اسماعیلیان شیعه ګان او نور مرتد ووژل شول. لاهور او داسې نورو سیمو کې مبارک عملیات وشول. او افغانستان کې ننګرهار، کونړ، کابل، لوګر، قندوز، غور، جوزجان او نورو ولایتونو کې د جګړې ډګر تود شو چې نن هم بحمد الله تود دی.

د تمکین نظام برابر شو، د مرکزي خلافت لخوا د ټولو ولایتونو لپاره یو منهج مقرر شو چې مختلف دواوین او اداري پکې وی لکه : دیوان الولایة ، دیوان الاعلام ،دیوان الدعوة والمساجد، دیوان الحسبة، دیوان الزکاة، دیوان الحرب، دیوان التعلیم، الامن الاعام، المعسکرات، دیوان الاقتصاد، دیوان القضاء والمظالم، دیوان الصحة، الخدمات العامة، هیئة الهجرة، ورشة الاسلحة او داسې نورې مختلفې اداری فعالې شوی. او د قرآن او سنت منور نظام تطبیق کوشش شروع شو. کله چې امریکا او اتحادیانو یي دا حالات وکتلو، چې خلافت اسلامي خو ورځ په ورځ قوي کیږي او هر طرف نه مسلمانان راروان شول نو د هوایي بریدونو ترڅنګ یي خپل زمکني بریدونه هم ستر او چټک کړل . د خلافت

مجاهدين، ماشومان، زنانه، سپین ږیري، حتی چې زمونږ واک لاندې سیمو کې اوسیدونکي عوام یې هم په بې رحمانه بمبارۍ شهیدان کړل.

په یوه ورځ یې د پیښې په څپري علاقه کې په یو مسجد کې سیپارې په لاس څلویښت تنه ماشومان په شهادت ورسول ، او بیا دغه د کفر لوړ سپیکرو رسنیو خبر داسې خپور کړ چې امریکایانو د داعش د فدایانو مرکز بمبار کړې ، همدغه پیښې تنګي کې د اختر په ورځ په عام بمبار کې ګڼ ماشومان او تور سرې شهیداني کړې ، په همدغه پیخه کې له عوامو لمونځ کونکو یو ډک مسجد بمبار کړ . اچین ،مامند ، سور کمر او تنګي، دیباله میلوه، مرغۍ، وزیرو تنګي او داسې نورو سیمو کې ډیرې عوام شهیدان کړل. خبره تر عام بمبار او شبخونو ورسیده او حتې داسې وخت راغې چې په هر یو کلي به څو ډورن ګرځیدلې او هر ساکښ یې په نښه کاوه چې ددې هر یو کلي او سېمې بیله ، بیله کېسه او حادثه ده چې ذکر کول به یې دا بحث لا اوږد کړي نو ځکه یې له یادولو تیریږو . خو دا د دوۍ عادت و، کله به هم چې مخامخ جګړه کې پاتې راغلل نو بیا به یې ړنده بمباري کوله، د مامند شډل اسد خیلو سیمه کې نهه میاشتې دغه صلیبي ځناورو سخته بمباري وکړه، هر قسم طیارې یې وآزمایلې، که هغه جیټ دی او که هیلي کفتر، بې دوه پنځوس، چار مشینه او د ډرونونو خو قطارونه جوړ وو، هر غر او هره لار د دوۍ هدف

و، تر دې چې د نړۍ تر ټولو ستر بم "د بمونو مور " يې هم وغورځوله ، خو بيا هم مجاهدين وروسته نه شول، ځکه الله رب العالمين يي ايمانونه مظبوط کړي وو، چې دا هر څه به انغماسيانو په مينه زغمل، خو کله چې په دې هم ونشول ، نو مامند اچين او پيښې تنگې وغيره علاقو يې عمومي بمباري شروع کړه ، په کورونو کې ماشومان او زنانه يې شهيدان کړل، همدغه شان گورگورۍ، وزيرو توحيد آباد (مياگانو کلی) ټول ځمکې سره ځمکه شوي.

او بل خوا ته يې اعلام ته شپه او ورځ ملا وتړله، دغه رسنيو د خلافت په سپکه ويلو کې يوه دقيقه کوتاهي ونه کړه . ډيرې عجيبې او غريبې پروپايگنډې او تهمتونه يې شروع کړل، عجيبه دا ده چې بې شعوره او د رسنيو غلام فکره خلکو په دومره جديت دا موضوع واخيسته، او هر سړي سره يې زمزمه کوله، تر دې چې د عامو خلکو هم دا خيال راغې چې کيدای شي رشتيا به وي!

بالآخر امريکايانو او صليبي ائتلاف فضائي، او د هغوی غلامانو امارتي جنگياليو په دوحه کې د اسلامي خلافت په خلاف د شوي تړون په اساس شريکه جگړه شروع کړه، امارت خو هر کال د خلافت جنگ ته په اشر جنگيالي راټولول، خو د الله په فضل او نصرت سره، هر وار يې سخت

گذار خوړلې او مجاهدینو ترې ساحې نیولي، خو دا ځل د جګړې نقشه او انداز ډېر عجیبه و، امارتیانو صلیبیانو سره د پاکستان په وساطت پوخ لوظ کړې و، که څه هم امارتیان خو لا له پخوا د پاکستان اجیرې ملیشې دي خو دې جنګ کې چې د امریکا په مشرۍ رهبري کیده د پاکستان فوځ او اې ایس اې ستر رول ولوباوه ، د پاکستان په ګوډ ، ګوډ کې له مدرسو طالب احمقان هم راټول کړل ، د سپین غره په ورپورې لمنو کې شیعه قومونه هم ورسره ملګري کړل او تر څنګ یې د فوځ جنرالان هم ورسره شول ، د سپین غره هغه لور ته ورته منظم کمپونه ، روغتونونه او مرکزونه جوړ شول او دا لښکر یې د امریکایي طیارو په بدرګه په داسې حال کې د سپین غر په زیړان کنډو راواړاوه چې افغانستان له هر ولایت څخه په زرګونو طالب ملیشې هم ښکاره په موټرو کې د افغان مرتد حکومت په پوستو راواوښتل او ورسره له مختلفو لورو افغان کمانډویانو او پاځونخیلو هم هجوم راوړ، له بره به امریکایي طیارو او کروز تو غندیو لمړې د اسلامي دولت مرکزونه خه کلک بمبار کړل او وروسته به بیا راغلو احزابو هجوم راوړ ، تاسې به ددغه شریکې جګړې ډېرې کیسې اوریدلې هم وي او اینده کې به یې هم واورئ ددوې د نیول شویو بندیانو له خولې دا اعترافات خواره شول چې دوې ته د جګړې قومانده او نقشه پاکستاني جنرالانو او امریکایي طیارو ورکوله او داسې نښې به یې انتقالولې چې

امريکايي طيارو ته به يي سيګنال ورکول چې هغوې به خپل زمکنې فوځ امارتي جګړه مار او د خلافت مجاهدين د سپين غر په غرونو او ځنګلونو کې په اسانۍ سره پيږندلې شول.

زمونږ د دې حالاتو ګواهي به درته د هغه ځاي اوسيدونکي وکړي بلکې که څوک هلته لاړ شي نو په امريکايي عامو بمبارونو کې له يوه مخه د بمبار شويو کليو له تشو کنډرو پرته به بل څه ونه ويني، مخامخ جګړه کې يې کلکه ماتې وخوړه ، دخلافت غازيان ډير په ميړانه وجنګيدل، ددغه شريک ايتلاف او شريکې علني جګړې په لړ کې د خراسان عمومي امير الحرب مولانا مصطفى اوزبک، ستر قومندان ابو يحيى باجوړی، عالي شورى غړی زيد قاري صاحب، د امير الحرب نايب اسد الله استاد، د شينوارو د خط مسؤول مروان مولانا په شمول ډيرې اميران شهيدان شول، او د خلافت خصوصي پوځ " كتيبة الفتح " ټولو ملګرو، اميرانو او کشرانو انغماسي عمليات وکړل او تر هغې له سنګره ښکته نه شول چې امريکايي کروزونو او ډرونونو بمبار کړل او بيآ به يي امارتي جګړه مار په سوځيدلو جسدونو ودريدل . او دا نورې کتيبې تر آخره جنګيدلې. چې اکثره ملګري شهيدان، زخميان او اسيران شول "فك الله أسرهم واشف مرضاهم وداوي جرحاهم" او د لوي الله په فضل ډيرې پکې روغ هم

راووتل.

دا د خراسان لنډه کیسه وه، نور داستان ډیر اوږد دی.

د اسلامي دولت عقیده

اسلامي دولت د افراط او تفریط ترمنځ د اهل سنت والجماعت عقیده لري، چې دغه عقیده د اسلامي دولت پخواني مشر شیخ ابو عمر البغدادي رحمه الله بیان کړېده:

شیخ ابو عمر البغدادي رحمه الله وايي: خلک پر موږ یو شمېر تورونه لګوي، چې په حقیقت کې زموږ اسلامي دولت له دغو تورونو نه په کلي توګه مبرأ دی او دا پر موږ دروغ دي، چې دښمنان یې د خلکو د نفرت لپاره په موږ راتپي، دوی وايي: چې د اسلامي دولت مجاهدین عامو خلکو ته کافر وايي او وینې او مالونه یې حلال ګڼي، خلک په خپل دولت کې جبراً د توري په زور داخلوي، که څوک ورسره بیعت ونه کړي، هغه مباح الدم بولي او چې څوک ورسره بیعت وکړي، نو په زوره یې له سره توره ټوټه ترې او جنګ ته یې روانوي ؟ لا حول ولا قوة الا بالله، دا دروغجن، بې بنسټه او ښکرور تورونه دي، چې خلک یې پر موږ لګوي، غواړي چې خلک له موږ سره له یو ځای کېدو وویروي خو دوی پر خپلو

خولو د اسلام رښا وژل غواړي او الله تعالی به هرومرو خپله رڼا پوره کوي او د اسلامي دولت بيرغ به د نړۍ په گوټ گوټ کې رپانده ليدل کيږي.

موږ غواړو چې د خپل اسلامي خلافت د ځينو اهدافو، موخو، تگلارو او ضوابطو په بيانولو سره دغه تورونه له منځه يوسو په دې خاطر، چې د درواغجنو منافقانو بانې ختمې شي، مخونه يې تور او ذليله شي او د هغو خلکو په زړونو کې چې له موږ سره مينه لري، شک پاتې نه شي، زموږ حقانيت او رښتينولي ورته څرگنده شي.

لومړی: موږ شرکي اډې، عقيدې او عادات ختمول او د شرک د وسايلو بندول واجب گڼو.

دويم: روافض (شيعه گان) د شرک او ارتداد ډله ده او د دې ترڅنگ د اسلامي خلافت او اسلامي نړۍ ستر دښمن دی، چې د ډېرو ظاهري احکامو د تطبيق په وړاندې خنډ واقع کيږي.

دريم: موږ عقيده لرو، چې ساحر کافر دی، وژل يې فرض دي او له قدرت وروسته د دنيا په احکامو کې يې توبه نه قبليږي.

څلورم: موږ د مسلمانانو له ډلې څخه، چې زموږ قبلې ته لمونځ کوي، يو کس هم په گناهونو لکه زنا، د شرابو څښل، غلا او داسې نورو کافر نه

بولو، تر څو حلال یې نه وي ګڼلي او زموږ عقیده د ایمان په اړه د زیاتې کوونکیو خوارجو او مفرطینو مرجئوو ترمینځ برابره او درمیانه ده، نو چا چې د شهادت کلمه اوویله او موږ ته یې اسلام ښکاره کړ او د اسلام په نواقضو ککړ نه و، موږ ورسره د دنیا په ظاهري احکامو کې د مسلمانانو معامله کوو او باطن یې الله تعالی ته سپارو او کفر په دوه ډوله دی، یو اکفر اکبر دی او بل کفر اصغر دی او حکم یې پر کسب کوونکي واقع کیږي، که هغه عقیدوي وي، که قولي وي او که فعلي وي، خو د یوه کس په اړه د کفر او یا د جهنم کې د همیشه اوسیدو حکم کول، د کفر د شرایطو په پوره کېدو پورې اړه لري.

پنځم: موږ عقیده لرو چې د ژوند په ټولو چارو کې د الله تعالی دین ته فیصله وړل لازم دي او ټول مسائل به اسلامي محاکمو ته وړل کیږي او د دې پر ځای وضعي قوانینو ته فیصلې وړل او طاغوت ته فیصلې وړل د اسلام له نواقضو څخه دي.

شپږم: موږ عقیده لرو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم درناوې، توقیر او احترام فرض دی او د هغه مخې ته راوړاندې کیدل حرام دي او هغه څوک مرتد دي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم یا د هغه کورنۍ، اصحابو او خلفاء راشدینو توهین کوي.

اووم: موږ ایمان لرو، چې علمانیت د ټولو اقسامو په اعتبار سره، لکه قومیت (نشنلیزم) ژبني، نژادي او سمتي تعصبات او داسې نور ښکاره کفر دی، د اسلام سره په ټکر دی او له ملت نه ویستونکې دی او بناء پر دې ټول هغه خلک کافر بولو، چې په سیاسي او نظامي عملیاتو کې ونډه لري، ځکه پدې کې د الله تعالی شریعت بدلول او د مسلمانانو پر ځمکو د نړۍ د کفارو یهودو نصاراو مسلط کول دي.

موږ عقیده لرو چې کوم گوندونه، تنظیمونه او جماعتونه په دیموکراسیو ککړ دي، که هر څومره اسلامي او عربي نومونه پر ځان کېږدي، د الله تعالی له شریعت څخه اووښتي دي.

اتم: هغه خلک کافر گڼو، چې له کفارو سره مرسته کوي او په همدې سره به دوی زموږ د جنگیالیو په وړاندې هدف وي او وینه به یې مباح وي.

نهم: موږ عقیده لرو، چې د اندلس له سقوط څخه راپدېخوا جهاد فرض عین دی، د دې لپاره، چې اسلامي نړۍ د کفارو له پنجو څخه آزاده شي او دا به د هر چا په قیادت کې کولای شي، که نیک وي او که بد.

له شرک او کفر څخه وروسته تر ټولو لویه گناه له فرض عین جهاد څخه د خلکو منع کول او پرته له عذره ترې کیناستل دي.

لسم: موږ عقيده لرو، چې په هر هيواد کې کفري قوانين مسلط وي او غالبه احکام له اسلام څخه مخالف وي، هغه دار الکفر دی او د دې دا معنا نه ده چې د دغه هيواد ټول اوسيدونکي به کافر وي بلکې چا کې چې ناقض موجود و، هغه به کافر وي او نور مسلمانان به پخپل ايمان پاتې وي، د حاکم نظام د وجې عام مسلمانانو ته د کفر نسبت نه کوو.

يوولسم: موږ عقيده لرو چې د طاغوتي حکومتونو له ټولو پوليسو، عسکرو، پوځيانو، استخباراتي شبکو او سياسي کړيو سره جهاد واجب دی او د دې ترڅنګ د ټولو هغو ودانيو او موسساتو د ورانولو د وجوب عقيده لرو چې طاغوت به يې زموږ په مقابل کې د قرار ګاه او سنګر په توګه نيسي او کاروي يې او که څوک توبه وباسي نو پر هغوی به هيڅ بوج نه وي او اسلامي دولت يې مسلمانان او خپل تبعه بولي او ټول حقوق ورته ورکوي.

دولسم: موږ عقيده لرو، چې د اهل کتابو او نورو کفارو ټولې ډلې اهل حرب دي، هيڅ ډول ذمه ورسره نشته او که امن غواړي نو بايد له اسلامي دولت سره خپل عهد د عمري شرايطو مطابق له سره تازه کړي، کوم يې چې مات کړي دی.

دیارلسم: موږ ټول مجاهدین او جهادي جماعتونه مسلمانان او غازیان ورونه بولو، خو دومره ده، چې د یوه بیرغ لاندې د نه راټولیدو له امله ګناهګار دي او د یوه حدیث په بناء یې مرګ د جاهلیت دی.

څوارلسم: هر جماعت او شخص چې له طاغوت څخه برائت او له اسلامي دولت سره بیعت کوي، موږ یې بیعت قبلوو او که له طاغوت سره هر ډول اړیکې لري، بیعت یې قبول نه دی، که له موږ سره یې جګړه کوله موږ یې په ورین تندي جګړې ته تیار یو.

پنځلسم: موږ د نیک عمله صادقو علماؤ احترام واجب ګڼو، له هغوی نه دفاع کوو او هغه علماؤ څخه براءت کوو چې هغوی د طاغوت په منهج چلیږي او یا ورسره په ځینو مسئلو کې مداهنت او جوړ جاړې کوي.

شپاړسم: څوک چې له موږ نه د جهاد مقدس حکم ادا کولو ته ورمخکې شوي دي، د هغوی حق پیژنو او هغوی ته د هغوی د شان مطابق مرتبه ورکوو او د هغوی ښه نیابت کوو.

اوولسم: موږ د اسلامي حریمونو آزادي او د کفارو له منګولو نه د مسلمانو بندیانو آزادول پر ځان لازم بولو، که څه هم استشهادي بریدونو ته پکې اړتیا وي ورته به تیار یو. لکه څرنګه چې د کورنیو پالل پر ځان لازم ګڼو،

همدا رنګه د بنديانو، يتيمانو، او د کونډو پالنه او ساتنه هم پر ځان لازم ګڼو.

اتلسم: موږ امت مسلمه ته د ديني او ضرورت وړ دنيوي زده کړه ورکول، پر ځان لازم ګڼو او له دې پرته يې مباح ګڼو، په دې شرط چې له اسلامي ضوابطو، مقدساتو او اساساتو سره خلاف نه وي.

نولسم: موږ عقيده لرو چې ټول هغه شيان حرام دي، چې خلک بې حيايۍ ته رابلي او يا ورسره مرسته کوي او پر ښځه (پرده) د مخ پټول فرض ګڼو او د مخ ښکاره کول ناروا بولو، دې لپاره چې بې حيايي خپره نشي.

خلافت اړوند بعضې مباحث

قدرمنو مسلمانانو ورونو او خويندو !

د اسلامي خلافت پيژندني لپاره بعضې مختصر مباحث ذکر کوو: چې اسلامي نظام څه ته وايي، څنګه قائميږي، مشر يې څنګه ټاکل کيږي، خليفه لپاره يې کوم شرطونه دي، داسې نده چې هر کس د امامت او مشرۍ دعوه وکړي، هغه پسې به خلک روان وي، نه هغه به د شريعت

تلې ته اچول کیږي، بیا څوک چې شرعي امیر و، د هغه سل په سله اطاعت لازمیږي.

د اسلامي خلافت قیام په اجماع د امت سره فرض دی، که چا خلاف کړی نو هغه اختلاف یې مردود دی.

خلافت په لغت کې ویل کیږي:

١. الإمامة. مشري.

٢. النيابة عن الغير لغيبة المنوب عنه. د بل چا د نشت والي پرمهال د هغه پرځای کار کول.

٣. مأخوذة من خلف يخلُفُ خِلَافةً. أخذ مكانه، جاء بعده.

د خلف یخلف څخه اخستل شوې معنا یې ده، د بل چا ځای نیول، له هغه څخه وروسته راتلل.

خو ټولې معناګانې سره نږدې ،نږدې دي.

اصطلاح:

١.امام ماوردي په الأحكام السلطانية کې تعریف کوي:

الْإِمَامَةُ: مَوْضُوعَةٌ لِخِلَافَةِ النُّبُوَّةِ فِي حِرَاسَةِ الدِّينِ وَسِيَاسَةِ الدُّنْيَا.

هغه مشري چې د دین په ساتنه او دنیاوي چارو سمون کې د نبوت نیابت لپاره رامنځ ته شوي وي.

٢.تفْتَازَاني په متن د مَقَاصِد الطالبين فِي علم أصُول عقائد الدّين کې وايي: الْإِمَامَة، وَهِي رئاسة عَامَّة فِي أَمر الدّين وَالدُّنْيَا خلَافَة عَن النَّبِي [صلى الله عَلَيْهِ وَسلم]

د نبي علیه السلام په نیابت کې د دین او دنیا عامه مشری ته خلافت وایي.

خلیفه او امام:

1." الإِمَام ": خلَافَة شخص للرسول فِي إِقَامَة قوانين شَرْعِيَّة، وَحفظ حوزة الْإِسْلَام، على وَجه يجب اتِّبَاعه على كَافَّة الْأمة. كتاب التجريد.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د یو کس نیابت کول، دشرعي قانون په نافذولو او د اسلام حدودو ساتلو کې پداسي طریقه چې تابعداري یې په ټول امت واجب وي.

2.وهو الوالي الأعظم لا والي فوقه ولا يشاركه في مقامه غيره.

التراتيب الإدارية.

هغه والي (واک خاوند) ته ویل کیږي چې هغه د پاسه بل والي نه وي، او نه هم ورسره څوک پدغه درجه کې شریک وي.

د خلیفه شرطونه:

تحریر الأحکام في تدبیر أهل الاسلام د امام بدر الدین بن جماعة کې د خلیفه لپاره مذکوره شرطونه ذکر شوي:

١. ذکر: خلیفه به نر او سړی وي. ښځه خلافت لپاره اهل نده.

دلیل : ۞ الرِّجالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّساءِ [النِّسَاءِ: 34]

نارینه په ښځو حاکمان (اداره چیان) دي.

۞عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَنْ يُفْلِحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمُ امْرَأَةً». صحيح البخاري.

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه قوم به هیڅ چیرې کامیاب نه شي چې خپله مشري زنانه ته وسپاري.

۞ قَالَ الإِمَامُ القرطبي: وَأَجْمَعُوا عَلَى أَنَّ الْمَرْأَةَ لَا يَجُوزُ أَنْ تَكُونَ إِمَامًا. تفسیر القرطبي.

امام قرطبی وایی: علماؤ اجماع ده پدې خبره چې د ښځې مشري روا نه ده. [دغه رنګ امام بغوي په شرح السنة ج 10 / ص 77 کې هم اتفاق د علماؤ ذکر کړی.]

دویم : الحر:

امام ابن بطال وایي : وَإِنَّمَا أَجْمَعَتِ الْأُمَّةُ عَلَى أَنَّهُ لَا يَجُوْزُ أَنْ تَكُونَ الإِمَامَةُ فِي الْعَبِيدِ. [شرح صحيح البخاري. ج 8/ ص 215]

ژباړه: امت اجماع کړې پدې خبره چې مشري په غلامانو کې نشي کیدای.

دا ځکه چې غلام خپل واك نه لري، د بل چا په امر کې وي، نو دومره دروند پیټې نشي اوچتولې. فراغت او مصروفیت یې د بل چا په لاس کې دی. او د آزادو خلکو ترمنځ حیثیت نه لري، اطاعت یې خلک صحیح نه کوي نو مقصد د امامت نه ترلاسه کیږي، د دې شرط په اړه د یوې شبهې جواب د قریشیت شرط په ضمن کې کوو. ان شاء الله.

دریم : بالغ:

امام ابن حزم وایي:

"وَجَمِيع فرق أهل الْقبْلَة لَيْسَ مِنْهُم أحد يُجِيز إِمَامَة امْرَأَة وَلَا إِمَامَة صبي لم يبلغ إِلَّا الرافضة فَإِنَّهَا تجيز إِمَامَة الصَّغِير الَّذِي لم يبلغ. "

[الفصل في الملل والأهواء والنحل]

د مسلمانانو په ټولو ډلو کې هيڅ يوه ډله هم د زنانه او د نابالغ ماشوم مشري روا نه ګڼي، سیوا د روافضو نه، هغوی د نابالغ ماشوم مشري هم روا ګڼي.

ماشوم مرفوع القلم وي، شريعت کې پرې د مال اعتماد نه کيږي، نو د دومره لوی امانت، د دينو او نفسونو معامله خو هيڅکله نشي برداشت کولې، هم جسماني کمزوري لري، هم یې عقل خام وي، او فکري بصيرت نه لري.

څلورم : عاقل :

دا هم اتفاقي شرط دی، ځکه ليوني خو د خلافت مقصود، مهام، وظائف سر ته نشي رسولی، مرفوع القلم دی.

پنځم : اسلام.

اسلام خو په اجماع د امت مسلمه سره د خليفه لپاره شرط دی، ځکه مونږ د اسلامي دولت د امير ذکر کوو، چې د الله دين په ټوله ځمکه

حاکم شي، نو چې یو کس خپله مسلمان نه وي نو دا به دین څنګه نافذ کړي ؟

پدې کې ډېر نصوص راغلي دي :

الله عزوجل د کافر ولایت نه مومنان منع کړيدي:

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاءَ } [سورة المائدة: 51]

ژباړه: اې مومنانو، یهود نصارا په دوستۍ سره مه نیسئ.

تر ټولو لوي ولایت خلافت او مشري ده.

وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا [النِّسَاءِ: 141]

ژباړه: او هیڅیرې نده ګرځولې الله تعالی کافرانو لره په مومنانو باندې لار د غلبې.

السنن الکبری د امام بیهقي روایت الإِسْلاَمُ يَعْلُو وَلاَ يُعْلَى، مطابق به اسلام غالب وي، مغلوبه به نه وي. نو کافر چې په مسلمان مشر شو، نو کفر غالبه شو.

امام نووي نقل کړي: "قَالَ الْقَاضِي عِيَاضٌ أَجْمَعَ الْعُلَمَاءُ عَلَى أَنَّ الْإِمَامَةَ لَا تَنْعَقِدُ لِكَافِرٍ وَعَلَى أَنَّهُ لَوْ طَرَأَ عَلَيْهِ الْكُفْرُ انْعَزَلَ ....وَجَبَ عَلَيْهِمُ الْقِيَامُ بِخَلْعِ الْكَافِرِ." [شرح النووي على المسلم]

ژباړه: قاضي عياض وايي، د علماؤ پدې خبره اجماع ده چې خلافت باندې به د کافر لپاره بیعت نشي اخستل کیدای، او پدې خبره هم اجماع ده کچیرې په مسلمان خلیفه کفر راغی نو دا به لرې کیږي، او په مسلمانانو د دغه کافر د لرې کولو لپاره پاڅون واجب دی.

دا خو د خلیفه او امام شرط دی چې نبي علیه السلام وايي، إلا أنْ تَرَوْا كُفْراً بَوَاحاً. متفق علیه. تاسې به د خلیفه په هر حال کې اطاعت کوئ، مگر که خلیفه کې مو ښکاره کفر ولید نو بیا یې اطاعت نشته.

اسلام خو د امیر، حاکم او خلیفه لپاره تر ټولو لومړی شرط دی.

[تحرير الأحكام في تدبير أهل الإسلام صـ 51 / الخلافة صـ 25]

شپږم عادل :

خلیفه به عادل وي، معنا دا چې د خلافت د ټاکلو په وخت به فاسق فاجر نه وي، ظالم به نه وي، ځکه خلیفه خو دې لپاره ټاکل کیږي چې خپلو مامورینو دین وساتي، انصاف ورکړي، رعیت په یو بل ظلم ونه کړي،

د کفارو او باطلو ډلو ظلم نه يې وساتي، چې خپله ظالم وي نو بيا خو مقصود د امامت حاصل نشو.

وَإِذِ ابْتَلى إِبْراهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِماتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قالَ إِنِّي جاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِماماً قالَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي قالَ لا يَنالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ. [سورة البقرة: 124]

ژباړه: او کله چې امتحان وکړو په ابراهيم (عليه السلام) باندې رب د هغه په يو څو کارونو سره، نو په کامله توگه يې وکړل، هغه وفرمايل يقينا زه تا د خلکو لپاره امام گرځوم، ابراهيم (عليه السلام) ورته وويل: او زما د اولادونو څخه، (امامان وگرځوه) هغه وفرمايل: زما لوظ (د امامت) ظالمانو ته نه رسيږي.

امام قرطبي وايي:

"لَا خِلَافَ بَيْنَ الْأُمَّةِ أَنَّهُ لَا يَجُوزُ أَنْ تُعْقَدَ الْإِمَامَةُ لِفَاسِقٍ." [تفسير القرطبي]

ژباړه: د امت پدې خبره کې اختلاف نشته چې د فاسق لپاره امامت صحيح ندي.

امام نووي هم دا خبره نقل کړې، چې ابتداءا به فاسق انسان خليفه نه گرځي خو د خلافت څخه وروسته که فاسق شو، نو بيا پکې اختلاف شته

خو بيا هم جمهور علماء وايي چې د فسق په صورت يې هم خلافت سم دی. شرح النووي على مسلم.

اووم : شجاع.

بل شرط امام بدر الدين بن جماعة دا وايي چې خليفه به زړور وي، د كفارو تهديدونو څخه به نه ويرېږي، د چا له ويرې به حدود نه معطل كوي، د خپل قتل څخه به نه ډارېږي، د زړور امير د لاندې خلک په اطمينان سره ژوند كوي، په امير اعتماد لري كه دښمن څه حركت وكړو نو امير صيب ميدان ته وركوزيږي او جنگ ورسره كوي. دښمن هم ترې مرعوب وي.

لكه خليفة المسلمين أبو بكر البغدادي استشهادي جاكټ صرف خپلو كشرانو ته نه وركوي چې ځئ لاړ شئ افغانستان کې جنگ وكړئ د طالبانو مشرانو په څير بلكې خپله يې هم په تن باندې استشهادي جاكټ دی او په موقع کې بيا عملي استشهادي هم كوي. تقبله الله.

اتم قريشيت:

خليفه به د نسب په لحاظ قريشي وي.

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لاَ يَزَالُ هَذَا الأَمْرُ فِي قُرَيْشٍ مَا بَقِيَ مِنْهُمُ اثْنَانِ». البخاري ومسلم.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هميش به دا مشري په قريشو کې وي، تر دې چې د هغوی څخه دوه کسان هم پاتې شي.

عن معاوية قال، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ هَذَا الأَمْرَ فِي قُرَيْشٍ لاَ يُعَادِيهِمْ أَحَدٌ، إِلَّا كَبَّهُ اللَّهُ عَلَى وَجْهِهِ، مَا أَقَامُوا الدِّينَ».صحيح البخاري

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم ويل: يقينا دا مشري به په قريشو کې وي، هغوی سره به څوک (د مشرۍ له امله) دښمني نه کوي مگر الله تعالى به يې پړمخ جهنم ته گوزار کړي، تر څو چې دين قائموي.

د طالبانو لپاره ډېره د وعيد خبره ده، که نور هيڅ ناقض پکې نه وي او فقط مشرۍ لپاره قريشي خليفه سره جنگيږي نو نبي عليه السلام يې ځاي جهنم ښودلی.

د قريشيت پدې شرط باندې د امت مسلمه اجماع ده، امام نووي ليکي:

"هَذِهِ الْأَحَادِيثُ وَأَشْبَاهُهَا دَلِيلٌ ظَاهِرٌ أَنَّ الْخِلَافَةَ مُخْتَصَّةٌ بِقُرَيْشٍ لَا يَجُوزُ عَقْدُهَا لِأَحَدٍ مِنْ غَيْرِهِمْ وَعَلَى هَذَا انْعَقَدَ الْإِجْمَاعُ فِي زَمَنِ الصَّحَابَةِ فَكَذَلِكَ بَعْدَهُمْ." [شرح النووي على المسلم. ج 12 / ص 200]

ژباړه: دا او داسې نور احاديث پدې خبره څرګند دليل دی چې خلافت د قريشو پورې خاص دی، د دوی پرته بل چا لپاره روا ندی، او پدې خبره د صحابه وو په وخت او د هغوی نه وروسته پيړيو کې اجماع شوی.

قريشيت په اړه يوه شبهه :

بعضې خلک دا حديث وړاندې کوي او دې نه استدلال نيسي چې قريشيت په خليفه کې شرط ندی.

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَإِنِ اسْتُعْمِلَ حَبَشِيٌّ كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ». صحيح البخاري.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تاسې خبره ومنئ او اطاعت وکړئ، اګر که په تاسې باندې حبشي مشر شي چې سر يې د مميز پشان وي.

دلته د حبشي غلام د سر تشبيه د مميز سره ورکړل شوی:

۱. يا خو تشبيه ويښتانو کې ده، چې مميز پشان تور ويښته يې دي. يا هم خپله تور وي.

۲. حافظ ابن حجر فتح الباري کې وايي: وَصغر الرَّأْس مَعْرُوف فِي الْحَبَشَة، فَلذَلِك قَالَ: ((كَأَن رَأسه زبيبة)). په حبشو کې د سر وړوکوالې مشهور و، ځکه يې وفرمايل چې سر يې د مميز پشان وي.

۳. ويښته د حبشو کم وي.

۴. تحقير مراد دی، او دا نبي عليه السلام د مثال په توګه خبره ذکر کړې، خارج کې يې وجود لازم ندی، ځکه مميز هومره سر وجود نه لري. د دې حديث او د قريشيت شرط چې اجماعي شرط دی، دواړو ترمنځ علماؤ تطبيقونه کړي:

اول: مراد دا ده چې مخکې د ولايت نه غلام وي.

دويم: حافظ ابن حجر :

دې نه مراد امام متغلب دی، په زوره پاچاهي نيول مراد دي.

"وَأَمَّا لَوْ تَغَلَّبَ عَبْدٌ حَقِيقَةً بِطَرِيقِ الشَّوْكَةِ فَإِنَّ طَاعَتَهُ تَجِبُ إِخْمَادًا لِلْفِتْنَةِ مَا لَمْ يَأْمُرْ بِمَعْصِيَةٍ." [فتح الباري]

ژباړه: کچیرې یو غلام د زور له لارې مشر وګرځي، نو د فتنې ختمولو لپاره يې خبره منل واجب دي، تر څو چې يې په ګناه امر نه وي کړی.

امام نووي هم وايي:

"أَنَّ الْمُرَادَ لَوْ قَهَرَ عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَاسْتَوْلَى بِالْقَهْرِ نَفَذَتْ أَحْكَامُهُ وَوَجَبَتْ طَاعَتُهُ وَلَمْ يَجُزْ شَقُّ الْعَصَا عليه والله أعلم."

ژباړه: معنا دا ده کچیرې مسلمان غلام په زور سره ځان مشر کړي، نو احکام به يې نافذ او خبره منل به يې لازم وي، او اختلاف ورسره کول روا ندي. شرح المسلم.

دریم: د دې څخه خلیفه ندی مراد بلکې عام د جنګ امیر، د سفر امیر، د زکات راټولولو عامل او داسې نور مشران مراد دي. او دلته نبي علیه السلام تاکید لپاره یو مثال ذکر کړی.

امام خطابي وايي:

"قوله وإن عبداً حبشياً يريد به طاعة من ولاه الإمام عليكم وإن كان عبداً حبشياً، وقد ثبت عنه صلى الله عليه وسلم أنه قال: "الأئمة من قريش"، وقد يضرب المثل في الشيء بما لا يكاد يصح منه الوجود، كقوله - صلى الله عليه وسلم -: "من بنى لله مسجداً ولو مثل مَفْحَصِ قَطَاةٍ بنى الله له

بيتاً في الجنة" وقدر مفحص قطاة لا يكون مسجداً لشخص آدمي. وكقوله: "لو سرقت فاطمة لقطعت يدها، وهی رضوان الله عليها وسلامه لا يُتوهم عليها السرقة. وقال: "لعن الله السارق يسرق البَيضَة فتُقطَعُ يده". "

ژباړه: د حبشي غلام څخه د هغه چا طاعت مرادوي چې خليفه يې پر تاسې وټاکي، اګر که حبشي غلام وي، او يقينا د نبي عليه السلام څخه ثابت دي، چې هغه فرمايلي: امامان به د قريشو څخه وي، کله کله د يو شي په اړه يو مثال بيانيږي چې خارج کې د هغه وجود نه صحيح کيږي، لکه د نبي عليه السلام دا وينا: چا چې د الله لپاره جمات جوړ کړو اګر که د مرغۍ د ځالي هومره وي، الله به ورته جنت کې کور جوړ کړي. او د مرغۍ ځالي هومره جمات د انسان لپاره نه وي.

دغه شان دا وينا: کچيرې فاطمه غلا وکړي نو زه به يې لاس پرې کړم، او د هغې –رضي الله عنها- په اړه د غلا ګمان هم نشي کيدای. او دغه شان يې فرمايلي دي: الله دې په غل لعنت وکړي چې هګۍ پټوي او لاس يې پرې شي.

امام نووي وايي :

"فَالْجَوَابُ مِنْ وَجْهَيْنِ أَحَدُهُمَا أَنَّ الْمُرَادَ بَعْضُ الْوُلَاةِ الَّذِينَ يُوَلِّيهِمُ الْخَلِيفَةُ وَنُوَّابُهُ لَا أَنَّ الْخَلِيفَةَ يَكُونُ عَبْدًا. "

ژباړه: د دې جواب په دوه طريقو سره کيږي، يو دا چې دې نه بعضې هغه مشران مراد دي چې خليفه او د هغه نائبان يې وټاکي، نه دا چې خليفه به غلام وي.

خلورم: قاعده دا ده الحديث يفسر بعضه بعضا، يو حديث د بل حديث وضاحت کوي. په نورو احاديثو کې د دې وضاحت راغلی چې دلته مراد خليفه ګان ندي:

عَنْ عَلِيٍّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْأَئِمَّةُ مِنْ قُرَيْشٍ أَبْرَارُهَا أُمَرَاءُ أَبْرَارِهَا، وَفُجَّارُهَا أُمَرَاءُ فُجَّارِهَا، وَلِكُلٍّ حَقٌّ فَآتُوا كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ، وَإِنْ أَمَّرْتُ عَلَيْكُمْ عَبْدًا حَبَشِيًّا. المستدرك على الصحيحين للحاكم وسنده صحيح.

ژباړه: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:امامان به د قريشو څخه وي، نيکان به د نيکانو مشران وي او بدان به د بدانو، د هر يو لپاره حق شته نو تاسې هر چا ته خپل حق ورکړئ، اګر که زه په تاسې باندې حبشي غلام مشر کړم.

دا وګورئ، نبي علیه السلام ځان ته نسبت کړی چې زه دربانديٍ حبشي غلام مقرر کړم.

بعضې روایتونو کې دا الفاظ دي:

وَإِنْ أَمَّرَتْ عَلَيْكُمْ قُرَيْشٌ.

ژباړه: کچیرې په تاسې باندې قریش حبشي غلام وټاکي.

دې سره خبره ختمه شوه، هیڅ اشکال نه پاتې کیږي ان شاء الله. مراد دا دی چې خلیفه لخوا په بعضې کارونو کې دا غلام امیر وټاکل شي. دغه رنګ عبد الرحمن مبارکپوري په تحفة الأحوذي او علامه سندي په حاشیه د ابن ماجه کې او نورو علماؤ دا څرګندونې کړي دي.

لهذا دا خبره ثابته شوه چې خلیفه کې قریشیت په اجماع د مسلمانانو سره شرط دی.

د دې په خلاف ټولې باطل پرسته ډلې د خلیفه د قریشیت څخه انکار کوي. روافض وایي دا به خامخا هاشمي وي او خوارج یې برملا اظهار کوي چې خلیفه کې قریشیت شرط لازم ندی. اکثره معتزله هم په امام کې د قریشیت شرط نه مني.

بیا هم خلک مونږ ته خوارج وایي !!

سره د دې چې مونږ قريشيت شرط لازم گڼو او طالبان يې لازم نه گڼي.

نهم شرط : علم :

خليفه به عالم وي. جمهور دا وايي چې خليفه به اصول او فروعو کې د اجتهاد مرتبې ته رسيدلې وي، لږ علم ورله نه کافي کيږي، دې لپاره چې شريعت نافذ کړي، عقائدو کې شبهات رد کړي، کوم مسائل چې ورته مخې ته راځي د هغې حل قرآن او حديث نه راوباسي، په متنازع فيها مسائلو کې دليل د وجې يو طرف ته ترجيح ورکړي، په اسلامي تاريخ باندې پوهه وي.

دليل :

{وَزَادَهُ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ} [البقرة: 247]

ژباړه: او زيات والی يې ورکړی دی هغه لره په علم او جسم کې.

او د خلافت مقاصدو حصول لپاره جهل لوی مانع دی.

امام بدر الدين صيب خبره رامختصره کړه چې:

"كافيا لما يتولاه من سياسة الأمة ومصالحها."

ژباړه: د امت د مصالحو او ګټو تامین لپاره به کافي صلاحیت او استعداد لري.

لکه امام قرطبي په تفسیر کې داسې وايي :

"أَنْ يَكُونَ ذَا خِبْرَةٍ وَرَأْيٍ حَصِيفٍ بِأَمْرِ الْحَرْبِ وَتَدْبِيرِ الْجُيُوشِ وَسَدِّ الثُّغُورِ وَحِمَايَةِ الْبَيْضَةِ وَرَدْعِ الْأُمَّةِ وَالِانْتِقَامِ مِنَ الظَّالِمِ وَالْأَخْذِ لِلْمَظْلُومِ."

ژباړه: خلیفه به د جنګ په اړه، د لښکرو اداره کولو، د سنګرونو ساتنې، د عزت حفاظت، د امت د شر څخه بندولو او د ظالم څخه د مظلوم لپاره انتقام اخیستنې په اړه د تجربې او قوي نظر خاوند وي.

الأحکام السلطانیة کې امام ماوردي وایي :

"وَالثَّالِثُ: سَلَامَةُ الْحَوَاسِّ مِنْ السَّمْعِ وَالْبَصَرِ وَاللِّسَانِ؛ لِيَصِحَّ مَعَهَا مُبَاشَرَةُ مَا يُدْرَكُ بِهَا.

وَالرَّابِعُ: سَلَامَةُ الْأَعْضَاءِ مِنْ نَقْصٍ يَمْنَعُ عَنِ اسْتِيفَاءِ الْحَرَكَةِ وَسُرْعَةِ النُّهُوضِ. "

ژباړه: دریم شرط د حواسو سلامتیا دی، چې اوریدل، کتل او ژبه یې برابره وي، چې پدې اعضاءو سره معلومیدونکي کارونه په ښه توګه وشاري.

خلورم شرط: د هغه نقص څخه د اندامو سالمیت چې پوره حرکت او زر پاڅیدلو مخنیوی کوي.

نن سبا بعضې خلک د تمکین شرط هم یادوي؟

- خو دا خبره تکرارا بیانه شوی چې د شرعي سیاست کتابونو کې تمکین شرط ندی ذکر شوی.

- تمکین کوني او تقدیري امر دی، شرعي مطلب نه دی. امر کوني، دیته ویل کیږي چې سل په سله د الله رب العالمین په واک کې وي، د بنده په کې هیڅ اختیار نه وي لکه د ورځ او شپې راتلل. او مطلب شرعي، دې ته ویل کیږي چې الله رب العالمین انسان ته په یو حکم امر کړی وي او بیا یې اختیار او قوت، د کولو او نه کولو هم ورکړې وي، لکه مونځ، روژه وغیره، انسان د دې په اداء کولو مکلف دی، خو مختار دی، که ادا وغواړي نه یې کوي. نو تمکین او نظام ورکول هم خاص د الله جل جلاله په واک کې دي، انسان په وسه کې نشته، لکه:

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ. [سُورَةُ القَصَص : 5]

ژباړه : او موږ دا اراده درلودله چې پر هغو خلکو چې په ځمکه کښې ذليل ګرځول شوي ول، مهرباني وکړو، رهبران يې وګرځوو او هماغوې وارثان وګرځوو.

وَلَقَدْ مَكَّنَّٰكُمْ فِي الْأَرْض. [سُورَةُ الاٴعرَاف : 10]

ژباړه : موږ تاسې له واك سره په ځمكه كښې مېشته كړئ.

وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ يَتَبَوَّأُ مِنْهَا حَيْثُ يَشَآءُ ۚ نُصِيبُ بِرَحْمَتِنَا مَن نَّشَآءُ ۖ وَلَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِين. [سُورَةُ يُوسُف : 56]

ژباړه : په دې توګه موږ په هغه هيواد کښي د يوسف لپاره د حاكميت لاره هواره کړه. د هغه خوښه وه چې په هغه (هيواد) کښې چې چيري يې غوښتل ځان ته ځای جوړ کړي. زموږ چې چا ته خوښه شي خپل رحمت ورپه برخه کوو، د ښو کسانو اجر موږ نه ضايع کوو.

الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمْ فِي الْأَرْض. [سُورَةُ الحَجّ : 41]

ژباړه : دا هغه کسان دي چې که موږ دوی ته په ځمکه کښې قدرت ورکړو.

او همدغه شان نور ګڼ شمير آياتونه دي، چې دا د الله جل جلاله په خوښه يو كوني امر دی. نو دا د انسان له وس او اختياره بهر دی.

۞ سره د دي چې ابتداء خلافت سره پراخه تمکين هم و، ابو بکر صديق رضي الله عنه پر وخت د مکې او مدينې خلکو پرته نورو ټولو علاقو خلک مرتد شوي وو او تمکين يې سقوط کړی و.

۞ وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً.

ژباړه: څوک چې مړ شو، او په غاړه يې د خليفه بيعت نه و، د جاهليت په مرګ مړ شو.

دا من عام دی، تمکين او غير تمکين ساحو ته شامل دی.

۞ که تمکين شرط وي، نو بيا خو د طالبانو سقوط سره سم ملا محمد عمر له خپل منصب څخه معزول شوې ؟؟ ځکه هغه سره خو يو لويشت ځمکه هم نه وه.

زمونږ د مرکز سقوط نه وروسته هم خليفة المسلمين ابو بکر البغدادي تقبله الله سره الحمد لله مختلف ولايتونو کې ساحې وی، خراسان وغيره. حتى غرب افريقيه کې اوس هم الحمد لله خه قوي تمکين دی.

۞ او دا تمکين څنګه لاس ته راځي ؟ چې ټول د خليفه سره بيعت وکړي، يو موټې او يو لاس شو، او که نه د اختر منصور او هبت الله په څير د آي ايس آي د غلامۍ غړوندي په غاړو کې واچول شي، د دين

ازلي دښمنانو سره اوربند اعلان شي او قریشي خلیفه د جګړې لپاره د روس، ایران، او نړیوالو څخه کومکونه واخستل شي ؟؟

خو ته بیعت وکړه، زه به هم وکړم، خپله تمکین ته لار جوړیږي.

خو چې حق خلیفه سره بیعت نه کوی نو اختلاف دې جوړ کړو او آخر هم د ارتداد داسې کندو ته وغورځیدلی چې راختل تري فقط د رب په توفیق کیږي.

۞ هغه کس لره تعجب دی چې خلیفة المسلمین په اړه دا وايي: چې دا بعضې شرطونه زما په نیز پکې نشته.

او خپل مشر ته سوچ نه کوي چې هغه په کومو، کومو نواقضو کې اخته دي؟

د خلیفه ټاکلو طریقې:

اهل علمو په اتفاق سره د مسلمانانو خلیفه ټاکلو لپاره دوه طریقې ذکر کړي دي، امام ماوردي په الأحکام السلطانیة او جویني په غیاث الأمم کې وایي :

اول : اختیار أهل الحل والعقد :

اهل الحل والعقد يعني د دين په احکامو پوهه او بصيرت لرونکي خلک، د نظامي بخش باتجربه قومندانان، او د نړۍ په حالاتو، موقعيتونو باخبره خلکو او د مسلمانانو نورو ديني مشرانو په اتفاق سره خليفه او امام ټاکل کيږي.

دليل : پدې باندې د ابو بکر رضي الله عنه خلافت دی.

د نبي عليه السلام د وفات نه وروسته صحابه وو تر ټولو اول کار دا وکړو چې سقيفه د بنو ساعده کې راجمع شو، او د ځان لپاره يې يو امير ټاکلو په نيت د مشورې مجلس قائم کړ. ابو بکر رضي الله عنه پکې بيان وکړ او انصارو ته يې دا خبره واضحه کړه چې خليفه به قريشي وي، او تاسو به يې وزيران ياست.

نو ابو بکر رضي الله عنه پدغه وخت کې وويل :

چې ابو عبيده بن جراح او يا عمر بن خطاب رضي الله عنهما دې دواړو کې يو سره بيعت وکړئ،د بخاري روايت کي راځي عمر رضي الله عنه وايي:

فَقُلْتُ: ابْسُطْ يَدَكَ يَا أَبَا بَكْرٍ، فَبَسَطَ يَدَهُ فَبَايَعْتُهُ، وَبَايَعَهُ المُهَاجِرُونَ ثُمَّ بَايَعَتْهُ الأَنْصَارُ.

ما وویل: اې ابو بکره لاس دې اوږد کړه، نو هغه لاس اوږد کړ، ما ورسره بیعت وکړ، او مهاجرینو ورسره بیعت وکړ او بیا انصارو بیعت وکړ.

اهل الحل والعقد چا ته وایي ؟

حل : سپړلو ته وایي، عقد تړلو، ګنډه کول او غوټه کولو ته وایي.

دوی ته هم دا نوم ځکه ورکوي چې دوی اول د مسلمانانو امور په اداري، سیاسي، قضایي او داسې نورو بخشونو کې غوټه کوي، اصول ورته د قرآن او سنت نه راوباسي بیا دغه اداراتو او ارګانونو ته جزئیات تشریح کوي او سپړي، چې تطبیق او تنفیذ یې آسان شي.

د کارونو او خبرو ماهرینو خلکو ته وایي چې د کارونو سپړل او ګنډه کولو باندې پوهیږي.

د اهل الحل والعقد په اړه ډېر اقوال دي، خو اجتماع د ټولو ممکنه ده، لکه امام نووي رحمه الله فرمایي:

وتنعقد الإمامة بالبيعة والأصح بيعة أهل الحل والعقد من العلماء والرؤساء ووجوه الناس الذين يتيسر اجتماعهم.

منهاج الطالبين ج1 ص 292

خلافت د امام په بيعت سره ثابتيږي، او تر ټولو سمه خبره دا ده چې د اهل الحل والعقد په بيعت سره، چې د جملې څخه يې علماء، مشران او هغه مخه ور خلک دي، چې راټوليدل يې آسان وي.

دا درې طبقې يادوي : علماء، مشران او غوره خلک مراد دي.

خلاصه دا ده چې ديني پوهه، نظامي پوهه او د اسلامي سياسي بصيرت لرونکي خلکو ته وايي.

د اهل الحل والعقد تعداد:

د دې د عدد په اړه به مختصر بحث وکړو، دې لپاره چې بعضې خلک او تنظيمونه د خليفة المسلمين أبو بکر البغدادي تقبله الله د خلافت په اړه دا انديښنه ښکاره کوي چې دا د ټولو اهل الحل والعقد په مشوره ندی ټاکل شوې، ځکه مونږ بيعت نه کوو او دا شرعي خليفه ندی.

خو مونږ پدې کې د بعضې فقهاءو يا هم متکلمينو په څير دا نه وايو چې يو کس، يا دوه کسان او يا هم پنځه يا لس کافي کيږي، نه بلکې مونږ پدې کې د مسلمانانو مشورې ته اعتبار ورکوو، خو د شريعت د اصولو موافق او د علماءو د اقوالو په رڼا کې د کومو اهل الحل والعقد حضور چې آسان وي د هغوی رضا مراد ده.

اول: د امام نووي قول تير شو :

"والأصح بيعة أهل الحل والعقد من العلماء والرؤساء ووجوه الناس الذين يتيسر اجتماعهم."

ژباړه: او تر ټولو سمه خبره دا ده چې د اهل الحل والعقد په بيعت سره (خلافت ثابتيږي)، چې د جملې څخه يې علماء، مشران او هغه غوره خلک دي، چې راټوليدل يې آسان وي.

دويم: شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله وايي:

"وَلَا يَصِيرُ الرَّجُلُ إِمَامًا حَتَّى يُوَافِقَهُ أَهْلُ الشَّوْكَةِ عَلَيْهَا الَّذِينَ يَحْصُلُ بِطَاعَتِهِمْ لَهُ مَقْصُودُ الْإِمَامَةِ، فَإِنَّ الْمَقْصُودَ مِنَ الْإِمَامَةِ إِنَّمَا يَحْصُلُ بِالْقُدْرَةِ وَالسُّلْطَانِ، فَإِذَا بُويِعَ بَيْعَةً حَصَلَتْ بِهَا الْقُدْرَةُ وَالسُّلْطَانُ صَارَ إِمَامًا." [منهاج السنة النبوية ص 527]

ژباړه: او يو انسان تر هغه خليفه نه ګرځي، تر دې چې د قدرت خاوندان ورسره پدې جوړ شي، هغه خلک چې د هغوی په اطاعت سره د خلافت مقصد لاس ته راځي، يقينا د خلافت مقصد په قدرت او زور سره راځي، کله چې داسې بيعت وشي چې قدرت او زور لاس ته راشي نو دا کس خليفه ګرځي.

دريم: مورخ ابن خلدون وايي:

"فأمّا واقعة عليّ فإنّ النّاس كانوا عند مقتل عثمان مفترقين في الأمصار فلم يشهدوا بيعة عليّ والّذين شهدوا فمنهم من بايع ومنهم من توقّف حتّى يجتمع النّاس ويتّفقوا على إمام كسعد وسعيد وابن عمر وأسامة بن زيد والمغيرة بن شعبة وعبد الله بن سلام وقدامة بن مظعون وأبي سعيد الخدريّ وكعب بن مالك والنّعمان بن بشير وحسّان بن ثابت ومسلمة بن مخلد وفضالة بن عبيد وأمثالهم من أكابر الصّحابة والّذين كانوا في الأمصار عدلوا عن بيعته أيضا إلى الطّلب بدم عثمان."

ژباړه: او هر چې د علي رضي الله عنه د بيعت پيښه وه، نو د عثمان رضي الله عنه د قتل پر وخت خلک په ښارونو کې خواره وو، او د علي رضي الله عنه بيعت ته حاضر نه شو، او کوم خلک چې حاضر وو، بعضو پکې بيعت وکړو او بعضو وروستوالي وکړو تر دې چې خلک راټول شي او په يو خليفه باندې اتفاق وکړي، لکه سعد، سعيد، ابن عمر، أسامة بن زيد، مغيرة بن شعبة، عبد الله بن سلام، قدامة بن مظعون، أبو سعيد خدري، کعب بن مالك، نعمان بن بشير، حسّان بن ثابت، مسلمة بن مخلد، فضالة بن عبيد او داسې نورو مشرانو صحابه وو او هغه کسانو چې ښارونو

کې وو، د علي رضي الله عنه بیعت څخه د عثمان رضي الله عنه انتقام
ته واوړیدل.

البداية والنهاية کې حافظ ابن کثیر هم دا وايي، او هغه پکې محمد بن
مسلمه، صهیب، کعب بن عجره، زید بن ثابت، رافع بن خدیج، سلمه بن
سلامه رضي الله عنهم أجمعین نومونه هم ذکر کړي.

کوم چې غائب وو هغوی خو هسې مخ واړوه، کوم چې حاضر وو، هغه
هم دوه ډلې شو، چا بیعت وکړو او چا ونه کړو، او د خلیفة المسلمین ابو
بکر بغدادي سره د عراق او شام اکثره مشرانو بیعت وکړو، ځکه مخکې د
شورى المجاهدين په نوم د عراق مجاهدين راټول شوي وو، بیا دولت
ترې جوړ شو، چې د قوت په صورت یې خلافت اعلان کړو.

لهذا خلیفة المسلمین د اهل الحل والعقد د شورى لخوا ټاکل شوی،
هغه شورى چې ایمن الظواهري په شمول ټول ورته قائل وو.

لکه مخکې د ظواهري دا وینا ذکر شوه:

"أود أن أوضح أنه ليس هناك شيئ الآن في العراق اسمه القاعدة ولكن
تنظيم قاعدة الجهاد في بلاد الرافدين اندمج بفضل الله مع غيره من
الجماعات الجهادية في دولة العراق الإسلامية حفظها الله وهي إمارة

شرعية تقوم على منهج شرعي صحيح ، وتأسست بالشورى وحازت على بيعة أغلب المجاهدين والقبائل في العراق."

ژباړه: غواړم چې يوه نقطه واضحه کړم، دا چې وس په عراق کې د القاعدې په نوم څه وجود نه لري، بلکې تنظيم قاعدة الجهاد في بلاد الرافدين د الله په فضل له نورو جماعتونو سره عراق اسلامي دولت کې داخل شوی، الله د هغې ساتنه وکړي، او دا داسې شرعي امارت دی، چې په سم شرعي تګلار باندې ولاړ دی، د شورا لخوا تاسيس شوی او د عراق اکثرو مجاهدينو او قبائلو بيعت ځخه جوړ شوی.

وګورئ، د شورا او د عراق د اکثره مجاهدينو بيعت ثبوت د دوکتور ايمن د خولې څرګند شو، سره د دې چې وروسته ورسره د شام څخه هم ډيرو خلکو بيعت وکړو.

نو اوس د تنظيمونو مشران د معاويه رضي الله عنه نه غوره دي ؟ آيا په علم او فضل کې زيات دي ؟ تمکين ورسره ډير دی، ملګري ورسره ډير دي ؟ چې هغه نه تيوس نه کيږي، د عمرو بن العاص پشان پوهه صحابي، د عشره مبشره او د خلافت لپاره په عمري شرطونو برابر صحابه وو د جملې څخه سعد بن أبي وقاص، طلحه بن عبيد الله او زبير بن عوام رضي الله عنهم هم د بيعت څخه لاسونه واخيستل. أم المؤمنين عائشه

صديقه رضي الله عنها يې هم بيعت ونه کړ، خو د علي رضي الله عنه خلافت ته يې هيڅ ضرر ندی رسولې. او وګورئ څومره يوه جائزه مطالبه يې لرله چې د عثمان رضي الله عنه قاتلين ووژنه، هغه عثمان چې په ژوند ورته د جنت زيرې راغلی و، د نبي عليه السلام زوم، او خليفة المسلمين و، د هغه قاتلينو څخه د قصاص خبره کوي، يوه مشروع مطالبه ده، خو علي رضي الله عنه ورته وايي چې خبره مو صحيح ده، خو دا يې وخت ندی، لږ صبر وکړئ. خو د دومره اختلافاتو باوجود د علي رضي الله عنه خلافت په حقه و، نصوصو کې ورته اشارات شته، څوک ترې انکار نشي کولې.

شيخ الاسلام ابْنُ تَيْمِيَةَ رَحِمَهُ اللهُ وايي: « الْمَنْصُوصُ عنْ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ تَبْدِيعُ مَنْ تَوَقَّفَ فِي خِلَافَةِ عَلِيٍّ، وَقَالَ: هُوَ أَضَلُّ مِنْ حِمَارِ أَهْلِه، وَأَمَرَ بِهِجْرانِهِ وَنَهَى عَنْ مُنَاكَحَتِهِ وَلَمْ يَتَرَدَّدْ أَحْمَد وَلَا أَحَدٌ مِنْ أَئِمَّةِ السُّنَّةِ فِي أَنَّهُ لَيْسَ غَيْرُ عَلِيٍّ أَوْلَى بِالْحَقِّ مِنْهُ». [مَجْمُوع الْفَتاوي (438/4)]

ژباړه: د احمد بن حنبل څخه د هغه کس بدعتي کيدل نقل دي چې د علي رضي الله عنه په خلافت کې توقف کوي، او هغه وويل: هغه د کورني خر څخه زيات ګمراه دی، او د دغه کس په جدايي باندې يې امر کړی، او ده سره يې د نکاح څخه منع کړې، او نه امام احمد او نه هم د اهل

سنتو نورو امامانو پدې خبره کې شک کړی چې د علي رضي الله عنه پرته بل څوک د هغه څخه د خلافت زيات مستحق ندی.

دغه حالت ته وگوره، او نن سبا تنظيمونو مشرانو ته وگوره..!! چې د علي رضي الله عنه بيعت ثابت شوی نو د خليفة المسلمين أبو بکر البغدادي خلافت هم ثابت دی. لهذا ننی تنظيمونو مشران چې اکثر يې په نواقضو ککړ دي، دوی چا په اهل الحل والعقد کې داخل کړي ؟

او د امام احمد بن حنبل قول مطابق طالبان د خرو څخه بدتر دي، دوی سره به بائيکاټ کولې شي، دا بدعتيان هم دي او دوی سره به خپلولي نشي کولای.

همدا د طالبانو منطق د آي ايس آي يو بل طاغوتي ملا غږوي، وايي: چې ابو بکر البغدادي ځکه خليفه ندی چې ده سره د پاکستان ولسمشر، سعودي ولسمشر او د کعبې امام بيعت ندی کړی او دوی اهل الحل والعقد دي.

نو دا جاهل دومره نه پوهيږي چې دغه مرتدين هم اهل الحل والعقد کيدای شي ؟

نتيجه دا شوه چې کله د مسلمانانو معتمد او پوهه مشران په یو کس راټول شي، د کومو حاضریدل چې آسان وي او فایده پرې مرتب وي نو دا خلیفه گرځي، بیعت یې په مسلمانانو فرض او واجب دی.

دویم : الاستخلاف :

چې مخکنی خلیفه د ځان نه وروسته د یو کس په اړه وصیت وکړي، لکه ابو بکر رضي الله عنه چې د عمر رضي الله عنه په باره کې کړی و. او یا د یو نه ډیر مستحق کسانو په اړه ووایي چې دوی دې مشوره وکړي او یو کس دې وټاکي لکه عمر رضي الله عنه د ځان نه وروسته شپږ کسیزه شوری وټاکله.

دا دوه اصل طریقې دي، اختیاري او عادي حالاتو کې به پدې لار خلیفه ټاکل کیږي. خو کله اضطراري حالاتو کې دریمه طریقه هم صحیح کیږي چې هغې ته تغلب وایي یعني په زوره واک تر لاسه کول.

امام أحمد بن حنبل وایي:

"ومن غلب عليهم بالسيف حتى صار خليفة وسمي أمير المؤمنين فلا يحل لأحد يؤمن بالله واليوم الآخر أن يبيت ولا يراه إماماً، براً كان أو فاجراً". [الأحكام السلطانية لأبي يعلى الفراء صـ23]

ژباړه: او څوک چې د تورې په زور خليفه وګرځيد او امير المؤمنين ورته وويل شول نو هيڅ يو مومن ته چې په الله او ورځ د آخرت ايمان لري، دا روا نه ده چې ده باندې يوه شپه تيره شي او دغه مذكور خپل امام نه ګڼي، برابره ده كه دا نيک وي او كه ګناهګار.

حافظ ابن حجر اجماع نقل كړی:

"وقَدْ أَجْمَعَ الْفُقَهَاءُ عَلَى وُجُوبِ طَاعَةِ السُّلْطَانِ الْمُتَغَلِّبِ وَالْجِهَادِ مَعَهُ وَأَنَّ طَاعَتَهُ خَيْرٌ مِنَ الْخُرُوجِ عَلَيْهِ لِمَا فِي ذَلِكَ مِنْ حَقْنِ الدِّمَاءِ وَتَسْكِينِ الدَّهْمَاءِ." [فتح الباري ج13/صـ7]

ژباړه: د ټولو فقهاءو په دې خبره اجماع ده چې په زور مشر كيدونكي امير اطاعت او د هغه په مشرۍ جهاد واجب دی، او د هغه اطاعت له خروج څخه غوره دی، ځكه دې كې د وينو حفاظت او د عامو خلكو اطمينان او سكون دی.

نو دا د خليفه د ټاكلو مختصرې طريقې وی چې د خليفة المسلمين تعيين په همدې شرعي اصولو شوی و.

اوس بیعت چا سره پکار و؟ ملا صیب سره یا خلیفه صیب سره؟

۱. ملا صیب د خلافت دعوی نه وه کړی، کومو تنظیمونو چې ورسره بیعت کړی وو، هغوی ورپورې ځان په زوره تړلې وو، کنه رسما د طالبانو لخوا د هغوی بیعت نه و قبول شوې، طالبان تر اوسه د خراسان تنظیمونه هم علی الاعلان خپل جزء نه ګڼي پاتې لا نور.

۲. ملا صیب کې د خلافت شرطونه نه وو: یو اجتهاد درجه کې نه وه، اګر که احناف پکې دا شرط نه وایي خو د جمهورو په نزد دا شرط دی او پدې مسئله کې حق هغوی سره دی ځکه خلیفه خو د ټول جهان لپاره ټاکل کیږي نو باید دا خه کافي علم ولري.

بل مهم شرط قریشیت پکې نه و.

طالبان دا جواب کوي چې کله مناسب قریشي د خلافت لپاره نه وي بیا غیر قریشي خلیفه ګرځي، خو هیڅ دلیل نه وړاندې کوي.

او دا خبره هم باطله ده، هغه وخت هم ډیرې قریشیان موجود وو، خو طالبانو چیرته هغوی ته واک ورکاوه، هغوی ته یې د یوې ولسوالۍ واک نه ورکاوه، پاتې لا دا چې خلیفه یې وګرځوي.

عرب مجاهدينو پسې دې طالبانو مونځونه نه کول، وایي دوی په مونځ کې اشارې کوي نعوذ بالله.

دویم وایي : د تغلب په وخت، تغلب په وخت یې مونږ هم منو خو د ابو بکر البغدادي تقبله الله د خلافت اعلان پر وخت ملا عمر صیب په کوم ځاي باندې تغلب او په زوره واک حاصل کړې و، چې مونږ یې خلافت ومنو ؟

۳. ملا صیب خو نه و، مړ و. مجاهدینو خو ډیر کوشش وکړو، خو تاسې پټ کړې و، دلایلو سره ثابته شوه چې ملا صیب مړ دی، نو خلافت اعلان شو، آخر هم د دغه خلافت د اعلان د برکته دا کیسه واضحه شوه، کنه نن به هم طالبان د ملا عمر په نوم د اې ایس اې له دفتره رهبري کیدل لکه اوس چې هم همداسې ده د ورک هیبت الله په نوم یې اې ایس آې رهبري کوي .

نن طالب خپله هم دا مني چې ملا صیب دغه وخت مړ و.

پدغه وخت کې یو حق پرست مجتهد عالم د خلافت اعلان وکړ او طالبان یا نور خلک ترې انکار کوي، نو دا خو ظلم دی، دا هسې خپل واک طلبي ده.

او د ملا صيب نه وروسته د طالبانو مشرانو کې دا اکثره شرطونه نه وو موجود.

نه حُر وو، د آي أيس آي په لاس کې وو.

نه يې علمونه درلودل.

نه شجاعت پکې و، ځکه پاکستان کې اوسيدل. د پاکستان ناپاک فوځ د ټولو وحشتونو او ظلمونو په خلاف يې هيڅ عکس العمل ونه ښوده ، نور خلک خو لا څه چې د ځينو طالب مشرانو سره چې اي ايس اي کوم وحشت کړې د هغې د پوښتنې جرات يې ترې هم نه لري، لکه استاذ ياسر تپوس چا وکړو يا داسې نور.

د دغه طالب مشرانو اسلام هم مات شوې و، ځکه مختلف نواقض پکې موجود وو، لکه کفارو سره موالات، کفارو ته کافر نه ويل، دمسلمانانو خلاف د اصلي کافر او مرتدينو څخه کومک اخستل، د شريعت تطبيق نه په زور سره مجاهدين منع کول وغيره.

او نه هم قريشيان وو. او دې طرف ابو بکر البغدادي تقبله الله کې دا صفات په کامله معنا موجود وو. نو د فاقتلو الآخر منهما صورت دلته سره نه جوړيږي ؟

نو بيعت يې په مسلمانانو فرض و، او د هغه نه وروسته ابو ابراهيم الهاشمي حفظه الله بيعت هم لازم دی. الغرض طالبانو دغه وروستنيو مشرانو کې د اسلام، عقل، آزادي، علم، انصاف، شجاعت، قريشيت، تجربه پوهه او داسې نور صفات مفقود دي، لهذا دا خلفاء نه دي.

د طالبانو د بيعت نه کولو نتائج:

هر کله چې طالبانو د قريشي خليفه بيعت پرځاي د اختر منصور بيعت وکړو نو ډير خطرناک نتائج يې راوتل، لکه:

١. مرگ د جاهليت.

٢. نړيوالې اجتماع او اتفاق مخنيوی.

٣. د مسلمانانو وينې تويول.

۴. کفارو ته تسليميدل.

۵. اسلامي دولت تمکين له منځه تلل.

٦. فکري انحراف ښکار گرځيدل.

٧. جهاد باندې خلک بې اعتباره کول.

۸. قوت د مسلمانانو خرابول.

۹. منافقان، اهل زیغ او طواغیت زړور کول.

او داسې نور.

پنځم فصل

رد الشبهات

د باطل پرستو همیش دا کوشش وي چې د حق لمر د شبهاتو په تورو وريځو پټ کړي، او سپينه رڼا په تياره بدله کړي، او دا څه نوی خبره نده، بلکې ابتداء د رسالت څخه دغه د فکري جګړې ډګر د کفارو او دهغوی د مزدورانو لخوا تود ساتل شوی، بعينه همدا معرکه د ننې موحدينو او کفارو ترمنځ روانه ده، خصوصا د طالبانو په نوم بعضې خلکو د آي ايس آي برګې څرمنې په تن کړې او د منحرفې عقيدې د نشر په عوض د دغه استخباراتو څخه يو څو سپک ډالر تر لاسه کوي، داسې دفترونه يې ورته برابر کړي چې ۲۴ ساعته د هر قسم اسبابو څخه مجهز دي، هر قسم شبکې ته لاس رسی لري، په هره پاڼه خپل غږ خپرولای شي، د افغانستان په شمول د نړۍ د ټولو کفري هيوادونو د تلويزونو او راديو ګانو سره اذادې مرکې او بحثونه کوي ، د هيڅ خطر احساس نه لري او نه پرې هم کوم فشار او پابندي شته، په يو، يو ادرس کې يې زرګونه خلک ثبت دي، له کلونو ،کلونو پاڼې يې باقي دي، نه د کوم کافر لخوا يې پاڼې حذف شوی، نه يې کوم فعال ترور شو او نه هم اسير شو، خپل ارتداد او الحاد ډير په جذاب شکل مومن اولس ته وړاندې کوي، او د

اسلامي خلافت مجاهدين ورته د شريعت څخه لرى او باطله ډله معرفي کوي، او د دوی په مقابل کې د اسلامي خلافت مجاهدين خپل منهج او عقيده ډېر په مشکله د نيتې لارې خوروي، يو ادرس يې لا څو ورځې نه وي شوی، چې بيا حذف شوی وي، بيا هغه ملګرى اسير شوی وي، بلکې فقط چې د چا نشراتو څخه د اسلامي دولت حمايت يو ادنى ځرک هم ښکاره کيږي، نو هغه هم څو ورځې وروسته پخپل حال کې نه وي، خو سره د دومره مشکلاتو بيا هم د حق آواز ورځ تر بلې هر کور ته رسي، او د طالبانو د دين په نوم شليدلي لباس هم په هر ګام اوچتولو د دوی سره مخه خه کوي، او دغه زګونه يې په ختميدو دي، الحمد لله ،نو راځو د طالبانو بعضې هغه شبهو ته يوه کتنه کوو چې هغوی ته د کرنل امام په څير کرنيلانو ورښودلي وي، او د هغوی د ګمراهۍ لامل ګرځيدلای.

اوله شبهه: خلافت مجاهدين خوارج دي:

دا هغه شبهه ده چې طالبان يې په شَد او مَد سره زمزمه کوي، او کشر خيل يې په اوريدو تعجب کوي، نور خواران د حقيقت نه خبر ندي او نه هم ځان خبروي. دې باب کې يو څو خبرو ته ستاسې پام راګرځوو:

١. په مجاهدينو د دې تور پورې کولو علت.

۲. د خوارجو پېژندنه.

۳. خوارج مسلمانان دي او كه كافر؟ او هغوی سره د جنگ بيان.

۴. د خوارجو مقابل کې کفارو څخه مرسته اخستل روا دي ؟

۵. د خوارجو صفات او د اسلامي خلافت مجاهدينو او د طالبانو تقابل.

اول: په مجاهدينو د دې تور پورې كولو علت.

چې ولې طالبان د اسلامي خلافت په مجاهدينو دا تور پورې کوي نو د دې يو څو علتونه دي:

۱. يو عمده علت يې دا دی چې د نظامي او تبليغاتي جگړې دا اصول دي، چې اقدام غوره دفاع ده، او دفاع د اقدام په پرتله سخته ده، اوس طالبان خپل ارتداد پټولو په پار په مجاهدينو دا تور پورې کوي، چې بس مجاهدين همدې کې مصروفه شي، چې خپل جوابونه وکړي، او مونږ به ورته وايو چې تاسې کې د خوارجو فلان نښه ده، او دا نښه ده، که د يوې نښې څخه معقول جواب وکړي، يا هم د طالبانو د تير شويو بعضي مشرانو عمل څخه په استدلال ورته غابښ ماتونکې گزار ورکړل شي، نو لنډ دا وايي چې نه د ټولو نښو وجود لازمي ندی، تاسې کې هغه بله نښه ده، چې د هغې جواب وکړی نو بيا بله راوړاندې کوي او دغه رنگ دا غير

معقول تسلسل جاري ساتي، ځکه د خوارجو صفات خورا زيات دي، نو کوشش کوي چې يو نه يو خو ثابت کړي، که نور هيڅ هم په لاس ورنشي، مونځ کولو له امله دې هم خارجي ثابتوي، چې تاسې اوږده مونځونه کوئ، سبحان الله، نو بغير د اعتدال څخه مونځ خو د منافق وي، خو د دوی اصل هدف همدا دی چې د طالبانو اسلام ماتونکي شيانو باندې پرده واچوي، لکه دا سپارښتنې طالبانو ته مستقيما د استخباراتو لخوا کيږي، ته به ورته د دوی لوي ناقض ورپه ګوته کړی، هغه به درته وايي ستاسې خليفه نسب کې فلان واسطه سمه نده، الله أکبر! زما د خليفه په نسب يو بې ځايه اعتراض کوی، او د نبي عليه السلام د عزت دښمنانو روافضو سره دوستي ته فکر نه کوی، نو آيا اوس هغه خبره په طالبانو نه تطبيقيږي چې پردی کجوره نه خوري او مسلمان وژنه روا ګڼي!! عجيبه ده، امريکا ستا لخوا د مصونيت په وياړ دا ترون خپل فوق العاده پرمختګ بولي، د هغې غم نه کوی.

سنگرمیدیا sungermedia
5.4K subscribers

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو
وایي چې له القاعده سره د جګړې او امریکا
ته د «متوجه» ګواښونو له منځه وړلو لپاره په
افغانستان کې د زرګونو امریکایي عسکرو حضور
ته اړتیا نشته.

مایک پامپیو همداراز د دوحې له تړون سره سم
تېر کال پر بهرنیو ځواکونو د بریدونو نه کېدل او
د بین الافغاني مذاکراتو پیل فوق العاده پرمختګ
بللی دی.
عبدالمنان حقاني, 9:21 PM 746

بل طرف ما وژني، چې زه د اسلام حامي یم، اسلامي نظام غواړم، مسلمان یم، خو کله دې هم پدې کې فکر ونه کړ، او فقط دې ته تکړه یې چې ستاسې خلیفه نسب کې فلانـی واسطه مشکوکه ده، هغه صحیح ثابت کړئ، او ټولې تبلیغاتي پاڼې مو پدې ګرمې کړي وي، نو دا فکر چې د خارجیت فکر سره مشابه نه وي نو بیا نور څه دي ؟؟

٢. خوارج داسې اصطلاح ده، چې زمونږ د سيمو عام خلک ورسره نآشنا دي، په حقيقت يې نه وي خبر، تر دې چې زمونږ ملګرو د څو هغه طالب جنګياليو څخه پوښتنه وکړه چې د سپين غر په سر د پاکستان پوځ ترڅنګ پراته وو او شپه او ورځ به يې چيغې وهلی چې تاسې خوارج ياست، چې خوارج څه ته وايي ؟ ټول لا تقل شو، يو سره هم جواب نه و تر دې چې د دوی ملايانو ته هم نه وه پته، نو ځکه ترې دوی هم استفاده کوي او د کشرتابه په سترګو کې خاوري اچوي، هغوی ته دا زيات نآشنا لفظ ښکاري!!

٣. دا داسې لفظ دی چې دې سره طالبان غواړي چې مونږ د ټولو مکاتب فکر څخه جلا حساب کړي، دې لپاره چې که مونږ کومې ډلې ته منسوب کړي نو د هغوی خواخوږي به ثابته شي.

طالبانو تاسې خو فقط د خوارجو نوم اوريدلې نور يي نه پيژنئ ، راشئ چې لږ يي دروپيژنو ، صفات يي درته واضح کړو بيا تاسې په دې صفاتو ځان هم وتلئ او مونږ هم .

دويم: د خوارجو پیژندنه:

د خوارجو په اړه مونږ کوشش کوو هغه مطالب راواخلو چې طالبان هم دغه مطالب مني او خپلو کتابونو کې يې ذکر کوي.

حـافظ ابن حجر فرمايي: "أما الخوارج فهم جمعُ خَارجة أي طائفة، وهم قوم مُبتَدِعُون، سُمّوا بذلك لخروجهم عن الدّين، وخروجهم على خيار المسلمين." [فـتـح الـبـاري ج 12 / صـ 296]

ژباړه: خوارج د خارجة جمع ده، او خارجة ډلې ته وايي.

او دا يوه مبتدعه ډله ده، خارجيان ورته ځکه وايي چې له دين څخه وتلي دي او په غوره مسلمانانو يې خروج (پاڅون) کړی.

أبو الفتح الشهرستاني وايي:

"كل من خرج عن الإمام الحق الذي اتفقت الجماعة عليه يسمى خارجيا سواء كان الخروج في أيام الصحابة على الأئمة الراشدين أو كان بعدهم على التابعين بإحسان والأئمة في كل زمان. " [الملل والنحل للشهرستاني]

ژباړه: هر څوک چې په هغه حق خليفه باندې پاڅون وکړي چې خلکو پرې اتفاق کړی وي، خارجي بلل کيږي، برابره ده که دا پاڅون د صحابه

وو په وخت کې خلفاء راشدينو په خلاف وي او که د هغوی نه وروسته په خير سره د هغوی تابعداري کونکي دي، او که په هره زمانه کې د امامانو په خلاف وي.

دريم: د خوارجو اسلام او کفر:

د دې خبرې وضاحت دې لپاره کوو چې خلک د خوارجو مرتبه وپيژني، چې آيا خوارج به مسلمانان وي او که کافر ؟ دې لپاره چې مونږ پوهه شو چې مرتد او کافر مرتبه د خوارجو څخه زياته خطرناکه ده، طالبان چې په مونږ د خوارجو فتوی لګوي او خپل ارتداد يې په قصدي ډول شاته کړی نو د خپل ارتداد غم دې وکړي، ځکه هغه د خارجيت څخه لوي مرض دی، نو په اتفاق د فقهاؤ سره خوارج مسلمانان دي.

د علي رضي الله عنه قول:

عنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ ، قَالَ : كُنْتُ عِنْدَ عَلِيٍّ ، فَسُئِلَ عَنْ أَهْلِ النَّهَرِ أَمُشْرِكُونَ هم ؟ قَالَ : مِنَ الشِّرْكِ فَرُّوا ، قِيلَ : فَمُنَافِقُونَ هُمْ ؟ قَالَ : إِنَّ الْمُنَافِقِينَ لاَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلاَّ قَلِيلاً ، قِيلَ لَهُ : فَمَا هُمْ ، قَالَ : قَوْمٌ بَغَوْا عَلَيْنَا.

مصنف ابن أبي شيبة ج ٢١ / ص ٤٦١. وسنده صحيح على شرط مسلم وأخرجه البيهقي في (السنن الكبرى) ج 8 ص 173.

طارق بن شهاب وايي زه د علي رضي الله عنه سره وم، د نهر (نهروان خوارجو) په اړه ترې پوښتنه وشوه ، آیا هغوی مشرکان دي ؟ هغه وویل: د شرک نه خو دوی راتښتیدلي دي، ورته وویل شو: آیا منافقان دي، وايي: منافقان خو الله نه يادوي مګر لږ، وویل شو: بيا نو څوک دي ؟ هغه وويل: داسې خلک دي چې پر موږ يې بغاوت کړی دی.

دا وګورئ، علي رضي الله عنه څه وايي چې مشرکان هم ندي، منافقان هم ندي، او طالبان څنګه په درواغو سره موږ خوارج ثابتوي او بيا د خلکو په ذهنونو کې دا اچوي، چې خارجيت د کفر څخه هم بدترينه درجه ده. حالانکې حقيقت داسې ندی، خوارج مسلمانان دي، اګر که موږ ترې بري يو الحمد لله.

د امامانو اقوال:

امام خطابي وايي:

"قَدْ أجْمَعُ عُلماءُ الْمُسْلِمِينَ عَلَى أَنَّ الخَوارِجَ عَلَى ضَلالَتهِم فرقةٌ مِنْ فِرق المُسلمين، وأجازُوا مُنَاكَحَتهم، وأَكْلَ ذَبَائحهم، وقَبولَ شَهادَتهم." [ابن الأثير في "النهاية" 149/2]

ژباړه: د مسلمانانو د علماؤ اجماع ده پدې خبره چې خوارج د ګمراهۍ سره بیا هم د مسلمانانو یوه ډله ده، او هغوی خوارجو سره نکاح روا بولي، د هغوی ذبیحه خوړل او ګواهي قبلول يې روا بولي.

امام ابن بطال وايي:

"ذَهَبَ جُمْهُورُ الْعُلَمَاءِ إِلَى أَنَّ الْخَوَارِجَ غَيْرُ خَارِجِينَ عَنْ جُمْلَةِ الْمُسْلِمِينَ." [فتح الباري]

ژباړه: جمهور علماؤ دې قول طرف تګ کړی چې خوارج د مسلمانانو جملې څخه بهر نه دي.

امام نووي وايي:

"الْمَذْهَب الصَّحِيحَ الْمُخْتَارَ الَّذِي قَالَهُ الْأَكْثَرُونَ وَالْمُحَقِّقُونَ: أَنَّ الْخَوَارِجَ لَا يُكَفَّرُونَ كَسَائِرِ أَهْلِ الْبِدَعِ." [شرح مسلم (2/ 50)]

ژباړه: هغه غوره صحيح مذهب چې د اکثرو علماؤ او محققينو وينا ده، دا دی چې خوارج به د نورو بدعتيانو په څير نشي تکفيرولای. (کافر ورته نشي ويل کيدای).

حافظ ابن حجر وايي:

"وَذَهَبَ أَكْثَرُ أَهْل الْأُصُول مِنْ أَهْل السُّنَّة إِلَى أَنَّ الْخَوَارِج فُسَّاق." [فتح الباري]

ژباړه: اکثره د اهل سنت اصوليين وايي چې خوارج فاسقان دي.

ابن عابدين الشامي الحنفي وايي:

"وَحُكْمُ الْخَوَارِجِ عِنْدَ جُمْهُورِ الْفُقَهَاءِ وَالْمُحَدِّثِينَ حُكْمُ الْبُغَاةِ. وَذَهَبَ بَعْضُ الْمُحَدِّثِينَ إلَى كُفْرِهِمْ. قَالَ ابْنُ الْمُنْذِرِ: وَلَا أَعْلَمُ أَحَدًا وَافَقَ أَهْلَ الْحَدِيثِ عَلَى تَكْفِيرِهِمْ، وَهَذَا يَقْتَضِي نَقْلَ إجْمَاعِ الْفُقَهَاءِ." [رد المحتار على الدر المختار ج ۴ / ص ۲٦۲]

ژباړه: د جمهورو فقهاءو او محدثينو په نزد د خوارجو حکم د باغيانو دی، او بعضې محدثينو د دوی په کفر هم قول کړی، ابن منذر وايي ما ته داسې هيڅوک ندی معلوم چې دي محدثينو سره د خوارجو په تکفير موافق وي، او دا د فقهاؤ داجماع د رانقليدو تقاضا کوي.

لهذا دې پورتني بحث څخه دا څرګنده شوه چې خوارج په اتفاق د امت سره کافر ندي، که چا خلاف کړی نو هغه ته اعتبار نشته، ځکه عموما صحابه وو هم د علي رضي الله عنه د پورتني قول خلاف نه دی کړی. حتی عبد الله بن عمر رضي الله عنهما به ورپسې مونځونه کول، عبد الله بن عباس رضي الله عنهما به ورته احاديث بيانول، د مسلمانانو په څير خطاب به يې ورته کاوه، نو خوارج مسلمانان دي.

د خوارجو جنګ:

مخکې دا خبره ذکر شوه چې خوارج مسلمانان دي، لهذا دوی سره به جنګ هم د يوې اسلامي ډلې په څير کيږي.

اول: ابتداء د جنګ به د خليفه له طرفه نه وي.

تر څو چې خوارجو قتل وقتال ته لاس نه وي اچولای، عملا يې فساد نه وي جوړ کړای په هغوی به جنګ نشي کيدای، علي رضي الله عنه په خلاف خوارجو پاڅون وکړ خو هغه ورسره جنګ نه کاوه تر دې چې کله يې عبد الله بن خباب بن ارت شهيد کړ نو بيا يې قصاصا ورسره جنګ شروع کړ.

ځکه نو امام بيهقي دا باب تړلی:

"بَابُ لَا يُبْدَأُ الْخَوَارِجُ بِالْقِتَالِ حَتَّى يُسْأَلُوا مَا نَقَمُوا , ثُمَّ يُؤْمَرُوا بِالْعَوْدِ , ثُمَّ يُؤْذَنُوا بِالْحَرْبِ. "

خوارجو سره به جنګ نه پیل کیږي، تر دې چې وپوښتل شي د هغه شي په اړه چې هغوی یې بد ګڼي، بیا به ورته د راګرځیدو امر کولای شي، بیا به ورته د جنګ خبر ورکولی شي.

علي رضي الله عنه قول:

کثیر بن نمر وايي علي رضي الله د جمعې ورځې خطبه ورکوله، خوارجو ته یې وویل:

"الْآنَ لَكُمْ عِنْدِي ثَلَاثُ خِلَالٍ مَا كُنْتُمْ مَعَنَا , لَنْ نَمْنَعكُمْ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَنْ يَذْكُرَ فِيهَا اسْمُهُ , وَلَا نَمْنَعُكُمْ فَيْئًا مَا كَانَتْ أَيْدِيكُمْ مَعَ أَيْدِينَا , وَلَا نُقَاتِلُكُمْ حَتَّى تُقَاتِلُوا "[مصنف ابن أبي شيبة]

ژباړه: اوس تاسې لپاره زمونږ سره درې خبرې دي، تر څو چې تاسې مونږ سره یاست، مونږ تاسې د الله په جماتونو کې د هغه نوم اخستو څخه نه منع کوو، تر څو چې تاسې مونږ سره شریک جهاد کوئ نو غنیمت در څخه نه منع کوو، او تاسې سره جګړه نه کوو تر دې چې تاسې پیل وکړئ.

امام ابن بطال وايي:

"وأنه لا يتبع منهزمهم ولا يجهز على جريحهم." [شرح صحيح البخاري]

ژباړه: د دوی شکست خوړونکي پسې به تګ نشي کیدای، زخمي به يې نشي وژلی.

امام نووي په شرح د صحيح مسلم کې وايي:

"لَا يُجْهَزُ عَلَى جَرِيحِهِمْ وَلَا يُتْبَعُ مُنْهَزِمُهُمْ وَلَا يُقْتَلُ أَسِيرُهُمْ وَلَا تُبَاحُ أَمْوَالُهُمْ وَمَا لَمْ يَخْرُجُوا عَنِ الطَّاعَةِ وَيَنْتَصِبُوا لِلْحَرْبِ لَا يُقَاتَلُونَ بَلْ يُوعَظُونَ وَيُسْتَتَابُونَ مِنْ بِدْعَتِهِمْ وَبَاطِلِهِمْ." [ج ٧ / ص ١٧٠]

ژباړه: زخمي به يې نشي وژلی، شا راړونکي به نشي تعقيبيدای، اسير به يې نشي وژل کيدای، مالونه يې روا ندي او تر څو يې چې د طاعت څخه لاس نه وي اخيستي، او جګړې ته يې ځانونه نه وي اماده کړي، جنګ به ورسره نشي کولای، بلکې نصيحت به ورته کولی شي، او د دوی بدعت او باطل څخه به ترې توبه طلب کولی شي.

سره د دې چې مونږ بيا هم په طالب خوارجو جګړه نه شروع کوله، بلکې حتی الوسع مو ترې ځان ساتلو، بيا جګړه هم طالبانو شروع کړه.

شامي په رد المحتار کې وايي:

"فَإِنْ كَانُوا تَكَلَّمُوا بِالْخُرُوجِ لَكِنْ لَمْ يَعْزِمُوا عَلَى الْخُرُوجِ بَعْدُ. فَلَيْسَ لِلْإِمَامِ أَنْ يَتَعَرَّضَ لَهُمْ." [رد المحتار ج ۴ / ص ٢٦١]

ژباړه: که خوارجو د پاڅون خبره کړې وه، نو لا يې پاڅون نه و کړی، نو خليفه لپاره روا ندي چې اقدام پرې وکړي.

او کومو روايتونو کې چې راغلي چې عاديانو او ثموديانو په څير يې ووژنئ نو بالکل په سر سترګو مونږ ته منظور دي، چې کله خوارجو سره جنګ شروع شي نو بيا ورسره همداسې کلکه جګړه کول غواړي، خو نور د جګړې نه مخکې او وروسته د شريعت همدا اصول دي، کوم چې مونږ ذکر کړل.

دا طالبان اوس داسې قوم دی، حکم راباندې د خوارجو لګوي او بيا هغوی متعلق احکام هم نه مراعات کوي، لکه:

زمونږ د جګړې پرته يې پر مونږ جګړه وکړه.

زمونږ زخمي يې وژلی.

زمونږ اسير يې وژلی.

زمونږ مالونه يې په خپل ګمان غنيمت کړي.

نو معلومه دا شوه چې خپله دعوه کې کاذبان دي، نه هم مونږ خوارج يو. الحمد لله على ذلک.

او سره د دې بيا په مونږ باندې د ارتداد فتوى هم ورکوي:



د خوارجو او باغیانو خلاف کفارو څخه کومک اخستل:

د جمهور امت په اتفاق سره د باغیانو او خوارجو خلاف د کفارو څخه کومک اخستل ناروا دي، یو قول بعضې علماؤ کړی خو هغه فقط په قیاس بناء دی، هیڅ دلیل نه لري نو کمزورې دی.

قرافي المالکي وایي:

"وَلَا يُسْتَعَانَ عَلَيْهِمْ بمشرك." [الذخيرة للقرافي ج ١٢ / ص ٩]

او د دوی په خلاف به د مشرک څخه کومک نشي اخستلای.

امام نووي الشافعي وایي:

"لَا يَجُوزُ أَنْ يُسْتَعَانَ عَلَيْهِمْ بِكُفَّارٍ ; لِأَنَّهُ لَا يَجُوزُ تَسْلِيطُ كَافِرٍ عَلَى مُسْلِمٍ." [روضة الطالبين وعمدة المفتيين ج ١٠ / ص ٦٠]

ژباړه: د دوی په خلاف کفارو څخه کومک اخستل روا ندي، ځکه دا کافر په مسلمان مسلط کول دي.

ابن قدامه الحنبلي وایي:

"وَلَا يَسْتَعِينُ عَلَى قِتَالِهِمْ بِالْكُفَّارِ بِحَالٍ." [المغني ج ٩ / ص ٧]

ژباړه: او د دوی په خلاف به د کفارو څخه په هیڅ صورت کومک نه اخلي.

او دلائل پدې قول زيات دي.

د خوارجو عقائد او صفات او د اسلامي خلافت مجاهدينو براءت:

اوس به د خوارجو بعضې عقائد او صفات ذکر کړو او بيا به د اسلامي خلافت مجاهدينو ته د انصاف په سترګه وګورو، ان شاء الله. دلته به مونږ هغه صفات د خوارجو ذکر کړو کوم چې اکثره د طالبانو لخوا ذکر کيږي، او بيا به د اسلامي خلافت مجاهدين او طالبان دواړو وتلو.

مهمه تنبيه: مونږ چې کوم ځای کې هم د طالبانو او خوارجو تقابل او مشابهت ذکر کوو، نو مونږ يې الزاما ذکر کوو، ځکه طالبان دغه صفاتو له امله مونږ ته خوارج وايي، نو مونږ ورته دا وايو چې دا خو تاسې کې هم شته نو آيا تاسې خوارج ياست؟ نور د طالبانو حکم مونږ پورته ذکر کړی، چې غليظ مرتد دي.

وايي متفق عليه صفات د خوارجو پنځه مسئلې دي:

١. د حق خلفاءو پر وړاندې پاڅون کول او يوازی په خپله ډله اعتماد کول.

ج: تر ټولو مهمه خبره دا ده چې خوارج د حق خلفاؤ پر وړاندې پاځون کوي، الحمد لله اسلامي خلافت د خوارجو پر خلاف د مسلمانانو جماعت او د خليفه څنګ نيسي او مونږ په کوم قريشي خليفه خروج کړی ؟ مونږ په کومو غوره مسلمانانو پاځون کړی ؟ مخکې ذکر شو چې ملا محمد عمر پدې وخت کې موجود نه و، بلکې مړ شوی و.

او دا بالكل د خوارجو صفت دی خو هغوی د حق خليفه په خلاف پخپل ناقص فکر اعتماد کوي او اسلامي خلافت د خليفه او اهل الحل والعقد شورئ په لاربښودنې عمل کوي، او د دې چې طالبان د حق خليفه پرخلاف پاځون کوي.

د ملا محمد عمر صيب باندې د خروج جواب:

دا هغه کمزورې شبهه ده چې هر ځای کې د طالبانو لخوا وړاندې کيږي، خو مشهور متل دی ، دروغ گو را حافظه ندارد.

١. د امارت د سياسي دفتر څخه د ملا محمد عمر د مړيني تاريخ (٢٣-٤-٢٠١٣) ميلادي کال ښودل شوی، او خلافت قيام په ٢٩ جون ٢٠١٤ ميلادي کال چې اسلامي تاريخ ١ رمضان المبارک ١٤٣٥ هجري قمري کال سره سمون خوري باندې شوې و.

نو دا د طالبانو اعلان شوي نيتېي څخه هم وروسته قائم شوی، سره د دې چې د اسلامي خلافت مشرانو ملا صيب ولټولو کله چې مطمئن شول چې نشته او امت بې مهاره دی نو بيا يې د خلافت اعلان وکړ.

۲. خو بنيادي خبره دا نده، بلکې بنيادي خبره دا ده چې آيا ملا صيب خليفه و ؟

آيا هغه کې د قريشيت شرط و، امام او خليفه لپاره خو قريشيت شرط دی. نه بلکې ملا صيب خو جهادي رهبر و.

۳. آيا ملا صيب د خلافت دعوه کړی ؟ څوک څه ثبوت پيش کولې شي؟

۴. آيا ملا صيب سره د مشورې څه صورت و، د سقوط نه وروسته خو ملا صيب چا ليدلې ندی.

عبدالسلام ضعيف او د قطر سياسي دفتر مشر طيب آغا دوی هر يو دا څرګندونې کړي دي.

ملا صيب خو کيدايشي چيرته سقوط کې شهيد شوی و، ځکه هيڅ قسم ثبوت څوک نه لري. نو څنګه ترې تپوس شوې وای، څنګه ترې مشوره اخستل شوی وای، د ژوندي انسان دومره درک خو ولګي، شيخ اسامه نړيوالو کفارو ته څومره مطلوب و، د هغه ويډيو راتله، صوتي پيغام يې

خپریدو، خو ملا صیب په اړه هیڅ معلومات نه و، دا څنګه خبره ده چې د اختر منصوره پورې ټول طالب مشران آزاد په پاکستان کې ګرځیدل، خو دا یواځې ملا صیب و چې د ټولو طالب مشرانو پرځای هغه احتیاط کوو؟

۵. د خلیفه انتخاب خو جدا خبره ده بلکې د ملا صیب په ځای هم یو مسلمان امیر ټاکل په مسلمانانو لازم و، ځکه چې کله امیر مفقود شي، ورک شي، نو بیا د هغه پر ځای بل ټاکل لازم دي، دلیل پرې مشهوره واقعه د مؤته معرکه ده، چې خالد بن الولید رضي الله عنه یې د عبد الله بن رواحه پرځای وټاکلو او نبي علیه السلام مدینه کې و.

٦. اختر منصور پورې بعضې مجاهدین تللي و، خو د ملا صیب درک نه و، ډاکټر حسین سواتي تقبله الله د تحریک لخوا کوئټې ته ولیږل شو، خو اختر منصور ورسره ملاقات نه کوو، تر دې چې هغوی د یو امارتي امیر سره بې تپوسه د اختر منصور مجلس ته ورغلل خو مجلس کې اختر منصور د هغوی سوالونو ته هیڅ جواب نه درلود.

۷. دا خو د خلافت برکت و چې د حقیقت نه یې خبر کړئ کنه تر اوسه به تاسې هماغه تیارو کې پراته وئ، ځکه کله چې خلافت اعلان شو بعضې خلکو ویل چې ملا صیب په شتون کې بل امیر او خلیفه وټاکل

شو، نو د هغې نه وروسته هر خاص او عام تحقيق شروع کړو، نور دا خبره د اختر منصور او د آي أيس آي د واکه ووتله او آخر هم هغه تريخ حقيقت راښکاره شو. چې دغه غدر باوجود هم ډير احمقان اوس هم د آي أيس آي دغه ايجنټانو پورې نښتي دي. والله المستعان.

نو چې کله دا خبره باطله شوه نو بيا مونږ په کوم ځای کې په خليفه خروج کړی ؟

نه ملا صيب موجود و او نه هم ملا صيب خليفه و.

۲. په ډيرو صحابه وو د فسق، گمراهۍ او کفر حکم کول.

ج: د اسلامي خلافت مجاهدينو لخوا معاذ الله ثم معاذ الله په صحابه وو دغه حکمونه کول خو لرې خبره ده بلکې څوک چې په صحابه وو دغه حکمونه لگوي، د هغوی ډله ايزې وژنې کوي، درسته نړۍ پرې شاهده ده، د عراق، شام، خراسان او نورو ولايتونو کې د طالبانو ائتلافيان شيعه روافضو قتل عام پدې عصر کې د خلافت مجاهدينو څخه زيات چا ندی کړی.

۳. د گناه په وجه مسلمان ته کافر ويل.

ج:د اسلامي خلافت مجاهدين مسلمان ته کافر نه وايي خو مرتد ته هم مسلمان نه وايي، لهذا په گناه کبیره باندې هیڅ چا ته کافر نه وايي، لکه تاسې زمونږ رسمي ویډیو ګانې کتلې شئ، چې غلا، قذف او داسې نورو لویو جرمونو مرتکبینو ته د حد ورکولو باوجود زیات مینې محبت اظهار کیږي، حتی ډیرې ځایونو کې مجرمان د توبې نه وروسته مچې کوي.

دا په مونږ لوي دروغ دي، د اسلامي خلافت قیام نه څومره وروسته پورې خلکو ږیرې خریلې، ښځې سترونو سره نه وی عادت، عامه خلکو نشه یي توکې استعمالول، خو خلافت ورته په نرمه دعوت ورکاوه، تعهد به یې ترې اخستلو، که کافر یې ورته ویل نو ولې یې نه وژل، موصل، رقه او نورو ښارونو په شمول د اسلامي خلافت ولکې لاندې ملیونونو خلکو ژوند کاوه، که مو کافر ګڼلې نو ولې مو نه وژل. مونږ هیڅ مسلمان ته کافر ندي ویلي.

او نن سبا دار الکفر طارئ یعني د کفارو لخوا د مسلمانانو اشغال شوې سیمو کې اوسیدونکو خلکو په اړه هم مونږ دا وایو چې که چا کې ناقض د اسلام و، نو مرتد دی او که ناقض نه وي نو مسلمان دی، عموما مونږ پدغه سیمو هم د تکفیر حکم نه کوو.

لکه شیخ الاسلام ابن تیمیه نه د ماردین سیمې په اړه تپوس شوی، دا ماردین د تاتاریانو لخوا اشغال شوی و، هغه وویل:

"الْحَمْدُ لِلَّهِ دِمَاءُ الْمُسْلِمِينَ وَأَمْوَالُهُمْ مُحَرَّمَةٌ حَيْثُ كَانُوا فِي مَارِدِينَ أَوْ غَيْرِهَا، وَإِعَانَةُ الْخَارِجِينَ عَنْ شَرِيعَةِ دِينِ الْإِسْلَامِ مُحَرَّمَةٌ، سَوَاءٌ كَانُوا أَهْلَ مَارِدِينَ أَوْ غَيْرَهُمْ، وَالْمُقِيمُ بِهَا إنْ كَانَ عَاجِزًا عَنْ إقَامَةِ دِينِهِ وَجَبَتْ الْهِجْرَةُ عَلَيْهِ، وَإِلَّا اُسْتُحِبَّتْ وَلَمْ تَجِبْ وَمُسَاعَدَتُهُمْ لِعَدُوِّ الْمُسْلِمِينَ بِالْأَنْفُسِ وَالْأَمْوَالِ، مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ، وَيَجِبُ عَلَيْهِمْ الِامْتِنَاعُ مِنْ ذَلِكَ بِأَيِّ طَرِيقٍ أَمْكَنَهُمْ مِنْ تَغَيُّبٍ، أَوْ تَعْرِيضٍ، أَوْ مُصَانَعَةٍ، فَإِذَا لَمْ يُمْكِنْ إلَّا بِالْهِجْرَةِ تَعَيَّنَتْ، وَلَا يَحِلُّ سَبُّهُمْ عُمُومًا وَرَمْيُهُمْ بِالنِّفَاقِ، بَلْ السَّبُّ وَالرَّمْيُ بِالنِّفَاقِ يَقَعُ عَلَى الصِّفَاتِ الْمَذْكُورَةِ فِي الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ، فَيَدْخُلُ فِيهَا بَعْضُ أَهْلِ مَارِدِينَ وَغَيْرُهُمْ.

وَأَمَّا كَوْنُهَا دَارَ حَرْبٍ أَوْ سِلْمٍ فَهِيَ مُرَكَّبَةٌ فِيهَا الْمَعْنَيَانِ لَيْسَتْ بِمَنْزِلَةِ دَارِ السِّلْمِ الَّتِي يَجْرِي عَلَيْهَا أَحْكَامُ الْإِسْلَامِ، لِكَوْنِ جُنْدِهَا مُسْلِمِينَ، وَلَا بِمَنْزِلَةِ دَارِ الْحَرْبِ الَّتِي أَهْلُهَا كُفَّارٌ، بَلْ هِيَ قِسْمٌ ثَالِثٌ يُعَامَلُ الْمُسْلِمُ فِيهَا بِمَا يَسْتَحِقُّهُ وَيُقَاتَلُ الْخَارِجُ عَنْ شَرِيعَةِ الْإِسْلَامِ بِمَا يَسْتَحِقُّهُ."

[الفتاوى الكبرى ج ۳ / ص ۵۳۳، مجموع الفتاوی ج ۲۸ / ص ۲۴۱]

ژباړه: ټول د کمال صفتونه الله لره دي، د مسلمانانو وينې او مالونه حرام دي که په ماردين کې وي او که بل ځاي کې، او د دين څخه وتونکو کومک حرام دی، که د ماردين خلک وي او که نور. او د دغه ځای اوسيدونکې کچيرې دين قائمولو څخه عاجز و نو هجرت پرې واجب دی، که نه بيا ورله غوره دی، واجب ندی، او د مسلمانانو دښمن سره هغوی په خلاف ځاني يا مالي کومک کول حرام دي، او د دې کار مخنيوی کول په هغوی لازم ده، په کومه طريقه چې ممکن وي، که پټيدو سره وي، که په کنايه سره وي او که په چل ول سره توريه کول (حقيقت خلاف ښکاره کولو) سره وي.

کچيرې دا ممکن نه وه نو بيا هجرت واجب دی، او ټولو ته بد رد ويل او منافقت نسبت کول روا ندي، بلکې بد رد او منافقت نسبت به په هغه صفاتو کيږي چې کتاب او سنت کې بيان شوي، نو پدې کې به د ماردين بعضې خلک داخليږي او نور خلک هم.

او هر چې د ماردين د جنگ وطن يا د امن وطن کيدل دي، نو دا د دواړو څخه جوړ دی، نه هم هغه شان د امن وطن دی چې د اسلام احکام پکې جاري کيږي، د وجې د دې چې لښکر يې مسلمان وي، او نه هم هغه د جنگ وطن دی چې اوسيدونکي يې کافران وي، بلکې دا دريم

قسم دی، مسلمان سره به د خپل شان لایق معامله کیږي او د اسلام څخه وتونکي سره به د هغه مطابق جنگ کیږي.

خو طالبان بلا موجبه اسلامي خلافت مجاهدینو ته مرتدین وايي:



اوس تاسې پریکړه وکړئ، ناحقه تکفیریان څوک دي ؟

۴. افراط او تفریط څخه کار اخستل.

ج: زمونږ هر عمل په شرعي دليل بناء دی، لله الحمد سپيځلې او روښانه منهج مو دی، کومه خبره که چا مونږ ته د دليل په بناء غلطه ثابته کړه نو مونږ په هغه وخت ترې رجوع کوو. نور نواقض د اسلام معلوم دي، د روافضو ردت معلوم دی، د نن سباني حکومتونو کفر روښانه دی، کتاب او سنت هر څه واضحه بيان کړي نو کومه خفاء پکې نشته.

۵. د شرعي امير د سنتو خلاف کولو په وخت پاڅون کول.

ج: دا هم د اسلامي خلافت موقف ندی، مونږ د فسق په صورت کې په خليفه او شرعي امير باندې پاڅون حرام ګڼو ترڅو مو چې ترې څرګند دليل نه وي ليدلای.

او طالبانو کې سره د ارتداده همدا مذکوره صفات هم شته:

۱. حق خليفه باندې پاڅون.

۲. طالبان خپل قاصر ذهن باندې اعتماد کوي.

۳. صحابه وو ته کافر ويونکي شيعه ګانو ته مسلمانان وايي.

۴. افراط تفريط څخه کار اخلي، صليبيانو ته ډاډينې ورکوي او اسلامي خلافت مجاهدينو په خلاف جنګ کوي، جاسوسي يې کفارو ته کوي.

آيا بيا طالبان د ارتداد سره ، سره خوارج هم دي ؟؟

د خوارجو د اته ډلو نور عقائد او صفات:

١. خوارج وايي خليفه لپاره قريشيت لازم ندی، او اسلامي خلافت يې لازم بولي، طالبان يې لازم نه بولي او تاويل کوي وايي که قريشي و، خو خه ده که نه وه بل کس هم خليفه کيدای شي.

٢. خوارج وايي انسان حکم (دريم ګړی) نشي کيدای، اسلامي خلافت په مشروع ځايونو کې بالکل مني، طالبان يې نه مني لکه د اسلامي خلافت ظهور په وخت کې طالبانو په مجاهدينو حمله کوله، د خراسان والي حافظ سعيد خان ورته دريم ګړي علماء او مشران ورولیږل خو طالبانو انکار وکړو.

٣. له جګړې شخه وروسته پاتې کيدونکو او هجرت نه کونکو ته کافر وايي او بې زاري ترې کوي اګر که هغوی سره په دين کې موافق وي.

اسلامي خلافت د دې صفت شخه هم بري دی، مونږ وايو د کتاب او سنت په نص سره دار الاسلام ته هجرت فرض دی، خو که کوم مسلمانان هجرت نه کوي هغوی ګناهګار دي، او د اسلام له امله يې د کومک او نصرت حق باقي پاتې دی.

او تارک د هجرت په اړه ډير وعيدات راغلي:

إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ ۖ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الْأَرْضِ ۚ قَالُوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا ۚ فَأُولَٰئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا. [سُورَةُ النِّسَاء : 97]

ژباړه: کومو خلکو چې پر خپلو نفسونو (دهجرت په نه کولو) ظلم کاوه، پرښتو له هغو څخه د ساه اخیستلو په وخت کښې پوښتنه وکړه چې: تاسې په څه حال کښې اخته وئ؟ هغوی ځواب ورکړ چې: موږ په ځمکه کښې کمزوري او مجبور وو. پرښتو وویل: ایا د الله ځمکه پراخه نه وه چې تاسې په هغې کښې هجرت کړی وای؟ - دا هغه خلك دي چې استوګنځای یې دوزخ دی او هغه ډېر بد استوګنځای دی.

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَبُو الْأَسْوَدِ ، قَالَ : قَالَ عكرمة : أَخْبَرَنِي ابْنُ عَبَّاسٍ ، أَنَّ نَاسًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ كَانُوا مَعَ الْمُشْرِكِينَ ، يُكَثِّرُونَ سَوَادَ الْمُشْرِكِينَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، يَأْتِي السَّهْمُ فَيُرْمَى بِهِ ، فَيُصِيبُ أَحَدَهُمْ ، فَيَقْتُلُهُ أَوْ يُضْرَبُ فَيُقْتَلُ ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ : إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلائِكَةُ ظَالِمِي أَنْفُسِهِمْ [سورة النساء آية 97] رَوَاهُ اللَّيْثُ ، عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ . [رواه البخاري]

ژباړه: محمد بن عبد الرحمن وایي، عکرمه وویل: ما ته ابن عباس رضي الله عنهما خبر راکړی چې د نبي علیه السلام په زمانه کې څه مسلمانان

مشرکانو سره اوسیدل، نو دوی د مسلمانانو په خلاف د کافرو لښکر ډېر کړی وو، نو جنگ کې به غشی راغی او دوی به پرې مړه شول او یا هم په تورو ووژل شول نو الله جل جلاله دا آیت نازل کړ.

د ابن عباس رضي الله عنهما تفسیر دی چې دا خلک د هجرت نه پاتې کیدو له امله د دومره سخت عذابونو مستحق شول. او نور زیات وعیدونه راغلي چې نبي علیه السلام د مشرکانو منځ کې د اوسیدونکو څخه براءت کړی نو مونږ د دار الاسلام د شتون په صورت کې په مسلمانانو هجرت فرض بولو، بیا برابره خبره ده که دا دار الاسلام په هر ځای کې وي، چې اسلامي احکام پکې غالبه وي، زور او واک د مسلمانانو وي، بس دا دار الاسلام دی، خو نن د اسلامي دولت مجاهدینو تمکین پرته بل کوم ځاي دار الاسلام دی ؟

د طالبانو واک ساحو کې خو مونږ ووېل چې پریکړې په جرگو کیږي، حدود نشته، جگړه یې د واک لپاره ده، د ای ایس ای په طرحو چلیږی، او زیات شمیر نواقض لري، نو هغه دار الاسلام ندی نو څنگه هلته هجرت فرض وبولو او خوارجو د علي، معاویه، عبد الله بن زبیر او داسې نورو حق پرستو خلفاؤ رضي الله عنهم په مقابل کې ځان طرف ته هجرت کول فرض بلل، مونږ خو د مسلمانانو جماعت یعنې خلافت ته بلنه ورکوو.

۴. د مخالفینو ښځې او ماشومان وژل روا ګڼل. هیڅکله څوک دا نه شي ثابتولې چې موږ دې د مخالفینو ماشومان وژلي وي خو که مو کومې ښځې وژلي وي ، نو هغه به مرتدینې وي اصلي کافرې به وي او یا به مو انتقاما وژلي وي ، چې د هغې وژل به شرعا جایز وي نور خو نو دا اوازې هسې افواهات دي ، لکه دا دروغجنه پروپایګنډه چې چې د اسلامي خلافت مجاهدینو ماشوم شکولې، خبره دومره عامه شوه چې د کفري رسنیو سرټکې وګرځید، او د خلافت څخه عام اولس متنفره کولو لپاره یې د دې څخه د شعار په توګه استفاده کوله، چې کله مجاهدینو د خلکو څخه وضاحت وغوښت چې کوم ځاي کې ؟ د چا زوي و ؟ د چا لمسې و ؟ د کوم قوم و ؟ نو بیا چا سره هیڅ ثبوت نه و، بیرته هغه حکومتي چارواکي الله عزوجل شرمنده او ذلیله کړل.

یو ځل د کوټ یو بابا ویډیو کې خبرې کولې چې داعش (!) داسې ظلمونه راسره وکړل، خواته ورته کس ولاړ دی، ورته وایي چې بابا ښځې بوځي، هغه ورته غصه شي چې دروغ مه وایه !! دا ویډیو په میډیا خپره شوه، نو دا شبهې همداسې بې بنسټه دروغ او پروپاګنډ وي، چې هیڅ حقیقت نه لري.

٥. خوارج د رجم او د قذف حد څخه منکر دي، او اسلامي خلافت د رجم حد د پیړیو وروسته راژوندی کړ، او هیڅ یو عاقل انسان ترې انکار نشي کولای او هر چې پدې خبره کې د خوارجو تره زامن طالبان دي نو د امریکا د راتګ څخه وروسته شلن کلنه جګړه کې یې تر اوسه یو حد هم ندی قائم کړی، سره د دې چې د افغانستان ٦٠ سلنه واک دعوه هم لري.

٦. تقیه نه په قول او نه هم په عمل کې روا ده. خو اسلامي خلافت دا منهج دی چې حالت د اکراه کې په قول او فعل دواړو سره تقیه کول رخصت دی. خو حالت د اکراه کې هم د بل چا په شرعي حق تجاوز کول ناروا دي.

٧. پیغمبر د بعثت څخه مخکې یا وروسته کافر ګرځیدای شي، نعوذ بالله زمونږ هیڅکله دا عقیده نده، او نه یې هم څوک پرې یو ثبوت پیش کولای شي.

٨.د لویې ګناه مرتکب کافر او همیش لپاره به د نورو کفارو سره یوځای وي.

د اسلامي دولت عقیده امیر المؤمنین ابو عمر البغدادي بیانه کړی، تاسې هلته کتلای شئ چې مونږ په کبیره ګناه چا ته کافر نه وایو. او دا

هسې پروپاګنډه دی چې اسلامي خلافت مجاهدین په نصوارو هم خلکو ته کافر وایي! لکه اکثره طالبان نصوار زیات استعمالوي نو ځکه ای ایس ای ورته نصوار یادوي.

۹. مونږ د امام په کافر کیدو د رعیت د ارتداد قائل نه یو. بلکې مونږ مخکې وویل چې اشغال شوي سیمې چې مشران یې مرتد وګرځي نو بیا هم دغه خلکو کې به ناقض د اسلام ته کتلې شي، که چا داسې کار کړی و چې اسلام پرې ماتیدو نو صحیح ده او که نه نو مسلمان دی، مخکې مونږ د شیخ الاسلام قول ذکر کړ.

۱۰. مونږ د کافر او مرتد مال غنیمت ګڼو، که مالک یې ژوندی وي او که مردار شوی وي.

۱۱. مونږ سورت یوسف د قرآن کریم جزء ګڼو، د توحید یوه لویه مرجع یې ګڼو او نعوذ بالله د خوارجو په څیر له دې څخه انکار نه کوو.

۱۲. مونږ په هیڅ حال کې د مسلمانې زنانه نکاح کفارو سره روا نه بولو.

۱۳. مونږ د کفارو د نابالغه بچیانو په اړه وایو چې قیامت کې به پرې الله عزوجل د اسلام امتحان کوي که څوک کامیاب شو جنت ته به ځي او که ناکام شو جهنم ته به ځي.

۱۴. مونږ د مال یا غیر مال د وجې د انبیاء کرامو بې ادبي حرامه ګڼو، او نه هم دې کار ته طالبان او نه شیعه روافض پرېږدو.

۱۵. مونږ د خوارجو په څیر نه یو چې بت پرسته کافر پرېږدو او مسلمانان ووژنو، (یقتلون أهل الإِسْلَامِ وَیدعون أهل الأوثان) بحمد الله د اهل اوثان روافضو په قتلونو خو د اسلامي خلافت مجاهدینو سینې یخې کړې، لږ د هزاره قوم شیعګانو نه تپوس وکړئ، د ایران پارلمان باندې برید نه ځان خبر کړئ، پدې خو طالبان هم اقرار کوي.

د عراق روافضو خو حساب نشته، او اوس نو د الله په فضل پاکستان کې هم په امن ندي.

سنګرمیډیا sungermedia
5.4K subscribers

سوریه کې د ایران اړوند ۸ تنه شیعه سرتیري وژل شوي

عزم(دوشنبه، ۴ سلواغه ۱۳۹۹):

د سوریې رسنیو د راپور په اساس په سوریه کې د ایران اړوند شیعه ملیشو ۸ تنه سرتیري د وسلوالو په بریدونو کې وژل شوي دي.

اسپوتنیک خبري اژانس ویلي چې دغه بریدونه د سوریې په شمالي او شرقي سیمو کې رامنځته شوي چې دواړو لوریو ته مرګ ژوبله اوښتې.

راپور کې راغلي چې د داعش اړوند وسله والو په دیرالزور او حلب سیمو کې د ایراني سرتیرو په قرارګاه برید کړی چې په ترڅ کې یې دواړو لوریو ته مرګ ژوبله اوښتې.


سنګرمیډیا sungermedia
5.4K subscribers

الأحد 19 جمادى الأولى 1442 هـ
عالى، تمكن جنود الخلافة من استهدف آلية مسؤول
لقة (شيرزاد)، بتفجير عبوة ناسفة، في الناحية السابع
أدى لتدميرها، ولله الحمد.

#تازه
داعش ډلې په بلوچستان کې د یوولسو کان کېندونکو د وژلو مسوولیت منلی دی. د راپورونو له مخې داعش ډلې منلې چې په بلوچستان کې یې ۱۱ شعیه کان کېندونکي په ډزو وژلي دي. دغه پېښه د یکشنبې په شپه د بلوچستان په جنوبي ښار مچ کې رامنځ ته شوې ده.

#تازه
گروه داعش مسئولیت قتل یازده کارگر شیعه را به عهده گرفت
گروه داعش مسئولیت قتل یازده کارگر شیعه هزاره در ایالت بلوچستان در غرب پاکستان را به عهده گرفته است.
نیروهای گروه داعش این کارگران را در روز شنبه در کنار معدن زغال سنگ ربوده بودند.
عزیــزالله عزیـــراشنـــا, 1:01 PM 796

خو طالبان د اهل اوثانو روافضو، اسماعيليانو، سيکانو او هندوانو ټولو حقوقو تضمين ورکوي، خو بالمقابل اسلامي دولت مجاهدينو په خلاف جګړه کوي، عجيب انصاف دی ؟



امريکايان مو څو څو ځل په باګرام کې په توغندو وويشتل خو طالبان ورته ضمانتونه ورکوي، راشئ د دوی د خولو يې واورئ:



د فرانس سفارت مو په نښه کړ.

نيپالي پوځ باندې مو کابل کې استشهادي وکړه، ۲۷ کسان پکې مردار او نور ډېرې پکې زخمیان شو.



هند سره مو هم الحمد لله جنگونه شروع کړي، دا يې د ۲۰۲۱ مى مياشتې د مشهور مندر سوئولو انځور دی.



او کشمير مجاهدينو لخوا هم وخت ناوخته پرې بريدونه کيږي.

د امریکا په زړه کې د اسلامي دولت د مجاهدینو بریدونه له چا پټ نه دي ، په کنسرټ برید ، د عمر متین تقبله الله اتلوال برید او نور بریدونه یې د مثال په شکل یادولې شو .

جرمني کې یې وکړه. په فرانس کې یې وکړه. غرب افریقیه کې ملګرو سره د فرانس صلیبي پوځیان په جګړه کې ښکیل دي.

موصل کې انګریزانو ماتې وخوړه. بیا یې کردیان او پیشمرګه اربکیان رامخکې کړه، که وژل کیږي او که پاتې کیږي.

نو زمونږ جګړه دوامداره روانه وه، بیا بعضې طالبان وایي چې نه دلته نبي علیه السلام د مبالغې په شکل ویلي چې کافر پریږدي او مسلمانان وژني، معنا دا چې کافرو سره به جګړه کمه کوي او مسلمانان به د خپلو ګزارونو هدف ګرځوي، نو مونږ ورته دا وایو چې مونږ د اول نه تر اوسه اصلي کفارو پسې زور کوو خو چې تاسې د اسلام په جامه کې ارتداد پټ کړو، او زمونږ جنګ ته رامخکې شوئ، مونږ باندې مو حمله وکړه، مونږ مجبورا خپله دفاع شروع کړه.

او دا صفت خو طالبانو کې په اعلی درجه شتون لري چې امریکایانو ته ډاډینې ورکوي، روافض یې ورونه وبلل، د نړۍ هر کافر ته ډاډ ورکوي خو د اسلامي خلافت په خلاف یې جنګ اعلان کړی، د سپین غر په سر

میشتو طالبانو ته بعضې ملګرو وویل چې همدغه شیعه پاکستانې پوځ مو پرېښې او مونږ سره جنګ کوئ دا ولی ؟ دا خو د خوارجو صفت دی، نو بیا ورسره جوابونه نه و.

۱٦. مونږ کې د خوارجو دا صفت هم نشته (سفهاء الأحلام حدثاء الأسنان) زمونږ د مشرانو عمرونه او عقلونه الحمد لله د شریعت په اصولو برابر دي. د څلویښت کلو څخه پورته دي.

د خلافت د انعقاد په وخت د مرکزي خلافت شورا کې د عراق او شام بلکې د نړی په سطحه غوره او پوهه مجاهدین شامل وو، چې شیخ اسامه او د القاعدی بل مشر ایمن الظواهری یې د دغه اعلان څخه مخکې تایید کړی و. او خصوصا خلیفة المسلمین ته د القاعدی مشر ایمن الظواهري دا الفاظ استعمال کړي:

" ولا بد أن نقر بالفضل لإخواننا في دولة العراق الإسلامية وعلى رأسهم أميرهم فضيلة الشيخ أبي بكر البغدادي "

ژباړه: او باید مونږ دولة العراق الاسلامیة کې د خپلو ورونو په غوره والي اقرار وکړو، چې په سر کې یې د دوی امیر فضیلة الشیخ أبو بکر البغدادي دی.

او خراسان ولایت کې هم زمونږ مشران تر اوسه خه په جهاد پوهه او بصیرت والا خلک دي. پخوا جهادونو کې پاتې شوي او د مشرانو مشایخو فضل او احسان هم الله جل جلاله په مونږ کړی.

خلافت اسلامي مشهور علماء کرام لري لکه:

١. شيخ أنس النشوان ابو مالك التميمي چې د جامعة الإمام محمد بن سعود رياض څخه يې په شرعياتو کې تخصص کړې او وزارت العدل سعودي کې قاضي هم پاتې شوې، په فقه المقارن کې ماستري لري، بيا خراسان ته راغې دلته د القاعدې د شرعي لجنې مهم غړی و، په جنگ کې زخمي هم شو، او بيا په ٢٠١۴ م کال کې يې خلافت مرکز ته هجرت وکړو.

٢. شيخ أبو علي الأنباري، د علم او عرفان غر، لوي محدث، خطيب، مصنف او د عراق نوموتلې جيد عالم.

٣. شيخ تركي بن مبارك البنعلي البحريني، هغه شخصيت چې د علم په طلب کې کويت، امارات، يمن، بِلادُ الحرمين، عراق، لبنان، سوريا، مصر، تونس، ليبيا او مغربِ اسلامی ته سفرونه کړي و. او د خلافت څخه مخکې د جهادي بهير کبار علماؤ د جملې څخه و.

۴. شیخ أبو المنذر الحربي المدني. دا هم د جزیرة العرب نامتو عالم و، ۲۰۰۵ م کال کې القاعدې سره یوځای شو او ۲۰۱۰ م کې یې خراسان ته هجرت وکړ او د خلافت څخه وروسته یې خلافت سره بیعت وکړ.

۵. شیخ أبو حفص الشامي.

٦. شیخ أبو محمد المصري.

۷. شیخ أبو زبیر الشنقیطي.

۸. شیخ أبو عبیده الشنقیطي.

۹. شیخ عبد الرزاق أجحا.

۱۰. شیخ أبو محمد العدناني، هغه عالم چې أیمن الظواهري یې هم علم ته قائل دی او شیخ یې ورته ویلي.

والفضل ما شهدت به الأعداء.

تر ټولو ستر عالم شیخ أبو بکر البغدادي چې مجتهد عالم و. صفت یې تاسې د ایمن الظواهري د خولې واوریده. نور زیات شمیر علماء کرام دی، چې دا کرښې د تفصیل ځای نه دی.

او خراسان کې هم لوي ، لوي علماء کرام موجود و، لکه شیخ مقبول، شیخ قاسم، شیخ عبد الحسیب لوګري، شیخ جلال الدین، شیخ أبو یوسف نورستاني، شیخ منصور، شیخ ادریس کندهاري، شیخ ابو سعید المهاجر تقبلهم الله چې ټول د امریکایی ډرونونو په بمبار کې شهیدان شوي ... او داسې نور.

۱۷. کله چې طالبان د جنګ په ډګر د الله لښکر د اسلامي خلافت مجاهدینو لخوا په الاهي نصرت سره مات شي، په جنګ کې شکست وخوري، شا راواړوي، بیا وایي تاسې خوارج یاست، ولی ؟

وایي خوارجو هم کلک جنګ کوو او تاسې هم کلک جنګ وکړو ، مونږ مو په منډه تر پاکستانه راورسولو.

مونږ ورته وایو چې براء بن مالک دی هیر شو، چې په یو سر یې د حدیقة الموت کې ستاسې په څیر ۴۰۰۰۰ مرتدینو منځ ته وردانګلي و، او کلک جنګ یې وکړ، هغه خارجي و ؟

خالد بن الولید د مرتدینو سره کلک جنګ کاوه هغه خارجي و؟ ایا دا صرف خاصه د خوارجو ده. نعوذ بالله ولی صحابه وو کلک جنګ نه کاوه ؟ بلکې په جنګ کې جبن خو د منافقانو صفت دی، تاسې کله نه د منافقانو ورونه شوئ؟

۱۸. کله چې طالبان دلائلو کې پړه شي بیا وایي تاسې ښایسته ویناګانې کوئ، خو عمل مو سم ندی ځکه خوارج یاست او خپل کشران پدې حیلې سره تیر باسلو کوشش کوي.

زه شکر چې دا خو مني چې ویناګانې مو ښایسته دي، مطلب په قرآن او حدیث برابرې دي، مفهوم مخالف دا چې ستاسې ویناګانې بدي دي.

نو مونږ ترې تپوس کوو چې د صحابه وو ویناګانې څنګه وی ؟

د سلفو ویناګانې څنګه وی ؟

هره زمانه کې د مومنانو ویناګانې څنګه وي ؟

آیا هر څوک چې خه خبره کوي هغه به خارجي وي ؟ په خه خبره خو الله جل جلاله قرآن کې امر کړی او نبي علیه السلام په احادیثو کې.

د خوارجو صفت دا و چې وینا او عمل کې یې فرق و، خو الحمد لله زمونږ په وینا او عمل کې اتحاد دی. مخالف او موافق هر یو پدې ګواه دې چې په شریعت باندې پوره عمل کونکي د خلافت مجاهدین دي. کنه طالبان دې د نړیوالې ټولنې مخکې فقط د وینځو غلامانو نظام نوم واخلي، پاتې لا عمل.

١٩. طالبان وايي پخوانيو خوارجو به هم قياس کولو، د امام ابن حزم قول وړاندې کوي چې خوارجو به د مسلمانانو جنګ په اړه د ابو بکر رضي الله عنه مرتدينو سره قتال کولو څخه دليل نيوه، او وايي نن هم اسلامي خلافت يو مجاهد د خپل ټويټر په ديوال ليکلي و چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم وروسته خلافت د مرتدينو په وژلو قايم شو نن به هم خلافت د مرتدينو په وژلو قايميږي.

مونږ ورته وايو همدا تاسې چې د کابل ادارې سره جګړې لپاره همدې د ابو بکر رضي الله عنه عمل څخه استدلال کوئ، چې بنو حنفيه هم کلمه ويله د هغوی کلمې ته اعتبار نه و، جنګ ورسره وشو او نن د کابل ادارې کلمې ته هم اعتبار نشته، نو تاسې څنګه پدې کار خوارج نه ګرځئ او مونږ پرې خوارج ګرځوو ؟ دا کوم انصاف دی ؟

همدا ستاسې کتابونو کې تر اوسه دا مضمون نه نشريدو:

ردة جديدة لا أبا بكر لها، نوی ارتداد دی خو ابو بکر نشته، دا څنګه خبره ده، پدې تاسې خوارج ګرځئ ؟

چې کتابونو کې مو دا موجود دي، او زمونږ د مجاهد يو ټويټر ديوال باندې ليک له امله مونږ خوارج ګرځو.

او آيا د مرتدينو په جنګ کې د ابو بکر او د ټولو صحابه وو رضي الله عنهم اجماعي عمل څخه استدلال ناروا دی ؟

که واياست، هو، نو دليل وړاندې کړئ او که واياست، نه، نو دا خبره مو خپله باطله شوه.

او دا خو سمه خبره ده، چې د مرتدينو لرى كولو بغير اسلامي نظام نه قائميږي، اصل خنډ د اسلامي نظام مخې ته همدا مرتدين دي، ځکه اصلي کافرو خلاف خو ټول ملت راپاځي، خو مرتد خو ظاهرا کلمه وايي، ډير ساده ګان پرې تيروځي، خو هغه مرتد چې کتاب سنت په دلائلو سره ثابت وی، لکه روافض وغيره. مونږ د اصلي کفارو څخه همدا د طالبانو او روافضو په څير مرتدينو مصروف کړي يو، کنه تر دې دمه به مسلمانانو اندلس هم بيرته فتح کړی وو.

۲۰. د دوی نښه سر خريل دي، په بالغه زنانه د حيض په حالت هم مونځ فرض ګڼي، اباضيه فرقه وايي چې قرآن مخلوق دی، خوارج د قيامت نه مخکې د جنت او جهنم منکر دي، د بعضې معتزله وو هم دا عقيده ده، د خوارجو اکثريت د قبر عذاب څخه منکر دي، اباضيه ډله کې يې بعضې مني او بعضې نه مني، خوارج د حقيقي ميزان تلې څخه منکر دي او د دې څخه د نيکۍ او بدۍ سره تعبير کوي، زيات خوارج د قيامت ډيرو

کارونو څخه انکار کوي، د پل صراط څخه منکر دي، د شفاعت څخه منکر دي، بعضې خوارج تقدير نه مني او بعضې جبريه دي، خوارج د حشر په ورځ د الله عزوجل ديدار څخه منکر دي، د ايمان په حقيقت کې يې زيات اختلاف دی، څوک وايي ايمان د اقرار او معرفت نوم دی، بعضې وايي چې ايمان د زړه او ژبې اقرار او په شريعت عمل کولو ته وايي، او خوارج وايي چې ايمان کې زياتې او کمې نه راځي، يا ثابت پاتې کيږي او يا هم ټول ختميږي، او بعضې پدې کې د اهل سنتو سره موافق دي.

او د اسلامي خلافت مجاهدينو ستر ،ستر ويښته دي، په خلاف د طالبانو چې صوفي او تبليغي مشران يې سرونو باندې يو ويښته هم نه پريږدي، او دا نور مذکوره صفاتو څخه يو هم په مجاهدينو کې شتون نه لري. والحمد لله.

۲۱. آيا ذبح کول (حلالول) هم د خوارجو صفت دی ؟

طالبانو د کافر او مرتد حلالول هم د خوارجو صفت بللی. سره د دې چې دا د نبي عليه السلام ثابت سنت دي:

۱. فَاضْرِبُوا فَوْقَ الْأَعْنَاقِ وَاضْرِبُوا مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ. [سورة الأنفال:12]

ژباړه: تاسې اووهئ د پاسه د څټونو او ووهئ د دوی څخه ټول بندونه.

شيخ المفسرين امام طبري وايي:

"إن الله أمر بضرب رؤوس المشركين وأعناقهم وأيديهم وأرجلهم، أصحابَ نبيه صلى الله عليه وسلم الذين شهدوا معه بدرًا."

ژباړه: يقينا الله عزوجل د نبي عليه السلام هغه صحابه وو ته امر کړی چې هغوی بدر ته حاضر شوي وو، په وهلو د سرونو د مشرکانو، څټونو، لاسونو، او خپو باندې.

۲. فَإِذا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا فَضَرْبَ الرِّقابِ. سورة محمد.

نو کله چې تاسې مخامخ شوئ کافرانو سره ووهئ څټونه د هغوی په وهلو سره.

امام قرطبي وايي:

"وَلَمْ يَقُلْ فَاقْتُلُوهُمْ، لِأَنَّ فِي الْعِبَارَةِ بِضَرْبِ الرِّقَابِ مِنَ الْغِلْظَةِ وَالشِّدَّةِ مَا لَيْسَ فِي لَفْظِ الْقَتْلِ، لِمَا فِيهِ مِنْ تَصْوِيرِ الْقَتْلِ بِأَشْنَعِ صُوَرِهِ، وَهُوَ حَزُّ الْعُنُقِ وَإِطَارَةِ الْعُضْوِ الَّذِي هُوَ رَأْسُ الْبَدَنِ وَعُلُوُّهُ وَأَوْجَهُ أَعْضَائِهِ." [تفسير القرطبي]

ژباړه: دې آيت کې الله تعالی دا ندي ويلي چې فاقتلوهم يعني دوی ووژنئ ځکه چې د ښځونو وهلو په عبارت کې هغه سختي او شدت ذکر دی چې هغه بيا په لفظ د فاقتلوهم کې نشته. د دې وجې نه چې په دې کې د وژلو په ډير بد او قبيح شکل سره ذکر دی او هغه غوڅول د ښځې دي او غوڅول د هغه اندام دي چې هغه د بدن سر دی او هغه اوچت او تر ټولو اندامونو ډير غوره دی.

د امام ابو حنيفه په نزد خو د دې آيت د احسان او فديه اخستلو حکم هم منسوخ دی، هغه وايي فقط همدا ښځې وهل محکم حکم دی، اگر که اکثره اهل علم وايي چې دا منسوخ ندی او حاکم ته پدې کې اختيار دی چې کوم عمل مناسب گڼي، قتل، فديه اخستل، احسان کول، بندي کول، يا هم غلام گرځول. [أضواء البيان ج ۷ / ص ۲۴۷]

دا تاسې ځنگه احناف ياست ؟

۳. عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قال قال رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " تَسْمَعُونَ يَا مَعْشَرَ قُرَيْشٍ، أَمَا وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَقَدْ جِئْتُكُمْ بِالذَّبْحِ ". رواه أحمد في مسنده.

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: واورئ اې د قریشو ټولیو، قسم مې دې په هغه ذات وي چې د محمد صلی الله علیه وسلم روح یې په لاس کې دی، یقینا زه تاسې ته په حلالکې سره راغلې یم.

د موارد الظمآن په یو روایت کې دا الفاظ هم راغلي:

" وَأشَارَ بيَدِهِ إِلىَ حَلْقِهِ " او نبي علیه السلام خپل لاس سره مری ته اشاره وکړه.

د دې نه پس به هم کوم مسلمان ته پدې حلالکه کې کوم عذر پاتې شي؟

یو امارتي سفیه پدې حدیث کې داسې نآشنا تاویل کوي، وایي دا د نبي علیه السلام قول دی خو عمل یې پرې ندی کړی، مونږ وایو نبي علیه السلام په اذان قول شته، خو عمل یې پرې نه شته، نو ته به اوس څه وایی اذان ندی ثابت ؟

نبي علیه السلام د والدینو په خدمت قول شته خو عمل یې نشته، ځکه والدین یې مړه و ؟ اوس به پدې عمل نشي کولای ؟

آیا قول د نبي علیه السلام د منلو وړ ندی ؟ دا دومره قولي احادیثو ذخیره د منځه لاړه ؟ بیا خو باید د احادیثو اقسامو څخه قولي حدیث وویستل

شي، خو انسان حيران شي دې خلکو ته چې دعوه د مسلمانۍ کوي او د حق په دښمنۍ کې د صريحو آيتونو او احاديثو نه هم په يوه بهانه او بله بهانه انکار کوي.

۴. عن عائشة قالت: فَلَمَّا اشْتَدَّ حَصْرُهُمْ وَاشْتَدَّ الْبَلَاءُ، قِيلَ لَهُمْ: انْزِلُوا عَلَى حُكْمِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَاسْتَشَارُوا أَبَا لُبَابَةَ بْنَ عَبْدِ الْمُنْذِرِ، فَأَشَارَ إِلَيْهِمْ أَنَّهُ الذَّبْحُ. [مسند أحمد وابن حبان وإسناده حسن لذاته]

عائشه رضی الله عنها وويل: کله چې د هغوی (بنو قريظه وو) کلابندي سخته شوه او امتحان سخت شو، ورته وويل شول: د رسول الله عليه السلام په حکم راکوز شئ، هغوی ابو لبابه بن عبد المنذر سره مشوره وکړه، هغه ورته اشاره وکړه چې نبي عليه السلام مو حلالوي.

۵. د سر پرې کول د نبي عليه السلام عملي سنت نندارہ:

ثمَّ احتززت رَأْسَهُ ثُمَّ جِئْتُ بِهِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَذَا رَأْسُ عَدُوِّ اللَّهِ أَبِي جَهْلٍ. سيرة ابن هشام.

ژباړه: بيا ما د هغه سر ورپرې کړ، او نبي عليه السلام ته مې راوړ، ما ورته وويل: اې د الله رسوله! دا د الله دښمن د ابو جهل سر دی.

او صحيح البخاري کې دا حدیث شته چې عبد الله بن مسعود د ابو جهل حال معلومولو پسې تللی و.

عبد الله بن مسعود د ابو جهل سر پرې کړ، عملي او تقريري سنت هم ثابت شو.

٦. خالد القسری د لوي اختر په ورز جعد بن درهم ذبح کړ، اختر خطبه يې ورکړه بیا يې وويل: "أَيُّهَا النَّاسُ ضَحُّوا تَقَبَّلَ اللَّهُ مِنْكُمْ، فَإِنِّي مُضَحٍّ بِالْجَعْدِ بْنِ دِرْهَمٍ." [الإبانة الكبرى لابن بطة والبداية والنهاية]

ژباړه: اې خلکو تاسې قرباني وکړئ، الله دې له تاسې قبول کړي او يقينا زه په جعد بن درهم باندې قرباني کوم.

٧. ملا داد الله د طالبانو يو نوم وتي قومندان و، هغه هم د شيخ ابو مصعب زرقاوي رحمه الله څخه وروسته علني د کفارو حلالکې شروع کړې.


آيا هغه هم خارجي و ؟

دلته بيا لا تقل شي، خولې يې خپه او شونډې يې وچې شي، ځکه د غبرگو خپو څخه مو وتړل.

نو اې مسلمانه وروره !

وګوره دا حلالکه د طالبانو مشرانو کوله، هغه خير دی، هغه وخت جائز وه چې نن د اسلامي خلافت مجاهدين يې کوي، او طالبان د بين الملل قوانين منلو د وجې بدل شوي نو ځکه طالبانو شور راخيستي چې دا د خوارجو نښه ده، د دوی ټول اعتراضات همداسې دي. کنه په ملا داد الله دي د خوارجو فتوی ورکړې.

خپله د خوارجو (!) خلاف همدا د حلاليدو شعارونه کاروي:



طالب ته روا دي خو چې خلافت مجاهدين همدا کار کوي بيا خوارج وي!!

يَمْرُقُونَ مِنَ الإِسْلَامِ مُرُوقَ السَّهْمِ مِنَ الرَّمِيَّةِ مصداق څوک دی ؟

د خوارجو يو صفت نبي عليه السلام دا بيان کړی چې هغوی به د اسلام څخه د غشي پشان وځي. تاسې نن سبا وګورئ ، د الله نظام مقابل کې د کفارو په خوښه قانون وضع کول طالبانو ومنل، جمهوريت يې ومانه، بين الملل ټول قوانين يې ومنل، د اسلام تنفيذ له امله يې اسلامي خلافت مجاهدينو سره جنګ وکړو او نور لسګونه نواقض په طالبانو کې موجود دي، نو اوس د دين څخه د غشي په څير طالبان ووتل او که د اسلامي خلافت مجاهدين ؟

جواب واضحه دی.

د طالبانو قول مطابق امام ابو حنيفه هم خارجي و، نعوذ بالله؟

طالبان دې لږ تکره شي او د امام ابو حنيفه په اړه دې هم دا ووايي چې خارجي و ؟ ځکه دوی خو په کش سره اسلامي خلافت ته د خوارجو نسبت کوي، نو بيا خو به د امام صيب په اړه هم دا نظر لري ځکه:

١. امام صيب هم هغه عراق کې پيدا شوی چې نن يې طالبان په بدي بيانولو نه ستړي کيږي.

۲. امام ابو حنيفه د وخت خليفه ابو منصور جعفر په خلاف دوه ځل د پاڅون حمايت کړی و. يو ځل د حسين رضي الله عنه لمسي زيد بن علي ملاتړ يې کړی و او بل ځل يې د محمد بن عبد الله چې النفس الزكية لقب يې و، او د ده ورور ابراهيم پاڅون ملاتړ يې کړی و.

ابو بکر الجصاص الحنفي وايي:

"وَقَضِيَّتُهُ فِي أَمْرِ زَيْدِ بْنِ عَلِيٍّ مَشْهُورَةٌ وَفِي حَمْلِهِ الْمَالَ إلَيْهِ وَفُتْيَاهُ النَّاسَ سِرًّا فِي وُجُوبِ نُصْرَتِهِ وَالْقِتَالِ مَعَهُ وَكَذَلِكَ أَمْرُهُ مَعَ مُحَمَّدٍ وَإِبْرَاهِيمَ ابْنَيْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَسَنٍ." [أحكام القرآن للجصاص ج ١ / ص ٨٥]

ژباړه: او د زيد بن علي كار په اړه د امام صيب خبره مشهوره ده، او هغه ته د مال ورکول، او خلکو ته د هغه د کومک وجوب او د هغه په قيادت کې جنګ کولو په اړه خلکو ته په پټه فتوی ورکول مشهور دي. او همدغه شان کار يې د عبد الله بن حسن دوه زامنو محمد او ابراهيم سره هم ده.

زيد بن علي امام صيب ته قاصد راليګلې و، چې زما کومک وکړه نو امام صيب ورته وويل که زما دا يقين وی چې تا سره به خلک ودريږي نو بيا مې ستا ملاتړ کوو خو اوس به درسره مالي مرسته وکړم او محمد او

ابراهیم سره يې هم خه کومک کړی و، ښکاره به يې خلکو ته فتوی ورکولې چې د دوی ملاتړ وکړئ.

۳. بلکې دا د امام صیب مذهب و چې د ظالم خلیفه پر وړاندې پاڅون روا دی. ابو بکر الجصاص الحنفي وايي:

"وَكَانَ مَذْهَبُهُ مَشْهُورًا فِي قِتَالِ الظَّلَمَةِ وَأَئِمَّةِ الْجَوْرِ، وَلِذَلِكَ قَالَ الْأَوْزَاعِيُّ: احْتَمَلْنَا أَبَا حَنِيفَةَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى جَاءَنَا بِالسَّيْفِ يَعْنِي قِتَالَ الظَّلَمَةِ فَلَمْ نَحْتَمِلْهُ، وَكَانَ مِنْ قَوْلِهِ: وُجُوبُ الْأَمْرِ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيِ عَنْ الْمُنْكَرِ فَرْضٌ بِالْقَوْلِ، فَإِنْ لَمْ يُؤْتَمَرْ لَهُ فَبِالسَّيْفِ." [حكام القرآن للجصاص ج ۱ / ص ۸۵]

ژباړه: او د امام صیب مذهب د ظالمانو او زیاتي کونکو مشرانو جنګ په اړه مشهور دی، ځکه خو اوزاعي ویل: مونږ د ابو حنیفه هره خبره برداشت کړه تر دې چې د ظالم مشرانو په جنګ يې هم راتګ وکړ، نو دا مونږ نشو زغملی، او د امام صیب دا وینا وه: په نیکۍ امر کول او د ګناه څخه منع کول په وینا سره فرض دي، کچیرې ونه منل شوه نو بیا به په تورې سره کولی شي.

د طالبانو قول مطابق خو بیا امام صیب هم خارجي و، ځکه دوه ځل یې د خروج ملاتړ کړی و، او که وايي نه، نو خلافت مجاهدين بیا طریق أولی سره خوارج نشو، والحمد لله.

د خلافت د خارجیت او که د حقانیت نآشنا ثبوت:

طالبانو لخوا د اسلامي خلافت په مجاهدینو دا تهمت هم تړل کيږي چې ستاسې په خلاف ټول امتونه راټول دي، نو ځکه تاسې خوارج یاست، لکه څنګه چې پخوانیو خوارجو پر خلاف راټول وو ؟

خو مونږ ورته وایو په کومه مسئله کې چې زمونږ ستاسې اختلاف راغې نو قرآن او حدیث ته به یې رجع کوو، خو دا خو مسلمه ده چې اسلامي خلافت په خلاف ائتلافي لښکرې زیاتې دي، لکه طالبانو امارت باندې ۴۲ ملکونو حمله کوله هغه وخت طالبانو سره بهرني مجاهدين موجود و، او همدا راز څه نا څه یې په مشرانو کې مصلح خلک و، حال دا چې له پیله یې له طواغیتو سره دوستي هم لرله، لکه پاکستان او داسې نورو سره ، خو اوس کیسه بیخي بدله ده اوس وخت کې نه طالبانو سره بهرني مجاهدين پاتي دي او نه هغه ځینې مخلص مشران، ځکه یې نو اوس دغه دوه څلویښت ملکونه دښمنان نه ، بلکې دوستان دي او د موالاتو ښکاره تړونونه ورسره لري .

او هر چې خلافت دی نو په دې باندې عراق کې د ۸۰ نه ډیرو اتحادي ملکونو جنگ وکړ او دوی هیڅ یو کافر سره هم لار نه لري، او دا یې د حقانیت نښه ده. او دا دی وس د افریقه په مجاهدینو تر اوسه ۸۳ اشغالگر مملکتونو راټول دي، حسبنا الله ونعم الوكيل.

خو دا د حقانیت نښه ده:

۱. حدیث کې راځي: " يُوشِكُ الْأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ "

ژباړه: نزدی ده چې ډیری ډلی به ستاسو په خلاف راجمع شي.

گوره نبي علیه السلام ویلي دي چې پر تاسې یعني په مسلمانانو به دغه ډلی او احزاب راټولیږي، داسې یې نه دي ویلي چې پر خوارجو به راټولیږي، په تکفیریانو به راټولیږي، د حکومت په عملاؤ به راټولیږي، نه، نبي علیه السلام فرمایي: علـیـکـم، معنا دا چې " اسلامي امت ". الله أكبر! اې مسلمانه تا ته دا خبره نه کافي کیږي ؟

۲.بل حدیث: وَلَا يَزَالُ مِنْ أُمَّتِي أُمَّةٌ يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ، وَيُزِيغُ اللَّهُ لَهُمْ قُلُوبَ أَقْوَامٍ ، وَيَرْزُقُهُمْ مِنْهُمْ حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ، وَحَتَّى يَأْتِيَ وَعْدُ اللّه. سنن النسائي.

ژباړه: او زما د امت څخه یوه ډله به همیشه په حق جنگیږي، او د دوی

په خلاف به الله جل جلاله د ډیرو قومونو زړونه کاږه کړي، او د دوی څخه به ورته رزق ورکوي، تر دې چې قیامت قائم شي، او تر دې چې د الله جل جلاله وعده راشي.

زَاغَ لفظ کله حق ته میلان کې هم استعمالیږي، خو اکثرو معاجمو لیکلي چې دا د حق نه باطل طرف میلان کې زیات استعمالیږي، همدا خبره حاشیة ابن القیم، حاشیة السندي، ذخیرة العقبی في شرح المجتبی وغیره کتابونو هم لیکلی. خو تر ټولو غوره شرحه یې حدیث خپله کړی: إِنَّ اللهَ- عَزَّ وَعَلا- يُزِيغ قُلوبَ أَقْوَامٍ تُقَاتِلُونَهُمْ، وَيَرْزُقُكُمْ الله مِنْهُمْ. [موارد الظمآن إلى زوائد ابن حبان ، ومسند الشاميين للطبراني]

ژباړه: بې شکه الله عزوجل د قومونو زړونه به واړوي، تاسې به ورسره جنګ کوئ، او الله به تاسې ته د هغوی څخه رزق درکوي.

دا وګورئ، دې احادیثو کې هم نبي علیه السلام دا وضاحت کړی چې ډیر قومونه به د حق پرستو خلاف کیږي.

۳. د اویس قرني رحمه الله وینا ده:

"إن الأمر بالمعروف، والنهي عن المنكر لم يدع للمؤمن صديقا، نأمرهم بالمعروف فيشتمون أعراضنا، ويجدون على ذلك أعوانا من الفاسقين، حتى والله لقد رموني بالعظائم، وأيم الله لا أدع أن أقوم فيهم بحقه".

ژباړه: په نيکي امر کول او ګناه نه منعه کولو د مومن لپاره هيڅ ملګرى پرېنښود. مونږ په خه کارونو امر کوو، خلک زمونږ عزتونو ته کنځل کوي، او فاسقان خلک ورسره ملګرتيا کوي، تر دې چې قسم په الله زه يې په هډوکو وويشتم، او قسم په الله تر هغې به دا کار نه پرېږدم چې دوی په سمه لار برابر کړم.

[رواه ابن سعد في الطبقات عن أويس رحمه الله بلفظ أطول (6/ 165)، وأشار إلى طرف منه أبو نعيم في الحلية (2/ 83)، وذكره ابن الجوزي في صفة الصفوة بلفظ أطول من هذا (3/ 54)، وأخرجه ابن أبي الدنيا في الأمر بالمعروف.]

۴. سُفْيَان ثوري وايي: إِذَا أَثْنَى عَلَى الرَّجُلِ جِيرَانُهُ أَجْمَعُوْنَ فَهُوَ رَجُلُ سُوءٍ لأَنَّهُ رُبَّمَا رَآهُم يَعصُوْنَ، فَلاَ يُنْكِرُ، وَيَلقَاهُم بِبِشْرٍ. [سير أعلام النبلاء ج ۷ / ص ۲۷۸]

ژباړه: کله چې د يو انسان ټول ګاونډيان د هغه صفت کوي، نو دا بد سړی دی، ځکه ده به کله دا خلک په ګناه ليدلي وي، نو رد به يې پرې

نه وي کړی، او په خوشحالۍ ورسره مخ کيږي.

نو نن سبا په اسلامي خلافت د ټولو کفارو او طواغيتو راټوليدل د اسلامي خلافت د خارجيت څخه براءت او د حقانيت لوی ثبوت دی. والحمد لله.

چې کله طالبان لا جوابه شي بيا د عراق بدي شروع کړي:

د طالبانو او نور مخالفينو لخوا چې د اسلامي خلافت خارجيت لپاره کومې پلمې لټول کيږي، د هغې مدلل او مقنع جواباتو په نتيجه کې لاجوابه شي نو حيران شي چې اوس څه وکړو ؟

چې دا هر څه ترې هير شي نو د شيطان په امر بيا عراق پسې شروع شي، عراق داسې د فتنو ځاي دی...

دا منو چې عراق ته نبي عليه السلام اشارات کړي، او هغه خبره رښتينې وخته، هلته خوارج راپيدا شوي وو، خو دا وايم چې ځا د يو مکين د وجې مکان او ټول خلک يې خراب شميرل کيږي ؟

افسوس طالبه! نن د ګمراهۍ په کومو کندو کې پريوتې، چې تر اوسه دې د هغه غليظو شيعه روافضو له امله د عراق بدي نه بيانوله، چې د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم عزت باندې تور پورې کوي، د مومنانو مور عائشه رضي الله عنها په اړه وايي چې طلحه رضي الله عنه

سره يې بدکاري کړې وه، بصرې په لار کې يې په نکاح کړې وه او امام غايب چې راشي هغه به پرې حد قائموي، نعوذ بالله، ربه ته مونږ فقط پدې نقل کولو معاف کړې، دا دې وګورئ:

دا د شيعه ګانو مفسر کبير علي بن ابراهيم القمي په أم المؤمنين طاهرة مطهرة باندې بدنامه پورې کوي. ژباړه يې دا ده:

قسم په الله پدې وينا (چې هغه دواړه ښځو خيانت وکړ) نده مراد مګر بدکاره زنانه، او پدغه زنانه به حد قائموي، کله چې دا راتلله په لاره د بصرې کې، او فلانې پرې مين و، کله چې هغې ښځې د وتلو اراده يې وکړه، نو فلانې سړي ورته ووېل چې تا ته بغير د محرم نه وتل جائز ندي نو هغه ښځې هغه فلانې سړي ته ځان په نکاح ورکړو. لاندې يې ورته ليکلې چې دا طلحه رضي الله عنه مراد دی. مخکې يې انځور تير شو.

الغرض دغه غليظو روافضو له امله عراق ته يې د بدۍ نسبت نه کوو خو د اسلامې خلافت سره يې ضد تر دې کچه ورسيد چې ټول عراق يې په بده ياد کړ.

۱. د عراق خلکو کې خو هغه وخت خوارج راپيدا شول نو اوس به ټول اهل عراق خوارج وي ؟

بیا خو ستاسې وینا مطابق القاعده والا هم خوارج دي، سره د دې چې تاسې د امریکا سره تړون مخکې کلک مجاهدین بلل.

۲. آیا عراق د دغه فتنو پرته کوم خه تاریخ نه لري ؟ دا یو مسلم حقیقت دی چې عراق د علم او عرفان زانګو هم پاتې شوی، د عبد الله بن مسعود نه راواخله تر امام ابو حنیفه پورې د دغه شخصیتونو علم د عراق څخه خور شوی، امام ابو یوسف همدلته مسند د تدریس و، د امام اهل السنة احمد بن حنبل ستر خیرونه د دې ځایه خواره شوي، او نور ګڼ شمیر امامان دلته تیر شوي، د دین ستر فاتحین لکه هارون الرشید او داسې نورو خلفاؤ په اړه ستاسې څه فکر دی ؟

۱۴ جلده تاریخ بغداد وګورئ، چې فقط د عراق په یو ښار لیکل شوی، نو تاسې ته به معلومه شي چې څومره امامانو د عراق څخه دین زده کړی.

آیا دا ټول خوارج وو ؟ د طالبانو منطق خو دا وایي چې هغوی هم خه خلک نه وو، ځکه د اسلامي خلافت خلاف دا یې لوي دلیل ګرځولې چې عراق کې خوارج پیدا شوي وو نو دوی هم خه خلک نشو. عجیب خلک دي!!

دې نني باطل پرستو طالبانو ورونه پرون هم موجود وو چې د عراق خه خلکو ته يې هم د خوارجو نسبت کاوه، لکه امام احمد بن حنبل پشان انسان ته يې هم دا نسبت کړی.

آيا اوس يو کس دا ووايي چې پاکستان ای ايس ای زياته مضره حشره ده، نو پاکستان په ځمکه اوسيدونکي خلک هم ټول فساديان دي، د طالبانو مشران هلته اوسيږي نو هغوی هم ستر مفسدين دي، ته به ورته څه جواب لری ؟ فما جوابکم فهو جوابنا.

٣. دا ښنگه خبره ده، چې د خلافت مجاهدين همدغه عراق کې وو، شيخ اسامه يې صفت کوو، ايمن الظواهري يې صفت کوو، حتی طالبانو خپلو ترانو کې د عراق زرقاويانو ته سلامونه ډالی کول، سم صحيح مجاهدين وو، همدا منهج وو، ځکه د دولت اسلامي بنياد خو شيخ زرقاوي ايښي و، د دغه منهج او عقيدې توثيق او تاييد شيخ اسامه هم کړی و، خو کله يی چې د خلافت قيام وکړ، او ستاسو بازارونه ساړه شو، خلافت جهاد ته ادامه ورکړه او تاسو د کفارو غلامۍ ته ادامه ورکړه نو دوی خوارج شو ؟؟

بيا دی پرون پورې د شيخ زرقاوي، ابو عمر البغدادي او ابو حمزه المهاجر صفتونه ولی کول ؟

۴. که همدغه معیار شي، بیا دی مکې په اړه څه سوچ دی ؟

اوس ستاسو د اهل التشییع ورونو څخه یو کس شروع شي او د مکې او مدینې بدي بیانول شروع کړي، چې مکه کې ابو جهل پیدا شوی، مکه کې ابو لهب و، عقبه بن أبي معیط، عتبه، شیبه، ولید بن عتبه هم تیر شوي، طائف کې نبي علیه السلام په کاڼو ویشتل شوې و، خپو مبارکو نه یې وینې روانې وی، او داسې نور ډیر څه وواییي آخر کې پرې نتیجه دا مرتبه کړي چې دلته عمر رضي الله عنه پیدا و، نعوذ بالله نو ځکه هغه هم څه سړی نه و.

حتی طالبان دومره ظلم کوی، چې د حسین رضي الله عنه قتل هم عراق پسې حسابوي او دې نه هم د خلافت په بطلان استدلال کوي، ظالمانو هغه وخت حکومت د چا و، د یزید نه و، یزید چیرته و، شام کې و، نو ته به اوس د شام بدي بیانوی ؟ د شام په اړه خو نصوص موجود دي، که اصل ځاي د یزید مرادوی، نو مکه ده، بدي ورله بیانولې شی ؟ اگر که عبید الله بن زیاد وژلې و.

د عبد الله بن زبیر رضي الله عنه شهادت او د کعبې ړنگیدل هم د عراق په تله کې اچوي، نو حجاج د کوم ځای و، د طائف و، او د چا په امر یې

دا هر څه کړي و، د عبد الملک بن مروان په امر، هغه اوسیدو شام کې او اصل نه د مکې و.

نو آیا مکین د بدبختۍ د وجې مکان ته غلط نسبت کول او یا هم د یو عصر مفسدینو خلکو له امله د دغه مکان ټولو خلکو ته بد نسبت کول جائز وي، نو بیا خو اول امام ابو حنیفه، امام ابو یوسف او امام احمد بن حنبل پسې بد رد ووایه، نعوذ بالله من ذلک.

دا صغری کبری چې فلاني وخت کې عراق کې دغه فتنه پیدا شوې وه او اوس خلافت راغې نو ځکه دا خلافت هم فتنه شوه، دا کوم عقل او انصاف دی؟

نو بس دغه وخت کې ورسره بیا جواب نه وي، او د دې مصداق شي، فبهت الذي أنكر كانما ألقي في فمه الحجر.

که طالبانو همدا فلسفه کاروله او امام مهدي راغې نو تاسې یاد ساتئ چې هغه ته به هم خارجي وایي.

نو دغه ربطونه نني طالبان هم بیانوي، چې څو پیړۍ مخکې عراق کې خوارج پیدا شوي وو، نن اسلامي خلافت عراق او شام کې قایم شوی لهذا دا به هم خوارج وي !!

نو مسلمانانو ورونو!

تاسې ته به د دې بحث څخه څرګنده شوي وي چې دا د خوارجو شبهه فقط د مسلمانانو متنفره کولو لپاره د کفارو یو تبلیغاتي او فکري جګړه ده، چې د کابل اداره هم وايي چې اسلامي خلافت مجاهدین خوارج دي، د پاکستان استخبارات هم وايي، طالبان یې هم زمزمه کوي، د نړۍ ټول کفار همدا یوه خبره بدرګه کوي نو معلومه شوه چې دا د ټولو مشترک پلان دی، او دا پخوا راهیسې د باطل پرستو طریقه ده چې اهل حقو ته د خوارجو نسبتونه کوي:

محمد بن عبد الوهاب رحمه الله ته هم خارجي ویل شوي، د اهل سنت امام أحمد بن حنبل ته هم خلکو خارجي ویلي، [السنة لأبي بکر الخلال ج 5/صـ 137] بلکې هر حق پرسته عالم ته خپل وخت کې خارجي ویل شوي، وګوره [الاعتصام للشاطبي ج 1 / صـ 28]، خو دا ټول اهل السنت والجماعت وو ؟

او داسې نور ډېر آثار د سلفو باره کې شته. الحمد لله خوشحاله پدې یو چې پدې مزل کې یواځې نه یو بلکې د اسلامي امت هغه امامان چې مسلمانانو یې په غوره والي اجماع کړی، داسې خلک هم د دې قافلې لارویان دي.

په عراق او شام کې مسلمانانو سره شیعه ګانو کوم کوم ظلمونه وکړل، والله چې انسان یې بیانولای نه شي، پوره ، پوره کلي یې د خاورو لاندې کړل، داسې څوک به په علاقه کې ژوندي نه و پاتې چې خپل شهیدان خښ کړي، په رڼا ورځ به یې د خاوند څخه عفت منده زنانه په زور اخستله، د دفاع په صورت به یې خاوند شهید کړو او زنانه به یې بوتله، په زندانونو کې د زنانه وو داسې بې عزتیانې وشوی چې والله قلم یې د لیکلو څخه عاجز دی، د جنسي تیري پرته نورې داسې فاحشې سزاګانې ورکوي، چې زنانه مکمل د ژوند څخه وباسي، د بشار په زندانونو کې عوام مسلمانان دومره وږي وي، چې حرام شیان لکه پیشو وغیره دا چې ورشي پدې یې جنګ وي، یو وایي دا زما ده، زه به یې خورم، بل وایي زه به یې خورم، کلونه ، کلونه بربنډ وي، د تن جامې هم ورته نه ورکوي، میندې په کلونو کلونو د بچو د حال احوال په ارمان وي، د خپلو بچو شهادت د بند مقابله کې زیات خوښ ګڼي، د ابو بکر، عمر، عثمان، معاویه، عائشه په نومونو ماشومانو څخه یې لاسونه او خپې پرې کړل، د مسلمانانو څخه یې په زور ږیرې وخریلې، د اسلامیت او انسانیت په نوم کوم څیز یې نه پیژنداه، نو چې دغه مجاهدینو د دې مظلومو، کړیدلو مسلمانانو دفاع شروع کړه، د نړۍ هر ګوټ نه یې د دغه عفت میندو خویندو وا معتصماه چیغو ته لبیک ووایه، د لر او بر نه مجاهدین راوچلیدل، او دلته یې خپلې

وینې ورکړی، هغه د سهولتونو څخه ډکې زندګۍ ، هغه د اروپا ظاهري خوندونه، د امریکا، روس او چین دنیاوي نعمتونه یې پرېښودل، د میندو یواځیني زامنو د خپلو نرم او ښایسته بدنونو واسکټونه تاو کړل، استشهادیانې یې وکړی، او پدې لار کې یې نه هیریدونکي قربانۍ ورکړی، د دغه مجاهدینو قربانیو نتیجه او ثمره الله عزوجل د خلافت په صورت کې مسلمانانو ته ورکړه، بس نو بیا دې تنظیمي رقیبانو خولې وازې پاتې شوی، ظواهري یې هم مخ بدل کړ، جولاني نیم بیت المال باندې په غدر سره خیټه واچوله، او اول یې ځان د ظواهري لښکري وباله، چې هغه هم ورته خوند ورنکړ نو خپل ګوند یې اعلان کړ، او "ځان ته قومندان یم" په اصل یې عمل وکړ، دغه رنګ نورو تنظیمونو ورسره د کفارو په اشاره او مرسته جنګ شروع کړو، او په دوی یې د خوارجو تهمتونه ولګول، ځکه د بل الزام لپاره یې څه نه موندل، نه یې هم د اسلامي دولت کفارو سره کوم موالات ثابتولای شو، او نه یې هم کومو مرتدینو سره د دغه مجاهدینو تړون ښکاره کولای شو، سره د دې چې د دې تنظیمیانو په غاړو کې د ډیرو کفري او مرتدو حکومتونو د غلامۍ غړوندي پراته وو، نو د اسلامي خلافت د دیانت، تقوی او د اخلاص څخه ډکو مسلمانانو باندې یې دغه تور داغ لګولو ناکام کوشش شروع کړ! نحسبهم کذلک والله حسیبهم.

پکار خو دا وه چې ټولو یې ملاتړ اعلان کړی وای، ټول یو موټې، یو جسد او یو لاس شوي وای، او د کفارو خلاف جنګیدلي وای، خو متأسفانه چې هر یو د واک او چوکۍ په تمه پدغه مظلومو مجاهدینو جګړه شروع کړه. تر دې چې واړه واړه تنظیمونه هم یو بل ته تن نه ږدي، او هر یو یې دا سوچ کوی چې زه اسلامي نظام قائموم، خو که د بل مسلمان د لاس نه خلافت قائم شو، هغه نه منم، والله المستعان.

خپل زور د اسلامي دولت په مقابله کې استعمالوي، او اسلامي دولت دې ته نه پرېږدي، چې د الله د دښمنانو، اصلي کافرو او مرتدینو نظامونه ورنګوي، همدا د اسلام په نوم خاماران د کفارو او مرتدینو اول خط ګرځیدلي، د هغوی دفاعي کمربند یې له ځان څخه جوړ کړی، د مجاهدینو جګړې ته لمن وهي، مجبورا به ورسره جنګ کوی، اقدام به هم هغه وکړي، او بیا به چیغې هم وهي چې اسلامي دولت په مونږ جنګ شروع کړو !!

لهذا مسلمانانو ورونو! دا شبهه د مشرۍ رقابت پرته نور هیڅ هم نده، تاسې دې پرې څوک دوکه نه کړي، لله الحمد، د اسلامي خلافت مجاهدین د دې ټولو صفاتو څخه بري دي، والله کچیرې بل صف داسې

د مبارک او سپیڅلي منهج والا پیدا کړئ. نو د دې ملاتړي جوړ شئ، نه خلاف کونکي.

دويمه شبهه: د اسلامي خلافت په اړه وړاندې کيدونکي د يو اثر وضاحت:

يو حديث چې د بعضې باطل پرستو لخوا وړاندې کيږي، اسلامي خلافت د بطلان په اړه يې شرعي دريځ (حقيقت کې شري دريځ) په نوم ۱۱۱ صفحې توري کړي، او خپل زعم مطابق يې ۲۳ وجوهات بيان کړي، خو ۱۴ وجوهاتو کې يې دا يوه خبره تکرار کړې چې د امير المؤمنين ابو بکر بغدادي تقبله الله خلافت د اهل الحل والعقد په مشوره ندى، ۴ وجوهاتو کې يې دا خبره زمزمه کړې چې سلطه يې کمه ده، ۲ وجوهاتو کې يې دا ويلي چې خليفه صيب د خلکو ساتنه نشي کولای، او ۳ وجوهاتو کې دا وايي چې صرف قريشيت نه کافي کيږی، منهج کې غلو ده او که دا خلافت شي نو بيا خو مونږ ټول باغيان ګرځو. چې دا حقيقت کې ۳+۲+۴+۱۴ = ٦ وجوهات شول او هغه هم ټول کمزوري وختل.

چې د دغه څوارلس شبهاتو همدا يو جواب مونږ مخکې وکړو چې امام نووي، شيخ الاسلام ابن تيميه او د مورخ ابن خلدون څخه مو دا نقل

کړي و، چې د هغه اهل الحل والعقد اجتماع ضروري ده چې فائده پرې مرتب کيږي، د علي رضي الله عنه بيعت څخه د مدينې او بهر اکثره صحابه وو وروستوالې وکړو، خو خلافت يې په اتفاق د امت سره صحيح و، کومو صحابه وو چې ورسره خلاف وکړ، هغه يې ديوې مطالبې په عوض وکړ، او بيا منافقانو او روافضو جنگ جوړ کړ. د سلطې خبره مو هم ذکر کړه چې دا د خليفه په شرايطو کې نشته، نبي عليه السلام سره په اسلامي دولت باندې ابتداءا ۷۰ انصارو صحابه وو بيعت کړی وه، او مدينې پشان وړه ساحه يې درلوده، د ابو بکر صديق، علي او عبد الله بن زبير رضي الله عنهم سلطې هم ابتداء بيخې کمې وی، خو هغوی سره مسلمانانو نارينتوب وکړو او مونږ سره دغه تنظيمونو والا د خپلو مفادو په خاطر ستره جفاء وکړه، هر چې د ساتنې خبره ده نو د خپل رعيت يې داسې ساتنه وکړه چې نړۍ ورته حيرانه ده، او دا نور وجوهاتو په اړه هم مونږ دا وضاحت وکړو چې فقط قريشيت مونږ نه وايو بلکې خليفه صيب کې ټول شرطونه پوره وو، غلو زمونږ منهج کې نشته، تاسې وگورئ، کومه خبره پکې ده ؟ نو دا هم هسې بهتان دی، او د بغاوت خبره چې کوي، نو يو څوک به دا اووايي چې د گيرې پرېښودو حکم اسلام کې نشته څکه که دغه حکم مونږ ومنو بيا خو زه گناهگار حسابيږم، دې ته به دغه خلک څه جواب لري، هماغه ورته زمونږ جواب

دی، چې د خلافت حقانیت ثابت شو نو باید تاسې یې ومنئ، ولی خلاف کوئ ؟

نو دغه رساله کې یې دا روایت راوړی، او کوشش یې کړی چې د اسلامي خلافت مجاهدینو باندې یې تطبیق کړي.

وایي چې د دې سند کې ولید بن مسلم په نوم راوي، د کتب سته راوي دی، خو تدلیس ترې کیږي، بل راوي ابن لهیعه دی، دا هم ثقه دی، بل ابو قبیل دی، رښتینې دی خو وهم پرې راځي او بل ابو رومان دی، په دې باندې مونږ کلام پیدا نه کړو.

حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، وَرِشْدِينُ، عَنِ ابْنِ لَهِيعَةَ، عَنْ أَبِي قَبِيلٍ، عَنْ أَبِي رُومَانَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: «إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّايَاتِ السُّودَ فَالْزَمُوا الْأَرْضَ فَلَا تُحَرِّكُوا أَيْدِيَكُمْ، وَلَا أَرْجُلَكُمْ، ثُمَّ يَظْهَرُ قَوْمٌ ضُعَفَاءُ لَا يُؤْبَهُ لَهُمْ، قُلُوبُهُمْ كَزُبَرِ الْحَدِيدِ، هُمْ أَصْحَابُ الدَّوْلَةِ، لَا يَفُونَ بِعَهْدٍ وَلَا مِيثَاقٍ، يَدْعُونَ إِلَى الْحَقِّ وَلَيْسُوا مِنْ أَهْلِهِ، أَسْمَاؤُهُمُ الْكُنَى، وَنِسْبَتُهُمُ الْقُرَى، وَشُعُورُهُمْ مُرْخَاةٌ كَشُعُورِ النِّسَاءِ، حَتَّى يَخْتَلِفُوا فِيمَا بَيْنَهُمْ، ثُمَّ يُؤْتِي اللَّهُ الْحَقَّ مَنْ يَشَاءُ» [الفتن لنعيم بن حماد ج ١/ ص ٢١٠]

ژباړه: علی رضی الله عنه وویل: کله چې تاسې تور بیرغونه ولیدل، نو کرار کښینئ، مه لاسونه خوځوئ او مه پښې، بیا به یو څه کمزوري خلک

راښکاره شي چې خلک به يې څه پروا نه ساتي، زړونه به يې د اوسپنې د ټوټو په څير وي، او دا به د (دولت) والا خلک وي، وعدې او لوظونه به نه پوره کوي، خلک به حق ته رابولي خو په خپله به اهل حق نه وي، نومونه به يې کنيتونه وي، نسبت به يې ښارونو ته وي او ويښته به يې د ښځو د ويښتو پشان وي، تر دې چې په خپل منځ کې به يې اختلاف راشي بيا به الله تعالى هغه چا ته حق ورکړي چې ويې غواړي.

الله أكبر! أثبت العرش ثم انقش.

اول خو دا الفاظ د حديث يا اثر د صحابي ثابت کړه نو بيا وروسته ترې استدلال وکړه.

١. د سند مختصر تحقيق:

وليد بن مسلم مو خپله ومنلو چې مدلس دی، نو د ده عنعني والا روايت به مقبول نه وي، او دلته يې عنعنه کړې.

د رشدين تعيين ندی شوی، خو د نعيم بن مسعود استاذ رشدين بن سعد دی، او دا مشهور ضعيف دی، حافظ ابن حجر او حافظ ذهبي د علماؤ څخه د ده ضعف نقل کړی.

او ابن لهیعه سره د دې چې عابد انسان و، خو حافظ ابن حجر وایي چې کتابونه یې سوځیدلي وو او حافظه یې خرابه شوې وه، اختلاط ښکار شوې و، خو بیا هم د عبد الله بن مبارک او عبد الله بن وهب روایت د نورو په پرتله سم دی او حافظ ذهبي هم وایي چې احادیث یې ضعیف دي. رشدین بن سعد او ولید بن مسلم د اختلاط نه مخکې د ابن لهیعه څخه هیڅ ندي اوریدلي.

د ابن لهیعه استاذ ابو قبیل المعافري دی، ځه دې په اړه خو حافظ ابن حجر خبره ثابته ده چې صدوق دی او وهم ورته راځي.

د ابو قبیل استاذ ابو رومان دی. د دې سړي حالات ندي معلوم، دا څوک دی ؟ ضعیف دی او که کذاب دی او که وضاع دی ؟ ځکه دغه نوم باندې د ابو قبیل کوم استاذ نشته.

او نه هم د اسماء الرجال په کتابونو کې د ده په اړه تفصیلات موندل کیږي، حتی بعضې محققینو ورته مجهول ویلي، او دغه معترضینو لیکلي چې مونږ په ده باندې کوم کلام پیدا نکړو.

که کلام نه مراد جرحه وي، نو سبحان الله! تعدیل یې چیرته دی ؟

د راوي حالات خو معلوم کړه، بیا په حدیث حکم ولګوه، چې د دې حدیث درجه کومه ده، بیا ترې استدلال وکړه.

امام مسلم په مقدمه د صحیح مسلم کې نقل کړي:

عن عَبْد اللهِ بْنَ الْمُبَارَكِ، يَقُولُ: «الْإِسْنَادُ مِنَ الدِّينِ، وَلَوْلَا الْإِسْنَادُ لَقَالَ مَنْ شَاءَ مَا شَاءَ».

ژباړه: مشهور امام عبد الله بن مبارک رحمه الله وايي: سند بيانول د دين څخه دي، کچیرې سند بیانول نه وی د چا چې څه خوښه وی هغه به يې ويل.

کچیرې دغه معترضينو د دغه ابو رومان په اړه د حافظ ابن حجر اتحاف المهرة ج ١١/ ص ٦٨٠ کتلې وی نو هغه یو بل روایت کې همدا سند ذکر کړی، داسې وايي:

أَبُو رُومَانَ، عَنْ عَلِيٍّ...

أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُؤَمَّلِ، ثنا الْفَضْلُ بْنُ مُحَمَّدٍ الشَّعْرَانِيُّ، ثنا نُعَيْمُ بْنُ حَمَّادٍ، ثنا الْوَلِيدُ، وَرِشْدِينُ، قَالا: ثنا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ أَبِي قَبِيلٍ، عَنْهُ، بِهِ.

قُلْتُ: لَمْ يُتَكَلَّمْ عَلَيْهِ، وَهُوَ ضَعِيفٌ.

په هغه باندې کلام نه دی شوی، او هغه ضعيف دی.

نو د سند حاصل دا شو:

۱. ولید بن مسلم مدلس دی، اګر که دې بل ځاي کې يې د سماع تصریح شته، خو دې حدیث کې د سماع تصریح نشته.

۲. رشدین بن سعد ضعیف.

۳. عبد الله بن لهیعه، د اختلاط ښکار شوې و. او د ولید او رشدین دواړو د ابن لهیعه څخه د اختلاط نه وروسته هم احادیث اوریدلي دي.

۴. ابو قیبل ربښتینې دی خو وهم ورته راځي.

۵. ابو رومان ضعیف دی.

تاسې اوس پدې سند پریکړه وکړئ، چې د یو ضعیف نه بل ربښتینې خو وهمي خبره نقل کوي، هغه نه داسې راوي نقل کوي چې حافظه یې خرابه شوې او د دغه حافظې د خرابوالې وروسته ترې یو ضعیف کس او بل مدلس راوي د صحابي قول واوري آیا دا به صحیح وګرځي؟

کلا وحاشا، هیڅکله هم نه، داسې روایت په علم الحدیث کې بالاتفاق مردود دی، دغه معترضینو ته پکار وه چې د علمي امانت خیال یې ساتلې وی، او دا حقیقتونه یې څرګند کړی وی چې دا اثر سخت کمزوری دی او که د تحقیق په اصولو، قواعدو او ضوابطو نه پوهیدای نو

دا روايت به يې پخپل کتاب کې نه ذکر کاوه، خو صد افسوس چې خلک د انصاف څخه کار نه اخلي.

که يوه جودانه عيب وينې په بل کې

هغه يو جودانه عيب به يې لوي غر کړي

که دې خپله ګناه لويه لکه غر وي

په حيله حيله به غر د مچ وزر کړي

که څوک تله د انصاف په لاس کې درکړي

خپل ټټو او د بل اس به برابر کړي

د دې سره ، سره دلته دا دې چې دا به بې حيثيته خلک وي، او خلافت مشرانو خو نړيوال قبوليت درلود، او هميشه يې په خپل عهد وفا کړی، حتى الوسع د حق څخه تجاوز نه کوي، ويښته يې د نبي عليه السلام د سنت طريقې مطابق دي، مخلصه مجاهدين تر اوسه د يو خليفه أبو ابراهيم الهاشمي حفظه الله په اطاعت کې سره راټول دي، او د احزابو ائتلاف څخه وروسته اوس نو د مکې د فتحې په سترو تياريو بوخت دي. والحمد لله على ذلك.

۲. د دې اثر شان ورود:

لړ د دې اثر شان ورود وګورئ، خبره بیخي واضحه ده، د بنو امیه او بنو عباس ترمنځ اختلافاتو نتیجه کې د یو بل خلاف به یې د درواغو حدیثونه او آثار وضع کول، چې هسې یو سند به یې ورله راجوړ کړو او د دې اثر د سند حال تاسې مخکې وکتلو، اوس به وګورو چې دا روایت امام نعیم بن حماد په کتاب الفتن کې کوم باب کې ذکر کړی ؟

امام نعیم دا اثر د دې عنوان د لاندې ذکر کړی: فِي خُرُوجِ بَنِي الْعَبَّاسِ.

د بنو العباس په اړه یې دا روایت ذکر کړی، او دا خلک یې په مونږ تطبیقوي، انا لله ...

او صرف دا اثر ندی بلکې زیات شمیر آثار یې نقل کړي، چې د بنو عباس په اړه وو. د دغه کتاب یو بل اثر ته راځو چې مونږ تاسې ته دا خبره روښانه کړي، چې دغه تور بیرغونو، دغه تور کالیو، دغه اوږدو څڼو، دغه د دولت والا بې رحمه خلک څوک یادوي، تاسې ته به خبره خه واضحه شي، چې دا د چا لخوا جوړ شوي آثار او اقوال دي:

حَدَّثَنَا سَعِيدُ أَبُو عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا جَابِرٌ الْجُعْفِيُّ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ، قَالَ: «إِذَا بَلَغَتْ سَنَةُ تِسْعٍ وَعِشْرِينَ وَمِائَةٍ، وَاخْتَلَفَتْ سُيُوفُ بَنِي أُمَيَّةَ، وَوَثَبَ حِمَارُ الْجَزِيرَةِ فَغَلَبَ عَلَى الشَّامِ، ظَهَرَتِ الرَّايَاتُ السُّودُ فِي سَنَةِ تِسْعٍ وَعِشْرِينَ وَمِائَةٍ، وَيَظْهَرُ الْأَكْبَشُ مَعَ قَوْمٍ لَا يُؤْبَهُ لَهُمْ، قُلُوبُهُمْ كَزُبَرِ الْحَدِيدِ، شُعُورُهُمْ

إِلَى الْمَنَاكِبِ، لَيْسَتْ لَهُمْ رَأْفَةٌ وَلَا رَحْمَةٌ عَلَى عَدُوِّهِمْ، أَسْمَاؤُهُمُ الْكُنَى، وَقَبَائِلُهُمُ الْقُرَى، عَلَيْهِمْ ثِيَابٌ كَلَوْنِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ، يَقُودُ بِهِمْ إِلَى آلِ الْعَبَّاسِ وَهْنَى دَوْلَتُهُمْ، فَيَقْتُلُونَ أَعْلَامَ ذَلِكَ الزَّمَانِ حَتَّى يَهْرُبُوا مِنْهُمْ إِلَى الْبَرِيَّةِ، فَلَا تَزَالُ دَوْلَتُهُمْ حَتَّى يَظْهَرَ النَّجْمُ ذُو الذَّنَابِ، وَيَخْتَلِفُونَ فِيمَا بَيْنَهُمْ». [الفتن لنعيم بن حماد]

ژباړه: کله چې ۱۲۹ کال راورسیږي، او د بنو امیه تورې سره مخالف شي، او د جزیرې خر حمله وکړي نو په شام به غالبه شي، تور بیرغونه به په ۱۲۹ کال کې راښکاره شي، او یو حیوان صفته انسان به داسې کمزوري خلکو سره راښکاره شي چې عام خلک به یې څه پروا نه ساتي، زړونه به یې د اوسپنې د ټوټو په څیر وي، ویښته به یې د اوږو پورې وي، په دښمن به هیڅ شفقت او رحم نه لري، نومونه به یې کنیتونه وي، قبیلې به یې کلو ته منسوب وي، په هغوی به د تیارې شپې په څیر تورې جامې وي، هغه به خلک د عباسیانو په حمایت کې راولي، او دا به د عباسیانو دولت وي، د زمانې پوهه خلک به وژني، تر دې چې هغوی به دښتې ته وتښتي، بیا به د هغوی دولت وي تر دې چې د لکۍ والا ستورې راښکاره شي او هغوی به خپلو کې سره اختلاف کوي.

اوس وګورئ، چې دا خبرې د بنو امیه او د بنو عباس ترمنځ په اختلاف بناء وی، نو اوس په خلافت یې تطبیق لوي ظلم ندی ؟

اې مسلمانانو! وس تاسې ووایاست، آیا دغه کتابچه " شرعي دریځ " دی او که نه فتنه او شر پیدا کولو له امله " شري دریځ " دی ؟

نور هم د بطلان زیات وجوهات دي خو اختصارا یې پرېږدو.

د وینځو شبهه : طالبان وایي اسلامي خلافت د مخالفینو ښځې وینځې کړي.

طالبان وایي: په عراق کې دواعشو د خپلو مخالفینو ښځې وینځې وګرځولې او په سوق النحاس کې یې خرڅې کړې.

مونږ وایو د اسلامي دولت مجاهدینو خو د پیړیو وروسته دا قانون راژوندي کړو نو طالبانو ته سخته کینه ورځې او د مجاهدینو هر څه ته په کږه سترګه ګوري او کوشش کوي یو تور پورې کړي، څکه خلکو حقیقي اسلامي نظام وپیژانده ، او د طالبانو څیره هم ورته په ډاګه شوه، او په خلکو ډیر سپک شول، دغه رنګ مخکې مونږ وویل چې د برتانیې څخه راستول شویو خلکو د خولې پروپاګنډ ته طالبان خه تکړه دي.



ابوقتادة الفلسطيني

كتابونه

دشمني لري بلکې موږ د دوی سره ځکه دشمني لرو چې دوی د الله له دوستانو مجاهدينو سره دشمني لري. دوی مجاهدين کافران بولي، هغوی وژني، هغوی ذبح کوي، هغوی ګواښي، د مجاهدينو ښځې هغوی وينځې جوړوي چې دا خبره اوس په يقين بدله شوي ده او له دې نه صرف جاهلان ناخبره دي.

طالبان د عمر محمود عثمان يعني ابو قتاده فلسطيني قول نقل کوي، چې نوموړې د برطانيې انګريزانو اردن ته وليږو، او اردن حکومت لږ موده بند کې وساتو او بري يې اعلان کړو، او اوس لګيا دی شر او اختلاف ته يې کار ويلی، نو طالبان د هغه قول تاييدا نقل کوي، چې اسلامي خلافت د "مجاهدينو" ښځې وينځې کوي !!

الله أکبر! اوس خبره تر دې حده ورسيده چې د اسلامي خلافت دښمنی له امله ايزيديين کفار يې هم مجاهدين وبلل!!

خو اې طالبانو:

١. دا راته ووایاست چې د اصلي کفارو ښځو وینځې کیدل په اسلام کې شته او که نه ؟

٢. اسلامي خلافت د کوم مسلمان ښځه وینځه گرځولې ؟

٣. بله پوښتنه زمونږ دا ده چې دغه یزدیون د کومې جبهې مجاهدین ول ؟

دا ځومره لوي علمي خیانت او غدر دی، چې طالبانو لیکلي دي د خپلو مخالفینو، اوس دا یو مبهم لفظ دی، غواړي پدې سره عام مسلمانان خطا باسي، د هغوی په ذهن کې دا خبره واچوي چې اسلامي خلافت د مسلمانانو ښځې وینځې وگرځولې، نعوذ بالله. خو د "مخالفین" لفظ دوه احتمالات لري، دا مخالفین به یا کافر وي یا مسلمان، که مراد کافر وي نو بالاتفاق روا دي، او که مراد مسلمان وي، نو دلیل او ثبوت وړاندې کړئ ؟

٣. سره د دې چې اسلامي خلافت د مرتدینو ښځې هم نه وینځې کوي، حتی روافضو په څیر غلیظو مرتدینو ښځې یې هم وینځې نه کړی. ځکه د مرتد ښځه به یا مسلمانه وي یا مرتده، که مسلمانه وه خو وینه، مال او عزت یې خوندي دی او که مرتده وه نو د جمهورو علماؤ دا قول دی چې مرتده ښځه به هم وژل کیږي، وینځه نه گرځي.

امام نووي وايي:

"قال الجمهور والمرأة كالرجل في أنها تقتل إذا لم تتب ولا يجوز استرقاقها هذا مذهب الشافعي ومالك والجماهير وقال أبو حنيفة وطائفة تسجن المرأة ولا تقتل وعن الحسن وقتادة أنها تسترق." [المنهاج شرح صحيح مسلم ابن الحجاج ج 12 صـ 209]

ژباړه: او جمهور علماء وايي چې مرتده ښځه چې کله توبه ونه باسي نو دا هم د سړي په شان وژل کيږی او دا وينځه کول جائز نه دي. دا د امام شافعي، مالک او د جمهورو مذهب دی. او امام ابو حنيفه او د علماؤ يوه ډله وايي دا به جيل ته اچولی شي او دا به نشي وژل کيداې . او امام حسن او قتاده وايې چې دا به وينځه کولی شي.

۴. اسلامي خلافت د يزيديون يا ايزديون ښځې وينځې ګرځولي، آيا هغوی مسلمانان دي ؟

خو طالبان د خيانت له امله دا حقيقت نه ذکر کوي.

۵. طالبان په کومه خوله دا خبره کوي، د طالبانو تحريک په ابتداء کې دوی په کندهار کې د کميونستانو ښځې وينځې کړی وی، چې هغوی مرتد وو. او بيا طالبانو د کميونستانو په نوم د عامو مسلمانانو عزتونه

واخستل، تر دې چې د آي أيس آي خبيثو افسرانو ځان سره اسلام آباد (برباد) ته هم بوتللې، بيا هماغه وه چې خلک پاڅون ته اړ شو، طالبانو د پاڅون له ويرې مجبورا دا کار بند کړ.

نو نن طالبان شرميږي نه، چې په مونږ دا تور لګوي چې د مسلمانانو عزتونه يې واخستل، سره د دې چې خپلې لمنې يې پدې ناولتوب ککړې دي ؟؟

بله شبهه : طالبان وايي چې تاسې د افغان حکومت خلک ياست او د هغوی په ميلمستونونو کې اوسيږئ.

جواب : د دې خبرې اصل علت دا دی چې نن سبا اسلامي خلافت د طالبانو او افغان حکومت د سترګو خار دی، ځکه افغان حکومت غواړي هر بريد په طالبانو واړوي او طالبان غواړي چې هر څه په افغان حکومت ورووتپي.

منځ کې چې خلافت خپل آواز راپورته کړي نو ډير سخت پرې تماميږي، ځکه افغان حکومت غواړي چې خپل باداران انګريزان دلته ايسار کړي، او طالبانو سره يې بې اعتباره کړي.

او طالبانو خو د بريدونو ضمانت امريكا ته کړی دی، هغوی پرې دا شرط لګولې چې د متحده ایالتونو امنیت به ساتئ.

تړون کې دا خبره هم وه : طالبان به خپل هيڅ غړي او د القاعدې په شمول هيڅ ډلې او يا فرد ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان له خاورې څخه د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدينو امنيت ته ګواښ پېښ کړي.

دغه ضمانت یې کړی او اوس خپل کافر باداران د اسلامي دولت د زمرو له بريدونو ساتلې نشي، همدغه رنګه د سولې بحث کې ذکر شو چې امريکا پرې يو دا شرط لګولې و، چې خلافت اسلامي به افغانستان کې ختموئ، نو چې د خلافت غړ اوچتيږي د طالبانو په مرۍ د ټوپک ډز مثال لري.

نو مونږ طالبانو ته وايو :

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله عزوجل د مشرک اسلام راوړلو وروسته د هغه عمل نه قبلوي تر دې چې مشرکانو څخه جدا او مسلمانانو ته ورشي.

دلته نبي علیه السلام د مشرک انسان اسلام قبلولو وروسته د عمل قبلیدو لپاره شرط د مشرکانو څخه جدايي وښود، معنا که څوک نه جدا کیږي، د هغه عمل نه قبلیږي، لهذا کوم تنظیمونو چې طالبانو سره بیعتونه کړي، د هغوی عمل نه قبلیږي.

۳. دریم حدیث:

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَنَا بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ يُقِيمُ بَيْنَ أَظْهُرِ المُشْرِكِينَ». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَلِمَ؟ قَالَ: «لَا تَرَاءَى نَارَاهُمَا». [رَواهُ التِّرمِذيُ (4: 1604: 132 - 133) وأبو داود (3: 2645: 46) وإسنادُهُ حسن]

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه د هر هغه مسلمان څخه بيزاره يم چې د مشركانو په منځ كې اوسيږي، چا ورته وويل ولى اې د الله رسوله ؟ هغه وفرمايل: اورونه به يې يو بل نه ويني.

دلته فقط د مشركانو منځ كې اوسيدو په اړه نبي عليه السلام د بيزارۍ اعلان كړى نو څوک چې د طالب مشركانو همكار او ملگرى وي هغه څخه خو خامخا نبي عليه السلام د براءت اعلان كړى.

۴. څلورم حديث:

قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ، جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلي الله عليه وسلم ، فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ ، كَيْفَ تَقُولُ فِي رَجُلٍ أَحَبَّ قَوْمًا وَلَمْ يَلْحَقْ بِهِمْ ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ : " الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ ". متفق عليه

ژباړه: عبد اللّه بن مسعود وايي: يو كس نبي عليه السلام ته راغى، نو هغه وويل: اى د الله رسوله، ته د هغه كس په اړه څه وايى چې يو قوم سره مينه لري خو تر اوسه ورسره يوځاى شوى ندى ؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل: سړى د هغه چا سره حسابيږي چې مينه ورسره لري.

طالبانو سره فقط مينه لرونكي حكم هم د هغوى په څير دى.

۵. پنځم حديث:

عَنِ الْعُرْسِ ابْنِ عَمِيرَةَ الْكِنْدِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " إِذَا عُمِلَتِ الْخَطِيئَةُ فِي الْأَرْضِ، كَانَ مَنْ شَهِدَهَا فَكَرِهَهَا - وَقَالَ مَرَّةً: «أَنْكَرَهَا» كَانَ كَمَنْ غَابَ عَنْهَا، وَمَنْ غَابَ عَنْهَا فَرَضِيَهَا، كَانَ كَمَنْ شَهِدَهَا". ابو داود وإسناده حسن.

ژباړه: کله چې په ځمکه کې گناه وشي، څوک چې ورته حاضر شي او بد يې وګڼي، دا داسې ده لکه دا چې ترې غايب وي، او څوک چې موجود نه وي خو پدې راضي وي، نو دا داسې ده چې دا ورته حاضر شوې وي.

وګورئ، کوم تنظيمونه يا افراد چې د طالبانو جناياتو کې حاضر هم نه وي خو پرې رضا وي، دوی ورسره پوره شريک دي، د نبوي ارشاداتو مطابق حکم د ټولو يو دی.

او نور زيات نصوص دي، چې دا خبره ترې څرګنديږي چې طالبان او ورسره بيعت کونکي تنظيمونو او افرادو ټولو يو حکم دی.

فرد او رئيس يو حکم لري:

د شريعت دا اصول دي چې حکم په ډله او جماعت کوي، د فرد او د دغه ډلې د مشر يو حکم وي، ځکه چې په افعالو کې سره ټول شريک دي.

◆ د فرعون په اړه الله عزوجل د مشرانو او کشرانو ټولو يو حکم او يوه سزا بيان کړی.

◆ د مانعين زکات مشرانو او کشرانو ټولو يو حکم د ارتداد په اجماع د صحابه وو سره ثابت دی.

◆ د تاتاريانو مشرانو کشرانو ټولو يو حکم علماؤ په اتفاق سره بيان کړی.

◆ د پاکستان مرتد حکومت، د کابل اداري، او د ايران ټولو مشرانو او کشرانو يو حکم دی. همدغه شان د طالبانو او ټولو کشرانو مشرانو يو حکم دی.

◆ د جمهورو علماؤ لکه امام مالک، امام احمد بن حنبل او امام ابو حنيفه په اتفاق سره د ردء او مباشر دواړو يو حکم دی، معنا يو کس دې چې بالفعل په يوه گناه کې اخته دی، بل کس دی چې خپله خو دې گناه کې ندی اخته خو د دغه گناهگار ملا مضبوطوي، مټ يې قوي کوي، د هغه پشتي ده نو دواړو يو حکم دی.

شيخ الاسلام ابن تيميه وايي:

"وَالطَّائِفَة إِذَا انْتَصَرَ بَعْضُهَا بِبَعْضٍ حَتَّى صَارُوا مُمْتَنِعِينَ فَهُمْ مُشْتَرِكُونَ فِي الثَّوَابِ وَالْعِقَابِ كَالْمُجَاهِدِينَ." [مجموع الفتاوى ج ٢٨ / ص ٣١١]

ژباړه: او هغه ډله چې بعضې افراد يې د بعضې نورو څخه كومک واخلي، تر دې چې په زور مخنيوی كونكي وگرځي نو هغوی ټول په ثواب او عذاب كې شريک دي، لكه د مجاهدينو په څير.

دا هغه شيخ الاسلام دی چې دا تنظيميان يې هم مني او په خپلو ليكنو كې پرې حوالې وركوي، خصوصا د مطلق سوله (نيتې پرته سوله) كولو كې د ده قول خامخا ذكر كوي، راشئ دا خبره ورله هم ومنئ.

◆ امام ابن القيم رحمه الله په زاد المعاد كې وايي د نبي عليه السلام د بعضې يهوديانو د معاهدې ماتولو له امله ټولو سره جنگ كړی، لكه بنو نضير، بنو قينقاع او همدغه شان د مكې خلک چې بعضو يې د بنو بكر په اسلحې سره كومک كړې وو، خو نبي عليه السلام ټولو سره جنگ وكړ.

بيا مخكې وايي شام كې نصاراو د مسلمانانو مالونه او كورونه وسوځول، بعضې نور نصاری پرې خبر شو، خو چپ پاتې شو، د مسلمانانو امير يې پرې خبر نه كړو، نو كله چې د مسلمانانو امير د فقهاؤ څخه تپوس وكړو نو مونږ ورته ووېل چې دې ټولو خپل عهد مات كړی او دا به ټول وژل كيږي.

نو د هغه تنظيمونو به څه حال وي چې ځان د طالبانو مامورين معرفي كوي او اطاعت يې هم كوي ؟

ځان ته طالب وايي خو سمه ده، طالب دی، حکم يې يو دی.

بعضې تنظيمونه دا بهانه کوي چې مونږ ظاهرا ورسره ځان تړو ؟

دا يوه غير مشروعه بهانه بعضې تنظيمونه کوي چې مونږ خو هسې ورپورې ځان تړو، نور خو زمونږ خپل نظم دی او د هغوی خپل. نو دا خبره بيخي کمزورې ده، چې د ټول عالم په مخکې ورسره رسمي بيعت وکړي، د دې نه وروسته دا عذر وړاندې کول کومه معنا نه لري. بلکې رسما په خپلو ليکنو کې هم د طالبانو تاييد، دفاع او ستاينه کوي، د اسلامي خلافت په اړه د خوارجو فتوی ورکوي، په رد کې يې کتابچې ليکي نو بيا څنګه دا دعوه کوي چې مونږ طالبانو پورې هسې ځان تړلې؟

شريعت ظاهر ته ګوري نور د زړونو معاملې رب العالمين پورې تړلې دي.

◆ الله عزوجل د نوح عليه السلام په ژبه دا خبره ذکر کوي:

وَلَا أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِي أَعْيُنُكُمْ لَنْ يُؤْتِيَهُمُ اللَّهُ خَيْرًا اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا فِي أَنْفُسِهِمْ إِنِّي إِذًا لَمِنَ الظَّالِمِينَ. [سورة هود:31]

ژباړه: او زه نه وايم د هغه کسانو په اړه چې ستاسې سترګې يې سپک ګڼي، چې هيچرې به ورنکړي الله تعالی دوی ته خير، الله خه پوهيږي

په هغه څه چې زړونو کې دي، یقینا زه به پدغه وخت کې خامخا د ظالمانو څخه یم.

دلته نوح علیه السلام په ظاهر حکم کړی او د دوی باطن یې الله تعالی ته سپارلې او دا یې ویلي که زه د ظاهر خلاف خبره وکړم نو د ظالمانو څخه به وګرځم. نو مونږ هم که د دغه تنظیمونو والا د ظاهر خلاف خبره وکړو بیا خو ظالمان ګرځو.

◆ عَنْ أَبي سَعِيد الخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنِّي لَمْ أُومَرْ أَنْ أَنْقُبَ عَنْ قُلُوبِ النَّاسِ وَلاَ أَشُقَّ بُطُونَهُمْ» متفق علیه.

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ما ته حکم ندی شوې چې زه د خلکو زړونه وګورم او نه دا چې خیټې یې وڅیرم.

◆ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ....وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ» متفق علیه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ما ته امر شوې چې خلکو سره تر هغې وجنګیږم، چې د لا اله الا الله ګواهي ورکړي....او حساب یې پر الله عزوجل دی.

دې دواړو احاديثو کې هم نبي عليه السلام په ظاهر حکم کړې او باطن يې الله عزوجل ته پرېښې.

◆ د بدر په ورځ نبي عليه السلام خپل تره عباس رضي الله عنه څخه فديه وغوښته، هغه وويل: زه خو مسلمان وم دې کفارو په زور راوستلې وم، نبي عليه السلام وفرمايل: وَأَمَّا ظَاهِرُ أَمْرِكَ، فَقَدْ كَانَ عَلَيْنَا. [مسند أحمد وسنده حسن]

په ظاهر کې ته زمونږ خلاف وى.

سبحان الله! وګورئ د نبي عليه السلام د تره باطن ته اعتبار نه ورکول کيږي، نو د ننې زمانې تنظيمونو باطن ته به څه اعتبار وي.

◆ شيخ محمد بن عبد الوهاب رحمه الله وايي:

"الوجه الثاني: أَنْ يوافقَهم في الظاهر مع مخالفته لهم في الباطن، وهو ليس في سلطانهم، وإِنَّما حمله على ذلك إِما طمعٌ في رئاسةٍ أو مالٍ أو مشحَّةٍ بوطنٍ أو عيالٍ أو خوفٍ ممَّا يحدث في المال، فإِنَّه في هذه الحال يكون مرتدًّاً ولا تنفعه كراهتُه لهم في الباطن، وهو ممن قال الله فيهم: {ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ اسْتَحَبُّوا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا عَلى الآخِرَةِ وَأَنَّ اللهَ لا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ} سورة النحل: 106، 107" [مجموعة التوحيد ص ٢٩٦]

ژباړه: دويم صورت دا چې يو شخص د مشرکينو ملگرتيا وکړي په ظاهر کې او باطن کې يې مخالف هم وي او دی د مشرکانو په تسلط او قبضه کې هم نه وي (څه د اکراه حالت نه وي) او دې کار باندې باعث صرف طمعه د مال يا د وطن د حفاظت يا د عيال او بچو د ساتلو وجه وي يا د هغې ويرې نه چې په آينده کې ترينه ويريږي نو داسې شخص په دې حالت کې مرتد وي او په باطن کې بد گڼل ورته فايده نه ورکوي او داسې کس په اړه الله تعالى فرمايي:

دا پدې وجه چې هغوی خوښ کړې دی، ژوند دنياوي او الله تعالى لارښودنه نه کوي قوم کافرانو ته.

دلته د شيخ د خبرې دا مقصد شو چې دې کسانو کفر د جهل يا د اسلام د بغض يا د باطل د محبت د وجې ونه کړو مگر باعث پرې دنيا وه، يا مال، يا وطن يا مشري، يا د بچو پالنه وغيره.

◆ همدا شان نبي عليه السلام په هره معامله کې په ظاهر پريکړه کړې، کله خلکو ته وايي چې زه پريکړه کوم خو که چا د ژبې په چالاکۍ سره پردې حق واخسته نو دا دې نه اخلي، ځکه دا د اور يوه ټکړه ده. کله د منافقانو عذرونه په ظاهر کې قبلوي، باطن يې الله ته سپاري، کله خاوند سره د گواهانو نشتوالي په وخت کې په لعان پريکړه کوي، او داسې نور.

خصوصا چې کله پدغه تنظیمونو کې خپله هم زیات شمیر ناوړه اعمال موجود وي، لکه خپل فعالیت محدودولو په شعارونو د ځان څخه د عالمي مجاهدینو وروروليي او تعلقات نفي کوي، ځان د بین الملل اصولو ته جوړوي، قومیت او عصبیت ماده پکې موجوده ده.

اقوام متحدہ کی حالیہ رپورٹ کے بارے میں
تحریک طالبان پاکستان کا اعلامیہ

گزشتہ چند روز سے میڈیا پر اقوام متحدہ کی ایک رپورٹ گردش کر رہی ہے کہ گویا گزشتہ سال اگست کے مہینے میں پاکستانی مجاہدین کے درمیان ہونے والے اتحاد کی وجہ سے تحریک طالبان پاکستان خطے کیلئے خطرہ بن رہی ہے اور مزید یہ کہ اس اتحاد کو عالمی جہادی تنظیموں یا بیرونی ہتھکنڈوں کی کاوش بھی ثابت کیا جا رہا ہے۔

ہم ان پر اولاً یہ واضح کرنا چاہتے ہیں کہ مجاہدین پاکستان کا یہ اتحاد صرف اور صرف پاکستانی مجاہدین کی مل جُل کر کوششوں کا نتیجہ ہے، اس میں نہ تو کسی دوسرے ملک نے کردار ادا کیا، نہ ہی عالمی تنظیموں کا اس سے کوئی واسطہ ہے اور نہ ہی تحریک طالبان پاکستان اپنے معاملات میں کسی کو دخل اندازی کی اجازت دیتی ہے۔

دوسری اہم بات یہ ہے کہ ہم صرف اور صرف ریاست پاکستان کے غیر عادلانہ نظام اور غیراسلامی قوانین و پالیسیوں کے مخالف ہیں اور پاکستانی فوج اور آئی ایس آئی سے ہماری جنگ اسی بناء پر ہے۔ ہم اس کے علاوہ کسی بھی بیرونی ملک کیلئے نہیں سوچ رہے بلکہ ہر ملک اور خطے میں اپنے اپنے مجاہدین برسرِپیکار ہیں۔ تحریک طالبان پاکستان کے ساتھ جڑنے والی جماعتوں کا اتحاد سے قبل بھی یہی مؤقف رہا اور اس وقت ہمارا بھی یہی مؤقف تھا تو کیونکر اتحاد کے بعد اس مؤقف کو بدلا جائے؟


ہماری تمام جنگ میں پاکستان ہی کی زمین کا استعمال ہوا ہے اور اس میں کسی بھی بیرونی ملک نے ہماری مدد کی نہ ہم اس کے محتاج ہیں بلکہ یہ سب پاکستانی بھائیوں کے خلوص بھرے مالی مدد سے ہوتا آ رہا ہے۔ ہم اس بارے میں تمام پروپیگنڈوں کی مکمل طور پر تردید کرتے ہیں۔

پچھلے عشرے سے مختلف پاکستانی اقوام خصوصا بلوچ و پشتون پر جو ظلم کیے گئے، انہیں لاپتہ کیا گیا، ان کے گھر مسمار کیے گئے، بازار لوٹے گئے، انہیں ماورائے عدالت قتل کیا گیا اور ان سے گیس، پانی و بجلی سمیت مختلف حقوق چھینے گئے، یہ سب کسی سے نہیں چُھپنا چاہئے۔ ہم اپنی قوموں کو ان کے حقوق دلانے اور ملک کے مقصدِ حصول کی جنگ لڑ رہے ہیں جو ہم اپنے مقاصد کے حصول تک لڑتے رہیں گے۔ ان شاءاللہ۔

محمد خراسانی ترجمان: تحریک طالبان پاکستان
پیر 26/جماد الثانی/1442ھـ۔۔۔8/فروری/2021ء

ټول جنګ يې د بلوچ او پښتون قوم ګاز، اوبه او برق حصول لپاره دی، نو دا به د خپلو مشرانو طالب څه مخنيوی وکړی، په هغه به څه رد وکړي، دغه رنګ دوی خپله د هند څخه د پاکستان خلاف اکمال اخستلو له امله غير مشروعي اړيکې ورسره ساتي، خه ښکاره د هند سفارتونو ته ورځي، د کابل اداري سره موالات لري، کابل اداري ځکه خپل غيږ کې پټ کړي، نو د دوی او د مشرانو طالبانو يې هيڅ فرق نشته، فقط هغه د ډيورنډ کفري کرښې څخه اخوا پاتې کيږي او ديخوا افغانستان کې جنګيږي او دوی هم ځان ته طالبان وايي، د طالب مشرانو خبري مني، دلته اوسيږي او اخوا کله نا کله د هند په خوښه او مشوره انفجارات او بريدونه کوي او خپلې شپې او ورځې تيروي.

او د کابل اداري کې د طالبانو شراکت وروسته کيدايشي دې تنظيميانو ته طالبان د يو ډز اجازت هم ورنکړي، بلکې همدا خپل فارمول به پدوی هم تطبيقوي. امريکايانو سره تړون کې طالبانو د دې خبرو ضمانت ورکړی:



هيڅ يوې ډلې ته به په افغانستان کې د فعاليت اجازت نه ورکوي او نورو ځايونو کې يې د دې صراحت شوی چې د افغانستان خاورې نه به ګاونډي هيوادونه په امن وي. څکه په قطر کې طالبان وايي:

(او إسلامي امارت تعهد کړی چې د أفغانستان خاوره به د کوم هېواد د امنيت پر ضد نه استعمالېږي، چې دا په أفغانستان کې تلپاتې سولې ته عملي زمينه برابروي.)

د سلفيانو نوم بدنامونکي بعضې خلکو هم طالبانو سره لاس يوکړ:

په پيښور کې ميشت بعضې د ای ايس ای روزل شوي او د سلفيت نوم بدنامونکي حاجيان او ملايان هم د پاکستان په امر د طالبانو ليکو ته ورننوتل او د نورو جرمونو سره، سره يې د طالب د بيعت له امله د ارتداد يو نوی پړې يې هم خپلې غاړې ته ورواچاوه.

دلته دا وضاحت اړين بولو چې دغه يو څو کسانو د خپل حيثيت جوړولو په خاطر دا ظلم هم کړی چې چيرته عالم ورته ښکاره شوی د هغه نوم يې هم اخستې چې دوی هم طالبانو سره بيعت وکړو، خو مونږ پدې باور يو چې دغه نور علماء (الله دې د هغوی ساتنه وکړي) ورسره شريک ندي، بلکې فقط همدغه يو څو خيرې دي، چې دنياوي مفادو په خاطر د کفر هر در ته منډه وهي، هغه حاجيان چې د طالبانو سقوط پرمهال

يې د عرب مجاهدينو عزتونه په امريکا خرڅ کړل، د نبي عليه السلام کليوال مهاجرين يې د څو ټکو لپاره په ای ايس ای وپلورل، او تر دې دمه ای ايس ای ته وفادار پاتې دي، نو که هغوی نن د طالبانو په در ولاړ دي، دا خو کومه نوې خبره نده، دا خو مونږ ته لا دا خبره څرګندوي چې طالبان که سم خلک وی نو دا رنګ منافقان به ورته نه راتللی: الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ نَسُوا اللَّهَ فَنَسِيَهُمْ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ هُمُ الْفَاسِقُونَ (67) وَعَدَ اللَّهُ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا هِيَ حَسْبُهُمْ وَلَعَنَهُمُ اللَّهُ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُقِيمٌ (68).

طالبانو هم د دوی زړې کړنې هيرې کړی، او دوی يې خپل افراد وبلل، دا ځکه چې طالبانو خپله دغه عرب مهاجرينو سره سترې جفاګانې کړې دي، نو د بل نه به يې څه پوښتنه وکړي ؟ هغوی خو اوس برملا د مهاجرينو څخه براءت اعلان کړو نو ځکه د دغه جواسيسو تود هرکلی کوي.

او د ځان سره يې د نورستان ملا هم مخکې کړی، چې آخر عمر يې دی، د اختلاط ښکار شوي، شپه او ورځ د پاکستان په دفاع کې لګيا دی، کله د لشکريانو په ډله ورننوځي، نو کله د طالبانو په لاس کې لاس ورکوي،

پاکستان مرتد حکومت ته وطن عزیز وایي، هغه ملا چې ځواني یې د همدغه مشرکانو سره مبارزه کې تیره کړې خو آخر عمر کې اوس د دیموکراسۍ او د طالبانو کلک حامي شو، نسئل الله العافیة. تر ننه به یې دغه طالبانو ته مشرکان ویل، د وحدت الوجود او حلول په عقیدو به یې رد کاوه، مناظرې یې ورسره کړې، وهل او ټکول یې خوړلي، کتابونه یې پدغه خلکو لیکلي، خو نن چې طالبان د دغه شرکي عقائدو سربیره د دیموکراسۍ په سیند هم ورګډ شول نو دې ملا یې حمایت اعلان کړ.

او د توحید توحید نعرې یې چې وهلې، هغه هر څه ترې پاتې شو، د لارډ میکالې نظام او د قانون شرک منلو سره ،سره یې اوس د شرک القبور، او شرک وحدت الوجود او شهود کفرونه هم ومنل. تر اوسه به همدوۍ فتوی ورکوله چې دې کسانو پسې مونځ هم نه کیږي، نن یې هغه خپل مشران وټاکل !!

خو الغرض دغه خلک چې د دومره نواقضو باوجود یې هم د طالبانو غلامي په ځان ومنله، هلته ورغلي وو، بیعت یې ورسره وکړو، نو دوۍ هم مرتد دي، او د امت اسلافو ته ځان منسوبول دوۍ ته فایده نه ورکوي، ځکه عمل یې د ابو جهل، عتبه او شیبه په څیر دی، نه د ابو بکر، عمر، حمزه، عثمان، علي او ابو عبیده رضي الله عنهم په څیر. ربه! زمونږ آخره

خاتمه په اسلام کړي. آمین. او د پاکستان ټولو موحدینو ورونو څخه هیله کوو، که هغه په هر نوم دي، چې کوم مشر ته یا کوم شیخ ته مه ګورئ، حق ته وګورئ او ملګرتیا یې وکړئ. رب به درته دنیا او آخرت کې کامیابي درکړي.

دا تنظیمونه به د قیامت په ورځ د یو بل څخه براءت کوي:

هغه تنظیمونه او افراد چې د اسلام مبین دین په نوم خپلو موخو ته ځان رسول غواړي، د ساده خلکو څخه پدې نوم مالونه هم راټولوي، کله چې پدې عقیده یې سترګې پټې شي، او رب العالمین مخې ته ورشي نو بیا به زیات ارمانونه وکړي، د خپلو تنظیمي مشرانو څخه به بیزاري اعلانوي، خو وخت به تړې تیر وي او هیڅ فایده به ورته نه ورکوي.

١. الله تعالی فرمایي:

وَبَرَزُوا لِلَّهِ جَمِيعًا فَقَالَ الضُّعَفَاءُ لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا كُنَّا لَكُمْ تَبَعًا فَهَلْ أَنْتُمْ مُغْنُونَ عَنَّا مِنْ عَذَابِ اللَّهِ مِنْ شَيْءٍ قَالُوا لَوْ هَدَانَا اللَّهُ لَهَدَيْنَاكُمْ سَوَاءٌ عَلَيْنَا أَجَزِعْنَا أَمْ صَبَرْنَا مَا لَنَا مِنْ مَحِيصٍ. [سورة ابراهيم:21]

ژباړه: او میدان کې به ښکاره شي ټول الله تعالی ته، وایي به کمزوري خلک هغه کسانو ته چې ځانونه یې لوي ګڼل، یقینا مونږ ستاسې تابع

وو، آیا تاسې زمونږ څخه د الله د عذاب کومه برخه لرې کولې شئ، هغوی ووېل: کچیرې هدایت کړې وی مونږ ته الله تعالی نو مونږ به تاسې ته سمه لار ښودلې وی، برابره ده په مونږ باندې که مونږ فریادونه کوو او که صبر کوو، نشته دې زمونږ لپاره ځای د تیښتې.

۲. بل ځاي کې راځي:

وَقالَ الَّذِينَ كَفَرُوا رَبَّنا أَرِنَا الَّذَيْنِ أَضَلاَّنا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ نَجْعَلْهُما تَحْتَ أَقْدامِنا لِيَكُونا مِنَ الْأَسْفَلِينَ. [سورة فصلت:29]

ژباړه: او وايي به کافران اې زمونږ ربه وښایه مونږ ته هغه دوه کسان چې مونږ يې بې لارې کړي وو، د پیریانو او انسانو نه، مونږ یې وګرځوو لاندې د قدمونو خپلو، دې لپاره چې ذلیله شي.

الله أکبر!

اې د طالب په صف کې ودریدونکیه غولیدلیه!

د قیامت په ورځ به بیا دا غوښتنه کوئ چې ربه مونږ ته دا مشران په لاس راکړې چې مونږ پرې د پاسه وګرځوو، نو نن ولې د هغه لپاره د زنده باد او مرده باد چیغې وهی ؟

۳. سورت اعراف کې رب فرمایي:

{قَالَ ادْخُلُوا فِي أُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ فِي النَّارِ كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَعَنَتْ أُخْتَهَا حَتَّى إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا جَمِيعًا قَالَتْ أُخْرَاهُمْ لِأُولَاهُمْ رَبَّنَا هَؤُلَاءِ أَضَلُّونَا فَآتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِنَ النَّارِ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَلَكِنْ لَا تَعْلَمُونَ} [الأعراف: 38].

ژباړه: وبه فرمايي الله تعالى، داخل شئ تاسې په هغه ډلو کې چې مخکې تيرې شوي دي، د پيريانو او انسانانو څخه، په اور کې، هر کله چې داخله شي يوه ډله، لعنت به کوي پخپلو ملګرو، تر دې چې کله ټول يوځاي شي، وبه وايي روستنۍ ډله د مخکنۍ ډلې په اړه، اې زمونږ ربه! مونږ دې خلکو ګمراه کړي وو، دوی ته دوه چنده عذاب د اور ورکړه، الله به ورته وفرمايي د هر چا لپاره دوه چنده عذاب دی خو تاسې نه پوهيږئ.

۴. الله تعالى فرمايي:

{يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يَا لَيْتَنَا أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا * قَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلَا * رَبَّنَا آتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَالْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيرًا} [الأحزاب: 67، 68].

ژباړه: پدغه ورځ اړولې راړولې به شي مخونه د هغوی په اور کې، وايي به های ارمان دی چې مونږ د الله او د رسول اطاعت کړی وی او هغوی به وايي اې ربه زمونږ! يقينا مونږ د خپلو سردارانو او مشرانو تابعداري کړي

وه، نو مونږ يې د سمې لارې څخه گمراه کړو،اې زمونږ ربه! ته دوی ته دوه چنده عذاب ورکړې او پدوی باندې لوی لعنت وکړی.

۵. سورت زخرف کې راځي:

الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ [الزُّخْرُفِ: 67].

ژباړه: پدغه ورځ به ملگري د يو بل دښمنان وي،مگر متقيان.

٦. سورت الشعراء:

وَمَا أَضَلَّنَا إِلَّا الْمُجْرِمُونَ (99) فَمَا لَنَا مِنْ شَافِعِينَ (100) وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ (101) فَلَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ (102) إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَةً وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُؤْمِنِينَ (103) [سورت الشعراء]

ژباړه: او نه و بې لارې کړي مونږ مگر مجرمانو، نشته زمونږ لپاره څوک سفارش کونکي، او نه هم مخلص ملگری، کچيرې زمونږ لپاره بيا دنيا ته تگ وی نو مونږ به د مومنانو څخه وو، يقينا پدې کې عبرت دی او ندي اکثره د دوی مومنان.

٧. سورت فرقان کې الله عزوجل فرمايي:

وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَى يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلًا (27) يَا وَيْلَتَى لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا. [سورة الفرقان:27-27]

ژباړه: او پدغه ورځ دا ظالم به پخپلو لاسونو چکونه لګوي او وايي به های ارمان دی ما د رسول لار نیولې وی. های تباهي ده، ارمان دی چې فلانکې مې په دوستۍ نه وی نیولی.

٨. الله تعالی د دغه خلکو حال ذکر کوي:

إِذْ تَبَرَّأَ الَّذِينَ اتُّبِعُوا مِنَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا وَرَأَوُا الْعَذَابَ وَتَقَطَّعَتْ بِهِمُ الْأَسْبَابُ (166) وَقَالَ الَّذِينَ اتَّبَعُوا لَوْ أَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَتَبَرَّأَ مِنْهُمْ كَمَا تَبَرَّءُوا مِنَّا كَذَلِكَ يُرِيهِمُ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ عَلَيْهِمْ وَمَا هُمْ بِخَارِجِينَ مِنَ النَّارِ. [سورة البقرة:167-166]

ژباړه: کله چې براءت وکړي هغه کسان چې تابعداري يې شوې ده، د خپلو تابعداراو نه، او د دوی ترمنځ خپلولي پرې شي. او وايي هغه کسان چې تابعداري يې کړې ده، کچیرې وی د هغوی لپاره بیرته راتګ نو مونږ به براءت کړې وی د هغوی نه لکه څنګه چې هغوی زمونږ څخه براءت وکړو، همدا شان ښايي الله تعالی دوی ته خپل عملونه د دوی د افسوس لپاره او ندي دوی وتونکي د اور نه.

نور آیتونه هم پدې باب کې شته چې دغه کشران او مشران او ملګري به بیا د قیامت په سخته ورځ کې د یو بل څخه براءت کوي، نو نن ولې د دغه غلطو تعلقاتو څخه توبه نه وباسي ؟؟

د شریعت مهمه قاعده ده اعرف الحق تعرف أهله:

اسلام کې دا یوه مهمه قاعده ده چې حق په خلکو نه پیژندل کیږي، بلکې په حق سره خلک پیژندل کیږي، کله کله یو حق پرست انسان وي خو د بعضې اسبابو د وجې نه باطل پرست وګرځي.

نو ځکه دا قاعده ده: "اعْرِفِ الْحَقَّ تَعْرِفُ أَهْلَه" حق وپیژنه نو حق پرسته خلک خپله بیا پیژنې.

دې قاعدې باندې زیات شمیر دلائل دي، خو علي رضي الله عنه ته منسوبه ده چې هغه څخه حارث بن حوط اللیثي پوښتنه وکړه، چې آیا ستا دا ګمان دی چې طلحه او زبیر رضي الله عنهما په ګمراهۍ باندې وو ؟ هغه ورته وویل:

يَا حَارِثُ إِنَّهُ مَلْبُوسٌ عَلَيْكَ، إِنَّ الْحَقَّ لَا يُعْرَفُ بِالرِّجَالِ، اعْرِفِ الْحَقَّ تَعْرِفْ أَهْلَهُ.

ژباړه: اې حارثه! تا باندې خبره ګډ وډه شوې، حق په سړو نه پیژندل کیږي، حق وپیژنه تاسې حق پرست خپله پیژنئ.

[تفسير القرطبي وتلبيس إبليس لابن الجوزي، الوَاضِح في أصُولِ الفِقه لأبي الوفاء ابن عقيل].

ډیر نآشنا جواب یې ورته ورکړ.

دغه رنګ دا قاعده کتاب او سنت کې ځای پر ځای بیانه شوی:

{وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِلَّذِينَ آمَنُوا لَوْ كَانَ خَيْرًا مَا سَبَقُونَا إِلَيْهِ} [سورة الأحقاف آية: 11]

ژباړه: او وايي کافران مومنانو ته کچیرې دا غوره کار وی نو هغوی به له مونږ څخه نه وی مخکې شوی.

دا د کفارو وینا وه چې په ذاتونو او شخصیاتو یې حق پیژندو.

بل ځاي کې الله عزوجل د دغه کفارو حال ذکر کوي:

{أَهَؤُلاءِ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنْ بَيْنِنَا} [سورة الأنعام آية: 53]

ژباړه: آیا دا هغه خلک دي چې زمونږ ترمنځ پرې الله تعالی احسان کړی.

وَلَا أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزْدَرِي أَعْيُنُكُمْ لَنْ يُؤْتِيَهُمُ اللَّهُ خَيْرًا اللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا فِي أَنْفُسِهِمْ إِنِّي إِذًا لَمِنَ الظَّالِمِينَ. [سورة هود:31]

ژباړه: او زه نه وایم د هغه کسانو په اړه چې ستاسې سترګې یې سپک ګڼي، چې هیچرې به ورنکړي الله تعالی دوی ته خیر، الله خه پوهیږي

په هغه څه چې زړونو کې دي، یقینا زه به پدغه وخت کې خامخا د ظالمانو څخه یم.

قَالُوا أَنُؤْمِنُ لَكَ وَاتَّبَعَكَ الْأَرْذَلُونَ. [سورة الشعراء:111]

وویل هغوی آیا مونږ ایمان راوړو په تا باندې حال دا چې ستا تابعداري خو سپکو خلکو کړې ده.

وَقَالُوا لَوْلَا نُزِّلَ هَذَا الْقُرْآنُ عَلَى رَجُلٍ مِنَ الْقَرْيَتَيْنِ عَظِيمٍ. [سورة الزخرف:31]

او وویل هغوی ولې نشي نازلولی دا قرآن په هغه لوي سړي د دوه کلیو څخه.

وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ . [سورة القصص:5]

ژباړه: او مونږ غوښتل چې احسان وکړو په هغه کسانو چې په ځمکه کې کمزوري ګڼلې شوي وو، او مونږ یې د دین مشران وګرځوو او د ځمکې وارثان یې هم وګرځوو.

خلاصه د دې ټولو آیتونو دا ده چې همیش لپاره حق پرسته خلکو باندې باطل پرستو د سپکوالي او کمزورۍ عیب لګولې، او دا یې ویلي که دا

نبوت او دا د دين مشري حق وی نو فلاني ته به ورکړې شوی وی، خو چې فلانی نبي نشو نو لهذا معلومه دا شوه چې دا نبوت په حقه ندی.

الله أكبر! څه صادقه کلام دی د رب العالمین، نن هم دغه شان باطل پرست خلک وايي که دا اسلامي خلافت حق وی، نو فلاني به قائم کړی وی، فلاني به بیعت کړی وی، او دا فلانې څنګه باغي وګرځي، دا فلانې څنګه مرتد شي؟

نور دې ته نه ګوري چې اسلامي شریعت کې حق په خلکو او رجالو نه پيژندل کيږی، بلکې په حق سره خلک پيژندل کيږي، معيار د چا ذات نه وي بلکې معيار کتاب او سنت وي، داسې نده چې انسان به ځان يو چا پورې وتړي، چې هغه په کوم لور ځي نو دا به هم ورپسې په ړندو سترګو روان وي.

کله نا کله يو مشهور نیک انسان وي، خو د هغه بعضې کړنې د الله عزوجل نه وي خوښې نو د ارتداد په صف کې ودريږي، لکه بلعام بن باعوره، چې زيات نيک انسان و، عالم و، مستجاب الدعوات و، په زرګونو شاګردان يې لرل خو د خپلو اعمالو له امله ګمراه شو.

مانعين او منکرين د زکات مخکې مسلمانان وو، بيا د ارتداد صف کې ودريدل.

دې خپل عصر ته به راشو استاذ سیاف به عرب مجاهدینو ژوندي شهید بللو، خو دا دې امریکایانو سره ودرید او مرتد شو.

حکمتیار چې خپل حزب یې خالص اسلامي باله، هغه هم راغي دې دیموکراسۍ د اربکیانو څخه وگرځید او همدې طالبانو ورپسې اعلامیې خورې کړې، چې تا خپل جهاد پریښودو؟ او خپل تیر پنځلس کلن جهاد ته اوس د فساد نوم ورکوی ؟

استاد یاسر وینا طالبانو خپله نشر کړې:



دغه رنګ دا تپوس چې دا ظواهري څنګه مرتد وګرځي ؟ دا اختر منصور څنګه مرتد وګرځي، دا طالب حق(!) ملا فضل الله څنګه مرتد وګرځي؟ نو آیا دوی د بلعام بن باعوره څخه لوي ملایان ول ؟

آیا دوی د مانعین او منکرین زکات په څیر نبي علیه السلام مخامخ لیدلې و، بیا یې پرې ایمان راوړې و ؟

چې هغه خلک د اسلام نواقضو له امله په اجماع د صحابه وو مرتد ګرځي نو دا د نن زمانې د دیموکراسۍ پلوي د ای ایس ای رهبران به مرتد نه ګرځي؟

نو مونږ د خراسان، هند او نورو تنظیمونو ته دعوت ورکوو چې راشئ خلیفة المسلمین أبو ابراهیم الهاشمي حفظه الله سره بیعت وکړئ او خصوصا خراسانیانو تاسې خو د طالبانو د مشرۍ په نوم د آي أیس آي پړي له ځان څخه ګزار کړئ.

ځکه هلته دا دعوه کوئ چې زمونږ د پاکستان ای ایس ای سره جنګ او دښمني ده او هلته بیا د خپلې دعوې متضاد د طالبانو په نوم د همدغه استخباراتو په امر رفتار کوئ.

تاسې د طالبانو نواقض وکتل او مرتد حاکم سره په اجماع د امت باندې بیعت حرام دی، بلکې د دغه امیر لرې کول واجب دي.

مثال د دې ټولو تنظیمونو او ډلو داسې دی لکه افغانستان حکومت ته چې ځوک ځان منسوبوي، لکه د پاکستان حکومت ملیشې، لکه مانعین د زکات ته چې ځان منسوبوي. ښکاره او واضحه مسئله ده، هیڅ خفاء پکې نشته. بعضې بیا وایي زمونږ مجبوري ده، څنګه مجبوري ده ؟

۱. خلافت سره یوځاي شه.

۲. ته جهاد څه لپاره کوی، شرک ختمولو لپاره او که شرک قبلولو لپاره، نو چې ستا خپل ایمان د منځه ځي، نو معلومیږي دا چې دا جهاد ندی، بلکې دا بل څه دي؟

په کور کینه چې جهاد في سبیل الله نشی کولی، مسلمان خو به وی، خو دا د غلط دعوت اثر وي، مخکې نه د انډیا او افغانستان حکومتونو سره تعلقات او منهج کې تفریط راوستلو همدا نتیجه راوتله او سبا به دغه تنظیمونه د طالبانو په امر ځي او د پاکستان حکومت سره به د سولې په نوم موالات کوي، ځکه د مشرانو نه یې چل یاد کړو کنه، نن ځان ته مجاهد وایي سبا به د پاکستان اربکې وي، معاذ الله، د ای ایس ای اهداف به پوره کوي، او چا که یو نیم پوځي وژلې وي، نو ای ایس ای

هغه نه پرېږدي، بلکې خپل د ناپاک پوځ انتقام خامخا اخلي، اګر کې ابتداء کې تسلیمیدونکو کسانو ته غاړه کې ګلونه اچوي.

نو اې د تحریک طالبان پاکستان مبارزینو !

تاسې سوچ وکړئ، کفارو څومره مضبوط پلانونه مطرح کړي، او پدې باندې اکتفاء نه کوي، همدغه رنګه دې پروسې ته دوام ورکوي، بلکې تحریک طالبان پاکستان به د پاکستان حکومت په خلاف یو ځل هم ونه کړي، ځکه طالبانو دا شرط او دا ضمانت امریکې ته ورکړې چې زمونږ د واک لاندې سیمو څخه به په هیڅ یو ګاوندي برید نه کیږي، او د دې سره سره طالبان د پاکستان روزلي خلک دي، هغوی چیرته پر پاکستان جنګ برداشت کوي، او تحریک د طالبانو تر قیادت لاندې ځان حسابوي، نو آخر به تحریک هم د مذاکراتو په نوم همدغه شان د موالاتو لار اختیاروي، که دا کار په خوښه نه کوي نو طالبان او امریکا یې په زور پرې کوي.

نو ولې تاسو اوس هم د طالبانو لمن نیولې ؟

ولې سوچ او فکر نه کوئ ؟

ولې د سپیڅلي نظام تر سیوري لاندې د اسلامي خلافت پرمختګ لپاره هڅې نه پیل کوئ ؟

ولې حقیقي اسلامي نظام لپاره مبارزه د دنیاوي مصلحتونو ښکار ګرځوئ ؟

نعوذ بالله د یو طرف انجام او عاقبت ارتداد دی، او بل طرف تر یوې مودې پورې د الله جل جلاله لپاره دنیاوي تکالیف برداشت کول دي، نو کوم یو خوښوئ ؟

ستاسو د مبارزې مقصد او هدف څه و ؟

که دغه آي أیس آي رهبري تاسو منله نو بیا مو دا دومره جنګ ورسره ولی وکړو ؟

دا دومره علاقې مو ولې پریښودلې ؟

آیا تاسې هم د طالبانو پدې نواقضو راضي یاست ؟ که نه، نو بیا ولې د هغوی د قیادت پړې له غاړې څخه نه غورځوئ ؟ ځکه د تابع او متبوع، د فرد او رئیس د طائفې خو یو حکم وي، تاسو ولې زر تر زره خپل ځانونه د دغه طواغیتو څخه نه ژغورئ ؟

نو ګوره اوس دا موقعه ده، الله مه کړه سبا به دې زړه د سهولتونو په نشه کې اوړيدلې وي، د طالبانو پشان به خه پوهيږئ چې په باطله روان يو خو د حق توفيق به درته نه ميلاويږي، نو نن څخه خبره مه وروسته کوه.

مرګ ژوند پته نه لګي، تاسو ته که مرګ د طالبانو په بيعت کې راغی نو مرګ مو د جاهليت ده، او حکم مو د طالبانو دی.

وګورئ ستاسو پر غاړه د چا د بيعت پړې پروت دی ؟ د آي أيس آي د جنګياليو طالبانو او که د شرعي خليفه ؟

د خلافت د قيام پرمهال د تنظيمونو شرعي حيثيت لغوه کيږي، اګر که کوم ناقض هم پکې نه وي. چې شرطونه په خليفه کې پوره وي نو که دا هر وخت قائم شي اطاعت يې په ټولو مسلمانانو لازم دی.

ګوره دنياوي مفاد مو پام ونه ګرځوي، غلط رهبران مو کندو ته خطا نه کړي، ګوره د چا شخصي تضاد له وجې دې صف څخه لرې پاتې نشئ، دا د شخص تنظيم نه دی، دا نړيوال خلافت دی، الله عزوجل پوهه او عقل درنصيب کړی، تحقيق وکړئ، د نني امارت او خلافت توپير معلوم کړئ، رب نه دعاګانې وغواړئ او بيا د حق ملګري شئ.

ان شاء الله چې راتلونکې ورځې د اسلام او د اسلامي خلافت دي، دا طالبان به ډير زر د افغانستان حکومت پشان د يو ښکاره مرتد نظام په شکل کې خلک وپيژني او ټول مخلصين خلک به د خلافت په لور رادرومي، نو تاسې سرله اوسه د دغه کاروان غړي شئ، خپلې مبارزې ته مو د صفا قيادت لاندې دوام ورکړئ. رب به مو په دنيا او آخرت کامياب کړي.

او د تنظيمونو انحراف کې طالبان پوره پوره شريک دي.

عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً، فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ، كُتِبَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا، وَلَا يَنْقُصُ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ، وَمَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً، فَعُمِلَ بِهَا بَعْدَهُ، كُتِبَ عَلَيْهِ مِثْلُ وِزْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا، وَلَا يَنْقُصُ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ» صحيح مسلم.

ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چا چې په اسلام کې يو نيک کار وکړ، او وروسته پرې عمل کيدو، هغه لپاره به د عمل کونکي په څير اجر وي، او د عمل کونکو د اجرونو څخه به هيڅ شی نه کميږي، او چا چې په اسلام کې يوه ګناه وکړه او وروسته پرې عمل کيدو، هغه لپاره

به د هغه چا گناه هم ليکل کيږي او د دغه عمل کونکو گناه څخه به هيڅ نه کميږي.

وما علينا إلا البلاغ.

گلبدين ته د طالبانو پخوانۍ اعلاميه:

طالبان نن په هغه موقف کې واقع دي، چې پرون يې گلبدين ته پيغوروونه ورکول، چې دا دې څه وکړل ؟ تا خو ديموکراسي ومنله. خپله ۳۵ کلنه مبارزه دې بغير د شريعت د تنفيذ څخه پاي ته ورسوله، دا خپله ناسته دې ولې بين الأفغاني تفاهم وگڼله، وايي که ديموکراسي دې منله نو د نجيب سره به دې جوړ جاړې کړی وی، خو نن طالبان خپله هم د گندگۍ دغه ډنډ ته ورپريوتل. أعاذنا الله منها.

په ۱۵ شعبان ۱۴۳۸ ه ق کال د طالبانو اتحاد علماء افغانستان اجتماع په پاکستان کې د مفتي محمود ذاکري په مشرۍ جوړه شوه او لاندې مادې په اتفاق سره تصويب کړی.

بسم الله الرحمن الرحيم

اتحاد علماء افغانستان

تاريخ ۱۵/شعبان المعظم /۱۴۳۸ھ ق

الحمدلاهله والصلوة على اهلها امابعد فاعوذبالله من الشيطان الرجيم

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّلَعِبًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَاۤءَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ (مائده۵۷)

وقال عزوجل: قُلْ اِنْ كَانَ اٰبَاۤؤُكُمْ وَاَبْنَاۤؤُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ وَاَمْوَالُ ࣙاقْتَرَفْتُمُوْهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَاۤ اَحَبَّ اِلَيْكُمْ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَاْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ۗ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ (توبه۲۴)

وقال النبي ﷺ الجهاد ماضٍ مذبعثني الله الى ان يقاتل آخرهذه الامة الدجال لايبطله جور جائر ولاعدل عادل.

په تاريخ ۱۵/شعبان المعظم /۱۴۳۸ھ ق داتحاد علماء افغانستان اجتماع دمفتي محمودذاكري حفظه الله په مشري جوړه سوه دافغانستان د روان مقدس جهاد په هكله لاندي مادي اوغونډتني په اتفاق سره تصويب سوى.

اوله ماده دامريكايانو جنايات

امريكا اوناټو په سنه (۲۰۰۱)م كي دافغانستان پراسلامي امارت تجاوز اويرغل وكړ، بې حسابه قتل عام وكړ، دقندهاراوباګرام څخه نيولى بياترګوتاناموپوري يې بې حسابه مسلمانان زندانيان كړل اوپرهغوى يې قسم قسم وحشتونه وكړل، او په باګرام كي يې په سپين سترګي سره بار، بار دقرآن كريم توهين وكړ او وى سوځى، دنبي كريم ﷺ توهين يې په كراتو اومراتو وكړ، دافغانستان ذخائر اومعادن يې چور كړه، دافغانستا په اسلامي حريم كي يې كليساوي جوړي كړي، په افغان مسلمان ملت كي يې دعيسويت دخپروا وي لپاره زر زاري تزوير په كار اچولى اولا دوام وركوى غرض داچي دافغان مسلمان ملت دين اودنيا يې دواړه دخطر سره مخ كړه.

دويمه ماده داسلام حكم

په داسي وخت كي داسلام ددين مقدس حكم دى چي ترڅوپريو ملک دكفارو تجاوز وي ددې اسلامي ملک پر نر اوښځه حر اوغلام جهاد فرض عين دى په دې هكله دي لانديني كتابونه وكتل شي

هدايه ۲/ ۵۳۷/كنزالدقائق ص۱۹۹/ردالمحتار ۳/ ۲۴۰/قاضيخان ۴/۴۵۹/بدائع الصنائع ۷/۹۸/التاتارخانية ۵/۲۱۲/هنديه ۲/۱۸۸وغيره

دريمه ماده دمتجاوزينو په وجودكي دصلح حكم

چونكه دمتجاوز كافر سره جهاد فرض دى لهذا ترڅو چي تجاوز دوام لري دهغه سره صلح كول شرعا جواز نلري ځكه ددې صلح اول قدم به داوي چي صلح كونكى به دفرض جهاد څخه برائت اعلانوي حتى فرض جهادته به فساد اوبې معنى جنګ واى اوداسي كول نارو ا دي، اوبعضي درباري ملايان د متجاوزامريكا سره دصلح دجواز لپاره صلح حديبيه په دليل كي پيشوي اومسلمانانو ته دهوكه وركوي، حال داچي هلته كافر په خپل ملک كي وه مسلمان په خپل ملک كي وه، دكفري تجاوز صورت نه وه، ليكن زموږ په وطن كي امريكالا اوس هم خپل تجاوزته دوام وركړي نو څنګه به داحالت په صلح حديبيه قياس سي، دمتجاوز امريكا سره دصلح دحرمت په هكله په سنه (۲۰۱۱)م كي دافغانستان اوپاكستان مشهورو علماء كرامو اودارالافتاءګانو **دشيخ الشهداء امام ذاكري نورالله مرقده** په مشري مسلسلي (۲۳) فتواي نشر كړي، دهغوى خلاصه داوه چي په داسي وخت كي چي دامريكا تجاوز برقرار وي صلح دمتجاوز سره كول حرام اوناروا ده اودا صلح نه بلكه تسلميدل دى، شائقين ددغه فتواو مجموعه ترلاسه كولاى سي.

څلورمه ماده داسلام دشعائرودتوهين حكم

فرض عين جهاد ته فسادويل يابې معنى اونامقدسه جګړه ويل داداسلام دحكم توهين دى اوتوهين دشعائر الله خطرناكه عمل اوكله كله دايمان دزوال ذريعه ګرځي، زموږ فقهاء كرام رحمهم الله فرمايي: من استخف بالقرآن اوبالسنة اوبنحو هماما يعظم في الشرع يكفر. اوبل ځاى فرمايي:

ترک السنة بالمواظبة بطريق الاستخفاف كفر. كله چي دسنت استخفاف دايمان دزوال ذريعه ده نودفرض عين داستخفاف به څه حکم وي ؟ اعاذنا الله منه.

پنځمه ماده

په دې وروستيو کې ګلبدين اوده ملګري دصلح په نامه ودې متجاوزامريکا اوده لاس پوڅي اداري ته ورغله ،اود دوی سره يې ديمكراسي نظام اوقانون ومنی ،حال داچې دوی به مخکې تر وړتلو داخبره دنیا ته ښکاره کوله چې زموږ دصلح يوشرط به داوي چې امريکايان به خپل محال ويش دوتلو ټاکي ليکن برعکس امريکايانو نه يوازې داچې محال ويش يې وټاکي بلکه دده په وړتګ سره يې په ډيره سپين سترګې سره (۳۰۰۰) زره سمندري يرغلګر نور راوستل اولا به دنورو پر راوستلو هم غور کوي اوددد ورتګ څخه څه موده وړاندې يې هغه څه وکړه چې په (۱۵) کاله کې يې نه وه کړي دبمونو دمور په نوم خطرناکه بم يې پر دې خاوره استعمال کړ ، ددې هرڅه باوجود نه يوازې داچې دوی دامريکا پر تيرلو جناياتو يې سترګې پټې کړی بلکه دااعلان يې وکړچې دا روان جهادنامقدسه جګړه اوبې معنی جنګ دی اوطالبان دې هم زما په قدم قدم کښيږدي اوزما په طريقه دې صلح وکړي.

زموږ دده څخه پوښتنه داده چې :

آيا دمتجاوزينو مقابلې ته شريعت جهادوايي که نامقدس جګړه؟

آياتاچې داپنځلس کاله پدې نامه ږغ کوی جهاد وه ليکن کله چې تاپريښوی نامقدس جنګ سو؟

ايا پدې پنځلس کاله کې چې ستاکوم ملګري دامريکا په مقابل کې قرباني سوی دی هغه ته به شهيدان وايې که دنامقدسي جګړې قربانيان؟

آياتاچې دکوم مقصد لپاره (۳۵) کاله مبارزه وکړه چې هغه دخارجې قواوانخلاء اودقرآن کريم حاکميت وه هغه مقاصد حاصل سوه چې تاجهادبس کړاوکنه ؟

ايا ته چې دديموکراسي ومنلو ته تيار وی نودې ولې دنجيب سره جوړجاړی نه کوی ؟

اياته چې اوسني ناسته بين الافغاني تفاهم ګڼې اوددې اوسني امريکايي اداري مقابله افغان وژنه بولې نودافکرډرباني دحکومت دمقابلې په وخت کې درسره نه ؤ ؟وغيره وغيره

خلاصه دکلام اوزموږ غوښتنې

اوله غوښتنه : دملت څخه داده چې خپل جهاد ته ترهغو ادامه ورکړی ترڅو چې مقاصد دجهادلاس ته راځي اومقاصد دجهادقرآن دا بيانوي :

وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ (الانفال۳۹)

دهرکس ناکس په خبرو غوږ مه نسی ځکه هم داويناوي په هغه جهاد پسې هم سوي دي دکوم جهادمشري چې امام الانبياء ﷺ به نفس نفيس دآسماني وحي په رڼاکي کوله ،ليکن اغيار وبه بياهم ويل(قَالُوْا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّاتَّبَعْنٰكُمْ (ال عمران ۱۶۷)) اودهغه زماني مجاهدينوکرامو ته به يې دصلح اوناستي پيغام ورکوي الله جل شانه مسلمانان دداسي عمل څخه منع کړل (يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَقَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ اِذَا ضَرَبُوْا فِي الْاَرْضِ اَوْ كَانُوْا غُزًّى لَّوْ كَانُوْا عِنْدَنَا مَا مَاتُوْا وَمَا قُتِلُوْا (ال عمران ۱۵۶))

دويمه غوښتنه :دګلبدين اوده دامثالو څخه داده چې که تاسي نورپه خپل کردار اوګفتار داسلام دين ته نفع نه سي رسولای نودخدای په خاطر داسلام احکام په خپلو شکلو اوزړو جهادي نمونو مه تحريفوی ،په دې سره تاسي اسلام نه بلکه ځان بدنام وي اوپه دې خبره تاسي بايد مغرور نسي چې تاسي زاړه مجاهدين ياست لکه ګلبدين چې په خپلو خبرو کې باربار دا اعلان وکړ چې موږ په هغه وخت کې په سنګرونو کې ؤ چې اوسني مجاهدين شيرخوار بچي وه، موږ وايو دهمداسي کسانولپاره لازيات خطر وي څوک چې زياته سابقه په يوعمل کې لري، اودهمداسي کسانولپاره چې په ايمان علم اودين کې يې سابقه درلوده ليکن آخري تګلاره يې بدله کړه ،قرآن کريم اعلان وکړ :

مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوْهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ اَسْفَارًا (الجمعة۵)

اوقرآن کريم دهغه قومونومذمت بيانوي چې په غلطه لاره هم وه ليکن په خپله ديني سابقه دومره مغروره وه چې دااعلان به يې کوي :

وَقَالُوا لَنْ يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ كَانَ هُودًا أَوْ نَصَارَى (سورةبقره۱۱۱) نَحْنُ أَبْنَاءُ اللهِ وَأَحِبَّاؤُهُ (مائده۱۸)

لهذا ترمرگ مخکي توبه وکړي بيرته مقدس جهاد ته ادامه ورکړي اوهمداجهاد ستاسي امتياز اوعزت وه که هغه نسي کولای نوکم ازکم خاموش شي ،دکفري پيغاماتولپاره خپلي خولې رسنی مه جوړوئ :کماقال ﷺ قل الخير والافاسكت ،قل الخير والافاصمت .

دريمه غوښتنه: دګلبدين دپيروانو څخه داده چي که ستاسو مشران ددې جنايت څخه لاس وانخلي نوتاسي ددې مشرانوپه ځای دالله تعالی وکتاب دين اوجهاد ته ترجيح ورکی اودحضرت ابوبکر رضي الله تعالی عنه ارشاد مخ ته کښيږدی : من کان يعبد محمدا فان محمدا قدمات ومن کان يعبد الله فان الله حی لايموت .اودا حديث شريف عملي کړی: لاطاعة للمخلوق فی معصية الخالق (الحديث) . لهذا وخپل جهاد ته ادامه ورکړی داسلامي امارت وصفوته داخل سی کفري قوتونه ترهغو دمسلمانانو څخه نه راضي کيږي ترڅوچي مکمل اتباع يې ونسي کماقال **عزوجل :** وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ (البقرة۱۲۰)

ان اردنا الا الاصلاح ولاحول ولاقوة الا بالله العلی العظيم

محمد یوسف فرزند وجانشین
علامه عبدالغنی (نورالله مرقده)

مولوی عبدالستار

العبد الضعیف
احمد القندهاری

مولوی ضیاء الدین
ابوالخیر

الحاج گل محمد

مولوی عبدالسلام

فتوی موافق یو

پدې کې وايي چې امريکا سره جهاد فرض دی، او د امريکايانو تجاوز په صورت کې صلح ناروا ده بلکې تسليمي ده، او دغه وخت کې فرض عين جهاد ته فساد يا نامقدسه جګړه ويل د ايمان د زوال سبب ګرځي.

سبحان الله! آيا دې خبرې سره طالبان خوارج وګرځيدل ؟ خو بس مونږ ته تکره دي، چې تاسې به د نواقضو او د تکفير شروطو وجود په صورت کې هم څوک نه تکفيروئ.

بيا وايي: په دې ورستيو کې ګلبدين او د ده ملګري د صلح په نامه و دې متجاوز امريکا او د ده لاس پوڅي ادارې ته ورغله، او د دوی سره يې ديمکراسي نظام او قانون ومنی....

نن خپله طالبانو دغه ديموکراسي ومنله، بين المللي قوانين يې ټول ومنل او د ديموکراسۍ مهم اصل چې اکثريت دی، دا يې هم ومانه.

بيا مخکې وايي چې د ګلبدين د ورتګ څخه وروسته يې هغه څه وکړه چې ۱۵ کالو کې يې نه و کړي، د بمونو د مور په نوم خطرناکه بم يې پر دې خاوره استعمال کړ.

عجيبه خبره ده، دا د ګلبدين د بطلان نښه ښايي، نور ګوري نه چې دغه بم چې ۱۵ کاله يې نه و ګزار کړی، نن پر چا استعمال کړ ؟

آيا دا د دغه خلکو د حقانيت ستر دليل ندی ؟

آيا اوس هم د اسلامي خلافت په اړه څوک دا شک لري چې دا د امريکا خلک دي ؟ دا د طالبانو خپل اقرار شو، هغه څه چې ۱۵ کاله کې يې نه و کړي، او اوس يې وکړل.

د عقلمندو خلکو لپاره د سوچ خه مقام دی.

بيا يې ترې څو پوښتنې کړي :

۱. آيا د متجاوزينو مقابلې ته شريعت جهاد وايي که نامقدس جګړه ؟

۲.آيا تا چې دا پنځلس کاله پدې نامه ږغ کوی جهاد وه ليکن کله چې تا پريښودی نامقدس جنګ سو ؟

۳. آيا پدې پنځلس کاله کې چې ستا کوم ملګري د امريکا په مقابل کې قرباني سوی دی هغه ته به شهيدان وايي که د نامقدسې جګړې قربانيان ؟

۴. آيا تا چې د کوم مقصد لپاره (۳۵) کاله مبارزه وکړه چې هغه د خارجي قواو انخلاء او د قرآن کريم حاکميت وه هغه مقاصد حاصل سوه چې تا جهاد بس کړ او کنه ؟

٥. آيا ته چې د ديموكراسۍ و منلو ته تيار وی نو دي ولی د نجيب سره جوړجاړی نه كوی ؟

٦. آيا ته چې اوسنۍ ناسته بين الأفغاني تفاهم گڼی او د دې اوسنۍ امريكايي اداري مقابله افغان وژنه بولی نو دا فكر د رباني د حكومت د مقابلې په وخت كې درسره نه ؤ ؟ وغيره وغيره.

چې نن همدا پوښتنې مونږ د طالبانو څخه وكړو :

١. آيا پداسې حال كې چې فكرا د امريكا تجاوز موجود وي، د افغانستان نظام د امريكا په خوښه ټاكل كيږي، كه نوم يې اسلامي هم وي خو فقط ظاهري يو څو شعائر پكې پلې كيږي، نور شريعت معطل وي، لكه پورته چې يې بيان بار بار وشو نو داسې حال كې د متجاوزينو مقابلې ته شريعت جهاد وايي كه نامقدس جگړه ؟

٢. آيا تاسې چې دا څو كاله پدې پاكستاني اسلام په نامه ږغ پورته كاوه، هغه جهاد وه ليكن كله چې تاسې اوس تسليم شوئ او اصلي كافرو سره جهاد مو پريښودی اوس نامقدس جنگ شو ؟

۳.آیا د دې ځو کاله کې چې ستاسې کوم ملګري د امریکا او دیموکراسۍ په مقابل کې قرباني شوي دي هغه ته به د نامقدسې جګړې قربانیان وایست؟

۴. آیا تاسې چې د کوم مقصد لپاره ځو کاله مبارزه وکړه چې هغه د خارجي قواو انخلاء او د قرآن کریم حاکمیت وه هغه مقاصد حاصل شو چې تاسې جهاد بس کړ او د نړۍ کفارو ته مو د امن ډاډ ورکړ ؟

تاسې خو په قطر کې د قرآن کریم پر ځاي د بین المللي قوانینو په رڼا کې جوړ جاړې وکړو.

۵. آیا تاسې چې د دیموکراسۍ و منلو ته تیار وی نو مو ولې د کرزي سره جوړجاړی نه کاوه ؟

٦. آیا تاسې چې اوسنۍ ناسته بین الأفغاني تفاهم ګڼۍ او د راتلونکې امریکایي ادارې (طالبان + کابل اداره) مقابله افغان وژنه بولۍ نو دا فکر مو د رباني د حکومت د مقابلې په وخت کې درسره نه ؤ، بیا مو نجیب ولې وژلو ؟ وغیره وغیره.



هماغه نکتې چې ګلبدين ته طالبانو مخکې کړې وی، نن طالبانو ته خپله متوجه دي، چې يې هيڅ جواب نه لري، فقط يوه خبره کوي چې خارجيان وځي، نور دا خبره هم پټوي چې وځي، چيرته ځي ؟ پاکستان کې ځاي پرځاي کيږي. او که امريکا ته هم لاړ شي نو آيا قرآن حاکم شو ؟ نه، طالبان خو دې د وينځو غلامانو نظام نوم فقط واخلي چې بيا يې يو د مذاکراتي ټيم غړی هم به دفتر کې روغ نه وي پاتې، ټول به امريکا د ځان سره لاس تړلي بوتلي وي.

خو افسوس د طالبانو پر حال!!

بيا آخر کې وايي: **خلاصه د کلام او غوښتنې**

اوله غوښتنه: د ملت ښخه دا ده چې خپل جهاد ته تر هغو ادامه ورکړي ترڅو چې مقاصد د جهاد لاس ته راځي او مقاصد د جهاد قرآن دا بيانوي:

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ فَإِنِ انْتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ . [سورة الأنفال:39]

ژباړه: د هر کس ناکس په خبرو غوږ مه نيسئ، ځکه هم دا ويناوې په جهاد پسې هم شويدي د کوم جهاد مشر چې امام الأنبياء صلى الله عليه وسلم به نفس نفيس د اسماني وحي په رڼا کې کوله، ليکن اغيارو به بيا هم ويل (قَالُوا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَاتَّبَعْنَاكُمْ) آل عمران ١٦٧، او د هغه زمانې مجاهدينو کرامو ته به يې د صلح او ناستې پيغام ورکوو، الله جل شانه مسلمانان د داسې عمل ښخه منع کړل، (يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ كَفَرُوا وَقَالُوا لِإِخْوَانِهِمْ إِذَا ضَرَبُوا فِي الْأَرْضِ أَوْ كَانُوا غُزًّى لَوْ كَانُوا عِنْدَنَا مَا مَاتُوا وَمَا قُتِلُوا) [سورة آل عمران ١٥٦]

نن د ملت ښخه همدا غوښتنه د اسلامي خلافت ده.

دويمه غوښتنه:

د ګلبدين او د ده د امثالو څخه دا ده چې که تاسې نور په خپل کردار او ګفتار د اسلام دين ته نفع نه سي رسولای نو د الله په خاطر د اسلام احکام په خپلو شکلو او زړو جهادي نمونو مه تحريفوی، په دې سره تاسي اسلام نه بلکې ځان بدنام وي او په دې خبره تاسې بايد مغرور نشي چې تاسې زاړه مجاهدين ياست لکه ګلبدين چې په خپلو خبرو کې بار بار دا اعلان وکړ چې موږ په هغه وخت کې په سنګرونو کې و چې اوسني مجاهدين شيرخوار بچي وه، موږ وايو د همداسې کسانو لپاره لا زيات خطر وي څوک چې زياته سابقه په يو عمل کې لري او د همداسې کسانو لپاره چې په ايمان علم او دين کې يې سابقه درلوده ليکن آخري تګ لاره يې بدله کړه، قرآن کريم اعلان وکړ:

مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (5) [سورة الجمعة:5]

او قرآن کريم د هغه قومونو مذمت بيانوي چې په غلطه لاره هم وه **ليکن په خپله ديني سابقه دومره مغروره وه** چې دا اعلان به يې کوي:

وَقَالُوا لَنْ يَدْخُلَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ كَانَ هُودًا أَوْ نَصَارَى تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ (111) سورة البقرة:111]

نَحْنُ أَبْنَاءُ اللَّهِ وَأَحِبَّاؤُهُ. [سورة المائدة:18]

لهذا تر مرگ مخکې توبه وکړئ بیرته مقدس جهاد ته ادامه ورکړئ، او همدا جهاد ستاسې امتیاز او عزت وه که هغه نشئ کولای نو کم از کم خاموش شي، د کفري پیغاماتو لپاره خپلې خولې رسنۍ مه جوړوئ: کما قال صلی الله علیه وسلم: قل الخیر والا فاسکت، قل الخیر والا فاصمت.

ملاحظه:

دلته يې د اصلي کافرو آيتونه په گلبدين باندې تطبيق کړي دي، دوی يې ځان ته روا بولي او چې مونږ همدا شان استدلال وکړو نو بيا خوارج گرځو. عجيب انصاف دی!

نن همدا مطالبه مونږ د طالبانو څخه لرو، چې توبه وباسئ، يا جهاد شروع کړئ او يا هم خپله بې غيرتي ومنئ او چپه خوله شئ، او دا مه واياست چې مونږ په هغه وخت سنگرونو کې وه چې د اسلامي خلافت مجاهدين شير خوار بچي وه، د کفري پيغاماتو لپاره خپلې خولې رسنۍ مه جوړوئ، که تاسې نور په خپل کردار او گفتار د اسلام دين ته نفع نه

شئ رسولای نو د الله په خاطر د اسلام احکام په خپلو شکلو او زړو جهادي نومونو مه تحریفوی، په دې سره تاسې اسلام نه بلکې ځان بدناموئ او په دې خبره تاسې باید مغرور نشئ چې تاسې زاړه مجاهدین یاست، نو خپل سابقې باندې مه مغروره کیږئ، دغه سابقه هیڅ فایده نه درکوي چې خاتمه یې ارتداد وي.

طالبان دې پخپلې دې وینا عمل وکړي.

او دا کوم حدیث چې یې ذکر کړی دغه الفاظ مونږ د احادیثو په ذخیره کې پیدا نه کړل بلکې د احادیث الفاظ دا دي:

مَنْ كانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيصْمُتْ. متفق عليه.

دریمه غوښتنه:

د ګلبدین د پیروانو څخه دا ده چې که ستاسې مشران د دې جنایت څخه لاس وانخلي نو تاسې د دې مشرانو په ځای د الله تعالی د کتاب، دین او جهاد ته ترجیح ورکړئ، او د ابو بکر رضي الله عنه ارشاد مخ ته کیږدئ: أَلا مَنْ كَانَ يَعْبُدُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ مَاتَ، وَمَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللَّهَ فَإِنَّ اللَّهَ حَيٌّ لاَ يمُوتُ، او دا حدیث شریف عملي کړئ:

" لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ عَزَّ وَجَلَّ "

لهذا و خپل جهاد ته ادامه ورکړئ، د اسلامي امارت و صفو ته داخل سئ، کفري قوتونه تر هغو مسلمانانو څخه نه راضي کيږي ترڅو چې مکمل اتباع يې ونسي کما قال عزوجل:

{وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ}[البقرة: 120].

إن أردنا إلا الإصلاح ولا حول ولا قوة إلا بالله العلي العظيم.

همدا غوښتنه مونږ د طالب کشرخيل څخه لرو چې که ستاسې مشران د دغه جنايتو څخه لاس وانخلي نو تاسې د دې مشرانو په ځای د الله کتاب، دين او جهاد ته ترجيح ورکړئ. او همدا د ابو بکر رضي الله عنه وينا مخ ته کړئ، که چا د طالب مشرانو عبادت کوو نو طالب مشران خو لاړل گمراه شول او څوک چې د رب العالمين عبادت کوي نو هغه دې د دغه خلکو څخه جلا شي. خپلې مبارزې ته دوام ورکړئ او د اسلامي خلافت صفونو ته داخل شئ، دا کفري قوتونه تر هغو له تاسې څخه نه راضي کيږي ترڅو چې مکمل اتباع يې ونه نيسئ، لکه څنگه چې د رب ارشاد دی، کچيرې دوی له دغه کفري قوانينو منلو پرته راضي کيدای نو ولې بيا تاسې سره يې جنگ کوو ولې يې ستاسې حکومت ړنگوو، خو استاد ياسر خبره صفا کړې کنه چې د بين الملل ټول قوانين نه منلو له

امله ملا محمد عمر باندې امریکا حمله وکړه. دا مونږ چې کومې خبرې طالبانو ته وکړې دا عین هغه خبرې وی چې پرون دوی. ګلبدین او ډلې ته یې کولی نو زمونږ پدې خبرو د طالبانو اتفاق دی او دا د ټولو امضاء ګانې هم پرې ثبت حسابیږي.

د جهاد په اړه د طالبانو ۱۴۳۴ هـ ق متفقه اعلامیه:

